# د کتاب په اړه

**ولې مې دا کتاب وژباړه؟**

ځنګه چې مې د دې کتاب پر عنوان (چشم ها را باید شست/ نقدی بر تفسیر افراطی از دین) سترګې ولګېدې، د لوستلو تلوسه یې راته پیدا شوه، همدا چې د کتاب سریزه او لومړی مقاله مې ولوسته، پوه شوم چې څومره مهم او ګټور اثر دی او پرېکړه مې وکړه چې پښتو یې کړم؛ خو څومره چې د کتاب په لوستلو کې مخکې تلم، هماغومره د ژباړې اړتیا یې راته لا زیاته څرګندېده.

کتاب په څو دلیلونو راته کم ساری ښکاره شو: یو، د موضوع او محتوا په لحاظ، دا اثر پر هغو مسایلو بحث کوي چې زموږ د ټولنې اساسي ستونزې دي او دا هغه څه دي چې زموږ په چاپ شویو کتابونو کې یې څرک ډېر نه لیدل کېږي. د کتاب ځینې او بلکې اکثره موضوعات، خورا جدي او خطرناکه دي او ډېر کسان یې د ویلو زړه نه لري؛ خو لیکوال دا جرئت کړی دی او زما په فکر جرئت یې ځکه کړی چې یو خو خپلې خبرې ورته سمې ښکارې او دلیل ورته لري او بل له خپل ولس سره خواخوږي لري. خواخوږی لیکوال د باد لوري ته نه ګوري چې په کومه خوا الوځي، هغه د ټولنې خیر ته ګوري. دوه، د سبک په لحاظ، لیکوال موضوعات په علمي او ناپېیلې بڼه مطرح کړي دي او ځنګه چې د علمي بحثونو تقاضا ده، هماغسې یې پسته او صریحه ژبه کارولې او خبرې یې په سړه سینه له احساساتو، مبالغو او وارمخکې فرضیو پرته کړې دي، دی قاطع حکمونه او یو اړخیز قضاوتونه نه کوي؛ بلکې خپله رایه بیانوي او نورو ته هم بلنه ورکوي، چې خپل نظر څرګند کړي. د لیکوال په سبک کې یوه مهمه ځانګړنه دا ده چې د تعصب [illegible] نه [illegible] لیکوال [illegible] او مذهبي تعصب [illegible] قومي او ژبنی او دا هغه امتیاز دی چې زموږ خورا لږ شمېر لیکوال یې لري. دریم، د لیکوال نیت راته صاف برېښي، دی که زموږ د ټولنې پر ستونزو لګېږي، که مو پر دینداری باندې نیوکه کوي، که د مدرسو پر نیمګړتیاوو خبرې کوي، نیت یې د دې ستونزو اصلاح ده. د لیکوال نیت د هغه له

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبکه هم ښکاري او له دې هم جوتېږي چې دی که يوه ستونزه يادوي، ورسره د ستونزې د حل لاره هم راښيي او منطقي تجويزونه ورته وړاندې کوي.

د ليکوال بل کمال دا دی چې د کتاب په پای کې يې هغه نقدونه چې د ده پر مقالو ليکل شوي، هم راخيستي دي. په دې نقدونو کې د ده موافقې نظريې هم شته او مخالفې هم، له دې جوتېږي چې ليکوال پر خپلو مفکورو له حده زيات ټينګار نه کوي او مخالف نظرونه هم په ورين تندی مني؛ بلکې پخپله وايي چې ممکن د ده نظر سم نه وي نو قلموال يې بايد تېروتنې ورسمې کړي. البته زه هم د ليکوال له ټولو خبرو سره يو مخ موافق نه يم؛ خو دا اثر د نويو فکرونو يوه مهمه مجموعه ده او دا هغه څه دي چې پښتانه لوستونکي بايد ورسره اشنا شي.

## په دې کتاب کې څه شی لولو؟

ليکوال لومړی په يوه جامع بحث کې د سياسي اسلام مسأله راڅېړي او وايي چې سياست هم د طبابت، زراعت، تجارت او نورو مسلکونو په شان دنيوي چاره ده او د يوه حديث په استناد وايي چې په دنيوي چارو پخپله مسلکي کسان يې ښه پوهېږي او دين په کې کار نه لري.

ورپسې د دين د تجديد بحث پيلوي او په دې اړه هم د نبي کريم (ص) يو حديث رانقلوي چې وايي د هرو سلو کالو په سر کې به دين نوی کېږي. بيا له دې روايته د بنسټپالو انګېرنه يادوي چې هغوی د دين نوی کول، د دين پخوانی او لومړنی بڼې ته ورستنېدل ګڼي. اسلامي بنسټپالنه ګومان کوي چې زموږ د ستونزو اصلي وجه دا ده چې د دين له اصلي بڼې لرې شوي يو. د بنسټپالو په باور پخوا هر څه سم او دنيا ګل و ګلزاره وه؛ خو د وخت په تېرېدو سره چې خلک د دين له اساساتو لرې شوي، په دې لانجو اخته شوي دي؛ نو بايد بېرته هماغه پخوانی اسلام اعاده کړو. ليکوال پر دوی نقد کوي چې: «څنګه دا ثابته کړو چې د پخوانو درک په هره برخه کې سم و او هغوی تر ځان د راوروسته نسلونو په شان په ځينو موردونو کې تېروتلي نه وو. دا پوښتنه هله مطرح کولای شو چې د پخوانو عصمت نفي کړو. که دا ومنو چې هغوی په ځينو جزئي موردونو کې تېروتلي وو، نو بيا نه شو کولای د هغوی درک، په ټوله کې د دين بې عيبه او کامل درک وګڼو.»

بده به نه وي چې دلته د بنسټپالنې په اړه يو څو خبرې وکړم.

بنسټپالنه څه ده؟ معاصره بنسټپالنه لومړی په عيسويت کې راوزېږېده. د ۱۹۱۰ او ۱۹۱۲ ميلادي کلونو تر منځ د امريکا په متحده ايالتونو کې د عيسوي دين اساسات په دوولس ټوکو کې خپاره شول او ليکونکي يې ادعا وکړه چې د هغوی د ټولو ستونزو مور، د عيسويت

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اساساتو څخه لرې کېدل دي. وروسته مذهبي بنسټپالنه یهودیت، هندویزم او اسلام ته هم لاره وکړه. په مذهبي بنسټپالنه کې وګړي په هغو شیانو پورې کلک نښلي چې ګومان کوي د هماغه مذهب اعتقادي اساسات دي. د مذهبي بنسټپالنې ټولې ډلې (عیسوي، یهودي، اسلامي او نورې) سره دغه ګډ اساسات لري: - مذهبي ایدیالیزم – حقیقت یو دی او هغه هم ویل شوی (د دوی په مذهبي کتابونو کې ) – د انسان ماغزه په دې قادر نه دي چې په هر څه پوه شي – مډرنیزم د دوی ستر دښمن دی – انسانانو په پخوا زمانو کې یو طلایي عصر درلود – د ننني انسان د بدمرغۍ وجه دا ده چې د مذهب اساسات یې پرېښي دي او نېکمرغي به یې د هماغه طلایي دورې په راګرځولو کې وي.

ګومان کېږي چې د ټولو مذهبي بنسټپالو ډلو په رامنځته کېدو کې د حقارت احساس اساسي نقش لرلای دی. عیسویت چې په منځنیو پېړیو کې یې ګرده اروپا اداره کوله او د ټولو وګړو واک، د دوی له شخصي او خصوصي مسایلو رانیولې تر حکومت او سیاسته پورې، له کلیسا سره و، د نوې نړۍ په راښکارېدو سره خپل دغه بې حد و حصره سلطه له لاسه ورکړه او څنګه چې کلیسا پر خلکو په زوره حکومت کړی و او خلک یې د بېر ځورولي وو، نو د عیسوي کشیشانو د واک په ختمېدو سره له مذهب سره د خلکو دلچسپي وار په وار سره کمه شوه. د عیسوي دین او ساینس تر منځ د خلکو د باور د خپلولو سیالي روانه وه او د هرې ورځې په تېرېدو سره ساینس له نویو کشفیاتو، اختراعاتو او تجربو سره پرمختګ کاوه او ورسره ورځ تر بلې د خلکو باور وربانډې زیاتېده؛ نو عیسویت چې له خرافاتو سره غوټه و، د ماتې او حقارت احساس وکړ. د حقارت احساس انسان مبارزې ته وربولي، واقع بین انسان خپله نیمګړتیا مني او د جبرانولو منطقي لاره یې ګوري؛ خو ناواقع بین کسان بیا د کاذبې مبارزې لاره خپلوي او په دې لاروکې یوه یې د خیالونو نړۍ ته پناه وړل دي.

ولې بنسټپالي تېرې زمانې ته ورستنېدل غواړي؟ هماغسې چې پورته مو اشاره وکړه، د حقارت د جبرانولو ناسمه لاره د خیالي دنیا جوړول دي. بنسټپالې ډلې خپله نیمګړتیا او خپله ماته نه مني او په خیال کې د کامیابیو او بریاوو داسې طلایي دوره جوړوي چې د دوی په ګومان یو وخت به تېره شوې وي. دوی ګومان کوي په هغه طلایي دوره کې د دوی مذهب خورا غښتلی، خورا سم او له عیبونو خالي و؛ خو وروسته د مذهب پیروان د خپل مذهب له اساساتو لرې شوي دي؛ ځکه خو په بدمرغیو سر شوي او له ماتې سره مخ شوي دي. اسلامي بنسټپالي فکر کوي چې د خلفای راشدین دوره د اسلام طلایي دوره وه چې امن، عدالت،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوکالي، او نېکمرغي په کې په اعلی حد کې وو. خو حقیقت دا دی چې طلايي دوره نشته؛ بلکې موږ د هغو دورو د خلکو مصیبتونه او جنجالونه هېر کړي دي او یا ځنې ناخبره پاتې شوي یو، دا سمه ده چې په صدر اسلام کې ګڼ فتوحات د مسلمانانو په برخه شول؛ خو دغه فتوحات د زرګونو انسانانو د سرونو په بیه تمام شول. له روایتونو ښکاري چې په هاغه وخت کې بې وزلي، فقر او مصیبتونه کم نه وو. د حضرت علي (کرم الله وجه) او حضرت معاویه (رض) تر منځ په جنګونو کې لس ګونه زره مسلمانان ووژل شول، د خلیفه ګانو قتلېدل، د خلافت پر سر نانډرۍ او په دې لړۍ کې بالاخره د یزید په لاس د پیغمبر (ص) د ګران لمسي وژل کېدل، ټولې هغه ناخوالې دي چې د ادعا شوي طلايي عصر برم تر پوښتنې لاندې راولي.

ولې باید د بنسټپالنې پر ضد مبارزه وکړو؟ ځکه چې بنسټپالنه یوازې ځان مني او نور ټول ردوي. د بنسټپالو په نظر په دنیا کې یوازې یو حقیقت شته او هغه حقیقت یوازې دوی کشف کړی دی، نور ټول په غلطه روان دي. همدغه باور هم له تناقضه ډک دی؛ ځکه اسلامي بنسټپالي دغه ادعا کوي چې یوازینی حقیقت دوی موندلی؛ خو عین ادعا عیسوي او یهودي بنسټپالي هم کوي؛ نو لږ تر لږه د هر دین په سر یو یوازینی حقیقت راټوکېږي، حال دا چې یوازینی خو باید یوازینی وي. کاشکې د دوی باور یوازې د دوی په فکرونو پورې محدود پاتې وای، دوی د ټولو هغو کسانو ختمول غواړي چې له دوی سره پر یوه لاره نه ځي. که یې لاس بر شي، لومړی خو ټول مجبوروي چې د دوی نظر ومني او که ویې نه مانه له تېغه به یې تېر کړي. هماغسې چې د افغانستان کمونیست پلوه د خلق دیموکراتیک ګوند به خپل مخالفان ختمول. نو د بنسټپالنې دغه دوه عمده عیبونه سړی دې ته مجبوروي چې پر ضد یې مبارزه وکړي؛ ځکه که ته ورسره کار هم ونه لرې، دا درسره کار لري.

د بسټپالنې زیات تاوان چا ته رسېږي؟ زما په فکر اسلامي بنسټپالنه تر ټولو زیات اسلام او مسلمانانو ته زیان رسوي. هغه په دې چې اسلامي بنسټپالي هم د نورو بنسټپالو په شان، یوازې ځان حق ګڼي او نور ټول باطل. څرنګه چې په اسلام کې د ننه د سني او شیعه لویې فرقې دي او بیا هره یوه یې په څو نورو ډلو او فرقو وېشل شوې ده؛ نو له هرې فرقې او مذهبي ډلې سره به د بنسټپالو میرڅی وي او څرنګه چې اسلامي بنسټپالي له خشونت او ترهګرۍ سره غاړه غړی دي، خپل هر رقیب ته به خپل زور وروښيي. ممکن دغه تمایل به په عیسوي او یهودي بنسټپالو کې هم وي؛ خو په پرمختللو ملکونو کې نظام او قانون دومره غښتلي دي چې بنسټپالي خپل سری ته نه پرېږدي؛ خو زموږ د سیمې هېوادونه دا توان نه لري. همدا اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پاکستان کې د شيعه ګانو پر ضد ، د دوی پر جماعتونو او جوماتونو ځانمرګي بريدونه او بمي چاودنې کېږي، په عراق کې هم وضعيت همدغسې دی او دغه ناورين د اسلامي نړۍ هر ګوټ ته غځېدلی شي. نو تر ټولو زيات پخپله مسلمانان، هغه مسلمانان چې د دين غم ورسره دی، بايد د بنسټپالنې پر ضد مبارزه وکړي.

همدا وجه ده چې ښاغلي استاد محمد محق د يوه خواخوږي مسلمان په حيث خپل رسالت تر سره کړی او د بسنټپالنې په اړه يې مقالې ليکلې دي. زما په نظر په اوسنۍ زمانه کې تر ډېر ستر کار نشته چې ويې کړو؛ ځکه بنسټپالنه هغه سل سری ښامار دی چې لا يې يوازې يو سر ښکاره شوی او نهه نوي نور يې لا په سوړو کې پټ دي.

اوس به بېرته راشو د کتاب محتوياتو ته. زموږ د ډېرو خلکو په باور د ديانت معيار همدا دی چې څوک دې لمونځ قضا نه کړي، په روژه کې ټينګ وي، حج وکړي... او نور چې هر څه کوي، پروا نه لري. ښاغلي محق د اخلاقي ديانت او غير اخلاقي ديانت په مقاله کې دا مسأله ډېره ښه څېړلې ده. دی وايي چې ځيني خلک هره ګناه کوي، غلا ، ټګي برګي، دروغ، يو هم نه پرېږدي؛ خو بيا نفلونه، تراويح او اعتکافونه کوي چې ګوندې ګناهونه يې پاک شي. ليکوال وايي دا غير اخلاقي ديانت دی: «خو په اخلاقي ديانت باورمن کسان پوهېږي چې که دغه کارونه د هغوی د اخلاقي شخصيت په وده کې مرسته ونه کړي، بې ګټې دي. دا وګړي عبادتونه داسې تمرينونه ګڼي چې له بلې دنيا سره د پيمان د تجديد په وسيله، د هغوی د اخلاقو له دوامدارې ودې او ښه کېدو سره مرسته کوي» خدای پاک فرمايي چې بې شکه لمونځ انسان له منکراتو راګرځوي؛ له دې څرګندېږي چې هغه لمونځ لمونځ نه شو بللای چې د لمونځ کوونکي پر اخلاقو مثبت اثر ونه کړي.

ليکوال د دين پر اوسني وضعيت نقد کوي: «راتلونکې نړۍ به په چټکۍ سره بدلېږي او تغيير او تحول به په کې راځي، هلته به د هغه دين بازار ګرم وي چې د دښمنۍ او تربګنۍ تخم ونه کري، چې د انسانانو تر منځ د جنګ او دښمنۍ اور ته لمن ونه وهي؛ بلکې خپل پيروان ښو اخلاقو ته وروبولي.»

همدارنګه د بنسټپالو په نقد کې وايي چې ننني انسان، پروني انسان نه دی: «که فقهي کتابونو ته مراجعه وکړو ، د انسان اساسي اړتياوې (حاجات اصليه) په درېو شيانو رالنډېږي: کور، خر، نوکر. څوک چې دغه درې ولري، د فقيرانو له ډلې راووځي او د ښه ژوندانه څښتنان بلل کېږي او داسې ګڼل کېږي چې ټولې اړتياوې يې پوره دي. خو په ننني نړۍ کې د انسان اساسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړتياوې دا نه دي. نن سبا تعليم، درملنه، کار روزګار، د ژواک سالم چاپېريال، او ډېر نور شيان په اساسي اړتياوو کې حسابېږي. پر دې سربېره ډېر نور شيان دي چې د ژوند لازمي اړتياوې ګڼل کېږي لکه راديو، تلويزيون، ورځپاڼه، کمپيوټر، انټرنټ او نور شيان چې ورځ تر بلې يې شمېر زياتېږي.» نو څنګه چې د نني انسان اړتياوې نورې دي، هماغسې يې غوښتنې او ستونزې هم نورې دي او په پخوانو زړو فورمولونو نوې پېچلې معادلې نه شو حل کولای.

ښاغلی محق د تابوګانو په زړه پورې مبحث مطرح کوي او وايي چې بايد تابوګانې ماتې کړو او رازونه يې راوسپړو. تابو (Taboo, Tapu) د پولي نيزي کلچر يوه اصطلاح ده چې معنا يې مقدس او ممنوع ده. د ليکوال په باور: «ژمن روښانفکر او متفکر دا خپله وظيفه ګڼي چې د نورو بر خلاف په هغه لومه کې ونه لوېږي چې قدرت ورته غوړولې ده. دی بايد هغه پوله ونه مني چې قدرت ورباندې د ده تفکر ايساروي. دی بايد د پوهې او نقادانه تفکر وسله په لاس واخلي او هغو ځايونو ته ورشي چې لږو کسانو يې د ورتلو جرئت کړی وي.» په نکلونو کې د ژوند خورا مهم درسونه په سېمبوليکه بڼه راغلي دي. د نکلونو اتلان هغو ځايونو ته ورځي چې نور يې ورتګ ته زړه نه ښه کوي. سره له دې چې نور خلک اتل ډاروي چې دا سې ځايونو ته ورتګ د سر خطر لري؛ خو اتل خطر پر ځان مني، ورځي، بلاګانې وژني، طلسمونه ماتوي، او په همدې وجه کامیابېږي او نه يوازې ځان له بلا ژغوري؛ بلکې ټول ولس د بلا له خولې راباسي. زموږ اکثره فولکلوري نکلونه دغه خبره راته کوي چې هله له بلا خلاصېدای شئ چې مبارزې ته يې ورودانګئ او د عقل او پوهې په مرسته يې له منځه يوسئ. تابو هغه بلا ده چې يوازې ځيرک او هوډمن ليکوال او روښانفکر يې د ماتولو زړه کوي. ميرزا اسدالله غالب ښه ويلي دي چې:

با من مياويز ای پدر، فرزند آذر را نګر هر که شد صاحب نظر، دين بزرګان خوش نه کرد.

د دې کتاب ليکوال هم د ابراهيم(ع) په دود، د فکري بوتانو ماتولو ته مټې رانغښتې دي: «د څلورګونو رسمي مذهبونو موضوع يوه بله تابو ده چې د قدرت د خاوندانو په لاس جوړه شوې او په پېړيو پېړيو يې د ازاد تفکر او اجتهاد په لاره کې جدي خنډ جوړ کړی دی... د دې څلور ګونو مذهبونو د سروالو لويو مجتهدانو په وخت کې فقهي مذهبونه تر دې خورا ډېر وو، د ځينو صاحب نظرانو په باور شمېر يې ان پنځو سوو ته رسېده. په لومړي سر کې دا ټول، ساده فکري تمايلونه وو چې مسلمانانو ته له هر يوه سره د تعامل ازادي وه او د هېڅ يوه مذهب پيروي چا ته الزامي نه ګڼل کېده... (خو تر پنځمې پېړۍ وروسته) سره له دې چې څلور واړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهبونه په حقه ګڼل شوي وو؛ خو نور چا حق نه درلود چې خپل مذهب پخپله وټاکي، هغه که خوښ و که خپه، مجبور و په هماغه مذهب کې پاتې شي چې پلار نیکه یې غوره کړی و.» نن سبا زموږ اکثره وګړي فکر کوي چې مذهب مطلق دین دی او څه چې په مذهب کې ورته ویل کېږي، یوازې هماغه د دین خبرې دي، حال دا چې ټول مذهبونه په ماهیت کې سره یو شان دي او ټول له قران او له سنته راخیستل شوي دي.

د مقالو په ترڅ کې لیکوال ځان هم راپېژني، دی د هغه وخت کیسه راته کوي چې نامتو مفکر نصر حامد ابوزید د خپلو نویو خبرو په وجه تکفیر شوی و: «زه هاغه مهال د بنسټپالنې له جبهې سره نژدې وم او د ابوزید په محکومیت باندې خوشحاله شوم؛ خو په دې حیران شوم چې هغه څرنګه د داسې نظام له لوري تکفیر شوی دی چې د اسلامي بنسټپالو په نظر نا اسلامي او مردود نظام ګڼل کېده. ما نه شو کولای چې دا تناقض حل کړم.» د اروا پوهانو په نظر بني ادمان د فکر کولو دوه طرزونه لري: ځینې تحلیلي فکر کوي او ځینې غیرتحلیلي. د تحلیلي طرز فکر خاوندان هڅه کوي د پېچلو مسایلو راز راوسپړي، څېړنه وکړي، تجربه وکړي او پخپله ځان حقیقت ته ورسوي؛ خو د غیرتحلیلي طرز فکر څښتنان دا غوره ګڼي چې هر څه په پټو سترګو ومني، هرڅه ورته تیار ښودل شوي وي او دوی ته یې د فکر کولو زحمت نه وي پرېښی. ښاغلی محق داسې کس نه دی چې چا دې ورته د بنسټپالو په اړه څه ویلي وي او د ده کرکه یې راپارولې وي؛ بلکې ده هر څه پخپلو سترګو لیدلي او د بنسټپالنې تار او تنسته یې معلومه کړې ده؛ خو څرنګه چې دی واقعبین انسان و، د هغوی په خبرو کې یې شک وکړ او نوي واقعیتونه یې موندل؛ ځکه خو یې فکر بدل شو.

لیکوال په بله مقاله کې په افغانستان کې د بنسټپالنې وده مطرح کوي: «(د افغان جهاد په کلونو کې) متحدو ایالتونو او ترونوالو یې همدا بس ګڼل چې خپل پیاوړي حریف (شوروي اتحاد) ته سخت ګوزارونه ورکړي... او دا چې تر هغې وروسته به څه کېږي، ورته مهم نه وو. د دې معنا دا ده چې د بنسټپالنې خطر یې له پامه غورځولی و.» ښاغلی محق راته ښیي چې له ترهګرۍ او بنسټپالنې څخه د وسیلې په توګه استفاده، څومره لوی جنجالونه جوړولی شي.

لیکوال د دیني انارشۍ چاره په دې کېویني چې باید د هېواد د ټولو امامانو، خطیبانو، او د مدرسو او د شرعیاتو د پوهنځیو د استادانو له منځه یو مرجع مذهبي بنسټ جوړ شي: «په دې لاره کې تر ټولو مهم ګام د مرجع بنسټ جوړول دي چې په افغاني ټولنه کې د مذهب استازولي وکړي. دا باید یوازینی بنسټ وي چې د دین په نامه د خبرو حق ولري څو له او سنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګډوډېږيو مخنيوی وشي، داسې نه لکه اوس چې هر څوک بې له دې چې کوم معيار يا څرګنده ضابطه په پام کې ونيسي، ځان د دين وياند بولي.»

د ليکوال په باور: «غوره دا ده چې دا بنسټ دولتي نه؛ بلکې يو ملي بنسټ وي چې هر وخت د هېواد ګټو ته فکر وکړي او اجازه ورنه کړي چې نور دې څوک د دين په نامه وطن وران کړي. سره له دې چې دولت به د دې شورا په ترتيب او جوړولو کې برخه ولري؛ خو د دې لپاره چې شورا د خلکو اعتماد جلب کړي، لازمه ده چې د دولت لاسپوڅې نه وي.» فکر کوم دا د ديني چارو د تنظيم لپاره بهترينه لاره ده، نه يوازې په هېواد کې دننه؛ بلکې که دا لړۍ پسې وغځول شي او د نورو اسلامي هېوادونو ديني بنسټونه هم رامنځته شي او د دغو هېوادونو د ديني بنسټونو تر منځ روابط ايجاد او بالاخره نړېوال اسلامي بنسټ تاسيس شي، بيا به په ټوله نړۍ کې واحده اسلامي تګلاره ولرو او بيا به داسې نه وي چې څوک دې انتحاري بريدونه په افغانستان کې روا وبولي؛ خو په پاکستان کې يې ناروا وګڼي.

د کتاب ليکوال د ملايانو او امامانو د ژوند د بهترۍ لپاره هم مناسب تجويز وړاندې کوي، وايي چې بايد ملايانو ته د ښوونې عصري ميتودونه ورزده شي او بيا دې د ماشومانو تعليم ته وګومارل شي: «امامان چې د ښوونې دغه ميتود زده کړي، بيا کولای شي د ماشومانو له کورنيو څخه د خپلې معلمۍ حق الزحمه واخلي.» له مناسبې حق الزحمې سره به د دوی ژوند بهتره شي او هغه حقارت چې اوس يې د خوارۍ په وجه احساسوي، له منځه لاړ شي، په نتيجه کې به دوی ځانونه د ټولنې د نورو وګړو په شان وګڼي او له خلکو سره به دښمني نه کوي. دلته هم ليکوال د نورو موردونو په شان له واقع بينۍ کار اخيستی دی او ملايانو ته يې د ښوونې په اړه د کورسونو جوړول حتمي ګڼلي دي. موږ وينو چې نن سبا د کابل په ځينو خصوصي ښوونځيو کې د مدرسو فارغان د قران کريم او ديني علومو د استادانو په توګه ګومارل شوي دي؛ خو څنګه چې دوی د تدريس په ميتود ، اروا پوهنه او د پيداګوژۍ په نورو مسايلو نه پوهېږي، کار يې ناموثره دی او اکثراً د وهلو ډبولو له لارې پر شاګردانو فشار اچوي چې درسونه زده کړي، هماغسې چې دوی ته د لښتې په زور سبقونه ښودل شوي دي.

د الهياتو په بحث کې ښاغلی محق وايي چې د طالبانو الهيات تشبيهي الهياتو ته نژدې دي چې په کې خدای ته د انسان صفتونه منسوبېږي او هماغسې چې انسان ژر غوسه کېږي او پر ځان کنټرول له لاسه ورکوي، خدای هم غير له دې چې ګناهکارانو ته سختې جزاګانې ورکړي او انتقام ځنې واخلي، بل کار نه لري. د ده په باور طالبان او دوی ته ورته نورې ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه خلک ځوروي، وهي او ټکوي يې او خورا سخت چلند ورسره کوي چې ځان د خدای له خوا د دغسې سخت شريعت په تطبيقولو مکلف ګڼي. زما په نظر د دې ډول الهياتو نښې نښانې د افغانستان په غير مذهبي او ان د مذهب ضد ډلو په کړنو کې هم څرګندې دي، د افغانستان د خلق ديموکراتيک ګوند يې ښه نمونه ده. دوی په خشونت پالنه کې تر جهادي ډلو او تر طالبانو کم نه وو، تو پير يې همدومره و چې هغوی د ايډيالوژۍ په نامه دا کارونه کول او دا نور يې د مذهب په نامه کوي چې په ماهيت کې بيا دواړه سره يو شان دي. نو د ليکوال دا خبره سمه ده چې خشونت پالنه د ډېرو افغانانو د زړونو تل ته ورکښته شوې ده. فکر کوم د غيرمذهبي ډلو کړنې هم د هماغه الهياتو له تصوره سرچينه اخلي چې غړو يې په کوچنيوالي کې په کورنيو او جوماتونو کې زده کړې دي.

د اثر خاوند د ځينو ديني مدرسو د وضعيت په اړه وايي: «په هغو ټولنو کې چې پراختيا يې نه ده کړې او له مډرن ژوند سره لا بلدې نه دي، غالب نظر اسطوره يي نظر دی. دا تر مډرنيزم د مخکې زمانې د ليد طريقه ده چې عمده ځانګړنه يې مرموزوالی دی. دوی هر څه ته، هغه که دنيوي چاره وي که ديني د اسطورې په سترګه ګوري.» دی مدرسې داسې ځايونه ګڼي چې عام خلک ورته د تقدس او اسطورې په سترګه ګوري؛ خو خبر نه دي چې د ننه په کې څه تېرېږي. اسطوره يي نظر زموږ ټولنې ته ډېر تاوانونه رسولي دي. ټګانو د خلکو له همدې ناخبرۍ او کمزورۍ څخه پوره استفاده کړې ده، دا چې مريدان د پيرانو پښې ښکلوي، د پير حضور ته په خاپوړو ورځي، هغه اوبه د تبرک لپاره څښي چې پير پرې لاسونه مينځلي وي ... د خلکو د همدې اسطوره يي باورونو نښې دي. دا مسأله هم د نورو هغو غوندې يوازې په ديني او مذهبي چارو نه محدودېږي؛ بلکې په ټولنه کې يې نور مثالونه هم وينو. مثلاً دا چې جنرال عبدالرشيد دوستم، احمدشاه مسعود، ګلبدين حکمتيار، عبدالعلي مزاري، برهان الدين رباني، حاجي محمد محقق، عبدالرب سياف او نورو تنظيمي مشرانو د قدرت پر سر جنګونو کې څومره وينې تويې کړې او پر مسلمانانو يې څومره ظلمونه کړي دي، له هېچا پټ نه دي؛ خو د هر يوه پلويان لا اوس هم دوی ته د تقدس په سترګه ګوري او د دوی پر خلاف يوه خبره هم نه شي زغملای. جالبه دا ده چې په دې منځ کې هغه کسان هم شامل دي چې ځانونه روښانفکره، تعليم يافته او د مدني ټولنې غړي ګڼي. که په نورو ډلو کې د مذهب زور دخيل وي، د دوستم ډله خو مذهبي صبغه هم نه لري؛ مګر سړی حيرانېږي چې څنګه يوه تعليم يافته او روښانفکره خلک هم ورته ټيټېږي او هره خبره يې په پټو سترګو مني. څلور د برش کاله وشول چې نورمحمد تره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی او حفیظ الله امین مړه دي؛ خو د هر یوه ملګري اوس هم خپل رهبر له عیبونو مبرا ګڼي او د هغه د هر عمل دفاع کوي. دا ټول د اسطوره يي لید تاوانونه دي.

استاد محق په بې ساري جرئت سره د مدرسو هغه پټ اړخونه بربنډوي چې نور څوک يې د ويلو توان نه لري: «په دې مدرسو کې هر وخت پر دې ټينګار کېږي چې له ښځو سره دې له هر ډول رابطې پرهېز وکړي. دغه ټينګار د نرسالارۍ د فرهنګ انعکاس دی چې په اجتماعي ژوند کې د مېرمنو له هر ډول حضور سره مخالف دی... په دې ليدلوري کې ښځه د نارينه وو د انحراف او د فتنې عامل ګڼل کېږي چې بايد سخت ځنې وډار ېږو. دغه فتنه ګري يوازې د ښځې پر حضور نه رالنډېږي، بلکې د هغې هر ساده او معمولي عمل، د مخ جوتېدل يې، غږ يې، پر لاره تګ يې، او هر څه يې فتنه زېږولای شي. ان د ښځو د بوټونو ټکا هم دغسې ده.» له دې خبرې سړی دا نتيجه اخلي چې نر هغه سرا پله لېوه دی چې بايد هر وخت د ښځو رمه ځنې وساتې که نه دی ځان نه شي قابو کولای.

څو کاله مخکې په يوه موسسه کې طبي سوپروايزروم او د افغانستان ځينو کليو ته تلم. يوه ورځ مې له يوه ملا سره پر همدې موضوع بحث وشو. هغه ويل چې ولې زموږ سيمو ته ښځينه ډاکترانې نه راځي؟ ما ورته وويل چې ته خپله لور مکتب ته نه پرېږدې، د نجونو مکتب نه منې؛ نو ښځينه ډاکتره خو له اسمان څخه نه رانازلېږي. ده وويل چې د نجونو مکتب ځکه نه منې چې ورسره فساد زياتېږي. همدغه سړي څو ورځې مخکې راته ويلي وو چې په کلي کې بچه بازي عامه شوې ده او ښکلي هلکان په امن کې نه دي. نو ورته مې وويل، اوس چې ستاسو په سيمو کې بچه بازي عامه ده نو ولې د هلکانو پر ګرځېدو بنديز نه لګوئ؛ ځکه چې فساد ته خو د دوی حضور هم زمينه برابروي. کابليان وايي چې د طالبانو په وخت کې چې ښځې او نجونې به له سره تر پښو پورې پټې وې او يوازې به يې پوندې ښکارېدې، د نارينه وو سترګې به د دوی پر پوندو ښخې وې؛ خو اوس چې ګڼ شمېر مېرمنې لوڅ مخونه ګرځي، څوک ورته ګوري هم نه. غني خان ښه ويلي دي:

چې دې وس د بدو نه وي<br>
څه به ته څه به دې ښه وي<br>
توبه هله د شرابو<br>
چې شراب درته پراته وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بوډا شي خوله کړ شپه
بیا توبه توبه د څه کړې
هغه ښه د بدو بد وي
د ناکامه چې ته ښه کړې

زموږ په ټولنه کې ځینې نور مسایل هم شته چې زما په فکر باید راوسپړل شي. مثلاً موږ د روایتونو او احکامو ماهیت ته نه ګورو، یوازې شکل ته یې ګورو او هماغه منو. د بېلګې په توګه دا د سنت طریقه ده چې د نارینه وو پایڅې دې تر ښنګرو پورته وي؛ ځکه د رسول الله(ص) په وخت کې ټيټې پایڅې د تکبر نښه وه. په کابل کې د تنظیمي جګړو پر مهال ټولو جنګیالیو په تېره بیا د دوستم د ملیشو پایڅې به تر زنګانه پورته وې خو هر یو یې د خپلې زمانې فرعون و؛ نو که د سنت شکل ته وګورو خو پایڅې باید پورته کړو؛ خو که یې ماهیت ته وګورو، په دې وخت کې خبره اپوټه ده، جګې پایڅې د تکبر نښه ده. یا د اوداسه او په مجموع کې د طهارت په اړه، زه مطمین یم چې که د نبي کریم(ص) په وخت کې صابون وای، ده به خامخا ویل چې تر استنجا وروسته لاسونه مو په صابون ومینځئ؛ ځکه د ده منظور د بدن پاکوالی دی او بدن په خالي اوبو نه پاکېږي. دې ته ورته سلګونه نور موردونه دي چې څېړل غواړي. په دې تمه چې ښاغلی محمد محق به پر دې مسایلو هم بحث وکړي.

ډاکتر ولي الله ازاد
د 2013 د جون 15
کراچي، پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پیل خبرې

څنګه چې له دې ملک څخه د ښېرازۍ او د ترقۍ فرصت اخیستل شوی دی، هماغسې د دې لوبې په وجه زموږ د معنوي تعالي فرصت هم له منځه تللی دی. دین کولای شول چې د خپلو اخلاقي لارښوونو په برکت د انسانانو روح او باطن تزکیه کاندي؛ خو که چېرې دین یې د قدرت او ثروت په ناولتیاوو نه وای ککړ کړی. موږ له دین څخه د مینې او پخلاینې الهام اخیستی شو نه د کرکې او خشونت.

خو زموږ د وطن واقعیتونه بل څه وایي... ګوندې دا کرغېړنه کیسه پای نه لري چې نور د مرګونو او مصیبت، بلوا او جنایت شاهدان ونه اوسو.

درې لسیزې تېرې شوې خو لا هم د هېواد د فکر او فرهنګ په ډګر کې د بدلانه نښې نه ښکاري او لا هم د دیني بحثونو ټیکه د هغو وګړو په لاس کې ده چې ژوند ته هېڅ درناوی نه لري او ارامۍ او ابادۍ ته هېڅ اهمیت نه ورکوي.

لا هم د دین په نامه بازار لګېدلی او هغه شیان په کې خرڅېږي چې د وینو بوی ځنې لټېږي او له غوسې او خشونت پرته نور څه په کې نشته خو لنډ فکري او ساده ګان یې اخیستونکي دي.

په دې منځ کې نو د قلموالو رسالت څه دی؟ هغه کسان چې فکر خپروي، هغوی څه وظیفه لري؟ ایا هغه ژمنه چې خدای پاک د فکر او پوهې له خاوندانو څخه اخیستې ده، له دوی څخه دا نه غواړي چې بې له وېرې دې د جهل او جمود پردې وشلوي او د مستو زنګیانو له لاسه دې وسله واخلي چې نور د چا مرۍ پرې نه شي او د چا نس څیرې نه شي؟

د دین داسې ښکلی تفسیر وړاندې کول چې پر عقل برابر وي او پر زړه خوږ ولګي، او د افراطي مفکورو نقد کول، یو له هغو کارونو څخه دي چې د فکر خاوندان یې کولای شي.

لیکوال دا خپله وظیفه بولي چې د قلم په زور د هغو کسانو مخې ته ورودانګي چې تیاره خپروي او کرکه او تعصب زېږوي. دا مسأله تر هغې زیاته جدي ده چې سړی دې ځان ورته غلی ونیسي او خبره پکې ونه کړي؛ ځکه چې دلته د انسانانو او د هېواد د تباهۍ او د دین د بدنامۍ مسأله مطرح ده، دلته اخلاق او معنویت تباه کېږي.

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکوال په دې هم پوهېږي چې دغه هڅې د اوبو د يوه څاڅکي په شان دي چې په يوه وچه، سوځېدلې صحرا کې څڅېږي او دا به د ټولنې له زرګونو ستونزو څخه يوه هم حل نه کړای شي؛ خو چاره څه ده؟

هغه ربړه چې موږ ورسره مخ يو، يوازې د همدې زمانې محصول نه ده. زموږ د هېواد ځينې ستونزې په تېرو لسيزو او ان تېرو پېړيو کې ريښه لري. هر نسل يوه کارنامه درلودلې ده، يا مثبت يا منفي، يا کامياب يا ناکامه. موږ هم په خپل وار سره يو څه مسووليت لرو. کېدای شي زموږ ننني تتې هڅې د راتلونکو نسلونو لپاره ګټورې تمامې شي، د هغو نسلونو لپاره چې پر ځان به ويارې او د دې ټولنې د ببرې ماښوګان به وي.

ليکوال په همدې باور قلم راخيستی او هڅه يې کړې ده چې له خپلې وسې سره سم ځينې مسايل مطرح کاندې. ګوندې دا بحثونه ځينې پوښتنې راولاړې کړي او زموږ په ټولنه کې د کتاب د ځينو لوستونکو په فکر کې خوځښت راولي.

د دې کتاب مقالې او بحثونه د تېر کال په بهير کې له هغو ترخو او غمجنو پېښو سره هم مهاله ليکل شوي دي چې زموږ په خاوره کې پېښې شوې. نو د ليکوال ذهن تر ډېره بريده هغو اندېښنو په سر اخيستی و چې د محيط له واقعيتونو سره يې اړخ لګاوه او نيت يې انتزاعي-تحقيقي اکاډيميکه ليکنه نه وه؛ خو د اکاډيميکو هڅو د ارزښت د راکمولو نيت يې هم نه دی لرلای.

د دې کتاب ځينو مقالو د قلموالو پام ځان ته اړولی او سربېره پر دې چې ځينو خپل شخصي نظر راته ځرګند کړی، څو تنو ځوانو قلموالو نقدونه او تعليقونه يې هم ورباندې کښلي او له دې کار سره يې د انتقادي بحثونو سپرغۍ بله کړې ده او دا هغه څه دي چې زموږ د فرهنګي حوزې له اساسي اړتياوو څخه دي. دا چې زه له دې تعليقاتو او ملاحظاتو سره موافق يم که نه، بېله خبره ده؛ خو د دې حسنه سنت قدر کوم او د ليکوالو د مبارکو هڅو په درناوي، د هغوی مقالې مې د کتاب په پای کې راوستې دي.

د دې اثر تر خپرولو وروسته به هم ليکوال له دې باوره لرې نه شي چې د هغه ليکنې د انساني هڅې په توګه له خطا او سمو او ناسمو به خالي نه وي، په همدې وجه دی هر نقد ته په ورين تندي هرکلی وايي او هيله من دی چې په همدې پلمه دې د هېواد د قلموالو ترمنځ جدي او لا ژور بحثونه راپيدا شي او هغه فکري رکود چې پر دې وطن حاکم دی، مات شي. په دې تمه چې جدي او اغېزناک بحثونه پيل شي او دعوې دې د جګړې او خشونت له ډګره د قلم او ليکلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميدان ته انتقال شي. که داسې وشي په دې ملک کې به لوی بدلون پيل شي او ټولو ته به د ښه راتلونکې زيری ورکړي.

بمنه و کرمه...

محمد محق

۱۵/۳/۱۳۹۰

قاهره

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی برخه

# د دین او فرهنګ په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سياسي اسلام،
# د دنيا تأمينول که د آخرت تضمينول

نژدې يوه پېړۍ کېږي چې داسې حزبونه او ټولنې رامنځته شوې دي چې د اسلام سياسي تفسير يې منظور دی. دوی ورو ورو په اسلامي ملکونو کې د سياسي –اجتماعي تحولاتو په مهمو لوبغاړو بدل شوي دي. تر دې اوږدې مودې وروسته، اوس د اسلامي ټولنو اساسي اړتيا دا ده چې د دغو ډلو نقش او فعاليت وارزوي. ليکوال هڅه کوي چې په دې بحث کې دغو ډلو ته له تحليلي –انتقادي ليدلوري وګوري چې ورسره تيوريکي جدي بحثونو ته لاره هواره کړي ځکه دا شی زموږ په محيط کې سوړ او بې خونده دی.

د بحث ټرمينولوژي

مخکې تر دې چې اصلي بحث ته ورننوځم، ښه به دا وي چې له «سياسي اسلام»، «تأمين»، او «تضمين» څخه خپل منظور روښانه کړم.

سياسي اسلام، نن سبا د مذهبي جماعتونو په منځ کې هغو بهيرونو او ځواکونو ته ويل کېږي چې د دين تر نورو اړخونو په تېره بيا د دين د اخلاقي بعد په نسبت د دين ظاهري بڼه يعنې شرعي احکام پورته ګڼي. دوی په همدې وجه د شريعت تطبيقول د مسلمانۍ تر ټولو مهم اړخ ګڼي چې دا کار د حاکم سياسي نظام په لاس کېدونی دی. دوی باور لري چې د همداسې نظامونو تاسيس د اسلامي ټولنو د ستونزو د حل پيل دی. دغه ډلې په فرهنګي، اجتماعي، اخلاقي او نورو ډګرونو کې نور ټول اصلاحات او بدلونونه، فرع ګڼي خو د مسلمانانو د سياسي ژوندانه بدلانه ته د اصل په سترګه ګوري. په همدې خاطر حکومت ته رسېدل ورته خپله شرعي وجيبه ښکاري. په عربي نړۍ کې اخوان المسلمين، په غيرعربي ملکونو کې د دوی همفکران او پيروان، په مختلفو هېوادونو کې د حزب التحرير څانګې، جهادي سلفيت، د القاعدې نړيوال سازمان او د هغوی طالب انډيوالان، ټول يو خېل دي. سره له دې چې په ځينو موردونو لکه حکومت ته د رسېدو لاره او همدا رنګه د شريعت د تطبيقولو په طريقه کې لږ ډېر

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره اختلاف لري؛ خو په ټوله کې سره يو شان دي. دغه ټولې يادې ډلې د سياسي اسلام تر نامه لاندې ډلبندي کېږي.

تأمين د امن له رينبي څخه اخيستل شوی دی او کله د امنيت او اطمينان ورکولو په معنا او کله هم د برابرولو او د اړتياوو د رفع کولو په معنا چې د امنيت او اطمينان حس ورسره نغښتی دی، استعمالېږي. نن سبا دغه کلمه په فارسي کې هم په همدې معنا کارول کېږي او د ليکوال منظور هم همدغه معنا ده.

تضمين په دوو معناوو استعمالېږي: لومړی، د يوه شي استعمال د بل شي په ضمن (ترڅ) کې مثلاً په ادبياتو کې چې يو شاعر د بل شاعر يوه مصراع يا بيت د خپل شعر په ضمن کې راوړي؛ خو دا معنا زموږ له بحث سره تړاو نه لري. ***(زموږ په ادبياتو کې پخوا دغه دود موجود و چې يو شاعر دې د بل شاعر پر غزل مخمس وليکي او د مخمس د هر بند په پای کې د هماغه غزل يو بيت راوړي، دې کار ته په ادبياتو کې تضمين وايي. ژباړن)*** دويمه معنا، د يوه شي ضمانت کول او د هغه د ساتلو يا برابرولو ژمنه. ليکوال دا کلمه په همدې معنا استعمال کړې ده.

**دنيا که آخرت؟**

په دې ليکنه کې دا پوښتنه مطرح کول غواړو چې سياسي اسلام د مومنو مسلمانانو دنيايي اړتياوې او غوښتنې پوره کوي که هغوی ته د اخروي سعادت لاره هواروي او د هغوی معنوي ژغورنه تضمينوي؟ البته دلته د نورو ديني جماعتونو په اړه چې د سياسي اسلام تر چتر لاندې نه راځي، څه نه وايو، لکه صوفيان، ديني روښانفکران او د نويو فکرونو خاوندان، غيرجهادي سلفيان، تبليغيان او نور څکه چې دوی يا خو اساساً سياست ته اهميت نه ورکوي او يا دا چې سياست د فرهنګي – اجتماعي مسايلو تابع ګڼي چې دا د ديني اصلاح او د ټولنې د معنوي پاکولو په لومړيتوبونو کې نه راځي(۱).

سياسي اسلام د مډرنې زمانې زېږنده او په شرقي – اسلامي ټولنو کې د ناکامه مډرنيزېشن له جانبي عوارضو څخه ده او عمدتاً د ښاريانو د ټيټو طبقو او ښاري ژوند ته د نه راجذب شويو کليوالو ايډيالوژي جوړوي. دغه ايډيالوژي په دې ملکونو کې پر موجودو پراخو او ژورو کړکېچنو حالاتو د دې طبقو د باخبرۍ انعکاس دی. د دوی باخبري نيمګړې پاتې ده او د اجتماعي، اقتصادي، سياسي، فرهنګي او ... تحولاتو په اړه له مډرنو پوهنو سره آشنا شوې نه ده. دوی ساده فکر کوي او ګومان کوي چې د دې هېوادونو د وروسته پاتې والي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو د ماتې راز د دغو ملکونو په فاسدو نظامونو کې نغښتی دی چې د نامسلمانو او عمدتاً غربيانو په توطيو باندې واک ته رسېدلي دي(۲).
د دې نظريې پر اساس که چېرې صالح وګړي (صالح په خاص تعريف سره ) راووځي او ځان د پرديو له منګولو وژغوري او په خپلو ملکونو کې شرعي احکام جاري کاندي؛ نو د اسلامي هېوادونو ټولې ستونزې به يوه يوه له منځه ځي. بيا به نه د نيستۍ او محروميت اثر پاتې وي، نه به د صنعت او ټکنالوجۍ په ډګر کې کومه عمده ستونزه پاتې وي، نه به په سياسي ډګر کې د کمزورۍ احساس وکړي، نه به په علمي برخه کې له کمبود سره مخ وي، نه به د اخلاقي بحرانونو رنځ وګالي، نه به د چاپېريال له بدلونونو اندېښنه ولري، او نه به نورې لانجې ورپه غاړه وي...
په دې توګه بې له دې چې بلې دنيا ته لاړ شي، موعود جنت به همدلته ورته برابر شي او د اسلامي حکومت هغه طلايي دوران چې تر خلفای راشدين وروسته له منځه تللی و (۳) او دا ځوارلس پېړۍ مسلمانانو د هغه د محروميت رنځ ګاللی، هغه دوران به بېرته اعاده شي. البته دا حتمي نه ده چې د غه طلايي دوره دې ټولو ته طلايي وي؛ ځکه مسلمانان به بېرته هغه ځمکې لاندې کړي چې له لاسه يې ورکړې دي. پر دې سربېره، د دنيا په شرق و غرب کې به د اسلام د خپراوي او پراختيا زمينه برابره شي او هغو خلکو ته چې تر اوسه له اسلامه محروم پاتې وو، اسلام به ورته ورسول شي او که د دې رسالت د تر سره کولو لپاره اړتيا پېښه شي، نور هېوادونه به په زوره ونيول شي (۴).
سياسي اسلام د دې دنيا د ښېګڼې لوېې وعدې کوي او ورسره هم مهاله د بلې دنيا د سعادت تضمين هم کوي او ژمنه کوي چې که چېرې خلک دې ايډيالوژۍ ته مخه کړي نو اخلاقي تعالي، معنوي ژغورنه، الهي قرب او هر څه چې په دې ډله کې راځي، تر لاسه به يې کړي. که داسې وشي نړۍ به د نوي انسان او نوي جهان د منځته راتلو شاهده اوسي چې په دې جهان کې به د جاهليت اثر پاتې نه وي، هم د شلمې پېړۍ د جاهليت(۵) او هم د نورو پېړيو د جاهليتونو اثر.
دې کې شک نشته چې داسې خوږې وعدې د هر چا زړه خپلوي؛ خصوصاً د هغو ځوانانو چې د خپلې ايډيالي نړۍ هېڅ څرک نه مومي او په بې صبرۍ سره د داسې بدلانه انتظار کوي چې د دوی محروميتونه ختم کړي او د دوی د مطلوب نظام او مطلوبې ټولنې د منځته راتلو زمينه

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابره کړي. دغه ژمنې خصوصاً هغه مهال لا خوږې لګېږي چې د مخاطبانو ذهنونه يې د ملتونو د پرمختګ له رازه او د لويو اجتماعي تحولاتو له پوهې خالي وي.

کله چې دا خلک عاطفي ويناوې کوي او په دې وجه د خلکو شور او ولولې راپارول کېږي، د عقل او فکر لپاره ميدان وړوکی کېږي، دلته د خلکو په زړونو کې اميد، باور، جديت، غوسه، کرکه او نور متناقض احساسي حالتونه سره ګډېږي او په دې حالت کې يوازينۍ چيغه چې د خلکو غوږونو ته لاره نه شي کولای، هغه د عقل او حکمت چيغه ده چې له پوهې او تجربې څخه راولاړېږي او د مسووليت د احساس او دوراندېشۍ له مخې له ستونې څخه راووځي.

په داسې وضعيت کې، د داسې بحثونو تمه نه شو کولای چې په آرامه فضا کې له شورماشوره لرې ترسره شي او د خلکو ذهنونه لا زياتو او ژورو فکرونو ته وهڅوي، بې له دې چې اهل علم په څه شي تورن کړي او د فکر خاوندانو ته د شک په سترګه وګوري.

همدا وجه ده چې سياسي اسلام توانېدلی دی د مسلمانو ځوانانو د لويې برخې پام ځان ته واړوي بې له دې چې علمي بحث او مناقشې ته تيار اوسي. دوی دې ته نه دي تيار چې له نورو ډلو سره رغوونکې خبرې اترې وکړي چې د ګډو ستونزو چې يوازې په يوې خاصې ډلې پورې اړه نه لري، چاره وکړي. دا کار ځکه نه کوي چې د دې بحثونو شرط دا دی چې يوه خوا دې ځان د ټول حقيقت مالک ونه ګڼي او مقابل لوري ته دې هم اقلاً د احتمال په حد کې برخه ورکړي.

تر اوسه چا نه دي ليدلي چې د سياسي اسلام پلويانو دې داسې خبرو اترو ته غاړه ايښې وي چې ګڼې ډلې راونغاړي او هدف يې حقيقت ته رسېدل او د هغو ټولنو د ګډو ناخوالو د حل لاره ايستل وي چې دغه ټولې ډلې ورپورې تړلې دي.

که داسې مباحثو ته فرصت برابر شي چې په کې د تکفير وسله له چا سره نه وي، فتواګانې په کې نه وي، له ډوګما څخه لرې خبرې اترې په کې وشي، او ټولې خواوې علمي استدلال او منطق ته غاړه کېږدي؛ نو د دغو بهيرونو له خوا پر رامنځته شويو ډېرو مفاهيمو، شعارونو، مقولو او مفکورو باندې به بيا کتنه وشي او دغه مفاهيم او مقولې به خپل ځای نورو مفاهيمو او مقولو ته پرېږدي، داسې مفاهيمو ته چې پر غښتلي منطق تکيه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دوو منطقونو تفکیک

یو له هغو موردونو چې د دې مقالې د بحث موضوع ده او باید چې په جدیت سره وڅېړل شي، د دنیا او آخرت د منطق تفکیکول دي او دا چې سیاسي اسلام کوم یو خپل لومړیتوب ګڼي او عملاً د هغه د تحقق توان لري.

د دین د لومړي لاس متنونو یعنې قران او سنت ته په مراجعې څرګندېږي چې د دې دوو منطقونو په منځ کې آخرت لومړۍ درجه اهمیت لري. دنیا د آخرت په څنډه کې معرفي کېږي ځکه چې د دین د صریح منطق پر اساس، د دنیا لنډ او تېرېدونکی ژوند د آخرت د اوږده او بې پایه ژوندانه په نسبت تر لوبې او ساعت تېرۍ (لهو و لعب) زیات څه نه دی (۶). نو اخروي سعادت او ابدي ژغورنه باید د مومن انسان د توجه محراق وي او په هېڅ وجه باید دنیا او آخرت په یوه تله کې ونه تلي. د دنیا او آخرت تر منځ توپیر هغو مره دی لکه څومره چې د محدود او بې نهایت امر تر منځ یې تصور کولای شو.

اخروي ژغورنه چې هماغه ابدي ژغورنه ده، خپل خاص منطق لري چې محور یې زیاتره له خدای سره د انسان رابطه، د خلقت مبدا او د خدای له مخلوقاتو سره د انسان تعامل دی. له خدای سره رابطه د عبادت له لارې تأمینېږي او دا په حقیقت کې د متناهي موجود او نامتناهي ذات تر منځ سېمبولیکه رابطه ده، نه دا چې خدای ته به کومه ګټه رسوي او یا دې د هغه کومه اړتیا پوره کوي. د خدای له مخلوقاتو سره او تر ټولو د مخه له انسانانو سره د انسان رابطه، د اخلاقي فضایلو پر اساس جوړېږي. د قران د ایتونو زیاته برخه په همدغو دوو محورونو پورې اړه لري چې د ابدي ژغورنې اساسي لاره ورپورې غوټه ده. ان د ځینو مسلمانو پوهانو په نظر، د قران او سنت د ځینو دلیلونو پر اساس، عبادت د اخلاقي فضایلو د تکمیل مقدمه ده(۷).

په دې منځ کې، ځینې دیني ارشادات چې ورته احکام ویل کېږي، د حقوقي قوانینو له ډلې څخه دي او د معاملاتو په حوزې پورې اړه لري. د دې احکامو د اجرا کولو ضمانت په حکومتي نظام پورې اړه لري چې تطبیق یې کړي او خلک یې مراعاتولو ته ملزم کاندي. د دیني احکامو دغه ډله د دوو نورو محورونو په نسبت خورا محدود دي او د قران لږ شمېر ایتونه ورته ځانګړي شوي دي(۸). دغه احکام د هغو دوو نورو محورونو بر خلاف، د مکان او زمان رنګ لري او په همدې وجه تل د اجتهاد او فقهي بحثونو موضوع جوړوي. که د دې احکامو حقیقت او د هغوی اخري مقصد باندې ژور فکر وشي، وبه لیدل شي چې د هغوی اخري مقصد هم دا دی چې وګړي په اخلاقي ضوابطو منضبط کاندي او دغه عمل یې د هغه له نورو اعمالو سره

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غاړه غړې کړي چې ابدي ژغورنه يې په برخه شي. د دې ادعا ثابتول کاملاً جلا تخصصي بحث غواړي چې بل ځای بايد مطرح شي(۹).

خو په دې کې هېڅ شک نشته چې د قران او سنت ګُلي هدف دا دی چې د مومن وګړي ټوله اراده، اند ېښنه او هڅې اخروي ژوند او ابدي ژغورنې ته معطوف کاندي. دنيوي ژوند او په هغه پورې اړوندې چارې که په دې بحث کې ځای مومي، يوازې په يوه اوږده متن کې د «ليندېو» په حد کې دي چې د اړتيا له مخې پرانيستل کېږي او بېرته بندېږي. خو اصلي اوږد متن د آخرت په اړه دی.

له دا سې آخرت محوره متن څخه د دنيوي چارو (سياسي، اقتصادي، اجتماعي، حقوقي، صنعتي، علمي، هنري...) استنباط او استخراج هغه تېروتنه ده چې پخوا هم شوې ده؛ خو دا شی د ايډيالوژۍ په بڼه په لومړي ځل د سياسي اسلام په وسيله وړاندې شو او په معاصر اسلامي فکر کې د پراخې ګډوډۍ سبب شو(۱۰).

دغه پرېشاني له دې ځايه راولاړېږي چې دنيا او آخرت له يوه جنسه نه دي؛ خو سياسي اسلام دې حقيقت ته غاړه نه ږدي. دنيا او آخرت هر يو خپل خپل منطق لري چې کله کله د تصادف له مخې سره يوځای کېږي؛ خو هېڅکله کوم تلازم دا دوه يو په بل پورې نه شي تړلای. معنا دا چې دنيوي سعادت له اخروي سعادت ته بېل دی او ممکن کله کله وشو کولای چې دواړه سره يو ځای ولرو او کله يو يې او کله هم هېڅ يو يې. خو په دې منځ کې هېڅ ملازمه نشته او داسې نه ده چې که يو څوک دنيوي سعادت لري هغه دې حتماً اخروي سعادت ته ورسېږي او يا که چا ته دنيوي سعادت نه شو برابر نو اخروي هغه به يې هم په برخه نه شي. په دې اړه کولای شو ګڼ ايتونه او حديثونه وموموو چې په تکرار سره يې پر دې مفهوم ټينګار کړی دی.

دنيوي سعادت تر هر څه وړاندې په دې پورې تړلی دی چې د بني ادم د دې نړۍ اړتياوې پوره کاندي. د فقهې د اصولو کتابونو د ضرورتونو، اړتياوو او تحسينياتو په مبحث کې دغه موضوع څېړلې ده (۱۱) او عارفانو له هغې جملې څخه مولانا په مثنوي کې ورته اشاره کړې ده (۱۲) او په وروستيو کې ابراهام مازلو دغه اړتياوې د تيورۍ په بڼه وړاندې کړې دي(۱۳).

دنيوي چارې د عقل او منطق تابع دي او د انسان د عقل او اکتسابي پوهې په توانايۍ سره سمبالېږي. د اسلام له درانه پيغمبره په راپاتې يوه صحيح حديث کې راغلي چې دغه چارې د بني ادم د عقل او تجربې په قلمرو پورې اړه لري. سياسي اسلام له دې او دې ته ورته حديثونو او رواياتو سره داسې چلند کړی دی چې که د دوی مخالفانو يې له نورو حديثونو سره کړي وای، دوی به يې وار له واره په زندقه او الحاد تورنول(۱۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تکویني سنتونه او تشریعي سنتونه

که له قراني اصطلاحاتو څخه استفاده وکړو، باید ووایو چې دنیوي چارې د خدای پاک له تکویني سنتونو (۱۵) سره د آشنایۍ په مرسته سمبالېدای شي او هېڅوک پر دې باندې سترګې نه شي پټولای چې له دغو سنتونو سره آشنایي د عقل او پوهې له چارو څخه ده او ان انسان کولای شي چې بې له ایمان او دیني اعتقاد څخه هم دغه سنتونه کشف کاندي او له هغوی څخه په استفادې سره خپلو غوښتنو ته ورسېږي.

نن سبا که د سیاسي اسلام له هر صاحب نظر څخه پوښتنه وشي چې څرنګه نامسلمان ملتونه او لاییک نظامونه توانېدلي دي چې په مختلفو برخو کې دنیوي کامیابۍ حاصلې کړې، څرګند ځواب به یې دا وي چې هغوی د خدای تکویني سنتونه کشف کړي او عمل یې ورباندې کړی دی. کولای شو همدا مطلب د الجواهر طنطاوي په مشهور تفسیر، د عبدالکریم زیدان په «السنن اللهیه» کتاب کې او هم په ډېرو نورو منابعو کې وګورو.

د دې معنا دا ده چې په دنیوي چارو کې پر مختګ خپل خاص منطق لري او دین اساساً دا مسأله له خپل قلمرو ایستلې ده او خپله بني ادمانو ته یې ورپرېښې ده. په عمل کې هم وینو چې نور ملتونه بې له دیني اعتقاد څخه توانېدلي دي چې په دې برخه کې څرګند پرمختګونه وکړي. په دې لحاظ د زراعت او صنعت او د سیاست او مدیریت تر منځ هېڅ توپیر نشته(۱۶)، دا ټول دنیوي چارې دي او ټول هماغه یو منطق لري، د مصالحو (ګټو) د جلب منطق او د مفاسدو (زیانونو) د دفع منطق. د فقهاوو په نظر همدا د شریعت د احکامو اصلي مقصد دی، دې ته به پام کوو چې دلته شریعت د دین پر وړاندې مطرح کېږي چې دا دقیقه او د تخصص پر بنا ډلبندي ده. دغه ډلبندي له هغه ځایه راولاړېږي چې د ټولو پیغمبرانو دین یو؛ خو شریعتونه یې بېل بېل وو او په هر وخت کې د شرایطو له غوښتنو سره سم، خاص شریعت راغلی و(۱۷).

د بني ادم عقل د دغو چارو په اړه چې د دې نړۍ په مصالحو او زیانونو پورې اړه لري، د عمل پراخ ډګر په مخ کې لري. په همدې وجه دغو چارو ته په فقه کې «امور معقوله المعنی» ویل شوي دي، یعنې هغه چارې چې په عقل د درک او پوهېدو وړ دي(۱۸). کله چې عقل ته میدان خلاص شي بیا د عقلاني روشونو، عقلاني وسایلو، او عقلاني پوهو له استفادې څخه ډډه نه شو کولای. د دې معنا د عقلانیت منطق ته غاړه ایښودل دي او دا منطق د ټولو ملتونو او فرهنګونو تر منځ مشترک دی او په هېڅ ځانګړي دین پورې اړه نه لري. د هر دین او مذهب پیروان په مساوي ډول حق لري چې استفاده ځنې وکړي او څومره چې له دې شي څخه استفاده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، هماغومره به په دنیوي چارو کې کامیابېږي، په زراعت، صنعت، اقتصاد، سیاست، مدیریت، ټرافیکي نظام، ښاري نظافت، د چاپېریال د بحرانونو پر وړاندې په مقابله کې... او په ټولو دنیوي چارو کې.

سیاسي اسلام د دې پر ځای چې له دې حقیقت سره علمي چلند وکړي، هڅه یې کړې ده چې له خپلو عام پسندو شعارونو سره لکه «الاسلام هو الحل» یعنې اسلام زموږ د ټولو ستونزو حل دی(۱۹)، د خپلې سیاسي پروژې په ګټه د خلکو په راټولولو لاس پورې کړي. دغه شعار په ظاهره خو د اسلام قدر کوي خو په باطن کې په سیاسي لوبو کې اسلام د یوې وسیلې په توګه کاروي او اسلام د هغه د اعتبار په بیه په دنیوي لانجو کې ښکېلوي.

**له دین څخه تمه**

د سیاسي اسلام پلویان یا خو نه پوهېږي او یا نه غواړي ومني چې د دنیوي ستونزو حل بل منطق ته په غاړه اېښودلو کې دی، هغه منطق چې د دین په ژبه، د الهي تکویني سنتونو تعبیر ځنې کېږي او په غیر دیني ژبه کې عقلاني منطق بلل کېږي. یوه نظري ستونزه دا ده چې دغه بهیر په دې وجه چې د فکري بلوغ په لحاظ هغه ځای ته نه دی رسېدلی چې «له دین څخه تمه» مقولې ته په جدي سترګه وګوري او ورباندې فکر وکړي. دوی نه شي کولای د علمي تحلیل په میتود د دې تمې اندازه تعینه کړي، دا هغه کار دی چې په اکاډیمیکو مرکزونو کې یې کولای شو نه د لارو پر سر په مظاهرو یا په هغو عاطفي ویناوو چې عوام لمسوي.

دغه بهیر له نژدې یوه پېړۍ راهیسې خلکو ته وعدې ورکړې دي چې ستونزې به یې د دین په مرسته حل کاندې او مسلمانې پرګنې یې په ځان پسې رهي کړې دي؛ خو د دغو ټولنو د ستونزو د حل لپاره یې هېڅ منسجمه نظري طرحه نه ده وړاندې کړې او په ځینو ملکونو کې چې حکومت ته رسېدلی دی، هلته یې هم هېڅ کومه کامیابه عملي طرحه نه ده تطبیق کړې، په ځینو موردونو کې که کامیاب شوی هم دی، هغه په دې وجه چې د نامسلمانو ملتونو له تجربو یې استفاده کړې ده او د عقلانیت منطق ته یې غاړه اېښې ده.

حیرانونکې خو لا دا ده چې د ناکامۍ له دې اوږده تاریخه وروسته هم لا تر اوسه پورې داسې نښې نښانې نه لیدل کېږي چې دا بهیر دې ځان ته له سره وګوري او په ځان کې دې سمون راولي. دوی تل هماغه ډول ډنګوي چې له څو لسیزو راهیسې یې د خلکو غوږونه کاڼه کړي دي. لا هم خلکو ته په قاطعیت سره وعدې ورکول کېږي چې که چېرې د دې بهیر ملاتړ وکړي، ټولې ستونزې به یې حل شي. خو په عمل کې یې د دې ستونزو په حل کې هېڅ کومه کامیابي نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه کړې. ان د تیوري په کچه یې هم ځان له تناقضاتو نه دی پاک کړی او د دنیا او دین د توپیر منطق ته یې غاړه نه ده ایښې.

سیاسي اسلام لا لګیا دی ټینګار کوي چې د مسلمانو ټولنو د ټولو ستونزو د حل کونجي په لاس کې لري او ورسره هم مهاله د دوی اخروي سعادت هم تضمینوي، حال دا چې د دې خبرې اپوټه سمه راخېژي. یعنې څنګه چې د خلکو د دنیوي ژوند په تأمین کې پاتې راغلی دی، هماغسې د هغوی د اخروي سعادت په تضمین کې به هم ناکامه وي. ان که ورته ځیر شو وبه وینو چې دوی د خلکو په زړونو کې دنیوي وسوسې جوتې کړې دي او عملاً یې خلک هغه لوري ته سوق کړي دي چې معنوي، اخلاقي او اخروي مسایلو ته یې پروا مخ په تتېدو ده. دوی له خلکو څخه د معنوي تعالي فرصت اخیستی دی. په همدې وجه په اسلامي هېوادونو کې د وګړو د اخلاقي او معنوي وضعیت مطالعه دا رانښیي، څومره چې د دې ډلو او جماعتونو نفوذ زیاتېږي او ورسره د دین په سېمبولیکو مظاهرو التزام زیاتېږي، هماغومره په دې ټولنو کې اخلاق او معنویت کمزوری کېږي(۲۰).

## له عبادتونو څخه د وسیلې په توګه استفاده

دا سمه ده چې د سیاسي اسلام ځینې ډلې تربیوي او روزنیز پروګرامونه هم لري او خپلو غړو ته د عبادت او اخلاقو توصیه کوي؛ خو د دوی په کار کې یوه اساسي ستونزه شته او هغه دا چې دوی له عبادت او اخلاقو څخه د وسیلې په توګه کار اخلي، دوی د دې لپاره چې خپل غړي د سیاسي پروګرامونو لپاره چمتو کړي، عبادت ته یې هڅوي. دا یوازې د غولولو په حد کې نه ده؛ بلکې دوی په همدې باور دي چې عبادت اساسي هدف نه دی؛ بلکې عبادتونه لکه هغه تمرینونه دي چې سرتېري یې په خپلو قطعاتو کې کوي چې خپلې اصلي وظیفې ته چمتو شي. د دوی په نظر اصلي وظیفه د حاکمو سیاسي رژیمونو راپرځول دي. دغه رژیمونه د دوی په نزد د طاغوت، جاهلیت، او جبر مظاهر دي چې باید هرومرو رانسکور کړای شي. څنګه چې دغه مبارزه سخته ده او ډېر لګښت غواړي نو د ډلې افراد باید کلک ایمان ولري چې په دې لاره کې تر پایه پورې لاړ شي او دا کار د دې ډلو د روزنیزو دیني پروګرامونو له لارې پوره کېدای شي. یعنې بالاخره عبادتونه د سیاسي پروژې د بشپړولو لپاره د وسیلې په توګه استعمالېږي. د دوی دغه کارونه د دې ډلې د اکثرو غړو او ان له ډلې بهر د نورو کتونکو لپاره د التباس سرخوږی جوړوي او له هغوی څخه لوری لودن ورک کوي. د دې تیوری دقیقه شرحه د ابوالاعلی مودودي په ځینو کتابونو کې لیدلای شو، له هغې جملې څخه «اسلامي عبادتونه»

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب یادولای شو چې له اذان او او داسه څخه رانیولې تر لمانځه پورې د عبادت هره برخه له نظامي تمریناتو سره تشبیه کوي.

په هغه ټولنه کې چې د اخلاقي فضایلو پر ځای په کې سیاسي کینې، د ډلو تر منځ دعوې دنګلې، او دنیوي تقابل مخ په زیاتېدو وي او د ګوندي تربګنیو اور په غړغړو وي، ملتونه او حکومتونه یو د بل له ګرېوانه نیولي وي، او د امتونو تر منځ دښمني ورځ تر بلې زیاته شي، هلته به د معنویت لپاره کوم ځای پاتې وي، د حقیقي دینداری لپاره به کوم فرصت موجود وي او بلې دنیا ته به د وګړو د باطني پاملرنې کومه زمینه پاتې وي!

سیاسي اسلام د سیاست د اړتیا له مخې، نه له نورو ډلو او جماعتونو سره حقیقي روغې جوړې (۲۱) ته رسېدای شي او نه له نورو حکومتونو او سیاسي نظامونو سره. دا په دې چې دی تل ځان تر نورو بر ګڼي او فکر کوي چې دی تر نورو زیات د خلکو د ملاتړ لایق دی. د سیاسي اسلام په خبرو اترو کې تل پر نورو ملي او سیکولرو ډلو او ان پر نورو مذهبي جماعتونو باندې د نیوکو راج غالب وي. د دې بهیر د تعلیماتو یوه برخه چې خپلو غړو ته یې ورکوي، همدا د افراطي ځانولۍ او بروالي احساس او د نورو معیوب ګڼل دي. دا خبره ممکن په سیاست کې غوره یا ان ضروري چاره وي؛ خو بې له شکه چې په منطق، اخلاق او حقیقي تدین کې ځای نه لري او له هغوی سره یې نه شو یو ځای کولای (۲۲).

همدا وجه ده چې په ټولنه کې د داسې اخلاقو له دوام سره نور نو د معنوي ژغورنې لپاره کومه تمه نه پاتې کېږي او دا ګومان به یوازې خیال وي چې په دې وضعیت سره به خلکو ته د ابدي او اخروي تضمین ژمنه ورکړو.

### د اخروي ژغورنې شرطونه

د اسلام له نظره اخروي ژغورنه ځینې شرطونه لري چې تر ټولو مهم هغه یې د ځمکنیو وسوسو او د هغو د مستلزماتو کمول دي. تر هغې پورې چې له خدای او آخرته پرته نور هر څه د مومن د توجه په محراق کې ځای ولري، ژوند به یې د کامل ایمان رنګ وانه خلي او د ژوند اصلي کړنې به یې بلې نړۍ ته ځانګړې نه وي. یا دې ابدي نړۍ د توجه په مرکز کې ځای ولري او دنیا یې په حاشیه کې وي؛ او یا برعکس. دا هسې خبره ده چې څوک دې ادعا وکړي چې ګوندې کولای شو دواړه په یوه اندازه مهمه وګڼو. نه قران دغه ادعا تاییدوي او نه مډرن علوم (۲۳).

په دوو لارو کولای شو چې دنیوي وسوسې راکمې کړو او دنیوي چارې په داسې مدار کې واچوو چې مرکز یې آخرت وي: یوه د لویو وګړو یا د پخوانو خبره، خواصو لاره ده او بله هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



طريقه ده چې د متوسطو يا عامو وګړو په ښه ورځې. لومړۍ لاره د انفسي تغيير- يا د اوسنو په وينا- سبجکټيف بدلون دی. معنا دا چې د وګړي په باطن کې به داسې تحول راځي چې ماديات او دنيوي چارې به يې په نظر کې کم ارزښته او کم اهميته ښکاره شي او په نتيجه کې به يې دنيوي چارو ته لېوالتيا واقعاً کمه شي نه د تکلف او تصنع له مخې.

دويمه طريقه په آفاقي تغييراتو- يا د اوسنو په خبره – په آبجکټيف تغييراتو بنا ده. له دې تغييراتو سره به د ټولو يا اکثرو وګړو لومړنۍ اړتياوې پوره کېږي او د ښه ژوندانه امکانات به ورته برابرېږي چې نور دې ځوک په ورو او ټيټو شيانو باندې په جنايت لاس پورې نه کړي او د جرم او جنايت انګېزه به راکمه شي. که دغه لاره په سمه توګه ونيول شي، کولای شي د ټولنې پراخه برخه او اکثره وګړي چې په متوسطه طبقه کې راځي، تر خپل چتر لاندې راولي.

لومړۍ طريقه سره له دې چې ارزښتمنه لاره ده او په تېره زمانه کې هم د مسلمانانو له خوا د تصوف په وسيله او هم د نورو اديانو د پيروانو له خوا د خپلو ديني ارشاداتو په وسيله تجربه شوې ده؛ خو تل د ټولنې په لږ شمېر خلکو پورې چې خواص نومول کېږي، محدوده پاتې شوې ده. دا لاره هېڅکله عامه شوې نه ده چې د ټولو لپاره د ژوندانه په ماډل بدل شي. دا چې ولې، بېله موضوع ده او بايد په بل ځای کې ورباندې بحث وشي. د ځينو په باور يو علت به يې دا وي چې پخواني خلک په دې ډاډه نه وو چې له خپلې خوښې سره سم د دنيا د بدلولو وس به ولري.

له هغې ورځې څخه چې انسانان پوه شول چې کولای شي خپل ژوند سمبال کړي، په طبيعت کې تصرف وکړي او په جمعي ارادې باندې د ټولو سرنوشت تعيين کړي، لومړۍ طريقې يعنې د انفسي تغييراتو طريقه چې ډېره خواري، قوي اراده او سخت رياضت غواړي، خپل ځای يې آفاقي تغييراتو ته ورکړ. لومړۍ طريقه نوره منسوخه شوه؛ خو د ځينو خواصو او استثنايي وګړو لپاره يې ادامه وکړه. د همدې تغيير په وجه په شرق و غرب کې ګڼ شمېر غورځنګونه رامنځته شول چې نړۍ هغسې جوړه کړي چې د دوی زړه يې غواړي. دا چې په دې لاره کې برياوې څومره وې، بېله خبره ده خو د انسانانو ترمنځ يو ډول اجماع راپيدا شوې ده چې پر مشکلاتو د غلبې لپاره او د مطلوب ژوندانه د جوړولو لپاره به د وګړو او ملتونو جمعي اراده کاروي(۲۴).

نن سبا د نوي نړۍ د شرايطو مطابق، د حقيرو وسوسو د کمولو لاره او د اخلاقي او معنوي تکامل لاره دا نه ده چې پر ضرورتونو سترګې پټې شي؛ بلکې دغه ضرورتونه بايد په رسميت وپېژندل شي. مثلاً د دې لپاره چې د انسانانو ترمنځ منازعه ختمه شي، بايد د مربوطو علومو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مخې د هغوی ریښې پیدا کړای شي او هغه اړتیاوې وپېژندل شي چې د دې لانجو سبب شوې دي او بیا دې ورته چاره ولټول شي. د ټولنو نورې ستونزې هم همداسې درواخله لکه اقتصادي فقر، اجتماعي نابرابري، سیاسي ګډوډي، فني او تخنیکي وروسته پاتې والی...
د بني آدم د اړتیاوو په رسمیت پېژندل او د هغوی چاره، د هغو لانجو د کمولو لاره ده چې د دې اړتیاوو د نه پوره کېدو په وجه رامنځته کېږي. د دې خبرې شرحه باید په جلا بحث کې مطرح شي او د دې مقالې له حوصلې وتلې ده (۲۵).
که دا ومنو چې باید دغه اړتیاوې په رسمیت وپېژنو او عاقلانه ځواب ورته ووایو، باید هغو تجربو او علومو ته مخه کړو چې منطقاً په کار یږي او عملاً یې نتیجه ورکړې ده. دا هماغه عقلانیت ته غاړه ایښودل دي چې مخکې مو ورباندې خبرې وکړې. که دا طریقه غوره نه کړو، د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو بله لاره نه پاتېږي او د هغو وګړو لپاره چې له ګڼو ستونزو او اړتیاوو سره مخ دي، د علمي، ادبي، اخلاقي او معنوي غوړېدا لپاره فرصت نه برابرېږي. په دې صورت کې اخروي سعادت او ابدي ژغورنې ته هم تمه نه شو لرلای.

**نارسا سیکولرایزېشن**

سیاسي اسلام هم دنیوي پرمختګ له خنډ سره مخ کوي او هم اخروي سعادت. دا په دې چې له یوې خوا ورځ تر بلې دنیوي وسوسې ډېروي او د خلکو ذهنونه په سیاسي، اقتصادي، اجتماعي... ستونزو بوختوي او ورځ تر بلې خلک په دنیوي چارو کې لا زیات غرقوي (۲۶) چې دا په خپله د دین د غوښتنو مخالف کار دی؛ له بلې خوا خلکو ته غلط ادرس ورکوي، له هغوی څخه د مادي اړتیاوو د پوره کولو لاره ورک کوي، هغوی لا زیات په دنیوي ستونزو کې غرقوي او د معنوي تعالي فرصت ځنې اخلي.
البته موږ پوهېږو چې مادي سوکالي خامخا په اخلاقي تکامل او معنوي تعالي باندې نه ختمېږي. داسې نه ده چې یو دې خامخا بل په ځان پسې راولي. ان کېدای شي وګړی یا ټولنه له زیاتو مادي امکاناتو برخمن وي؛ خو لا هم له رذایلو څخه نه وي خلاص. خو په دې کې هم شک نشته چې د اړتیاوو کمېدل، بني ادم ته د دې فرصت ورکوي چې خپلې نورې اړتیاوې له هغې جملې څخه معنوي اړتیاوې پوره کاندي. موږ تر هغې پورې نه شو کولای له چا څخه د معنوي ژغورنې تمه ولرو، چې د هغه مادي اړتیاوې مو پوره کړې نه وي. البته استثنایي وګړي چې په متعارفو چوکاټونو کې نه ځایېږي، له دې قانونه بهر دي او طبعاً د عمومي حوزې په بحثونو کې پر استثنایي موردونو خبرې نه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نتيجه**

نه غواړو له دې بحثه دا نتيجه واخلو چې د سياسي اسلام پلويان يا ټول متدينان د سياسي فعاليت او په عمومي قضاياوو کې د برخې اخيستلو حق نه لري؛ ځکه له مسلمو حقونو څخه له هغه جملې څخه له سياسي فعاليته د اتباعوو د محروم ولو لپاره هېڅ دليل نشته. دوی د سياسي فعاليت حق لري خو په يوه شرط: چې دوی هم د نورو په شان سياسي فعاليت د يوه مدني حق په توګه استعمال کړي، نه دا چې خپلو کړنو ته ديني رنګ ورکړي او تر نورو زيات امتيازات واخلي. کله چې د ټولو اتباعو لپاره مدني حقونه ورکول کېږي، متدينان هم کولای شي د نورو اجتماعي ډلو په شان په سياسي فعاليتونو کې برخه واخلي او خپلې غوښتنې په قانوني لارو مطرح کاندي؛ خو بې له دې چې نور له خپلو حقونو محروم کاندي.

له دې بحثه مو غوښتل دا نتيجه راوباسو چې د سياسي اسلام د پلويانو ډلې ان که ښه نيت هم ولري، غلطه لاره يې نيولې او اسلامي ټولنې همدې غلطې لارې ته وربولي. دغه کړنه او طريقه بايد له غوغا څخه لرې په علمي لارو چارو تر مطالعې او انتقادي ارزونې لاندې ونيول شي چې نور دې نه خو د خلکو دين تر دې زيات زيان وويني او نه يې دنيا.

کېدای شي د دې ډلو ځينې پلويان چې ځان ته د تقدس په سترګه ګوري او په همدې وجه هېڅ ډول نيوکه نه شي زغملای، ليکوال په مختلفو تورونو چې له مخکې نه يې تيار په جېب کې لري، تورن کړي، کېدای شي ليکوال سيکولر، لاييک، لېبرال... وبولي؛ خو دی نه لومړنی کس دی چې دا مسأله يې مطرح کړې ده او نه به يې اخرنی وي؛ نو په دې تورونو به سر نه ګرځوي. که څوک د حقيقت د موندلو وسوسه لري، ليکوال به يې داسې کتابونو ته راجع کړي چې د لويو پوهانو په ګوتو ليکل شوي دي او څوک پر هغوی داسې ټاپې نه شي لګولای. لومړی د مشهور عالم مولانا ابوالحسن ندوي «د سياسي اسلام تفسير» کتاب دی چې په فارسي هم ژباړل شوی دی، په همدې نامه بل کتاب د پروفيسور وحيدالدين خان دی چې په عربي ژبه يې کښلی دی، دغو دواړو پر دې بهير نقد کړی دی. البته په نورو اسلامي هېوادونو کې هم ځينو نورو اسلامي عالمانو دغه مسأله له مختلفو زاويو څېړلې او هڅه يې کړې ده چې اسلامي امت له هغو تېروتنو لرې وساتي چې سياسي اسلام يې مخې ته ايښې دي(۲۷).

**مل ليکنې:**

۱. دا زموږ د ټولنې يوه اړتيا ده چې ديني ګوندونه او جماعتونه د هغوی د فکري اساساتو پر اساس ډلبندي کړو چې خلک يې سم وپېژني او خپل نسبت ورسره وټاکي. ځينو غربي کارپوهانو لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اليور روا، برنارد لويیس، هرايراد کمجيان، ژېل کپل او نورو په دې اړه مطالعې کړې دي خو زموږ په بومي ادبياتو کې تر اوسه پورې دې چارې ته هومره پام نه دی شوی چې وشي کولای ابهامونه لرې کړي او د هرې ډلې فکري چوکاټ په ښه توګه مشخص کاندي.

۲. زموږ په تاريخ کې د مسلمانانو په تفکر کې د سياسي عنصر موجوديت او هغه ته د هر ښه او بد نسبت اوږده سابقه لري؛ ځکه پخوا حکومت يوازينی بنسټ و چې د ټولو وګړو برخليک يې په لاس کې و؛ خو د نننۍ نړۍ له بدلونونو سره د حکومت په څنګ يا د هغه په مقابل کې نور بنسټونه هم راولاړ شوي دي. په دې توګه اوس د دولت او حکومت تعريف د پخوا په نسبت بدل شوی دی؛ خو دا توپير لا تر اوسه پورې د سياسي اسلام معرفت ته لاره نه ده کړې.

۳. نوستالجيا (nostalgia) يا تېر مهال ته ورتګ او د پخوانۍ طلايي دورې بيا اعاده کول، د سياسي اسلام د معرفت او احساس عمده برخه جوړوي. دوی د اسلام د تاريخ د دې دورې روښانه ټکي زيات ځلوي او له اوسنيو ناخوالو سره يې مقايسه کوي، په دې توګه د ځوانو مسلمانانو ژور او توپاني احساسات راپاروي.

۴. د پخوانو مفتوحه سيمو بيا لاندې کول، د سياسي اسلام له ارزوګانو څخه دي. سره له دې چې کله کله د پراګماټيک مصلحت له مخې په خپلو ځرګندونو کې له دې خبرې ډډه کوي خو په ليکنو کې يې تل شته وي. دا بحث په خپله هم مهم بحث دی چې بايد په علمي خبرو اترو کې ورباندې بحث وشي.

۵. «د شلمې پېړۍ جاهليت» د اسلامي بنسټپالنې د نامتو ليکوال محمد قطب مشهور اثر دی. ورسره هم مهاله دا اصطلاح د معاصرې اسلامي بنسټپالنې په ادبياتو کې د دې بهير هغه ليدلوري ته هم اشاره کوي چې د نورو په اړه په تېره بيا د هغو حکومتونو په اړه يې لري چې هغوی د شريعت تطبيقول خپله دنده نه بولي. په همدې اصطلاح پورې تړلی ليدلوری د توندلارو جهادي او تکفيري ډلو سرچينه ده.

۶. حديد سوره، 20 ام ايت

۷. محمد غزالی، اسلامي اخلاق

۸. د احکامو د ايتونو د شمېر په اړه بېلابېل نظرونه شته، ځينې د هغوی شمېر 150 ايته ګڼي، دا نظريه په ځينو فقهي کتابونو کې راغلې ده. ځينې نور چې د احکامو د ايتونو مفهوم يې پراخ کړی دی، ګڼ شمېر غيراحکامي ايتونه يې هم ورپورې تړلي دي – داسې ايتونه چې احکام په ضمني توګه ځنې استنباط کېدای شي – د دې ايتونو شمېر يې 500 ته رسولی دی. ځينې نور څېړونکي (له هغې جملې څخه عبدالکريم زيدان په «الوجيز فی اصول الفقه» کې) چې دا موضوع يې په لا دقت سره څېړلې ده، د دې ايتونو شمېر تر 70 زيات نه ګڼي او دا د قران د ټولو ايتونو په مقايسه کې لږ دي. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه (اجتهاد میان متن، واقعیت و مصلحت، صفحه 101 ) ته مراجعه وکړئ چې ما (لیکوال) ترجمه کړې دی.

۹. د احکامو پر مقاصدو باندې تمرکز له مهمو موضوعاتو څخه دی چې پخوانو په کافي اندازه نه دی څېړلی. له امام شاطبي څخه پرته، نور دا ټول معاصر پوهان وو چې تر امام محمد عبده وروسته یې دې موضوع ته په جدي سترګه کتلي دي او نن سبا په اسلامي تفکر کې دا له عمده دیني مباحثو څخه ده. «دین از دیدګاه شاطبي» کتاب ته چې د ډاکتر احمد ریسوني لیکنه ده، مراجعه وکړئ.

۱۰. دغې مفکورې چې کولای شو ټول علوم هغه که هر ډول علم وي، له قرانه استخراج کړو، په پخوانو کې ځینې پلویان درلودل. خو دوی غالباً یوازې دعوا کوله او په عمل کې چا دغه هڅه ونه کړه چې ځانګړي سیستماتیک علوم تدوین کاندي. سره له دې چې دې نظریې پخوا هم ګڼ شمېر منتقدان لرل؛ خو دا ځل سیاسي اسلام د چپي ګوندونو په پیروۍ خپله خاصه ایدیالوژي په دیني صبغه ارایه کړې ده. د عبدالکریم سروش «فربه تر از ایدیالوژی» کتاب ته مراجعه وکړئ.

۱۱. د مصالحو بحث چې اړتیاوې، حاجتونه، او تحسینیات رانغاړي، د فقهي په اصولو کې له عمده مباحثو څخه دی او د بني ادم پر واقعي اړتیاوو له خبرتیا کیسه کوي. البته د هر یوه د چت تعینول د مکاني، زماني او انفردي متغیرونو تابع دي او تل به د اجتهاد یوه مسأله پاتې وي.

۱۲. مولوي وايي:

| | |
|---|---|
| آدمی اول حریص نان بود | زانکه قوت و نان ستون جان بود |
| سوی کسب و سوی غصب و صد حیل | جان نهاد بر کف از حرص و امل |
| چون به نادر گشت مستغنی ز نان | عاشق نام است و مدح شاعران |
| تا که اصل و فصل او را بر نهند | در بیان فضل او منبر نهند |
| تا که کر و فر و زربخشی او | همچو عنبر بو دهد در گفتگو |

(مولانا وايي چې انسان په لومړي سر کې د ډوډۍ او د نس غم اخیستی وي او د نس د مړولو لپاره هره روا او ناروا کوي، بیا چې د ډوډۍ له غمه بې غمه شي، د نوم او شهرت تږی شي او غواړي چې شاعران یې په شعرونو کې وستایي، د ده د شأن و شوکت صفتونه وکړي او په هر ځای کې د ده د سخاوت کیسې وي. یعنې تر هغې پورې چې مادي اړتیا یې نه وي رفع شوې، په معنویاتو پسې نه ګرځي. همدا مفهوم د خوشحال بابا په دې شعر کې هم نغښتی دی:

| | |
|---|---|
| چې چا ته پېښ شي غم د خوړلو | یا غم د ښځو، د اغوستلو |
| نور نور غمونه واړه تر شا کا | که د سندرو وي، که د بدلو ژباړن) |

۱۳. د ابراهام مازلو نظریې نړیوال شهرت ګټلی او د اکثرو صاحب نظرانو له خوا منل شوې ده. د دغې نظریې پر بنا د بني ادم اړتیاوې شپږ پوړونه لري، په دې ډول: - فیزیولوژیکي اړتیاوې – امنیتي او د مصونیت اړتیاوې – عاطفي اړتیاوې – اجتماعي اړتیاوې – د ځان (د استعدادونو ) د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړولو اړتیاوې – له ځانه وتلو (فراروی) ته اړتیا یعنې هغه مرحله چې انسان د ځان د ګټو پر ځای د ټولنې ګټو ته فکر وکړي او یوازې د ځان غم ورسره نه وي.

[په ځینو منابعو کې د مازلو نظریه په پنځو پوړونو کې بیان شوې ده:

- فیزیولوژیکې اړتیاوې یا هغه اړتیاوې چې ژوند ورپورې تړلی دی (تنفس، خوراک، څښاک، جنسي عمل، خوب، ...)
- خوندیتوب ته اړتیا (فیزیکي امنیت، له طبیعي خطرونو څخه خوندیتوب، د کورنۍ، مال او سر خوندیتوب..)
- عاطفي او اجتماعي اړتیاوې (مینه، محبت، دوستي، ملګرېتیا، کورنۍ،...)
- د ارزښت موندلو اړتیا (پر ځان حساب کول، پر نفس باندې اعتماد، د نورو درناوی او د نورو له خوا درناوی...)
- غوړېدو ته اړتیا یا لوړو انساني مقاصدو ته د رسېدو اړتیا (اخلاق، هنر، د خپلو استعدادونو غوړول او پراختیا ورکول، د ستونزو حل کول، د حقایقو منل او له تعصبه لرې کېدل) د مازلو د نظریې پر اساس څومره چې انسان له مادي اړتیاوو څخه بې نیازه کېږي، هماغومره معنویاتو ته مخه کوي. ژباړن]

۱۴. دغه حدیث چې د احادیثو په ګڼو کتابونو او له هغې جملې څخه په صحیح مسلم کې روایت شوی دی او د صحیحو حدیثونو په شمار کې راځي، دا دی: أنتم أعلم بشئون دنیاکم.

۱۵. د «الهي سنت» اصطلاح په قران کې ریښه لري او منظور یې هغه متعارف طبیعي قوانین دي چې د هغوی پر بنا د دنیا فیزیکي نظام روان دی. دا اصطلاح په قران کې څو ځایه راغلې ده لکه، "ولن تجد لسنة الله تبدیلا و لن تجد لسنة الله تحویلا ".

۱۶. ممکن وویل شي چې له دغو موردونو ځینې یې محض علمي یا فني جنبه لري او ځینې نور یې په خاصو دیني- ارزښتي منظومو پورې تړاو لري، لکه چې سید قطب په «معالم فی الطریق» کتاب کې مطرح کړې ده او ځینو نورو هم په دې مورد کې د هغه پیروي کړې ده؛ خو دا ډول لیدلوری د مناقشې وړ دی او کولای شو مختلفې نیوکې ورباندې وکړو، مثلاً: اخلاقي ارزښتونه او ورسره د شرعي احکامو مقاصد هم کولای شي د بني ادم له هر عمل سره تړاو ولري، ان که محض زراعت هم وي.- لکه څنګه چې په حدیت کې ورته اشاره شوې ده.- خو هغه مهم ټکی چې له سید قطب او نورو پټ پاتې دی، دا دی چې دغه تړاو ذاتي جنبه نه لري، یعنې زراعت ذاتاً دیني نه دی او دین ذاتاً زراعتي نه دی؛ خو هر یو کولای شي له بل سره تړاو ولري او په دې صورت کې دا توپیرول بې معنا کېږي ځکه چې طبي، انجینیري او زراعتي کارونه چې د دوی په باور محض علمي او فني کارونه دي، بیا هم باید د شرعي او اخلاقي ضوابطو تابع اوسي؛ خو دغه تړاو هېڅکله د دې سبب نه شي کېدای چې اسلامي طب، دیني انجینیري یا مذهبي زراعت ولرو، یعنې د دې کارونو ماهیت نه بدلېږي ان که وصف یې بدل هم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷. محمد منظور نعماني او ځينو نورو ليکوالو د دين او شريعت تر منځ تو پير په واضحه توګه بيان کړی دی او لا هم په دې اړه د نويو ټکو د مطرح کولو ځای شته چې په نوې دين پېژندنه کې ورته پاملرنه کېږي.

۱۸. د معقولة المعنی و غير معقولة المعنی اصطلاحګانې د فقهاوو له خوا د فقهې په اصولو کې مطرح شوې دي. دا دقيقه او حکيمانه ډلبندي ده چې کولای شي د شرعي احکامو ترتيب او ځای ځايګی تر يوه حده څرګند کړي.

۱۹. د «الاسلام هو الحل» شعار غالباً د اسلامي سياسي ډلو لکه اخوان المسلمين د انتخاباتي شعار په توګه مطرح کېږي چې په دې لاره وشي کولای تر نورو ګوندونو مخکې شي. د دې نظريې پر علمي ستونزې سربېره – چې په دې مقاله کې مو ورته اشاره وکړه ـ دغه شعار خلکو ته دا پيغام ورکوي چې يوازې همدا ډله پر اسلام او د خلکو د ستونزو په حل کولو کې د اسلام پر توانايې باور لري او نور ګوندونه او نورې ډلې يا خو له لويه سره پر اسلام باور نه لري او يا اسلام د ځينو ستونزو په حل کې عاجز ګڼي، او په دواړو صورتونو کې د دوی په وړاندې د خلکو بدبيني راپاروي. حال دا چې نورې ډلې او ګوندونه هم غالباً له مسلمانانو جوړ وي او له ديني ارزښتونو سره کوم تضاد نه لري.

۲۰. يو له هغو پديدو څخه چې پوښتني راولاړوي او د ځينو شنونکو نظر يې ځان ته اړولای دی، د معکوس سير پديده ده. د دې پېړۍ له پيله تر ننه پورې د مذهب سېمبوليکو او ظاهري پديدو ته توجه ورځ تر بلې زياته شوې ده لکه حجاب، ږيره ... خو خلک له اخلاقي فضايلو لکه رښتيا، وفاداري، مروت، صداقت... څخه لرې شوي دي. دا د دين د سياسي کولو حتمي نتيجه ده ځکه څومره چې دوی د ظاهري ديندارۍ اهتمام زياتوي، هماغومره يې باطن ته زيان رسوي.

۲۱. البته کله نا کله د سياسي اسلام ډلې د خپل پراګماتيستي منطق پر اساس له نورو ډلو سره په تکتيکي بڼه ظاهري روغه جوړه کوي، حال دا چې په خپل انحصارغوښتونکي منطق کې هېڅ بدلون نه راولي او د نورو د عيبونو لټول نه کموي. طبيعي ده چې دا ډول تکتيکونه په ټولنه کې د حقيقي تدين او د اخلاقو له ودې سره هېڅ مرسته نه کوي. دا کار ممکن په سياسي لحاظ د دې ګوندونو په ګټه وي او له هغوی سره په انتخاباتو کې د ډېرو رايو په ګټلو کې به مرسته وکړي او يا د نورو ډلو د همدردۍ په جذبولو سره به پر دوی د حکومتونو فشار راکم شي.

۲۲. په اخلاقي موازينو د وګړو، ګوندونو، حکومتونو، ملتونو، تمدنونو او دينونو د التزام اړتيا هغه عمده بحث دی چې د فکر او فلسفې د ځينو سرلارو ذهنونه يې مشغول کړي دي؛ ځکه کله چې دغه التزام ضعيف وي يا ګرد سره نه وي، د هر دين او هرې ايدياليوژۍ د پيروانو له خوا فجيع اعمال تر سره کېږي. دا يوه عمومي قاعده ده او د هېڅ دين او مذهب پيروان حق نه لري چې ځان له اخلاقي موازينو څخه معاف وګڼي.

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۳**. قران مجید ویلي دي: "ماجعل الله لرجل من قلبین في جوفه" او مفسران وايي چې انسان نه شي کولای په یوه وخت کې دوو شیانو ته په عین اندازه اهتمام وکړي. دا مفهوم په مدرنه اروا پوهنه کې تر بحث لاندې نیول شوی او پراخ شوی دی.

**۲۴**. له نوي نړۍ سره آشنايي او له پخوانۍ دنیا سره د هغې د توپیرونو پېژندل، زموږ د ټولنو له عمده اړتیاوو څخه دي؛ ځکه چې د دې ټولنو ځینې ستونزې له دې ځایه راولاړېږي چې دوی په عملي لحاظ خو په اوسنۍ زمانه کې ژوند کوي؛ خو په نظري لحاظ لا هم په تېره زمانه کې اوسېږي. دوی پر اوسنۍ نړۍ د پوهېدو لپاره پرونۍ منطق کاروي او هېڅکله نه شي کولای له دغه تاریخي ټېلښتنه واوړي. دا کار د دې ټولنو د وګړو په سلوک او معرفت کې ژور تناقضونه رامنځته کړي دي.

**۲۵**. د اخلاقو د علم پوهانو پر دې موضوع په تفصیل سره بحث کړی دی چې اخلاقي فضایل په کومو شرایطو کې وده کولای شي. که څه هم چې په دې باره کې د صاحب نظرانو تر منځ د نظر کامل اتفاق نشته؛ خو اکثر يې په دې باور دي چې د وګړو د لومړنیو اړتیاوو له پوره کولو پرته، د اخلاقي مکارمو د ودې تمه بې ځایه ده.

**۲۶**. د سیکولریزم او د هغه پر ډولونو باندې زیات بحثونه شوي دي. ځینې صاحب نظران لکه ډاکتر عبدالوهاب مسیري، په دې باور دي چې د وګړو او ټولنو سیکولر کېدل په دې معنا دي چې د هغوی دنیوي وسوسې پر معنوي وسوسو يې غلبه وکړي او د انسانانو مادي اړتیاوې د هغوی د معرفت په مرکز کې واقع شي. په دې خاطر ځینې نور شنونکي دې نتیجې ته رسېدلي دي چې اسلامي بنسټپالنه د خلکو د دنیوي وسوسو په راپارولو سره عملاً هغوی د سیکولر کېدو خوا ته بیايي او هغه څه چې دوی يې له منځه وړل غواړي، په ناپوهۍ کې د هغې له پراختیا سره مرسته کوي.

**۲۷**. په اسلامي هېوادونو کې ګڼ شمېر لیکوال د اسلام د سیاسي کولو پر زیانونو خبر وو او هر یوه يې د دې مسألې له عواقبو څخه د خپلې خبرتیا په اندازه، خبرداری ورکړی دی. نامتو مصري لیکوال، مرحوم محمد غزالي د ژوند په وروستیو کلونو کې په کراتو په دې اړه لیکنې کړې دي. انجینیر مهدي بازرګان د «آخرت او خدای د انبیا د بعثت موخه» کتاب په لیکلو سره -چې د ده د ژوند د وروستیو کلونو د فکرونو محصول دی- همدغه مفهوم په یو ډول مطرح کوي. ډاکتر سروش تر نورو زیات او په لا وضاحت او لا زیات استدلال سره هڅه کړې ده چې په خپلو مختلفو لیکنو کې دا موضوع د خلکو غوږونو ته ورسوي. د هغو مسلمانو لیکوالو د احصایې راټولول چې د دین سیاسي کول يې نقد کړی دی، د دې لیکنې له حوصلې وتلي دي او باید جلا ولیکل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مډرن اسلام،

## امکان که امتناع؟

مډرن اسلام یعنې د اسلام هغه تفسیر چې په نظر او عمل کې، د نوې نړۍ له اساسي مقولو سره اړخ ولګوي. دا هغه مقولې دي چې د نننی تمدن په پیدا ښت او وده کې یې اساسي نقش لرلای دی او د هر یوه تصور له بله پرته امکان نه لري.

ځینې مسلمانان په تېره بیا بنسټپالي چې نه سنتي پاتې دي او نه مډرن شوي دي، له دې تفسیر سره په جګړه کې دي او په دې برخه کې هره هڅه ورته د اسلام له زیانه ډک تحریف ښکاري چې باید مخه یې ونیول شي.

خو بله ډله یې ضروري احتیاج ګڼي او تصور کوي چې نه یوازې اسلام ته بلکې هېڅ دین او سنتي ایین ته د دې امکان نشته چې په راتلونکې مډرنه نړۍ کې وپایي. دا کار یوازې هله کولای شي چې دغه تجربه تېره کړي او ځان د اوسنیو انسانانو له نظر سره موافق کړي او څومره چې غواړي د دوی پر کړنو اثر وکړي، هماغومره باید له هغوی سره تطابق ولري.

خو اکثره خلک په دې کشمکش کې حیران پاتې دي او نه پوهېږي چې دقیقاً حق له دې ډلې سره دی که له هغې سره؟ ځکه چې له یوې خوا په دغو ټولنو کې د عمومي تفکر سویه دومره نه ده لوړه شوې چې له ډوډۍ او اوبو ورها خوا نورې مسألې په آسانۍ سره وڅېړي او له بلې خوا تر اوسه پورې دلته د خبرو اترو فرهنګ او د مفکورو د بې دریغه او ښکاره څرګندولو - بې له دې چې د خشونت وېره ورسره وي - رواج شوی نه دی. په داسې حال کې چې د دې کشمش له پیله نژدې یوه پېړۍ یا زیاته موده تېرېږي.

هغه بهیر چې اسلام د بنسټپالنې په میتود مطالعه کوي او هماغسې یې درک کوي، مخکې تر دې چې په موضوع کې تعمق وکړي او اپیستیمولوژیک برخورد ورسره وکړي، هڅه کوي چې اسلام له نورو سره -له غرب سره- د مقابلې په میتود مطالعه کاندي. طبیعي ده چې د مقابلې او دښمنۍ منطق مو په بې طرفه توګه د مسألې څېړلو ته نه پرېږدي او تر هر څه د مخه د

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټې او تاوان خبره يې رابرسېره کېږي او دا چې ايا کولای شو دغه مسأله داسې تعبير کړو چې د بل ګټه يا خير هم په کې وي. که د داسې تعبير د رااېستلو لپاره لاره خلاصه وي، نورو تعبيرونو او تحليلونو ته اړتيا نه پيدا کېږي.

په همدې وجه همدا چې د ديني تفکر د نوي کولو او د مډرن اسلام مفکوره مطرح شوه، بې له تأمل څخه دا غوغا پورته شوه چې ګوندې دا يوه غربي او په خاصه توګه امريکايي مفکوره ده. نو په دې حالت کې له هغې سره مخالفت او دښمني که د عقل په لحاظ د بحث وړ وي؛ خو تعبداً دغه مخالفت ديني وجيبه ګڼل کېږي چې بايد بې پوښتنې ورته ملا وتړل شي.

هغه ژبه چې اغلب نوپالي يې د خپلو مفکورو د بيان لپاره غوره کړې ده، تر اوسه پورې زموږ په عمومي مجامعو کې ځای نه لري او د اکثرو مخالفانو لپاره نا آشنا ژبه ده. هم په دې وجه چې د دوی ترمنځ د زده کړو د سابقې توپير شته او هم د دوی د پوهې او تفکر په کچه کې توپير وينو. کله چې دا خبره د بنسټپالو له شورماشور سره ګډېږي او نوپالي د بنسټپالو له خوا محاصره کېږي، په دې وخت کې د اکثرو وګړو حيراني چې په دې منځ کې بلاتکليف پاتې دي، لا زياتېږي.

ليکوال غواړي په دې ليکنه کې تر يوه ځايه د دې مسألې ابهام راکم کړي او په دې اړه ځينې ټکي مطرح کاندي چې د مسألې د لا روښانه درک لپاره لاره هواره کړي.

## د دين تجديد که د وخت ځواب

پوښتنه دا ده چې سره له دې چې د حديث په معتبرو کتابونو کې د دين د تجديد په اړه روايت هم شته؛ نو ولې په تېرو پر له پسې پېړيو کې دا مسأله د مسلمانانو د فکري سرلارو او مشرانو پام نه دی جلب کړی؟ ولې د نورو روايتونو برخلاف چې د ډېرو ديني ارشاداتو او احکامو د استخراج او استنباط مبنا ګرځېدلي دي، د دين د تجديد په اړه روايتونه د مسلمانانو په تېر تاريخ کې د هېڅ ډلې توجه نه ده جلب کړې او دا احکام د خاصو توصيو د استنباط مبنا نه دي واقع شوي؟ د دې مرفوع حديث راوي ابوداوود دی چې له شپږو مشهورو صحيحو څخه يوه يې د ده ده. حديث داسې دی: *إِنَّ اللهَ يَبْعَثُ إِلَى هذهِ الأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَها دِينَها* ؛ يعنې بې شکه خدای د هرو سلو کلونو په سر کې يو څوک د دې امت خوا ته رالېږي چې دين يې ورته نوی کړي.

دا حديث په لومړي ځل هغه مهال د نورو روايتونو له لاندې څخه رااوایستل شو چې مډرنه نړۍ له خپلو وسايلو، ميتودونو او مختلفو شيانو سره راغله او ځان يې پر ختيځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونو ومانه او له ځانه سره يې ډېر تازه مفاهيم، مقولې، شعارونه او ادعاګانې راوړې. د همدې تقابل پر مهال د دين د تجديد بحث، له ګڼو او احياناً متضادو تفسيرونو سره راميدان ته شو او ځينې نېغ په نېغه په همدې روايت پسې لاړل او هغه يې د خپلو ځرګندونو مبنا وګرځاوه.

دې خبرې ته توجه هغومره جدي وګڼل شوه چې ان تجدد دښمنو بنسټپالو هم په خپلو خبرو کې ورته ځای ورکړ او هڅه يې وکړه چې له تجديد څخه خپل خاص تعريف رامنځته کړي چې له کاروانه شاته پاتې نه شي او په عين وخت کې د نورو د تعريفونو مشروعيت نفي کړي. د ابوالاعلی مودودي "*موجز تاريخ تجديد الدين و إحيائه*" کتاب د دې هڅو نمونه ده. له دې ځرګندېږي چې د نوي عصر حضور دومره د خلکو پر تېترونو فشار راوړی او له ساه ايستلو يې اچولي وو چې موافقان او مخالفان يې دواړه لحاظ وکړي. د **تجديد موضوع ته پام کول، د نوي عصر د په رسميت پېژندلو معنا ښندله او دا چې د هغه له حضوره څوک انکار نه شي کولای او هر څوک بايد له هغه سره خپل نسبت تعين کړي.**

د سنتپالو او بنسټپالو په نظر د دين تجديد تېر ته د ورګرځېدلو معنا درلوده، يعنې د دين هغه تفسير ته ورګرځېدل چې په بل عصر کې ترسره شوی و. دوی ګومان کاوه چې د مسلمانانو د ماتې او له برمه د اسلام د لوېدو وجه هغه اضافات دي چې د تاريخ په اوږدو کې په دين کې ورزيات شوي دي او که چېرې دغه اضافات ايسته شي، د اسلام حقيقت به د يوه ځلېدونکي او صيقل شوي جوهر په توګه راځرګند شي او په خپلې ځلا باندې به د ټولو سترګې وبرېښوي. د دوی په باور د بل هر دين د برم د ختمولو لپاره به همدا کافي وي او اسلام به له تجديدِ حيويّت سره د تېر په څېر د خپلو پيروانو په ژوندانه کې د پراخو کاميابيو او پرمختګ د الهام منبع وګرځي.

د دين د پاکولو هغه بهير چې محمد بن عبدالوهاب، له نوي عصر سره تر مخامخ کېدو د مخه او په بشپړ قبيله يي بستر کې پيل کړی و، د اکثرو يا ټولو سني بنسټپالو بهيرونو پلار ومنل شو چې دغه نور بهيرونه د هغه له تجربې او ميراث څخه ګټه واخلي او له دين څخه تر مناقشې لاندې اضافات لرې کړي او دين له بدعت او خرافاتو څخه پاک کاندي. ځينې بنسټپالې ډلې د مسلمانو سنتي مجامعو د حساسيت په وجه، غوره ګڼي چې خپل وهابيتوب پټ وساتي؛ خو په خپلو خبرو کې د هغه له محتوا څخه استفاده کوي؛ ځکه دوی ګومان کوي د مسلمانانو د ستونزو ريښه په اضافاتو او بدعتونو کې نغښې ده چې د تاريخي تحولاتو په بهير کې يې دين ته لاره کړې ده. په همدې وجه له دې بدعتونو څخه د دين پاکول، هغه رسالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چې له ترسره کولو سره یې د نورو تحولاتو پر مخ لاره خلاصېږي. د تحولاتو مطلب پر نورو باندې د اسلام غلبه - دلته پر غربي تمدن غلبه – ده او تر هغې وروسته به د نړۍ د رهبرۍ مقام اسلام ته ورسېږي(*أستاذية العالم*).

دغه بهیرونه هر څه ساده ګڼي او پر لویو تاریخي تحولاتو باندې د سیاسي، اجتماعي، اقتصادي، فرهنګي، جیوپولیټیکي او سایکولوژیکي عواملو اثر له پامه غورځوي او ټولې ستونزې په خرافاتو او بدعتونو پورې غوټه کوي. په همدې وجه د دوی ټول ټینګار په همدې باندې دی چې بېرته به لومړني اسلام ته چې له ټولو بدعتونو پاک و، وروګرځي. دوی ګومان کوي چې له فرقو څخه د اضافاتو په پاکولو او د اورتوډوکسي اسلام په احیا کولو سره به د اسلامي ملکونو ټولې ستونزې ختمې شي. دوی دغه کار د دین تجدید نوموي چې د دوی په باور د نړۍ د دې برخې؛ بلکې د ټولې نړۍ د لانجو د حل کیلي ده.

په حقیقت کې دغه بهیرونه دا مني چې دین تجدید ته اړتیا لري؛ ځکه چې د دین د تجدید خبره په هغه څرګند روایت کې شوې ده او له هغې څخه انکار نه شي کولای؛ **خو دوی هېروي چې د دین تجدید د دین د زړولو معنا نه لري؛ بلکې د دین د نوي کولو معنا ښندي.** دوی له دې ټکي یومخ غافل پاتې دي.

## د دین تجدید یعنې څه؟

اوس دلته پوښتنه دا ده چې څرنګه او د کومو معیارونو له مخې وپوهېږو چې څه ډول هڅې د دین د تجدید لپاره دي او کومې یې د زړولو لپاره؟ د دې پوښتنې د ځوابولو لپاره غوره ګڼم چې د مصطفی ملکیان له نسبتاً مشهورې نظریې ګټه واخلم. دی په خپله نظریه کې د اسلام (او بل هر دین) په اړه خبرې په درېو سطحو کې د مطرح کولو ګڼي. لومړۍ سطح د لومړي لاس منابع دي چې په اسلام کې کتاب او سنت دی چې د اسلام 1 تعبیر ځنې راوځي. دویمه سطح کې هغه انګېرنې او فهمونه دي چې د دین د تاریخ په اوږدو کې رامنځته کېږي. درېیمه سطح د متدینې ټولنې د هرې برخې له اجتماعي شرایطو سره سم او د فرهنګ په چوکاټ کې د دې انګېرنو عملي تطبیقول رانغاړي. یعنې کله چې مثلاً ویل کېږي، په دې اړه د اسلام نظر دا سې دی؛ کله دا معنا ښندي چې په کتاب او سنت کې یې په اړه داسې خبرې شته، کله یې معنا دا وي چې مسلمان مجتهدان او عالمان داسې نظر لري او کله هم په دې معنا چې د مسلمانانو په عملي سنت کې داسې شی شته. له دې تفکیک سره کولای شو په لا روښانه توګه دا پوښتنه وڅېړو چې «د دین له تجدید څخه منظور څه دی؟».

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولو بهيرونو اتفاق دا دی چې د دين نوی کول، د کتاب او سنت د تجديدولو معنا نه لري. کتاب او سنت د تدوين له وخته تر اوسه پورې په ليکلې بڼه له مسلمانانو سره شته او د ټولو بهيرونو په نزد يې اعتبار يو شان دی. کتاب او سنت زړښت نه مني نو نوي کولو ته اړتيا هم نه لري. نو د بحث موضوع دوو نورو سطحو ته انتقالېږي: يوه د تفسيرونو او هغو انګېرنو چې د کتاب او سنت په اړه رامنځته شوې دي او وروسته بيا د فرقو او مذهبونو په ايډيالوژۍ بدلې شوې دي او بله د عملي تطبيقولو او د فرهنګي تکون سطح.

حقيقت دا دی چې د اسلام دويمه سطحه د لومړۍ سطحې هم عمره ده. يعنې انګېرنې او فهمونه د قران او سنت پر اساس رامنځته شوې دي او داسې وخت نه پېژنو چې کتاب او سنت وو خو له هغوی څخه د متدينو د فهم او تفسير خبره نه وه مطرح. اساساً داسې کار امکان نه لري. خو دا هم سمه ده چې دغه فهم او تفسيرونه په لومړي پړاو کې خام او ساده وو، تدوين شوي نه وو؛ خو د وخت په تېرېدو سره د تفسيرونو د تراکم په وجه او پر هغوی باندې د نورو عواملو د تاثير په وجه په مدونه بڼه اوښتي دي. تر دې کار وروسته د اسلام دويمه سطح د مستقلې موضوع په توګه مطرح کېږي او د ناظرانو او شنونکو مخې ته راځي. د اسلام درېيمه سطح هم په دويمې سطحې پسې رامنځته شوې او څومره چې له فرهنګ سره ګډېږي هماغومره لا غوړېږي او لا زيات ځانګوړ کېږي.

سره له دې په عقلي – تيوريکي لحاظ دغه درې سطحې مستقلې او سره بېلې دي او د اهميت اندازې يې سره متفاوتې دي؛ خو په عملي لحاظ سره نژدې او ټينګه رابطه لري او متقابل تعامل يې په منځ کې شته. يعنې د نظريې په کچه کولای شو هره يوه جلا جلا تر بحث لاندې ونيسو؛ خو کله چې د متدينو عملي ژوند ته رسېږو، دا درې واړه سره څنګ په څنګ کې وينو. ځکه خو دين ته بايد د پديده پوهنې (phenomenologic) له ليدلوري وکتل شي. يعنې داسې ليدلوری چې په يوه ليکلي متن کې پروت انتزاعي دين، د متدينو له قول او فعل څخه جلا نه مطرح کوي. له دې ليدلوري څخه دين هماغه دين دی چې راته ښکارېږي او په عمل کې ځان راښيي، تر دې هاخوا چې هرڅه دي، هغه د دين فرع ده. نن سبا دغه ليدلوری جدي پلويان لري.

له بحثه به نه لرې کېږو، د دين له تجديد نه مطلب څه دی؟ تر اوسه هېچا دا ادعا نه ده کړې چې د دين د لومړۍ سطحې يعنې د کتاب او سنت د نوي کولو سودا به لري؛ ځکه دا بې معنا خبره ده. پاتې شوه د دوو نورو سطحو خبره، د تفسير او تطبيق سطحې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تطبیق سطح د تفسیر له سطحې رازېږي او له هغې څخه نه بېلېږي. یعنې تاسې چې له دین څخه هر مفهوم واخلئ، عملي دینداري به مو هماغسې وي. له مناسبو نظري اساساتو پرته د عملي تدین هېڅ ډول نه شو اټکل کولای. په دې لحاظ د تطبیق سطح پخپله د تفسیر د سطحې فرع ده او کله چې د دین د تجدید خبره کېږي، د تطبیق سطح د تفسیر د سطحې حاصل او اخري نتیجې په توګه مطرح کېږي. نو د دین تجدید عمدتاً د دین د فهم، تفسیر او تفکر تجدید رانغاړي. په همدې وجه علامه اقبال چې په کمبریج پوهنتون کې یې خپل دیني اصلاحپاله مبحثونه وړاندې کول، د احیای فکر نوم یې ورته ورکړی و. مطلب دا چې د دین د تجدید په برخه کې هره هڅه اصلاً د دین د فهم تجدید دی او د دیني فکر نوی کول، په دویمه درجه کې د تدین د روحیې او د دیني لارښوونو د عملي التزام نوي کول دي.

بنسټپالي وايي چې د دیني تفکر تجدید دا دی چې موږ د پخوانو (سلف)، یعنې د لومړیو پېړیو فهم او انګېرنې ته د اصل په سترګه وګورو او خپل فهم د هغې تابع کړو او خپل دیني تفکر د هغوی دیني تفکر ته ورته کړو. دوی دا دلیل وړاندې کوي چې پخوانو د وحي د نزول زمان ته او نبوي دوران ته د نژدې والي له امله د دین د سم درک کولو ښه او زیات توفیق موندلی دی. د دوی په باور څومره چې دغه زماني واټن ډېرېږي هماغومره دغه توفیق نویو نسلونو ته کم شوی دی. دا تر ټولو مهم عقلاني استدلال دی چې دوی یې د خپلې ادعا د اثبات لپاره وړاندې کوي.

دغه استدلال چې ظاهراً منطقي او موجه ښکارېږي، په اسانۍ سره د خلکو له خوا منل کېږي او اکثره وګړي د دې استدلال ژورو ته فکر نه کوي او هغه منطقي ستونزې چې په کې دي، د دوی له نظره پټې پاتېږي. همدا ده چې د دې مهال د اسلامي تفکر زیاته برخه له باطل دور سره مخ ده او چې څومره هڅه کوي چې د پخوانو فهم ته ورنژدې او له هغوی سره یو شان شي، نه کامیابېږي. دوی نه هغه فهم ته رسېږي چې یادوي یې او نه هغې کامیابۍ ته چې د دوی په باور پخوانو د خپل فهم په وجه ورته رسېدلي وو؛ نو بېرته هماغه ځای ته راګرځي چې شروع یې ځنې کړې وه.

### آیا د پخوانو فهم ته لاره کول امکان لري؟

دلته دوې پوښتنې دي چې که ورته ژور فکر وکړو، د دې عام شوي باور پر ستونزو باندې پوهېدلای شو: یوه دا چې څرنګه ثابتولای شو چې د پخوانو (اسلافو) فهم او درک دقیقاً دغه شی و چې موږ یې انګېرو. دویمه، که دا ومنو چې د هغوی فهم دغسې و، ایا د هغوی د پوهې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظاهري تقلید به مو هغې لارې او طریقې ته ورسوي چې دوی کارولې. داسې خو به نه کېږي چې د هغې طریقې او لارې په روح پوه نه شو او له هغې څخه د تاریخي ماهیت په ایسته کولو او په کاملاً متفاوت ماهیت یې د کارولو په وجه، هغه لاره مسخه کړو. یعنې داسې کار چې په ظاهره کې خو به د پخوانو د کارونو تبعیت وي خو په حقیقت کې له هغوی څخه انحراف او له هغوی سره خیانت وي.

د لومړۍ پوښتنې معنا دا ده چې څرنګه ثابته کړو چې د اسلام یو خاص تفسیر هماغه د پخوانو (اسلافو) تفسیر دی؟ نن سبا چې هرمنوتیکي (تفسیري) مباحثو پوره وده کړې ده، تر پخوا په اسانۍ سره پوهېدای شو چې له دین څخه د پخوانو د فهم په نامه چې کوم څه وړاندې کېږي، د هرې ډلې د سلیقې، تخصص، لېوالتیا، او دریځونو نتیجه ده. هره ډله له خاصو فلټرونو او وسایلو سره د تېر په لټه کې راووځي او که یې غوښتي وي که نه، له تېر څخه د خپل خاص روایت د جوړولو کار اخلي. نتیجه دا کېږي چې یو نه بلکې ګڼ روایتونه مو مخې ته راځي چې هر یو یې د خاصې سلیقې او طریقې محصول دی. صوفیان د تېر په اړه ځانته روایت لري، سلفیان یې ځان ته - شیعه خپل روایت لري، سنې خپل – فقیه ځان ته روایت جوړ کړی، متکلم ځان ته او ... یعنې داسې روایت نشته چې د مناقشې لاره بنده کړي، چې ټولې ډلې ورباندې اتفاق وکړي چې هو، د پخوانو فهم او تفسیر همدغه شی و.

کولای شو زړو متنونو او منابعو ته په مراجعې سره دا وښییو چې ان د پخوانو تر منځ هم په ډېرو موردونو کې د نظر اختلاف و، هم په فروع کې هم په اصولو کې. د وخت په تېرېدو سره چې مختلفې ډلې او فرقې راوزېږېدې، هرې یوې د ځان د مشروع ګڼلو لپاره، ځان ته شجره او نسب نامه جوړه کړه چې په یوه ډول سره ځان په پخوانو پورې وتړي. هرې ډلې هڅه کړې ده د دې کار لپاره خاصه ایدیالوژي رامنځته کړې دي. تر هغې وروسته بیا د پخوانو په اړه دا تصور مطرح شو چې ګوندې په لومړنیو نسلونو کې واحد او د ټولو موافق میتود شته و او د هغوی تر منځ د نظر اختلاف او مختلف لیدلوري نه وو موجود.

څرنګه چې د دې مسألې شرح ډېر تفصیل او مستند بحث غواړي او په دې لیکنه کې نه ځایېږي نو بل ځای ته به یې پرېږدم. دلته به همدومره ووایم چې نن که څوک وایي چې موږ د دین هماغه د پخوانو تفسیر او فهم ته ورګرځو نو باید پوه شي د دې هیلې پوره کېدل هغسې اسانه نه دي لکه په ویلو کې چې ښکاري، دا کار داسې ستونزې لري چې د کولو امکان یې ضعیف دی او خلک به په اسانۍ سره ځنې تېر شي. ځکه خلک هغه څه ته رسېږي چې ګومان کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوانو به دغسې فکر کاوه او دا نه وي ورمعلوم چې د ده فهم د هغوی له فهم سره څومره ورته دی. په همدې خاطر نور بهیرونه هغه څه ته نه ورګرځي.

د دې مدعا خورا ساده مثال د سلفیت شعار دی. سلفیان چې ځان د حقیقي سلف (پخوانو) پیرو بولي، دا ځان ته مزیت ګڼي چې ګوندې خاص په دوی پورې اړه لري او نور ترې محروم دي. حال دا چې متصوفان او بلکې ټولې غیر سلفي ډلې، د سلفیانو انګېرنه او لاره مردوده ګڼي او د هغوی فهم سطحي، نیمګړی، مصنوعي او بې اساسه ګڼي.

**د پخوانو طریقه، شکل که محتوا؟**

دویمه پوښتنه دا ده چې فرضاً د هڅو په نتیجه کې وتوانېدو ثابته کړو چې له دین څخه د پخوانو فهم او تفسیر دغسې و، اوس نو څه پوه شو چې د هماغه تفسیر هو بهو تطبیق په یوه بله زمانه کې او په بل فرهنګي چاپېریال کې به صواب وي؟ په دې باندې پوهېږو چې د هغوی فهم د هماغه چاپېریال له شرایطو او واقعیتونو سره سمون لري؛ بلکې له هماغه شرایطو سره د دین د نښلولو محصول او معلول دی؛ نو ایا په نورو شرایطو کې او د نورو واقعیتونو په موجودیت کې د هاغه تفسیر تطبیقول، د دین او واقعیت تر منځ به عدم تطابق پیدا نه کړي؟

یعنې که موږ داسې ګڼو چې پخوانې په دین ښه پوهېدل او وتوانېدل چې دغه سمه پوهه په خپل فردي او اجتماعي ژوند کې هم عملي کړي او د دوی کامیابي له دې وګڼو چې دوی له یوې خوا د دین په اصلي روح او لوړو مقاصدو ښه پوهېدلي وو او له بلې خوا یې د خپلې زمانې شرایط او واقعیتونه ښه پېژندلي وو؛ نو که موږ هم هماغه پوهه چې له هماغه پخوانو شرایطو سره یې اړخ لګاوه، په خپلو اوسنیو شرایطو کې تطبیق کړو، ایا په دې کار به د پخوانو روش ته ورنژدې شو که په دې کار چې خپله زمانه سمه وپېژنو او بیا دین له اوسنیو واقعیتونو سره ونښلوو؟ یعنې د پخوانو روش ته ورګرځېدل، د هغوی د روش شکل او ظاهر ته ورګرځېدل دي که د هاغه روش محتوا ته؟

ممکن وویل شي چې دې ته ضرورت نشته چې مسأله دومره پېچلې کړو؛ ځکه د دین روح او د شریعت مقاصد، څرګند او تل پاتې دي او د زمانې له بدلونونو سره نه بدلېږي. پاتې شوه د زمانې د شرایطو او واقعیتونو مسأله چې بدلېږي به خو؛ خو موږ مجبور نه یو چې شریعت د شرایطو تابع کړو، برعکس باید شرایط د شریعت تابع وګرځوو.

ځینې دا هم وایي چې په انسان، ټولنه او ژوند کې هم مهم بدلون نه رامنځته کېږي؛ بلکې واړه بدلونونه مومي چې د هغوی پر ذات او جوهر باندې اغېز نه کوي. د دوی په باور انسان تل

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې و، همدا یې ضرورتونه وو، همدا یې هیلې، غوښتنې، وړتیاوې او همدا یې زیان منونکي ځایونه وو... ټولنه هم له همدې انسانانو رغېدلې ده؛ نو په دوی کې بدلون او تحول هېڅکله هغومره زیات نه وي چې ګومان وکړو ننني انسان له پروني انسان او ننۍ ټولنه له پرونۍ ټولنې متفاوته دې. که بدلون په کې راغلی هم وي، سطحي به وي. دا یو له هغو مهمو استدلالونو دی چې بنسټپال یې کاروي او محمد قطب خپل یو کتاب همدې مبحث ته ځانګړی کړی دی. د کتاب نوم یې دی *"التطور و الثبات فی حیاة البشریة"* چې په فارسي کې د «اسلام و تحولات زندگی» په نامه ترجمه شوی دی.

## د مقاصدو تشخیص اجتهادي کار دی

د دې استدلال د لومړۍ برخې په اړه به ووایو چې د دین روح او د شریعت مقاصد هغسې چې ادعا او تصور یې کېږي، څرګند او روښانه نه دي. یعنې دا متفق علیه مسایل نه دي چې ټول پرې اجماع ولري او د بحث او مناقشې ځای دې په کې نه وي. ځکه د فقهې د اصولو پوهان په دې باندې پوهېږي او بلکې اجماع ورباندې لري چې د شریعت مقاصد له اجتهادي امورو څخه دي. هر مجتهد او عالم چې په دې باره کې بحث کړی دی، د خپل اجتهاد او انګېرنې پر اساس یې کړی دی. په همدې وجه یوازې د ضرورتونو مبحث چې د شریعت د مقاصدو د لوی مبحث لومړۍ برخه ده، له پیله تر ننه پورې له پنځو تر پنځه ویشتو ضرورتونو تر منځ په نوسان کې دی. بهتره ده په دې باره کې د دې فن د یوه لوی متخصص، جمال الدین عطیه کتاب «*تفعیل مقاصد الشریعة*» ته مراجعه وشي.

څرنګه چې د شریعت د مقاصدو رابرسېره کول، په ټولو تېرو پېړیو کې اجتهادي مسأله وه او هر مجتهد د خپلې زمانې له پوهې سره مطابق دا مسأله څېړلې ده، هماغسې به په ګانده کې هم دا مسأله د عالمانو د اجتهاد په قلمرو کې پاتې کېږي او د موضوع طبیعت به بدل نه شي. نو دغه ادعا چې ګوندې د شریعت مقاصد ښکاره او بې ابهامه دي، سمه نه ده او باید په دې اسانۍ سره یې له څنګه تېر نه شو. ځینې سنتي یا بنسټپال ځواکونه هڅه کوي موضوع همداسې اسانه مطرح کړي، لکه څنګه چې یوسف قرضاوي لیکلي دي چې په یوه کنفرانس کې چا څنې پوښتنه کړې وه چې ته له کوم اسلامه خبرې کوې، د جعفر نمیري له اسلامه، د ضیأالحق یا د خمیني او یا د سعودي له اسلامه... قرضاوي وایي: «ما په ځواب کې وویل چې اسلام یو دی او هغه هم هماغه اسلام دی چې له کتاب او د اسلام د پیغمبر له سنته یې استنباطوو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممکن هغه چا چې دا پوښتنه يې کړې وه، خپله خبره يې په علمي بڼه نه وي توضيح کړې او يا به يې توضيح کړې وي خو دا چې د حاضرينو په طبع برابره نه وه، په نيمګړې توګه رانقل شوې ده. که هرڅه وي، که څوک ادعا وکړي چې يوازې يو اسلام شته او هغه ناب محمدي اسلام دی، بې جنجاله ښکاره ده چې نن تر يوه «محمدي اسلام» زيات «محمدي اسلامونه» لرو. په ايران کې جوړ شوی ناب محمدي اسلام، په سعودي کې برابر شوی ناب محمدي اسلام، د سودان ناب محمدي اسلام، د طالبانو ناب محمدي اسلام او ګڼ نور ناب محمدي اسلامونه چې لا تراوسه يې نړيوال بازار ته د عرضه کېدو بخت نه دی موندلی.

دا سې ښکاري چې که غواړو جدي واوسو بهتره ده چې د مفاهيمو او مقولو له ساده کولو او د هغوی د عام پسنده طرحو له مطرح کولو تېر شو او علمي منطق ته غاړه کېږدو.

**ننني انسان هماغه پروني انسان دی؟**

د دې استدلال دويمه برخه چې د ننني او پروني انسان تر منځ توپير تر پوښتنې لاندې راولي، هم اوږده مناقشه غواړي. ځکه بايد د انسان پېژندنې اساسات له سره وګورو. که د مولوی په شان مو دا باور وي چې د بني ادم اصلي ګوهر د هغه فکر او معرفت دی (ای برادر تو همين انديشه ای)، نه د هغه غريزې او بيولوژيکي ځانګړنې؛ نو شک نشته چې د ننني انسان معرفت او پوهه د پروني انسان د پوهې غوندې نه ده او ورسره يې فکر هم په ډېرو موردونو کې د پرونيو بني ادمانو د فکرونو په نسبت بدل شوی دی.

انسان د خپل معرفت او ادراک پر اساس کولای شي له نورو انسانانو، ټولنې او کايناتو سره خپل نسبت تعريف او تعيين کړي. دغه معرفت په چټکۍ سره مخ په تحول او بدلېدو دی. څرنګه امکان لري هغه انسان چې ځمکه د غوايي د ښکرو پر سر ولاړه بولي او ټول طبيعت له څلورو عناصرو رغېدلی ګڼي او ټوله ځمکه د کوه قاف په محاصره کې انګېري او د طبيعت ډېر تحولات سپين يا تور دېو ته راجع کوي.له هغه انسان سره يو شان وګڼو يا حتی يې له هغه سره ورته وبولو چې د ژوند په پېچليو مسايلو پوهېدلی دی، د ځمکې په طبيعت کې يې تر سلو زيات عناعصر پېژندلي، له ميلياردونو کهکشانونو خبرې کوي او د نړيوال کلي لپاره د جهانشمولو ارزښتونو په لټه کې دی.

ګومان کوم دا مسأله هغومره واضحه ده چې د دې ستر توپير پر موجوديت باندې هر ډول ټينګار بېځايه هڅه او د «اثبات مسلمات» له جملې څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې مقالې مرکزي ټکی دا دی چې د نن انسان په ډېرو شیانو کې له پروني انسانه متفاوت دی. ځکه دی ځان د هغو فیزیولوژیکو او بیولوژیکو خصوصیاتو پر اساس چې له نورو حیواناتو سره مشترک خصوصیات دي، نه پېژني؛ بلکې ځان د خپل اجتماعي او فرهنګي ځانګړنو پر اساس تعریفوي. دا هماغه شی دی چې د دینونو په بیان کې د بني ادم د اصلي ممیزې تعبیر ځنې شوی دی. که چېرې د اجتماعي موجود په توګه د انسان ځانګړنې په پام کې ونیسو، د انسان په پېژندلو او د انسانانو د هرې دورې او هر نسل په پېژندلو کې د هغه د معرفت، ارزښتونو، سلوک او فرهنګي عناصرو نقش اهمیت پیدا کوي.

نننی انسان په خپلو ذهني او فیزیکي وړتیاوو تر پخوا زیات پوهېدلی دی. پروني انسان ځان د طبیعت، تاریخ، قسمت، خدایانو او ناپېژندلو ځواکونو مقهور ګاڼه؛ خو نننی انسان په طبیعت کې لوی تصرفونه کړي دي، دا چې په دې کار کې یې ګټه کړې ده که تاوان، بېله خبره ده خو نن دی په خپلو وړتیاوو باندې زیات باور پیدا کړی دی.

نن څومره چې انسان ځان توانمند احساسوي، هماغومره ځان ته په زیات ارزښت قایل دی او په هماغه اندازه انسان محوره نظرونو ته تونګ (لېوال) دی. څرنګه چې دی خپلې توانمندۍ د ځان د انسانولۍ په وجه ګڼي نه د نورو عواملو په وجه؛ نو دی هر بل امر لکه عقیده، نژاد، جنسیت، رنګ، ژبه، ملي هویت، ګوندي هویت، طبقاتي هویت، صنفي هویت او نور فرعي مسایل ګڼي او انسانیت اصلي. دغه فرع به هېڅکله د اصل ځای ونه نیسي.

کله چې د بني ادم د انسانیت اصل په محور کې واقع کېږي، د هغو حقونو خبره مطرح کېږي چې ریښه یې په انسانیت کې ده. هر څه چې د انسان محورولي د اصل خلاف او له هغه تعصبه زېږېدلي وي چې ځینې انسانان له خپلو حقونو محروموي، باید ورسره مبارزه وشي. د بشر حقونه، د ښځو حقونه، د ماشومانو حقونه، د اصنافو حقونه، د مادي او معنوي مالکیت حق او ډېر نور مبحثونه د نننی بني ادمانو په لید کې د بدلون زېږنده دي.

دا انسان دی چې مدني بنسټونه یې رامنځته کړي او داسې قوانین یې وضع کړي چې د ده او د ده د همنوعانو مدني حقوق خوندي کړي. دا چې کله کله ځینې سیاستوال د بشر د حقونو له موضوع څخه سیاسي ګټه پورته کوي او په خپلو سیاسي سیالیو کې ورنه د وسلې په توګه کار اخلي، دا کار په هېڅ وجه اصل قضیه نه نفي کوي هماغسې چې له دین، علم او فرهنګ څخه د وسیلې په توګه استفاده، نه شي کولای د دې ارزښتونو اصل بې ارزښته وښيي.

**انسان په خپل ذاتي کرامت پوه شوی دی او اوس هغه دین قبلوي، هغه قوانین خوښوي، هغه فرهنګ غوره کوي او هغې لارې او طریقې ته په ښه سترګه ګوري چې د دې کرامت حفاظت**

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وکړي. دا هغه کرامت دی چې د انسان د ژوند په خونديي کولو، د هغه د اروا په روغ ساتلو، هغه ته د دوديَ په برابرولو او د هغه د ډېرو غوښتنو په پوره کولو کې عيني تجسم مومي.** دغه انسان نور يوازې په دې اکتفا نه کوي چې يوازې د نسل د بقا امکان ورته برابر وي؛ بلکې دی د خپل ژوند ارتقا ته، د خپلو استعدادونو غوړولو ته او خپلو لوړو خيالونو ته په هم اهميت قايل دی. په همدې وجه دغه انسان دولت مکلف کړی دی چې ورته کار ايجاد کړي، د زده کړو زمينه ورته برابره کړي، صحت ته يې اهميت ورکړي، او لسګونه نورې غوښتنې چې د بدوي انسانانو په ژوند کې د درک او تحقق وړ نه وې.

که چېرې دين، فرهنګ، قانون يا بل شی دغه غوښتنې له پامه وغورځوي او يا له انسان څخه دا حقونه واخلي، نننی انسان هغه نه شي زغملای. خو پرونی انسان داسې نه و. هغه ځان په دې مکلف ګاڼه چې خدايانو ته قرباني وکړي، حاکمانو ته باج ورکړي، طبيعت ته په ګونډو شي، خپلې هيلې په جنياتو او ارواحو پورې وتړي؛ خو له چا څخه خپل حق ونه غواړي.

دا سمه ده چې د اسلام دين د بشر د تاريخ په داسې وخت کې ظهور وکړ او خپور شو چې انسان د فرهنګي ودې په لحاظ په خرافاتو کې راګير و او ګڼ قومونه د اسلام په مرسته له خرافاتو وژغورل شول؛ خو هغه مهال چې د دين سنتي تفسيرونه تدوين کېدل، انسان محوره ليدلوری لا نه و رامنځته شوی، مدني ټولنه لا نه وه رغېدلې، مدني انسان لا صحنې ته نه و راغلی، او د بشر حقونه (په اوسني مفهوم) لا د بحث موضوع نه وه.

که ليکوال وغواړي د نني او پروني انسان تر منځ ټول غټ او واړه توپيرونه وشمېري، بايد مستقل بحث ورته پيل کړي.

له دې لنډې يادونې مې مطلب دا دی چې که پخوانيو د دين په سم پوهېدلو او د هغې پر اساس د خپلو ستونزو په حل کولو کې بريالي شوي وو، علت يې دا و چې له دين څخه د هغوی فهم د هغوی له نورو پوهنو او معرفت سره اړخ لګاوه او په حقيقت کې دوی دغه دوه شيان سره پخلا کړي وو. نن هم که موږ وغواړو هماغه کاميابي حاصله کړو، بله لاره نه لرو، بايد نننی انسان او ننۍ نړۍ سمه وپېژنو، د دې عصر غوښتنې درک کړو، د نني انسان معرفت او پوهه د اعتبار وړ وګڼو او بيا د دين داسې تفسير وړاندې کړو چې له دې پوهې او معرفت سره موافق اوسي.

نوي معارف د نني انسان د فکر او پوهې ګوهر دی او د دې عصر د انسان معرفت پر همدې معارف ولاړ دی. که څوک وغواړي چې دين له ننۍ نړۍ سره موافق کړي او د نني

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان په نظر يې مقبول کړي، بايد چې په دې معارف پوه اوسي او په دې هم وپوهېږي چې څرنګه د غه معارف د انسان په پېژندلو ، د ټولنې په تحليل کې او د دين په تفسير کې وکاروي.

څرنګه چې د دين سنتي تفسيرونه د سنت د دورې د پوهنو او معارف پيداوار دي، هماغسې که نن د دين کوم تفسير وړاندې کېږي، خامخا بايد په نننيو معارف او اوسنيو پوهنو تکيه وکوي. دا کټ مټ هماغه کار دی چې پخوانو کړی و يعنې د خپل عصر پوهنو ته اعتبار ورکول او د خپلې زمانې د معرفت خيال ساتل.

په دې حساب، که ورته ځير شو ، د دين نوی کول بله معنا نه لري غير له دې چې همدغه لاره خپله کړو ، نه دا چې هغې زمانې ته ورستانه شو چې تېره ده او هغې پوهې ته ورو ګرځو چې تاريخ يې تېر شوی او منسوخ شوی دی. سره له دې چې تېر ته ورستنېدل ناممکن دي او له دې درکه هېڅ اند ېښنه نشته؛ خو که دا کار ممکن هم وي، نه شو کولای د دين تجديد يې وبولو. موږ نه شو کولای نننيو نسلونو چې ګڼې ستونزې يې په مخ کې دي او تمه لري چې د دې ستونزو يوه برخه د دين په مرسته حل کړي، تېرو وختونو او تېرو کسانو ته راجع کړو چې ګواکې دا د دين تجديد دی. ليکوال لا تر اوسه نه پوهېږي چې څرنګه او ولې به داسې هڅه د دين تجديد ونوموو ، حال دا چې د دين تجديد پخپله د نوي کولو معنا لري.

البته دا هرڅه په دې صورت کې کېږي چې دا فرض مسلم وګڼو چې پخوانيي پر خطا لاره نه وو تللي او د هغوی کارنامه په نظري او عملي لحاظ پر معيار برابره وه. که داسې ونه ګڼو ، بله پوښتنه رامنځته کېږي چې نه غواړم ورباندې بحث وکړم، يوازې اشاره به ورته وکړم: څنګه دا ثابته کړو چې د پخوانو درک په هره برخه کې سم و او هغوی تر ځان د راوروسته نسلونو په شان په ځينو موردونو کې تېروتلي نه وو. دا پوښتنه هله مطرح کولای شو چې د پخوانو عصمت نفي کړو. که دا ومنو چې هغوی په ځينو جزئي موردونو کې تېروتلي وو ، نو بيا نه شو کولای د هغوی درک، په ټوله کې د دين بې عيبه او کامل درک وګڼو.

اهل سنت د اسلام له پيغمبر (ص) پرته نور هېڅوک معصوم نه ګڼي؛ خو د دوو لومړيو نسلونو يعنې د صحابه وو او تابعينو د نسلونو درک مهم انګېري، په تېره بيا صحابه ورته يو مخ «عدول» يعنې د اعتماد وړ بريښي. شيعه ګان بيا يوازې د اهل بيت درک او تفسير ځکه حجت ګڼي چې د هغوی پر عصمت باندې عقيده لري؛ بلکې د هغو خبرې د خدای او رسول له ويناوو سره په يوه درجه کې راولي.

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ستونزه دا چې دواړه ډلې ننګوي او هغه دا چې دوی په همدې خاص مورد کې د خپلې اعتقادي موضع د دفاع لپاره هېڅ قاطع دليل نه لري. قاطع دليل خو يا بايد نقلي (له کتاب او سنت څخه) معتبره دليل وي او د دوی پر مدعا به قطعي دلالت کوي نه د ظن او ګومان پر اساس، يا دې دغه دليل معتبر عقلي دليل وي چې نقلي دليلونو ته اړتيا ونه لري او خپل مخاطبان، هم موافقان او هم مخالفان قانع کاندي. دواړه ډلې نه شي کولای خپل باورونه د عقلاني استدلال په لاره اثبات کړي، ځکه خو د روايتونو لمنې ته پناه وړي. خو ستونزه دا ده چې د هرې ډلې د منل شويو اصولو او اساساتو پر بنا، له دې روايتونو څخه تر ګومان پورته څه نه بودېږي او نه شي کولای قطعي او يقيني خبره وکړي.

**او په پای کې:**

له دې بحثه دا نتيجه اخيستل غواړم چې که وغواړو په مډرنه نړۍ کې د دين لپاره نقش ومنو او انسانان د هغه د لارښونو په مرسته د خپلو روحي يا سلوکي ستونزو پر يوې برخې غلبه وکړي او د خپل معنوي تعالي لپاره له دين څخه ګټه واخلي، لاره يې دا نه ده چې د قديمې زمانې د ژواک نمونه او د پخوانيو پېړيو معرفت او پوهه د دين د درک اساس وټاکو او يا تمه ولرو چې د پخوانو عالمانو د اثارو په چاپولو يا له سره توليد سره به دې غوښتنې ته ورسېږو. اساسي چاره خو دا ده چې د نني انسان د معرفت او وړتياوو کچې ته ځان ورسوو. د مډرن عصر انسان په ننۍ صحنه کې اصلي لوبغاړی دی، له مډرنې زمانې نه مخکې تېر شوي خلک نور په تاريخ کې له لوبېدو پاتې شوي دي او يوازې د تاريخ په عکس العمل کې ځان تعريفولای شي او ځان ته انفعالي نقش غوره کولای شي.

دا په پټو سترګو په پرديو پسې د تګ معنا نه لري.- دا هغه تور دی چې وار له مخې تيار شوی دی – بلکې دا د لوبې ميدان ته د ورننوتو او له نورو لوبغاړو سره د سيال کېدو لاره ده. دا هغه هيله ده چې په اساسي نوي کېدو سره پوره کېدای شي. د دين تجديد د دين د درک د نوي کولو معنا لري او دا هغه ګام دی چې په دې لاره کې به خامخا پورته کېږي. دا مهمه نه ده چې دې هڅې ته څه نوم ورکول کېږي: اجتهاد، د دين تجديد، ديني احيا، ديني سمونه، ديني نوپالنه، ديني نوفکري يا ديني مډرنيزېشن، سره له دې چې د اصطلاح پېژندنې په لحاظ دغه نومونه سره توپير هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه چې اهمیت لري د دې بهیر محتوا او دروني واقعیت دی چې باید له مسوولانه درک سره مل وي. دغه بهیر ته بویه چې له یوې خوا د نننۍ نړۍ او اوسنۍ زمانې د واقعیتونو له درک سره او له بلې خوا د دین له ارزښتونو سره اړخ ولګوي او هېڅ یوه سره لوبې ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخلاقي ديانت، غيراخلاقي ديانت

ديانت يعنې دينداري، يعنې د دين په اصولو عقيده او د دين په ارشاداتو باندې عمل. خو ديانت مطلق امر نه دی چې له هر قيد او وصف څخه دې خلاص وي؛ بر عکس ګڼ قيدونه یې قيدولای شي لکه: فقهي ديانت، عرفاني ديانت، سياسي ديانت، علمي (معرفتي) ديانت. دغسې نور صفتونه ورپورې نښلولای شو چې له هغوی څخه ځينې يې له ځينو سره په يوه ډله کې راځي او ځينې نور يې د نورو ضد دي.

يو مهم قيد او وصف چې د ديانت له کلمې سره د مطرح کېدلو او د تأمل وړ دی، اخلاقيتوب يا نااخلاقيتوب يې دی. يعنې د ځينو ديندارانو ديانت داسې دی چې اخلاقي ديانت ورته ويلای شو، برعکس د ځينو نورو دينداري غيراخلاقي ديانت بللای شو. په دې ليکنه کې د دې دواړو ديانتونو توپيرونه يادوو.

اخلاقي ديانت هغه دی چې د اخلاقي مکارمو او فضايلو پر اساس بنا کېږي. په دې ډول ديانت کې انسان دغه فضايل د خپلې ديندارۍ معيار او محک ګڼي او په خپل ژوند کې د نېکو اخلاقو د پالنې همت کوي. سره له دې چې اخلاقي ارزښتونو ته پام کول، د دين د عبادي واجباتو له التزام سره په ټکر کې نه دي او ديني مناسک نه بې ارزښته کوي؛ خو په اخلاقي ديانت باورمن کسان پوهېږي چې که دغه کارونه د هغوی د اخلاقي شخصيت په وده کې مرسته ونه کړي، بې ګټې دي. دا وګړي عبادتونه داسې تمرينونه ګڼي چې له بلې دنيا سره د پيمان د تجديد په وسيله، د هغوی د اخلاقو له دوامدارې ودې او ښه کېدو سره مرسته کوي (محمد غزالي: اسلامي اخلاق، سريزه). که دوی احساس کړي چې عبادتونه دغه نتيجه نه ده لرلې، د خپلو عبادتونو په ګټه او اغېزې باندې شک کوي او پوهېږي چې عبادتونه يې يوازې د ديندارۍ کاذبه ننداره وه او بس. دا خلک ديني مناسکو او تعبدي چارو ته له پابندۍ سره هم مهاله پر خپلو اخلاقي فضايلو او له رذايلو په اجتناب باندې تمرکز کوي او د همداسې ديانت له لارې اخلاقي انسان ځنې جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مقابل کې يې، غير اخلاقي ديانت هغه دی چې پر ديني مناسکو او سېمبوليکو چارو تمرکز لري او همدا د دينداری معيار ګڼي. دا وګړي ځومره چې زيات عبادتونه کړي، هماغومره ځانونه له نېکو اخلاقو بې نيازه ګڼي (فقهي ديانت). د دې ديانت پالونکي د فضايلو او رذايلو ترمنځ پوله چنداني نه پېژني او حتی فضايل يوازې د يو څو سېمبوليکو مذهبي عملونو د ترسره کولو سطحې ته راټيټوي. د دې ډلې کسان خپلې اخلاقي نيمګړتياوې په عبادت جبيره کوي او ان د يو څو تعبدي عملونو په ترسره کولو چې د دوی د ديانت اصلي معيارونه دي، خاص غرور پيدا کوي او بې له دې چې خپلو اخلاقي نيمګړتياوو ته يې پام وي، نورو ته په سپکه سترګه ګوري او ځان ته په درنه (ابن الجوزي: تلبيس ابليس).

**بدمرغي هله يو په دوه کېږي چې غيراخلاقي ديانت له سياست سره او واک ته د رسېدو له هڅو سره غوټه شي**، دليل يې ښکاره دی: سياست په سختۍ سره له اخلاقي فضايلو سره جوړېږي. غيراخلاقي ديانت له سياست سره چې له اخلاقو تښتي، په يوه ډول سره همرنګي لري. (سياست مو ديانت دی او ديانت مو سياست!!)

په دې ديانت کې د جمعې لمونځ، اعتکاف، د روژې پروګرامونه، حج، ډله ييز نفلونه، د قران او حديث درسونه، او دې ته ورته نورې چارې د سياسي هدفونو لپاره په وسايلو بدلېږي. سياسي هدفونه يې د خلکو د اعتماد جلبول او په ټولنه کې ځای موندل دي چې د هغوی خورا زياتې مرستې راجلب کاندي او په خپلو مدرسو، مرکزونو، او بنسټونو يې ولګوي او دا هغه ځايونه دي چې د دوی د قدرت مرکز ګڼل کېږي، دوی له همدې ځايونو څخه د خپلو رقيبانو او حريفانو پر ضد کار اخلي او حاکمان او مخالف ګوندونه وربانديې ډاروي او په غير مستقيم ډول هغه کسان ګواښوي چې نور فکرونه لري، دوی ته په انتقادي نظر ګوري او د دوی له تاييده ډډه کوي.

هغه وخت چې د اخلاقو پروا له دې ديانت څخه کډه کوي، هم د دې ديندارانو خصوصي/ کورنی ژوند او هم يې ګوندي/عمومي ژوند خپل اخلاقي رنګ بايلي. دوی په خپلو ورځنيو روابطو کې نورو ته د وسايلو په سترګه ګوري او همداسې ورسره معامله کوي. دوی نورو وګړو ته فقط په دې لحاظ ارزښت ورکوي چې څومره د دوی پروژو ته ګټور تمامېدای شي او هغه وګړي چې د دوی هدفونو او پروګرامونو ته ګټه نه شي رسولای، هيڅ ارزښت ورته نه لري. حال دا چې **د اخلاقو يو معيار دا دی چې انسان به هدف ګڼو نه وسيله**. سياسي اسلام په دې يوه پېړۍ کې دغه مفهوم نه دی درک کړی او په خپلو ادبياتو کې يې د انسان د مقام او د هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انساني کرامت د تثبيت په اړه هېڅ داسې مهمه خبره نه ده کړې چې د وسيلې په توګه د انسان د استعمال مخه ونيسي.

په شي باندې د انسان د بدلېدو په اړه، له علامه اقبال لاهوري او ځينو نورو ديني نوفکرانو پرته، نورو ټولو نظريه جوړونکو چې عمدتاً په سياسي اسلام پورې اړه لري، که څه يې ويلي دي، هغه يې د کارل مارکس او نورو له خوا پر پانګوالی نظام د نقد په عکس العمل کې ويلي دي. (***کارل مارکس د پانګوالي نظام په نقد کې ويلي وو چې په دې ټولنو کې انسان هم د ماشين او د توليد د نورو وسايلو په شان استعمالېږي او د ارزښت په لحاظ په شي بدلېږي ژباړن***) دوی دغه مفاهيم له چيپي بهيرونو راپور کړي وو خو د دې پر ځای چې په انسان پالو مفاهيمو کې ځنې کار واخلي، د غرب په نقد کولو کې يې د وسيلې په توګه استعمال کړي دي، بې له دې چې د دې ټولنو له سلګونو ستونزو څخه يوه هم حل کاندي.

**د اخلاقو او ديانت تر منځ بېلتون او د سياست په بازار کې د دين وسيله کېدل، زموږ لپاره وژونکې پايلې درلودلې دي.** په وروستيو سلو کلونو کې (له هغه وخته چې په ختيزو ملکونو کې نوی عصر پيل شوی تر ننه پورې) د اخلاقي وضعيت څېړنه ښيي چې دينداري او اخلاق په دوو مخالفو لوريو سره واقع شوي دي. د منطق د عالمانو په تعبير سره د دې دوو مقولو تر منځ عکسي رابطه قايمه شوې ده، نه طردي رابطه. حال دا چې بايد د دې بهير اپوټه واقع شوې وای. يعنې څومره چې دينداري زياتېدله هماغومره بايد ټولنه لا اخلاقي شوې وای او موږ لا زيات د اخلاقي فضايلو په تحقق کې کامياب شوي وای؛ خو څه چې پېښ شول د دې خبرې اپوټه دي.

تاريخي نښې او قرينې راښيي چې زموږ په ټولنو کې په تېرو پېړيو کې اخلاقي فضايلو ته التزام لازيات و او د رښتيا ويلو، صداقت، يورنګي، ايثار، لويانو ته احترام، کشرانو باندې رحم، د اهل علم درناوی، صله رحم، د والدينو د حقونو مراعاتول، د حلالې روزي ګټل، تواضع او خاکساري، له خوارانو سره همدردي او نورې مقولې زموږ په ټولنو کې زياتې وې. نه وايم چې ايډيال او بې عيبه وضعيت به و؛ بلکې موږ د تاريخ له ډېرو لرو وختونو څخه اخلاقي نيمګړتياوې لرلې دي او د صحابه وو له عصره پرته چې د هغې په اړه هم مناقشې او بحثونه ډېر دي، بل وخت داسې ايډيال شرايط نه دي تېر شوي. د اسلام د تاريخ او په تېره بيا د جګړو او لښکرکشيو – که په هر نامه شوي دي – او د هغوی د عواقبو اخلاقي څېړنه، له هغو موردونو څخه دي چې لږو کسانو په علمي توګه ورباندې کار کړی دی. زموږ تاريخ په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لحاظ هغه تاپو ته ورته دی چې چا نه دی کشف کړی او موږ يې په اړه هېڅ دقيق خبر نه لرو او زموږ تاريخ ليکونکو هم په دې برخه کې هڅه نه ده کړې.

خو هرڅه چې وي، که وروستي سل کلونه له پخوانيو پېړيو سره مقايسه شي، جوته ځرګندېږي چې په پخوانو دورو کې اخلاقي وضعيت تر نن بهتره و. حال دا چې د اسلامي بنسټپالو په باور، د اسلام د تاريخ ځو پخوانۍ پېړۍ د اسلام د انحطاط دورې بلل کېږي او دغه تېره پېړۍ چې د بنسټپالنې څپې په کې راووتې، د دين د تجديد او د ديانت د بېرازۍ او د اسلامي امت د مجدد ژوند پېړۍ ګڼل کېږي. ممکن دغه تصور تر يوه حده او په ځينو ملحوظاتو سم وي، خصوصاً د ملي دولتونو او د مډرنو بنسټونو لکه پوهنتونونو، مډرنو يا مډرن وزمو قضايي نظامونو د تاسيس په لحاظ، چې البته دا بيا بنسټپالو ته چنداني اهميت نه لري. خو په اخلاقي لحاظ موږ په هېڅ وجه د بهترۍ شاهدان نه يو او د مذهبي بنسټپالنې هېڅ صاحب نظر ادعا نه شي کولای چې په دې برخه کې دې پرمختګ شوی وي؛ مګر دا چې اخلاقي فضايل هغو سېمبوليکو اعمالو ته منسوب کړي چې د عادت له مخې همدغسې کوي، دوی په اسلامي ټولنو کې د معنوي ودې مهمترينه نښه په ښځو کې د حجابونو او په نارينه وو کې د ږېرو زياتېدل يادوي چې د ديني جماعتونو او غورځنګونو په هڅو عام شوي دي.

دا سمه ده چې په دې سلو کلونو کې فقهي ديندارۍ مخ پر زياتېدو ده يعنې جوماتونه زيات شوي، د لمونځ کوونکو شمېر، تراويح ګانې، ډله ييز اعتکافونه، د قران ختمونه او د ديني مدرسو تاسيس او داسې نور پروګرامونه خورا زيات شوي دي؛ خو دا هر څه خپل ځای لري او د اخلاقو موضوع خپل ځای.

زموږ ټولنې د اخلاقو په لحاظ نه يوازې دا چې تر پخوا ښې شوې نه دي؛ بلکې راپرځېدلې هم دي. په هره ټولنه کې چې د ديني روحيې د ودې مظهر ګڼل کېږي او ادعا کوي چې د ديانت د روحيې په احيا کولو کې يې کامياب ګامونه پورته کړي دي، لکه ايران، پاکستان، سعودي، مصر او ... اخلاقي وضعيت ښه نه؛ بلکې لازيات خراب شوی دی (دا خو لا ښه ده چې په افغانستان کې څوک دغه ادعا نه شي کولای).

جنسي موضوعاتو ته د اخلاقو د مفهوم راټيټول يوه له هغو فاحشو خطاګانو څخه ده چې زموږ فرهنګ ته يې لاره کړې او کله هم چې د اخلاقو د فساد او صلاح خبره کېږي، ذهنونه راساً همدې موضوع ته متوجه کېږي، حال دا چې د اخلاقو لمن څنګه چې پورته ياده شوه، ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراخه ده. خو که همدا مورد د ټولنې د اخلاقو نښه وګڼو او پر اخلاقو د التزام د محک په توګه يې ومنو، بيا به هم وګورو چې دغه ټولنې په هېڅ وجه تر پخوا ښې شوې نه دي او رسمي او نارسمي احصايې په دې هېوادونو کې د سيکس د بې ضابطې او پراخه عامېدو خبره کوي. دا په داسې حال کې ده چې په دې برخه کې ممکنه قيود وضع شوي دي او د حکومت، قضايي او اجرايي دستګاه د نظارت په وسيله يې تر يوه حده کنټرولولای هم شو. نورې اخلاقي چارې چې په همدې اندازه اهميت لري د حکومت له لوري نه شي کنټرولېدای او د مهارولو هېڅ لاره يې نشته، ان داسې لاره نشته چې معلومه کړو څومره کسان پرې اخته دي، دغه موردونه دا دي: غولول، دروغ، دوه مخيتوب، چاپلوسي او غوړه مالي، تېر ايستل، بدګوماني، تهمت، غيبت او ....

نتيجه دا شوې ده چې د لمونځ کوونکو شمېر ورځ تر بلې زياتېږي خو رښتيا ويل کمېږي، ترحم کډه کوي، د ټولنې پر وړاندې د مسوولیت احساس له منځه ځي، عامه شتمنۍ او مالونه په بډو وهل کېږي او د دې رذايلو زياته برخه د هغو کسانو له خوا ترسره کېږي چې هم په ظاهره کې ديندار دي او هم د دين د ترويج او له ديني ارزښتونو د دفاع ادعا کوي. هغه بې حد و حصره پانګې چې د جهاد په دوران کې د ګڼو حزبي او نظامي څېرو له خوا په افغانستان کې دننه او له هېواده دباندې لوټ شوې او د جنګي لارډانو په نامه نوې طبقه يې رامنځته کړه، د دې خبرې يوه نمونه ده. خو کاشکې بدمرغي په همدې ځای کې ختمېدلای. لابدتره يې دا چې دا کار د اختلاس او فساد په فرهنګ بدل شو، يعنې په دې حزبونو پورې د اړوند کسانو له دايرې ووت او کرار کرار په ټولو وګړو کې عام شو، داسې چې که پخوا به چا دغه کارونه کول، له خپل کاره به شرمېدل او هڅه به يې کوله چې له نورو يې پټ کړي؛ خو اوس دغه چارې په معمولو چارو بدلې شوې دي، د ټولنې ارزښتونه ډېر راپرځېدلي دي، ان تر دې چې اوس څوک دا کارونه بد نه ګڼي او نور مجبور نه دي چې خپله غلا او اختلاس له چا پټ کاندي؛ بلکې په وياړ سره له دې لارې راټولې شتمنۍ او جايدادونه نورو ته ښيي او دا د خپل لياقت او پوهې نښه ګڼي.

بده لا دا چې بدمرغي په دې ځای کې لا نه خلاصېږي. دوی له خپلو رقيبانو سره په چلند کې اخلاقي پولې له پامه غورځوي، د هغوی د بدنامولو لپاره پر هغوی تور پورې کوي، دروغ وايي، افترا او جعلي کيسې جوړوي او تر ټولو بده دا چې د نورو انسانانو ژوند ته خطر جوړوي او بې عزتي ته يې ملا تړي. په تېرو دريو لسيزو کې د مذهبي فتواګانو يا حزبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمانونو پر اساس د ګڼو بني ادمانو وينې تويې شوې دي او زموږ د هېواد لپاره يې وېرونکی او له درده ډک تاریخ جوړ کړی دی.

ممکن وويل شي چې په خاصو کړکېچنو شرايطو کې د دې عملونو بابېدل نه شي کولای د دې ليکنې ادعا تاييده کړي او دا خو د هغو کسانو په کمزورې ديني روحيې باندې دلالت کوي چې دا کارونه يې کړي دي. ليکوال دې خبرې ته دوه ځوابونه لري: لومړی، د دې خبرې ضعيف منطق ته وګورئ. هرکله چې د ځينو دينداررو وګړو ناوړه کارونه دې حد ته رسېږي، خاص فرد يا افراد د دې کارونو مسوول ګڼل کېږي چې دغه معيوب او ناروغه ديانتونه له نيوکې وژغوري. ليکوال د دې منطق کمزوري په بله مقاله (دين او تنګونې د پديده پوهنې له نظره) کې ښودلې ده.

دويم، دغه توجيه به هله د قبلېدو وه چې دغه عملونه د ديندارو په يوه خاص نسل يا په ځانګړې ملک پورې محدود پاتې وای. له بده مرغه ليدل کېږي چې د سياسي اسلام بهيرونه په مختلفو سيمو کې د خپلو سياسي اجتماعي شرايطو سره سم لږ يا ډېر په دې لانجو اخته دي. څومره چې دا بهيرونه په سياست او قدرت کې لازيات ښکېلېږي او څومره چې زياتې پيسې ورته برابرېږي، هماغومره د دې ستونزو اندازه زياتېږي.

که وغواړو د دې خبرې د تاييد لپاره شواهد او عملي نمونې وړاندې کړو، بايد د ټولو هغو اسلامي ملکونو ګزارشونه او احصايې راوړو چې سياسي اسلام په کې نفوذ کړی دی. دا بيا ځانته مستقل بحث غواړي او په دې مقاله کې نه ځايېږي. البته دا کار به پخپله خورا مهم وي او ډېر څه به رازده کړي.

ښايي څوک ووايي چې دا کار خو يوازې ديندار ه خلک نه کوي، د نورو بهيرونو پلويان يې هم کوي. دا سمه ده او ليکوال نه غواړي نورې ډلې په دې لحاظ مبرا وګڼي؛ خو دا به يادوي چې لومړی خو د يوه غلط کار نه شي کولای د بل ناسم کار توجيه کاندي. دويم، دلته بحث پر دې باندې دی چې داسې عملونه له پاکې او ريښتنې دينداری سره سمون خوري که نه؟ اساساً دا ډېر غلط منطق دی چې کله د چا د انحرافونو او غلطو کارونو له مخې پرده لرې کېږي، وار له واره خپل ايديالوژيک يا مذهبي مخالفان يادوي چې هغوی خو هم داسې کوي. مثلاً ځينې د خپلو کارونو د توجيه لپاره د غربي نړۍ او نورو هېوادونو نيمګړتياوې يادوي. د دې دوو موضوع ګانو تر منځ هېڅ مستقيمه رابطه نشته. فرض کړو چې غربيان او نور به د نيوکې وړ ډېر کارونه ولري، ايا دا سمه ده چې موږ هم په همدې پلمه هر رقم جنايت وکړو او بې غمه وګرځوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا چې ولې د ديانت يو ډول له داسې اخلاقي زوال سره جوړېدای شي،** لا زيات فکر ته اړتيا لري او بايد په لا دقيقه توګه وڅېړل شي. د ليکوال په نظر يو دليل به يې دا وي چې زموږ په سنتي او دوديز فرهنګ کې اخلاق د فقهې په نسبت کم اهميته ښودل شوی دی. له ډېر پخوا څخه فقهي ديانت چې ظاهربينه ديانت دی، له اخلاقو لرې شوی او له داسې حساب کتاب سره اغږل شوی دی چې دغه ديانت يې د دوکاندارانو او سوداګرو کارونو ته ورته کړی دی. مثلاً: د نفلونو د رکعتونو، تسبيحاتو، اورادو او اذکارو په شمېر باندې ټينګار، د نفلي حجونو زياتوالی، ډېرې نفلي روژې او ... مرحوم محمد غزالي وايي کله چې د مصر د اوقافو په وزارت کې د مسجدونو د چارو مسوول وم، ټولو هغو جوماتونو ته مې چې د جمعې لمونځونه په کې کېدل، مکتوبونه واستول چې نور دې خلکو ته داسې روايتونه ونه ويل شي چې د خاص شمېر نفلونو ټينګار په کې شوی دی؛ ځکه دغه روايتونه که سم او موثق سند هم ولري، د بېل مورد او بېل مناسبت په اړه ويل شوي دي چې اکثره يې د ننني لوستونکو او اورېدونکو لپاره د درک وړ نه دي. دا روايتونه د خلکو په ذهنونو کې هماغه خاصې شمېرې برجسته کوي او خلک داسې انګېري چې که په هماغه خاص شمېر کې يې دغه عملونه ترسره کړل نو ديندارې به يې مکمله شي. بيا نو د دوی په ژوند کې نورې خبرې خپل رنګ بايلي په خاصه توګه اخلاق (مثلاً ځينې سوداګر چې د خلکو د اړتيا وړ مواد احتکار کوي او بيا يې په ډېره لوړه بيه پر خلکو پلوري او د عمومي آزار سبب کېږي، خپل دغه کارونه د قران شريف په ډېرو ختمونو او په نفلي حجونو جبېره کوي).

په فقه کې د شرعي حيلو (چلوټو) شايع کېدل، د فقهې د دنيوي کېدو او له اخلاقي معيارونو د هغې د لرې کېدو يوه نمونه ده (ابن القيم: اغاثه اللهفان من مصايد الشيطان) د ځينو معاصرو سيکولرو حقوقي نظامونو په څېر چې د حقوقپوه په تېره بيا د مدافع وکيل ټول فکر د قضيې دنيوي اړخ ته وي او اخلاقي بعدونه يې له پامه غورځوي.

يو بل عامل چې د اخلاقو اهميت يې کم کړی دی، د اخلاقي فلسفې بې رونقه پاتې کېدل او له هغې سره زموږ د علمي فرهنګي محيطونو نابلدي ده. ګوندې د خلکو له ذهنونو دا خبره وتلې ده چې په هر ځای کې د اخلاقي موازينو مراعاتول يو حتمي ضرورت دی. يو له هغو مباحثو څخه چې د اخلاقو په فلسفه کې په جديت سره مطرح کېږي او په علمي او فرهنګي ټولنو کې يې طرح کول مهم دي، دا دی چې له دين او له هرې بلې مقولې سره د اخلاقو رابطه څرنګه ده او دا چې کوم يو مقدم دی. ښايي دا به ايمانويل کانت و چې په لومړي ځل يې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع په دقيقه توګه مطرح کړه چې ايا اخلاق خپل مشروعيت له دين څخه اخلي، که دين خپل مشروعيت له اخلاقو څخه؟ د دې پوښتنې مطرح کول خورا زيات اهميت لري.

دلته دوه اساسي نظريې شته: يوه يې دين پر اخلاقو مقدم ګڼي يعنې زموږ افعال په خپل ذات کې ښه يا بد نه دي او يوازې هله نېک يا بد ګڼل کېږي چې له شرع څخه ورته دليل ولرو (اشعري ليدلوری).

خو په دويمه نظريه کې اخلاق پر دين مقدم دي او دين خپل مشروعيت له خپل اخلاقيتوب څخه اخلي. د دين اعتبار په دې کې وي چې اخلاقي پيغام ولري او موږ يې څکه منو چې لارښوونې يې د اخلاقو مطابق دي. دا ظريف او مهم ټکی دی.

د لومړۍ نظريې پر اساس، مثلاً که دين پر وهلو، ټکولو، تړلو، وژلو او داسې نورو چارو امر وکړي، دا کارونه ښه ګڼل کېږي او که دا کارونه نهي کړي، بد ګڼل کېږي او همداسې هره بله چاره درواخله. خو د دې روش ستونزه په دې کې ده چې د هرې ورې او جزئي چارې په اړه په دين کې صريح نص نه شو موندلای چې پر ټولو شرايطو باندې يوځل صدق وکړي، مثلاً د انتحار قضيه په هغه بڼه چې نن سبا دود شوې دی او هغه جنګونه چې په ځينو اسلامی هېوادونو کې روان دي، يا هغه روابط چې د نننۍ نړۍ د هېوادونو تر منځ برقراره کېږي او ګڼې نورې مسألې. د دې نظريې مطابق په دې ډول موردونو کې به د نصوصو لمن ونيسو او هغه نصوص به داسې تاويل کړو چې پر دې شرايطو د تطبيق وړ وي او وروسته بيا د دې چارو اخلاقي حکم معلوموو. څرنګه چې ليدل کېږي يو عمل څکه مختلف حکمونه مومي چې له ديني نصوصو څخه مختلف تفسيرونه رااېستل کېدای شي. مثلاً انتحار د ځينو په نظر ښه کار دی خو ځينې يې بد ګڼي. يا مثلاً په افغانستان کې انتحار ښه دی او په پاکستان کې بد (د ډېرو پاکستاني ملايانو په نظر) يا مثلاً په افغانستان کې د منکراتو د ختمولو لپاره وسله وال جهاد واجب دی او په مصر کې حرام (د ډېرو مصري اسلامپالو په نظر) او په افغانستان کې د مبتذلو سريالونو پر وړاندې چوپه خوله پاتې کېدل حرام دي او په سوريه او عربي اماراتو او نورو اسلامي هېوادونو کې جايز (د دغو هېوادونو د ګڼو ملايانو په باور).

د دويمې نظريې پر اساس موږ د اسلام پر حقانيت څکه باور لرو چې اخلاقي پيغام لري. مثلاً وايي: إن الله يأمر بالعدل و الإحسان و إيتاء ذی القربی و ينهی عن الفحشاء و المنکر و البغی.. (سورۀ نحل، آيۀ 90). کله چې وينو چې يو دين داسې اخلاقي پيغام لري، باور کوو چې دا دين د انسانانو په ګټه دی او د مهربانه خدای له لوري موږ ته رااستول شوی دی. کله چې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دين غواړي خلک يې د پيغمبر ربښتينولي ومني، د هغه نېک اخلاق يادوي او وايي: و إنک لعلى خلق عظيم. (سورۀ قلم، آيۀ 4) يعنې ته لوی او مهم اخلاق لرې. او کله چې پيغمبر غواړي خپلو مخاطبانو ته د خپل رسالت هدف بيان کړي وايي: إنما بعثت لأتمم مکارم الأخلاق. ( بيهقی: السنن الکبری و البخاری فی الأدب المفرد ) يعنې زما په بعثت کې بل هېڅ مقصد نه و، غير له دې چې ښه اخلاق تکميل کړم.

**دلته اخلاقي توب د دين د مقبوليت او اعتبار پشتوانه کېږي او هر عمل چې اخلاقي و، هغه ديني عمل بلل کېږي او هر کار چې غيراخلاقي و، غيرديني عمل ګڼل کېږي.**

که ديانت ته په همدې نظر وکتل شي او اخلاقي توب يې اساسي شرط وګڼل شي، اکثره دينداران به د خپلې دينداري لپاره روښانه محک پيدا کړي او له غير اخلاقي ديانت څخه به لرې کېږي؛ ځکه پوهېږي چې غيراخلاقي ديانت له بد بينۍ سره توپير نه لري. ان اکثره بدبينه خلک چې د اخلاقو غم ورسره دی تر هغو ديندارانو چې له اخلاق څخه تښتي او له اخلاقو سره جنګېږي، د دين ربښتيني منطق ته لا نژدې دي.

که د قران مجيد ايتونه او د اسلام د پيغمبر (ص) روايتونه وڅېړو، د شک ځای به پاتې نه شي چې په قران کې اخلاق خاص ځای لري، په تېره بيا که د قران د نزول تاريخي–اجتماعي شرايط په پام کې ونيسو، وبه وينو چې په هر ارشاد کې يې د اخلاقو رنګ غالب دی. قران په هر ځای کې د اخلاقو سپارښتنه کوي، که هغه د کورنيو روابطو او د ښځې او مېړه تر منځ د اړيکو مسأله وي، که د والدينو او اولادونو ترمنځ، که په ټولنه کې د مختلفو اجتماعي طبقاتو تر منځ د پيوندونو خبره وي. ان د مسلمانانو او د نورو اديانو او نورو فرهنګونو د پيروانو ترمنځ د اړيکو په مورد کې اخلاق مهم ګڼل شوی دی. حتی د جنګ او تودې مبارزې په شرايطو کې چې غيرعادي حالت دی او هاغه مهال به چا په کې د اخلاقي موازينو پروا نه کوله، هم پر اخلاقو ټينګار شوی دی.

د ليکوال په باور لوستونکو ته د قران تر ټولو مهم پيغام، اخلاق دي. البته په قران کې راغلي مصاديق ممکن د خاصو تاريخي شرايطو رنګ خپل کړی وي او د هماغه وخت د خلکو له ذهن او ژبې سره ډېر اړخ ولګوي؛ خو په قران کې راغلي اخلاقي موازين د اخلاقو له نړېوالو موازينو سره چې د لويو دينونو او فرهنګونو تر منځ مشترک دي، تطبيقبدای شي.

دا يوه اساسي اړتيا ده چې د دين په نامه کېدونکي بحثونه، هغه که د عامو مسجدونو له منبره کېږي او که د بنسټپالو په محفلونو کې، په اخلاقي لحاظ تر نقد لاندې ونيول شي، دينداره خلک د قران اخلاقي اړخونو ته وروګرځول شي او د اخلاقي مکارمو د احيا کولو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرورت ټينګار وشي. په دې توګه به هر څوک چې د دينداری دعوا کوي، پوه به شي چې غيراخلاقي دينداري نه يوازې دا چې د انسان له اروايي روغتيا سره مرسته نه کوي؛ بلکې د ډاکتر سروش په وينا: له بده به يې لا بتره کړي.

اخلاقي بحران زموږ د ټولنو د بحرانونو په سر کې دی (يوسف قرضاوي: د اسلام ويښتيا او د هويت بحران) او له دې بحرانه ژغورنه يوازې په اخلاقي رنسانس باندې ممکنه ده. په دې برخه کې بايد په يو څو روايتونو بسنه ونه کړو او زړه ورته ښه نه کړو چې همدې سره به ښه اخلاق بيا راستانه شي او بد کارونه به خپله کډه بار کړي.

د اخلاقي فضايلو احيا او د اخلاقي ټولنې منځته راوړل، پر قوي ارادې او پراخې هڅې سربېره پوهه او بصيرت هم غواړي. په دې کار کې به هم له خپل درانه عرفاني ميراثه مرسته وغواړو او هم د معاصرې اخلاقي فلسفې له ژورو بحثونو. هم به د دين دننه ورته وګورو او هم د باندې؛ ځکه چې اخلاق اساساً انساني چاره ده او د اخلاقي مکارمو ډېره برخه د بني ادم په فطرت او په خټه کې نغښې ده او د انسان عقل يې تاييدوي. اسلامي اخلاق د انساني اخلاقو يوه برخه ده نه ټول يې (ابوالاعلی مودودي: د اسلامي خوځښتونو لپاره اخلاقي اساسات).

د بني ادمانو ژوندانه ته د اخلاقو راستنول يوه لويه اندېښنه ده چې د دينونو، فرهنګونو او تمدنونو له پولو اوړي او د نړۍ په شرق و غرب کې يې د عقل ګڼ شمېر خاوندان هلو ځلو ته هڅولي دي (مصطفی ملکيان: مهرماندګار). په داسې شرايطو کې بايد اجازه ورنه کړو چې ديانت له اخلاقو لرې شي او د خشونت او خشم منبع او د قتل او جنايت توجيه کوونکی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ديموکراسي (ولسواکي) اسلامي فريضه ده

ممکن ځينې لوستونکي دې عنوان ته حيران شي خصوصاً په دې چې دا سې صريح او قاطع حکم شوی دی. حيران به ځکه شي چې د دين (دلته منظور اسلام دی) او ديموکراسي تر منځ د رابطې په اړه خبرې ډېرې شوې دي او ګونډې مناقشې او بحثونه به يې دا سې ژر ختم نه شي.

وجه يې دا ده چې د ټولو ديني مسايلو په باره کې واحده او متفقه پوهه نشته. ورسره هم مهاله د ديموکراسي په تعريف باندې هم اتفاق او د نظر وحدت نه ليدل کېږي. هر کله چې د دين او ديموکراسي تر منځ د رابطې خبره کېږي، هرڅوک دا مسأله د خپل ديني درک او د ديموکراسۍ په اړه د خپلې انګېرنې پر اساس تحليلوي. څرنګه چې نه له دين څخه د درکونو لړۍ ختمېدا لري او نه د ديموکراسۍ واحده نمونه شته؛ نو د دغو دواړو تر منځ د رابطې پر سر اختلاف او د نظرونو ګڼوالی به هم پای نه لري. البته دغه امکان شته چې د سياسي تجربو د تکامل په وجه او د دې ډګر د صاحب نظرانو تر منځ د نظرونو د تبادلې په سبب، کرار کرار د ديموکراسي په اړه د نظر يووالی رامنځته شي يا اقلاً د هغې پر کلياتو او حد اقلونو باندې به نظري توافق پيدا شي. خو دغه د نظر اتفاق به د ديني درک په اړه پيدا نه شي او دليل يې هم دا دی چې دين د سياست په شان ساده نه دی، دين خاصې ستونزې او پېچلتياوې لري چې بايد په بل ځای کې ورباندې بحث وشي.

دويم دليل يې دا دی چې په دې اړه نظري بحثونه عمدتاً د سياسي شخړو او د قدرت پر سر د کشمکشونو تر سيوري لاندې شوي دي. په دې مباحثو کې د فکر او معرفت عامل د قدرت د عامل په چوپړ کې راغلي دي او خپله علمي بڼه يې له لاسه ورکړې ده او ايدياالوژيک رنګ يې پر اپيستيمولوژيک رنګ غالب شوی دی. تر هغې پورې چې علمي بحثونه په نګه خالصه علمي فضا کې نه وي مطرح شوي، دا ناممکنه ده چې څوک دې اختلافونه ختم کړي او د نظر اتفاق ته دې ورسېږي. که دغه بحثونه له سياسي تقابل او د قدرت پر سر له منازعې څخه لرې او د علمي خبرو اترو لپاره په مناسبه ارامه فضا کې، ترسره شي، بيا دا تمه لرلای شو چې د نظر اختلافونه به راکم شي او يا لږ تر لږه له دې او سني شدت او حدت څخه به پاتې شي.

درېيم دليل يې دا دی چې د دې بحثونو عمده برخه په سطحي او تيت و پرک ډول ليکل شوي دي، قضيې ته تخصصي کتنه نه ده شوې او هغه ژور تحليل او شننه يې نه ده لرلې چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکاډېميکو چارو لپاره په کار وي. طبيعي ده چې د داسې مباحثو له بابېدو سره به د اختلافونو د کمېدو پر ځای د زياتېدو شاهدان به يې اوسو. اغلب هغه کسان چې د دين او ديموکراسي پر رابطه يې جدي بحث کړی دی، يا يې تخصص په دين او سياست دواړو کې پوره نه و يا يې په يوه کې. حال دا چې پر يوې موضوع جدي بحث رانه غواړي چې په کې ژور معرفت ولرو. دلته که څوک د دين او سياست پر رابطه باندې نظر ورکوي بايد چې هم پر ديني منابعو، فقهي قواعدو او د کلام پر اساساتو پوره تسلط ولري او هم د سياست له مډرنو مقولو، د سياست د علم له نظري مباحثو او د معاصر وخت له سياسي فلسفې سره پوره بلدتيا ولري. اوسنۍ مقاله دغه دعوا نه لري چې د دين او ديموکراسي تر منځ د رابطې په اړه به وروستۍ خبره وکړي او د يوه معاصر ليکوال په تعبير، د دې بحث دوسيه به ختمه شوې اعلان کاندي. د دې قلم خاوند پوهېږي چې دا کار که ناممکن نه وي – چې احتمالاً دی – نو بې له شکه ساده او اسانه خو بيخي نه دی. دا مقاله غواړي پر دې موضوع د نورو بحثونو په ادامه، موضوع له يوې بلې زاويې چې غالباً لږ ورته پام شوی دی، مطرح کړي.

پخوا به بحثونه تر ډېره له دغو درېو محورونو يوه ته تمايل درلود: افراط، تفريط، منځنۍ حل لاره. معنا دا چې ځينو مسلمانو صاحب نظرانو ديموکراسي (ولسواکي) يوه پردۍ او په نامسلمانانو پورې اړونده مقوله او هغه له اسلامي تعليماتو سره په ټکر کې ګڼلې ده او مخالفت يې ورسره کړی دی. د دوی پر وړاندې ځينو نورو په اسلام کې د شورا پر مسألې تکيه کړې او د راشدينو خليفو کارونه يې ياد کړي او په دې ډول يې اسلام د ديموکراسۍ بنسټ ايښودونکی معرفي کړی دی او ان اسلامي ديموکراسي يې تر غربي ديموکراسي غني او وړاندې ګڼلې ده. دريېمې ډلې له اسلام سره د ديموکراسي موافق او مخالف اړخونه سره بېل کړي دي او هځه يې کړې ده چې منځنۍ لاره ولټوي.

موږ به دلته يادې مختلفې نظريې او ليدلوري نه يادوو؛ ځکه له يوې خوا يې لمن اوږده ده او د مقالې له حوصلې وتلې ده او له بلې خوا د دې مقالې هدف دا دی چې موضوع ته له بېل او متفاوت ليدلوري وګوري.

## په کلاسيکو متنونو کې د مډرنو مفاهيمو لټون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکوال په دې باور دی چې ديموکراسي په هغه معنا چې نن سبا په سياسي علومو کې مطرح کېږي او په ننني نړۍ په تېره بيا په ديموکراتيکو هېوادونو کې استعمالېږي، بېخي نوی مفهوم دی چې په نوې نړۍ پورې اړه لري او په تاريخي لحاظ زوکړه يې د رنسانس تر دورې هاخوا ته نه اوړي. دغه ديموکراسي ان له هغه ديموکراسي څخه جوهري توپير لري چې په لرغوني يونان کې مطرح وه او د هغې دورې د فيلسوفانو په ليکنو کې ياده شوې ده. نو زه دا نه منم چې ګوندې اسلام د ديموکراسي موسسس دی، نه يوازې دا بلکې دا به هم ووايم چې په ننني معنا باندې د دولت مفهوم هم د بشر په پخواني فرهنګ کې مطرح نه و او دا د مډرنې زمانې شی دی. د دين او سياست تر منځ د رابطې په باره کې هره نظري هڅه چې دغه حقيقت له پامه وغورځوي، نتيجې ته به ونه رسېږي. که څوک هڅه کوي چې د مډرنو مقولو لپاره پخوانۍ نسخې ومومي، يا خو د انسانانو په ژوند کې پر راغلو لويو او عجيبو تحولاتو سترګې پټوي او يا به له دې تغييراتو او بدلونونو ناخبره وي. په هر صورت، دغسې هڅې له ژورو تيوريکي کمزوريو څورېږي او نه شي کولای په علمي مجامعو کې ځای ومومي.

خو د دې اصل د قبلولو معنا دا نه ده چې د ځينو ننيو او پرونيو فکري قضيو تر منځ د مشابهتونو د موندلو لپاره به هېڅ ډول مطالعه نه کوو. خصوصاً که دا ټکی په پام کې ونيسو چې هر فرهنګ او تمدن خپله سابقه لري، که د نويو پديدو سابقه په پام کې ونيسو او پر ګټورو او معقولو اړخونو يې تمرکز وکړو او ورته مناسبه فرهنګي زمينه (context) ولټوو، دا کار نه نه يوازې دا چې زيان نه لري بلکې ضروري هم دي ځکه که داسې وشي، نوې مقولې به پردۍ ونه لګي او د ټولنو له دروني شرايطو سره د دې مقولو تطبيق به اسانه شي. له نويو مفاهيمو سره د تعامل په برخه کې شرقي هېوادونه ښې تجربې او د زده کړې ډېرې خبرې لري.

دا مقاله غواړي دغه مفهوم په ډاګه کړي چې ديموکراسي يا ولسواکي سره له دې چې مډرنه او په نوې نړۍ پورې تړلې پديده ده؛ خو که ښه پرې وپوهېږو د اسلام له هدفونو او مقصدونو سره تضاد نه لري. بلکې دا يوه ګټوره لاره ده چې د انسان د جمعي ژوندانه لپاره به د اسلام هيلې په کې ورزېږي.

## د توحيد محراقي موضوع

ټول مسلمانان پر دې باندې اتفاق لري چې د اسلام په ارشاداتو کې تر توحيد مهم شی نشته. په اسلامي مفاهيمو کې تر ټولو مهم مفهوم د وحدانيت دی. توحيد په عاميانه او ساده معنا د ډېرينو بوتانو او د انسان په لاس د جوړو شويو مجسمو له پرستش څخه ډډه کول دي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو توحيد چې دومره مهم شوی دی، د خپلې ژورې معنا په خاطر شوی دی چې دوه نور مفهومونه رانغاړي: يو يې په ماورا الطبيعه حوزې پورې اړوند مفهوم دی او بل يې د انسانانو په ټولنيزو روابطو پورې تړلی مفهوم. په ماورا الطبيعه حوزه کې د توحيد مفهوم دا دی چې ټول اعمال او ټول فاعليتونه يوه ذات او يوې حکيمانه ارادې ته راجع کېږي او هېڅ بل قدرت او بل ځواک د هستۍ په مديريت کې مداخله نه شي کولای. البته د اکثرو اسلامي فرقو او مذهبونو په نظر دا د نورو عواملو د خنثاتوب يا شنډوالي معنا نه لري؛ بلکې د هغوی فعاليت او فاعليت د واحد خدای د ارادې په دايره کې او د هغه ذات د قوانينو او سنتونو په چوکاټ کې دننه تعريفېږي، نه د هغه په څنګ کې چې وشي کولای له دې قوانينو سره په تعارض او تقابل کې واقع شي. د دې موضوع فلسفي توضيح خاصې ستونزې لري او د مسلمانانو په فلسفي او کلامي ژوند کې د اساسي موضوع په توګه پاتې شوې ده.

د اسلام له نظره دا د شرک عقيده ده چې ګوندې په کايناتو کې ځينې نور قدرتونه شته چې کولای شي د خدای د ارادې خلاف او په مستقل ډول عمل وکړي او وشي کولای خپلې غوښتنې پر خدای ومني او يا د خدای اراده باطله کړي. دا عقيده له توحيد سره د جمع کېدو نه ده. خو دا چې د خدای تر ارادې لاندې نور قدرتونه يا عوامل مطرح شي، د اسلامي فرقو تر منځ يې په تفصيلاتو کې اختلاف شته. د دې اختلاف په يوه سر کې د سلفي- اورتودوکسي مفکورې والا واقع دي چې هر ډول نور ماورا الطبيعي عوامل نفي کوي او په بل سر کې يې ځينې متصوفان، فيلسوفان او شيعه مسلمانان دي چې په دې اړه له لومړۍ ډلې سره د نظر اختلاف لري. د لومړۍ ډلې په نظر د بل هر موجود مهم ګڼل، د خدای د فاعليت او نقش د کمرنګه کولو معنا لري او په يو ډول سره په شرک کې حسابېږي حال دا چې دا خبره د نورو له نظره له توحيد سره تضاد نه لري. په هره توګه دغه دعوې پر داسې مسايلو باندې دي چې کاملاً په ميتافيزيک پورې اړه لري او نه شو کولای په علمي لارو چارو يې ختمې کړو. د دې مطلب تفصيل به بل ځای وګورو.

د انساني روابطو په حوزه کې د توحيد معنا دا ده چې اجازه ورنه کړو چې په انسانانو کې دې ځوک داسې لوړ مقام خپل کاندي چې نور خپل مريبان او د قران مجيد په تعبير خپل بنده ګان يې کړي. په اسلام کې د توحيد دغه مفهوم هم هماغومره اهميت لري چې لومړی مفهوم يې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې مفهوم پر اساس کله چې ځینې انسانان تر متعارف او معمول مقام داسې پورته مقام ته ورسېږي چې وشي کولای خپله اراده پر نورو تحمیل کړي او هغوی خپل خدمت ته وګوماري او په قراني تعبیر سره ځینې انسانان د ځینو نورو په ولکه کې راشي، دا د ځینو انسانانو له خوا د ربوبیت له ګټلو سره یو شی دی چې دا بیا له توحید سره اړخ نه لګوي او حتی په عملي لحاظ دا ډول شرک لا خطرناک دی او د انسانانو پر ژوند باندې یې اغېزې تر هغه بل ډول شرک لا مضرې دي. دا په دې چې په لومړي ډول شرک کې انسانان په ځینو سېمبولیکو چارو باندې اکتفا کوي او په عمل کې یو ډول ازادي لري او برخلیک یې بل څوک نه ورټاکي او د ژوند په مهمو چارو کې یې بل څوک مداخله نه کوي. خو په دویم ډول شرک کې د ګڼ شمېر انسانانو برخلیک د ځینو نورو د هوسونو او غوښتنو ښکار کېږي، هغه هم داسې غوښتنې چې ختمېدا یې نشته او څومره چې د هغوی د واک او اختیار لمن پراخېږي، هماغومره یې د نورو په چارو کې مداخلې زیاتېږي او بیا خپلو همنوعانو ته څو ځله زیات مزاحمتونه کوي. په دې حالت کې نور چې څومره خواري وکړي چې ځان د دوی له ازاره لرې وساتي، امکان به یې نه وي؛ ځکه په دې وضعیت کې په منظم ډول خورا لوی سیستم رامنځته کېږي چې نوم یې قدرت دی او دا پر نورو باندې میدان تنګوي او نور خپل حال ته نه پرېږدي.

## د قدرت ضروري غوښتنې

د قدرت داستان د بشر په تاریخ کې له پېچومو او کړلېچونو ډک داستان دی. له هماغه وخته چې انسانانو ډله ییز ژوند پیل کړی دی، د دوی تر منځ ځینې مناسبتونه او روابط رامنځته شوي دي چې د قدرت په نامه پدیده یې زېږولې ده. قدرت له هماغې شېبې چې راپیدا کېږي، د یوه مستقل عامل په توګه عمل پیلوي او سره له دې چې ظاهراً چلول یې د داسې کسانو په لاس کې وي چې قدرتمند او واکمن بلل کېږي؛ خو په عمل کې دا قدرت دی چې پر نورو واک چلوي او که واکمنان د هغه له منطقه سرغړونه وکړي، وار له واره به طرد شي او خپل ځای به له لاسه ورکړي ان که د قدرت د هرم په سر کې هم وي. قدرت په خپل ذات کې یوه وحشي او سرکشه پدیده ده چې بل منطق نه شي زغملای، نه د اخلاقو منطق، نه د علم او د دین منطق... قدرت ځان ته خاص منطق لري او هېڅ بل منطق ته غاړه نه ږدي. د قدرت منطق د بل هر منطق په نظر بې منطقي ښکاري او قدرت یوه بې منطقه پدیده پېژندل کېږي... خو قدرت خپل منطق ته په اصالت قایل دی او هېڅ بل منطق په رسمیت نه پېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قدرت هڅه يوازې دا نه وي چې د نورو برخليک په خپل لاس کې ونيسي؛ بلکې هڅه کوي د هغوی ذهنيت هم تر خپل اغېز لاندې راولي او د هغوی باورونه هم د خپلې غوښتنې او خپلو مصالحو پر اساس بدل کاندي چې خلک نه يوازې په ظاهره کې ورته تسليم شي بلکې په باطن کې هم ورته ګونډه ووهي. په همدې وجه قدرت هڅه کوي علم او هنر او ان ديني مفاهيم خپل خدمت ته وګوماري او د هغوی په وسيله ځان په يوه داسې مستحکمه کلا کې خوندي کړي چې څو محافظتي قشرونه ولري او له هېڅ لوري ورته ګواښ پېښ نه شي. هره شېبه چې قدرت احساس کړي چې بل سيال ځواک يې راميدان ته شوی دی او کولای شي ده ته خطر جوړ کړي، دا د لېونيانو په شان غبرګون ښيي او په دې وخت کې يې حقيقي څېره راڅرګندېږي. هغه پرېماني وينې چې په تاريخ کې بهول شوې دي او هغه وحشتناک جنايتونه چې ترسره شوي دي، مورږ ته د قدرت په اړه ګڼ شمېر غمجن داستانونه بيانوي.

البته په تاريخ کې ځينې استثناګانې شته چې ځينې انسانان واک ته رسېدلي او بيا يې هڅه کړې ده چې د قدرت منطق ته تسليم نه شي او د اخلاقي وجدان، ايماني او خالصو ديني ژمنو پر اساس چلند وکړي؛ خو دوی ځکه ډېره موده پر واک نه دي پاتې شوي چې چال چلند يې د قدرت له منطق سره اړخ نه دی لګولی. دغه وګړي يا وژل شوي او يا يې ماتې کړې ده او يا زهر ورکړل شوي دي، دا په دې چې د قدرت د عمومي او تل پاتې قاعدې خلاف يې عمل کړی دی. څه چې د خلفای راشدين او عمر بن عبدالعزيز په اړه اورو همدې ټکي ته اشاره کوي.

زمورږ په فکري تاريخ کې چا د قدرت پر مقولې په علمي او فلسفي توګه بحث نه دی کړی، په دې باره کې تحليلونه خورا سطحي پاتې دي ان تر دې چې قاعده د استثنا پر ځای واقع شوې او استثنا ته د قاعدې په سترګه کتل شوي دي.

دا يوه لويه تېروتنه ده چې زمورږ ديني – سياسي تفکر په پېړيو پېړيو ورباندې اخته و. ډېرو خلکو فکر کاوه چې که خلکو ته ديني او ايماني روزنه ورکړل شي، کولای شو دغه ستونزه حل کاندو او که چېرې صالح انسان واک ته ورسېږي نو بيا به وشو کولای له دې توپاني او جبار ځواک څخه د اخلاقي هدفونو د پوره کولو لپاره کار واخلو. په همدې وجه يې هر وخت خلکو ته د صالحانو د حکومت زيری ورکړی دی او څوک چې له دې لارې سره بلد وو، ځانونه يې صالحان معرفي کړي دي او توانېدلي دي چې د خلکو پر برخليک واکمن شي؛ خو په اخر کې هماغه فجايع بيا تکرار شوې دي.

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې تفکر کې دې دوامدار او لوی واقعیت ته پام نه دی شوی چې موږ په خپل یو زر او څلور سوه کلن تاریخ کې خورا کم داسې کلونه موندلای شو چې په هغو کې دې اخلاق پر قدرت حکم چلولی وي او انسان دې توانېدلی وي چې پر خپل ایمان او وجدان باندې په تکیې سره د قدرت له معمولو مقتضیاتو څخه ډډه کړې وي او د حکومتولۍ متفاوته بڼه یې ښکاره کړې وي. د حکومتولۍ داسې بڼه هېڅکله د اصلي حکومتولۍ د سرمشق بڼه نه ده غوره کړې، یوازې له ځانه یې ځینې خوږې خاطرې پرې ایښې چې په ویناوو کې نقل کېږي او د ویناوالو په درد لګېږي، خو دې استثنایي حکومتونو زموږ په تاریخ کې د واکمنۍ پر چلند هېڅ اثر نه دی کړی. البته د داسې ایډیالو حکومتونو موجودیت هله منلای شو چې د دې استثنایي دورې په اړه ټول مثبت حکایتونه بې له شکه ومنو؛ خو که مخالف روایتونه او متضاد تعبیرونه یې هم په پام کې ونیسو؛ د دغو استثنایي دورو ځلا به هم تته شي. د مسلمانانو په تاریخ کې پر دې دورو باندې هم بحثونه او مناقشې وې او شته؛ خو له بده مرغه دغه مناقشې د ایډیالوژۍ په ولکې کې وې او ایډیالوژۍ پخپله د قدرت وسیلې او اوزار دي؛ نو موږ په دې مورد کې هېڅ داسې څېړنې نه دي لیدلې چې علمي امانت دې په کې مراعات شوی وي او حقیقتونه دې د ایډیالوژیو قرباني شوي نه وي.

کله چې د قدرت ماهیت په پام کې نه نیول کېږي او د هغه له خونړي تاریخ څخه لازم عبرت نه اخیستل کېږي نو دا خوږ تصور په اسانۍ سره منل کېږي چې که وګړي اصلاح شي، د قدرت د نظام ستونزه به پخپله حل شي او بیا به داسې نظام ولرو چې د قدرت او ځواک په اوج کې به هم کولای شي او هڅه به کوي چې کاملاً پاک او اخلاقي عمل وکړي.

د دې خلکو په باور ټوله ستونزه د انسانانو په فردي وضعیت کې ده او نور غټ او واړه عاملونه یې لکه فرهنګ، قانون، محیطي شرایط او نور له پامه غورځول کېږي او یا ورته لږ اهمیت ورکول کېږي.

د دې نظر خاوندان په دې فکر نه کوي چې له یوې خوا د وګړو باطني ښېګڼه یو پټ شی دی او د هغې د ارزولو لپاره کومه روښانه او بې ابهامه وسیله نشته، له بلې خوا ان که وګړی پخپله په لومړي سر کې صالح هم واوسي، څوک یې ضمانت کولای شي چې هغه به دغسې پاتې شي او کله چې شرایط نور وي او دی په واک کې وي، بدلېږي به نه. که فرضاً دغسې تغییر په کې راغی بیا به څه کوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جالبه خو دا ده چې تاریخ مو له داسې مثالونو ډک دی چې ډېرو له ښو، منلو بې عیبو شعارونو څخه قدرت ته راغلي دي؛ خو چې څنګه يې واک خپل کړی، سرې يو مخ بدل شوی او هماغه د پخوانو لاره يې خپله کړې ده، هماغه پخواني چې دوی يې پر ضد راپاڅېدلي دي او د هغوی د راپرځولو لپاره يې وینې بهولې او ورانۍ يې کړې دي.

خو د نړۍ په هاغه بله څنډه کې، په غربي نړۍ کې، تر ترخو تجربو او خونړیو تباه کوونکو جګړو وروسته، ځینو فیلسوفانو او مفکرانو دې مسألې ته پام کړی دی چې اساسي ستونزه په قدرت کې ده نو باید قدرت په جدي توګه مطالعه کړو او په جزیاتو يې ځان خبر کړو، غوښتنې يې په پام کې ونیسو او مستقیمې او نا مستقیمې تابع ګانې يې وڅېړو.

پس له ډېرو کلونو او تر اوږدو بحثونو وروسته یوه عمده او اساسي نتیجه تر لاسه شوه: «قدرت فاسد کوونکی دی» او که مهار يې نه کړو د مفسادو د مخنیوي هېڅ لاره يې نشته. دغه نتیجه د ازادي غوښتنې په عصر کې په داسې شعار بدله شوه چې په هغو هېوادونو کې يې د خلکو تر منځ د نظر اتفاق رامنځته کړ، ټولو وویل چې اجازه به نه ورکوو چې قدرت د یوه شخص، یوې کورنۍ، یوې ډلې، یوه ګوند او خاصې طبقې په انحصار کې راشي... او باید په یوه خاصه نقطه کې د قدرت د تراکم مخه ونیسو.

زموږ د سیاسي تفکر په تاریخ کې دا عیب و چې د قدرت ماهیت او طبیعت په علمي توګه نه دي پېژندل شوي، دې ضرورت ته پام نه دی شوی چې قدرت او لارې يې باید مهار شي او خلک تل دې ته په تمه پاتې شوي دي چې حاکمان او د واک خاوندان به له دننه بدلېږي، خدای ته به مخ اړوي، له خدای او اخرته به وېرېږي او بیا به پر خلکو زړه سوځوي او پر سمه لاره به روانېږي. د (نصیحة الملوک) له کتابونو رانیولې تر سیاستنامو او نورو پورې ګڼ کتابونه د دې مدعا شاهدان دي. ګواکي دوی نه پوهېدل چې حاکمان هم د نورو غوندې انساني غریزې لري او دغه غریزې په دوی کې دومره ژورې ریښې لري چې له ځینو استثنایي موردونو پرته نور نو د هغوی د بدلېدو تمه بې ځایه او له عقله لرې ده.

## د قدرت څو اړخیز مفهوم

هېره دې نه وي چې سره له دې چې سیاسي سلطه د قدرت تر ټولو جوت اړخ دی؛ خو په نوې نړۍ کې د قدرت مفهوم سلطې ته نه رالنډېږي. قدرت پراخ مفهوم لري چې سیاسي قدرت يې له ګڼو ډولونو څخه یو دی او اقتصادي يې بل. خو که د قدرت ژور مفهوم ته پام وکړو، قدرت یعنې پر انسانانو د اغېز ښندلو توان او هغوی خپل منظور کار ته مجبورول. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورت کې بیا قدرت د ژوندي موجود په بدن کې د وینې په څېر د بني ادمانو په ټولنیز ژوند کې روان دی.

دا سمه ده چې سیاسي واک د قدرت ښکاره او برښنډه تجلي ده، خو داسې به نه ګڼو چې ګوندې معرفت، اطلاعات او هنر او نورې لارې به قدرت ته نه رسېږي؛ بلکې که د نني ژوند پېچلتیاوو ته ځیر شو، کله کله به ووینو چې ځینې له نورو لارو په لا پراخ او ژور ډول د قدرت خاوندان کېږي او خپل قدرت تحمیلوي.

نو له یوې خوا له داسې پدیدې سره مخ یو چې ګڼ پېچلي او یو په بل کې ننوتلي اړخونه لري چې مطالعه او پېژندل یې سختوي او له بلې خوا داسې لارې مو مخې ته ږدي چې کولای شو له یوې لارې یې د نورو لارو لپاره د خنډ کار واخلو.

دا ټکی د غربي نړۍ په مشهورو کشفونو کې حسابولی شو. تر دې مخکې د قدرت په اړه یو ساده نظر موجود و او له قدرت سره علمي او میتودیک چلند یې سختاوه. خو نن سبا د قدرت رغوونکي عناصر او په عمومي حوزه کې یې مختلف تجلیات پېژندل شوي، قدرت ته د رسېدو لارې چارې او د قدرت د تحکیم او پراختیا لارې مطالعه شوې دي او دغسې نورې موضوعګانې؛ نو انسان ته د قدرت د مهارولو لارې هم هوارې شوې دي.

**د دیموکراسي (ولسواکي) په پوهېدلو کې تېروتنه**

هغه څه چې نن سبا ولسواکي نومول کېږي او پر سر یې زیات بحثونه روان دي، پخپله بل څه نه دی، یوازې د قدرت د مهارولو سیستم دی. هغه تخنیک دی چې وحشي او سرکشه قدرت په اهلي او اېل شوي قدرت بدلوي. له دې پرته نور نو د دیموکراسي په باره کې چې هر څه ویل کېږي، د موضوع حاشیې دي نه اصل یې. دا چې ځینې ګومان کوي دیموکراسي (ولسواکي) له اسلام سره نه جوړېږي، د هغوی بې خبري ښیي. دا کسان فکر کوي چې دیموکراسي یعنې شرابخوري، همجنس بازي، الحاد او نور؛ په همدې وجه له هغې سره جنګ اعلانوي او له دیني ارزښتونو سره یې په ټکر کېویني؛ خو دا شیان اصلاً له دیموکراسي سره تړاو نه لري او یا د هغې په عرضي تبعاتو کې حسابېږي، نه یې په ذاتیاتو کې.

ځینې نور بیا د دیموکراسي د راپیدا کېدو تاریخي بهیر او د هغې فرهنګي بستر او فلسفي اتکا ته ګوري او ګومان کوي چې په دیني ټولنه کې ولسواکي نه شو جوړولای. دوی فکر کوي تر هغې پورې چې یوه ټولنه خاص دیني ارزښتونو ته ملزم وي، نه شي کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديموکراتيکه شي او د ديموکرات کېدو لپاره به د دين قيد او بند له منځه باسو ... او څرنګه چې دا کار امکان نه لري نو دين او ديموکراسي هېڅ سره نه جوړېږي.

دا سمه ده چې نننۍ ديموکراسي د نورو د تجربو محصول دی، په بل فرهنګي بستر کې رامنځته شوې، فلسفي تکيه يې ببله ده، د بشرپالنې (هومانيزم) او لېبراليزم (ازاد فکري) تمايل په کې جوت دی؛ خو معنا يې دا نه ده چې ولسواکي خاص د همدغو ټولنو لپاره ده او که ټولنه هغسې نه وي، ديموکراسۍ ته نه شي رسېدلی.

دا هم سمه ده چې د دين ځينې تعبيرونه چې د منځنيو پېړيو تېز رنګ لري او له علمي ليد سره مل نه دي، په عمومي حوزه کې له ديموکراسي سره نه جوړېږي. خو کولای شو د ديني متنونو او د دين په تفسير او تشريح کې له نويو علومو په کار اخيستلو سره دا تعبيرونه تر نقد لاندې راولو او مسلمانې ټولنې وپوهوو چې ولسواکي له دين سره په ټکر کې نه ده.

دا موضوع به هله لا اسانه شي چې د دين اساسي مفاهيم لکه توحيد ، خدای پېژندنه او انسان پېژندنه وڅېړل شي او ځينې پخوانۍ انګېرنې چې د انسانانو د نابرابرۍ او د مريبيتوب د دورې محصول دي، تر جدي علمي نقد لاندې ونيول شي.

څنګه چې ورته اشاره وشوه، د توحيد له مهمو برخو څخه او د دين له اساسي ارشاداتو څخه يو يې دا دی چې انسان به د بل له بنده ګۍ او مريبيتوبه وژغورو او دا کار تر هغې پورې ناممکن دی چې قدرت مو نه وي مهار کړی او هغه مو قانون ته نه وي تابع کړی. قدرت تر هغې پورې چې مهار شوی نه وي، اجازه نه ورکوي چې بې واکه او يا کمواکه انسانان په ازادۍ سره عمل وکړي، په ازادۍ سره خپله لاره غوره کړي، خپل دين په ازادۍ سره انتخاب کړي ... او له نورو سره په ګډه خپل ډله ييز برخليک وټاکي. ان په ډېرو موردونو کې به اجازه نه لري چې ازاد فکر وکړي او هغه پوښتنې چې د دوی په فکر کې ګرځي له نورو سره مطرح کړي. دوی به د ارزښتونو په دايره کې د اهل قدرت نظرياتو ته تابع وي او د ښه او بد تر منځ پوله به هماغه وګڼې چې د قدرت خاوندان يې تعينوي.

انسان په دې وضعيت کې نه شي کولای له خپل انساني ګوهر څخه ګټه واخلي او خپل انساني کرامت احساس کړي. د الهي پيغمبرانو له مهمترينو هدفونو څخه يو يې دا و چې انسانان به ازادوي، هم به بيروني ازادي ورکوي هم دروني. دروني ازادي يې دا چې دوی به د معنوي تعالي له لارو سره بلدوي او بيا به دوی کولای شي تقوا او خلاصون ته ورسېږي. بيروني ازادي يې په جمعي او ټولنيز ژوند کې له نورو سره د برابرۍ په وسيله ورکوله چې ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



به سره یو شان وي، جعلي تقدس به له منځه ځي، څوک به د بل انسان لپاره نه ټيټېږي، هر ډول تبعیض به ختم وي او له هر ډول برولۍ سره به مخالفت کېږي.

دا ټول او تر دې لا زیات شیان هله ممکنېدای شي چې قدرت مهار او اېل شي او د منلي او سنجول شوي چوکاټ په دننه کې عمل کوي. خو قدرت حریص دی او مړېدا یې نشته او په خاصه محدوده کې نه ایسارېږي. قدرت ځیږ او ظالم دی، له مخالفانو سره په تونده سره چلند کوي او که لازم وي وینې هم بهوي. قدرت مکرجن دی او که له خطر سره مخ شي، خپل رنګ بدلوي او مظلومانه څېره خپلوي. قدرت منبرونه خپل خدمت ته ګوماري چې ورته دعاګانې وکړي او کارونه یې تصدیق کاندي. قدرت شعر او ادب استخداموي چې مدحې ورته ولیکي او ښېګڼې یې تر بدګڼو زیاتې وښيي. قدرت هنر خپل چوپړ ته رانیسي چې په وګړو کې د هغه نفوذ زیات کړي او په فرهنګ کې یې ستنې ټینګې کړي. قدرت په عین وخت کې جذاب او وسوسه پارونکی دی او لږ شمېر کسان کولای شي ځان د هغه له لومې وساتي. قدرت خپلو غوښتنو ته د رسېدو یوه وسیله هم نه پرېږدي. قدرت کله کله سخت ځیږ او کرکجن ښکاري او وېره او ترهه خپروي؛ خو کله بیا ښکلی شي او زړونه یوسي. قدرت په خپل سلوک کې د وګړو تر منځ توپیر نه کوي، هر څوک چې یې حجلې ته ورشي، اطاعت ته یې مجبوروي... له سني عباسیانو رانیولې تر شیعه فاطمیانو پورې، د هتلر له نازیانو رانیولې د ستالین تر کمونیستانو پورې ټول مجبور وو چې یو ډول چلند وکړي، که د دوی تر منځ کوم توپیر و، هغه به په جزیاتو کې و.

غیر له دې چې د دې مفهوم لپاره ګڼ شمېر، بې پایه تاریخي شواهد لرو، د قران مجید په ګڼ شمېر ایتونو کې په صراحت سره یاد شوی دی. فرعون چې له حضرت موسی سره یې د مقابلې حکایتونه په تکرار سره راغلي دي او پر بني اسراییلو باندې د هغه د ظلم خبره شوې ده، د هغه مکرونه، چلوټې، ګواښونه، دسیسې او توطیې یادې شوې دي، د قدرت او مستبدانه سیاسي واکمنۍ هېنداره ده. ځینې نور چې په قران کې په "الملأ الذین استکبروا " یاد شوي او په کراتو رټل شوي دي، هغه وګړي دي چې پر خپل زور، قدرت یا خپل مال باندې یې ځان لوی ګڼلی او پر نورو واکمن شوي او د نورو په اعمالو کې یې نفوذ کړی دی... که وغواړو دا مسأله د قران له نظره وڅېړو، باید جلا مقاله ورباندې ولیکو. دلته به همدومره اشاره وکړو چې هغه څه چې د قدرت او د هغه د رنګارنګو جلوو په اړه وویل شول، داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحلیل نه دی چې چا له ځانه جوړ کړی وي؛ بلکې قرانې اساس هم لري او هم فلسفي تفکر ورته رسېدلی دی.

### قدرت تل هم بد نه وي

بله مهمه خبره دا ده چې له دې ټولو سره سره له قدرته تېښته هم نشته... څرنګه چې نیچه، فوکو او نورو ښودلي دي، قدرت مثبت اړخونه هم لري. دا قدرت دی چې انسان ورسره د پرمختګ لاره نیولی شي. د قدرت په وسیله خپلې ډېرې ښې هیلې پوره کولای شو، په قدرت سره طبیعت تسخیرولای شو. قدرت مو د سمندرونو تل ته رسوي او د اسمانونو هسکو ته... دا به هم نه هېروو چې د انسان ټولې مدنې لاسته راوړنې څه نا څه د قدرت پوروړې دي.

نو د قدرت له عیبونو او افتونو څخه د خلاصون لاره دا نه ده چې ځنې لرې شو او یا یې له منځه یوسو، دا نه ممکن دي او نه مطلوب. زموږ په تاریخ کې له دنیا څخه د تېښتې لارې شته چې هر وخت یې خلکو ته له ټولو دنیوي مظاهرو د لاس په سر کېدو ویلي دي، په تېره بیا له قدرت او سیاسي سلطې څخه؛ خو په عمل کې نه دي کامیابې شوې یوازې یې دومره کړي دي چې د ملتونو په جمعي لاشعور کې یې اختلال او دروني تناقض راپیدا کړي دي ځکه دا شی د انسان له غریزي غوښتنو سره په ټکر کې دی او د انسان په اړه اساسي واقعیتونه له پامه غورځوي.

که وغواړو هم د قدرت له ګټورو خواوو ګټه واخلو او هم یې له منفي اړخونو څخه ځان وساتو، یوازې یوه لاره لرو او هغه د قدرت مهارول دي. که قدرت مهار شي تر کنټرول لاندې به وي او سرغړونه به نه کوي. انسان باید پر قدرت سپور شي، نه قدرت پر انسان. ټوله خبره همدا ده چې قدرت باید عقلانیت ته تابع شي. قدرت باید اخلاقي معیارونو ته نژدې شي، قدرت باید دیني ارزښتونو ته غاړه کېږدي... بالاخره قدرت باید انساني څېره خپله کړي. او دا کار ممکن نه دی؛ مګر دا چې قدرت اېل کړو او قانون ته یې تابع کړو.

ولسواکي دا لاره هواروي او بلکې پخپله دې غوښتنې ته د رسېدو لاره ده؛ خو څرنګه؟

### د دیموکراسۍ په لوري ګامونه

لومړی ګام د فرهنګي اساساتو اصلاح ده. فرهنګي اصلاحات پراخ او څو اړخیز کار دی چې ډېر وخت غواړي. د فرهنګي اصلاحاتو یوه نتیجه د قدرت له مخه د پردې لرې کول دي. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدرت وپېژندل شي او د هغه چلونه بربنډ شي، دوکې به يې خورا کمې شي. د انسان نا پوهي د قدرت سرغړونو او له قانونه تېښتې ته لاره هواروي. څومره چې جهل زياتېږي، هماغومره د قدرت خپل سرى زياتېږي او څومره چې پوهه زياتېږي هماغومره پر قدرت غلبه زياتېږي. دا خورا اسانه او د پوهېدو وړ فورمول دى. د تاريخ ټول استبدادونه او خپل سرى د انسانانو د جهل او ناپوهۍ او يا د ناسمو معلوماتو د ورکولو په وجه رامنځته شوي دي. همدا د جهل تياره ده چې کولاى شو په کې خپله څېره مقدسه وښيو او اوسپنيز نظامونه ساز کړو او په اسانۍ سره د زرګونو او ميليونونو انسانانو د وينو د تويولو فتوا ورکړو، هغه که مذهبي فتوا وي که حزبي ... دا د خلکو د بې خبرۍ او ناپوهۍ برکت دى چې قدرت ته بې دريغه توان وربخښي.

د فرهنګي اصلاحاتو په نتيجه کې به قدرت نور نه شي کولاى ځان مقدس وښيي، د هغه رازونه رسوا کېږي او چل ول يې بربنډېږي، مصنوعي برم يې ختمېږي او هيبت يې خاورې کېږي، د هغه په مقابله کې د انسان جرأت زياتېږي او انسان خپله ازادي محسوسوي، کار ځنې اخلي او په قدر يې پوهېږي. بيا چا ته اجازه نه ورکوي چې دا غمې ځنې واخلي.

په همدې وجه سره له دې چې ليکوال د فرهنګي اصلاحاتو او سياسي اصلاحاتو له ديالکتيکي رابطې ناخبره نه دى؛ خو فرهنګي اصلاحات پر سياسي سمونې مقدم ګڼي. هرډول سياسي اصلاحات چې فرهنګي ملاتړ ورسره نه وي، د پايېدو چانس يې نه وي. تاريخ په دې اړه زياتې نمونې په ياد لري.

د قدرت د مهارولو په لاره کې دويم ګام د درې ګونو قواو د تفکيک هماغه مشهوره مسأله ده چې ورسره د يوه بنسټ په لاس کې د قدرت د راټولېدو مخه نيولاى شو. دا د ولسواکۍ تر ټولو مهم اړخ دى، ان تر دې چې بې له دې به د ديموکراسي په نامه هېڅ شى نه وي.

وروسته ګامونه هم بايد پورته شي چې ولسواکي سمه پر پښو ودرېږي او بې روحه تش په نامه ديموکراسي – لکه څنګه چې په ځينو شرقي هېوادونو کې يې وينو – پاتې نه شي؛ بلکې په يوه واقعي او ګټور نظام بدله شي. په دې کارونو کې يو هم د مدني ټولنو پياوړي کول دي، هغه داسې چې د مختلفو مدني ټولنو په فعاليت سره به له يوې خوا د دولت د اوږو بار سپک شي چې د خپلو مسوولېتونو د ښه تر سره کولو لپاره وزګار شي او له بلې خوا لا زيات خلک په جمعي فعاليتونو کې برخه واخلي چې دا بيا دوې نورې ګټې لري: يوه دا چې په جمعي فعاليتونو کې برخه اخيستل، خلک په خپلو قابليتونو او توانايۍ باورمن کوي او ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات استعدادونه فعالېږي، په نتيجه کې اجتماعي ښېرازي رامنځته کېږي. بله دا چې خلک خپلو مستقيمو لاس ته راوړنو ته خوشحاله کېږي او د هغوی په ساتنه کې لا زيات برخه اخلي، يعنې د زورواکو نظامونو بر خلاف په دې حالت کې خلک سيل بين نه پاتې کېږي. د دې ټولو نتيجه د دولت د نقش تتبدل دی، دولت به د نورو بنسټونو تر څنګ يو بنسټ پاتې شي او نور به تر پښو لاندې کولای نه شي.

که د دولت نقش محدود شي او د نورو بنسټونو هغه زيات، د قدرت سخت زړی به نرم شي او د انسانانو تر منځ هغه زړه ستونزه چې د دوی ازادي او انساني کرامت به يې ځنې اخيستل، له منځه لاړه شي. البته ممکن د هرې ټولنې له وضعيت سره سم د دولت نقش به يو څه متفاوت وي، مثلاً په دې لحاظ چې يو ملت د اجتماعي تکامل په کوم پړاو کې دی، فرهنګي پراختيا او اقتصادي وضعيت يې څرنګه دی ... په ځينو ټولنو کې به د دولت نقش حد اکثر، په ځينو کې حد اقل او په يوه نيمه کې به منځنی وي. دا د هرې ټولنې د تيوري جوړونکو کار دی چې د مسألې جزيات په ډاګه کړي. غواړو دلته همدا خبره روښانه کړو چې د مدني بنسټونو تقويه، کولای شي د قدرت په منظومه کې توازن او انډول رامنځته کړي او د قدرت د ورانيو مخه ونيسي.

د سياسي ګوندونو تر منځ قانوني، ازادې او رښې سيالۍ د ولسواکۍ د پياوړي کولو په لاره کې بل ګام دی. دا به د قدرت سوله ييز لېږد ، بې له دې چې څوک په خشونت او زور لاس پورې کړي، اسانه کړي. د داسې ګوندونو موجوديت چې وشي کولای په خپلو کې سالمه سيالي وکړي، د خپلې ټولنې له اوضاع سره سم مختلفې طرحې جوړې کړي او له خپلو طرحو څخه په استدلال دفاع وکړي، حتمي چاره ده.

ازادې رسنۍ او مطبوعات د ديموکراسۍ بله ستن ګڼل کېږي؛ ځکه که خلک د اجرايي قوې او نورو بنسټونو له کارونو خبر وي، د دوی اعمال به ښه وڅاري او هغه ستونزه چې د خلکو د ناخبرۍ په وجه په مستبدو نظامونو کې پيدا کېږي، له ازادو رسنيو سره به حل شي. ازادې رسنۍ د نظام له خوا د واقعيتونو د پټولو مخه نيسي او ټولنه پر هغه څه خبروي چې ورباندې تېرېږي، په دې توګه د خلکو سياسي شعور زياتېږي، مختلفو نظرونو او طرحو ته د راوتلو فرصت ورکول کېږي، د ځواکونو تر منځ د تفاهم زمينه برابرېږي او په ګډه ژوندانه کې د لا زياتو همکاريو لاره هوارېږي.

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممکن په دې کې ځيني نور شرطونه لکه د اقليتونو د حقونو خونديتوب او د اپوزيسيون نقش او نور هم ورزيات کړای شو. ځوک چې له سياسي علومو سره آشنا دي، پوهېږي چې ياد موردونه د ديموکراسي د پلي کېدو له مهمترينو شرطونو څخه دي چې معمولاً د خلکو د حاکميت تعبير ځنې کېږي، که څه هم چې دغه تعبير ممکن يو څه ساده ګڼل شوی وي.

خو دا چې ديموکراسي د اخلاقي سر ابله توب او بې بندوبارۍ د رواجولو په معنا تعبيرېږي او ځيني فکر کوي چې که چېرې يوه ټولنه په ديموکراتيکه طريقه اداره شي نو خامخا به دغه شيان ورسره وي، وجه يې دا ده چې دغه خلک په سياسي علومو نه پوهېږي او هم په ټولنپېژندنې او نورو اړوندو علومو پوره خبر نه دي. ځکه په لړې مطالعې سره به پوه شو چې ياد اخلاقي مسايل اساساً فرهنګي چارې دي او د وګړو په فرهنګ او تمدن پورې اړه لري. د مختلفو هېوادونو تجربو ښودلې دي چې د اخلاقي مسايلو په وړاندې د دوی دريځ د دوی په فرهنګي وضعيت پورې تړلی دی، نه په دې پورې چې ديموکراتيک دي که نه دي. يعنې که يوه ټولنه پياوړې ديني او مذهبي روحيه درلودلې وي، کله چې ديموکراسي ورته راغلې ده د شديد سيکولر نظام له لرلو سره سره يې بيا هم ديني او اخلاقي وضعيت چندانې نه دی بدل شوی او وګړو يې خپلو ديني چارو ته خپله پابندي ساتلې ده. د کمالي ترکيې تجربه د دې مسألې څرګند مثال دی. برعکس په ځينو ظاهراً ديني نظامونو کې د وګړو د فرهنګي ضعف په وجه اخلاقي کمزورۍ زياتې شوې دي او که دغه نظامونه واقعيتونه له خلکو پټ نه کړي، وبه وينو چې په دې ټولنو کې اخلاقي ګډوډۍ تر نورو زياتې دي ان تر دې چې اجتماعي نقادان او روښانفکران يې د دې ټولنو د اخلاقي سقوط نمونه ګڼي.

که د دولت نقش کمزوری شي او نور بنسټونه د مذهبي او فرهنګي هغو په ګډون، د ازادو فعاليتونو چانس ولري، کولای شي خلک ديني او اخلاقي ارزښتونو ته وهڅوي او دا به تر هغې څو واره بهتره وي چې د کېبل او متروکو په زور خلک ديندارۍ ته راوبولو؛ ځکه تحميلي او جبري وضعيت تل د خلکو د عکس العمل سبب کېږي د نظام له خوا د ټاکل شويو ارزښتونو پر وړاندې د دوی کرکه راپاروي. خو هغه څه چې بې له زور او اکراه، په باطني لېوالتيا او په قناعت سره ومنل شي، رښتوني به وي او تر ډېره به وپايي.

ديموکراسي په دې لحاظ هم د دين او اخلاقي ارزښتونو په ګټه ده چې ټولو ته دا فرصت ورکوي چې په ازاده او قانوني سيالۍ کې خپله متاع بازار ته راوړي او خلکو ته هم د انتخاب چانس ورکوي. دينداران په دې کې هېڅ شک نه لري چې د الهي سنت پر اساس حق به

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاميابېږي او ريښه به غځوي او باطل به کډه باروي. "فأما الزبد فيذهب جفاء و أما ماينفع الناس فيمكث فی الأرض" په همدې وجه هغه ديندار ان چې د حکومت کولو شوقيان نه دي او يوازې غواړي معنويت او د دين عالي ارزښتونه خوندي وي، له دې تقابل څخه هېڅ وېره نه لري؛ بلکې غښتل ورته پرانيزي او ان که ځينې خلک داسې لاره غوره کړي چې ظاهراً له ديني ارزښتونو سره اړخ نه لګوي، دا هم داسې پديده ګڼي چې د فجور او تقوی او دين او بې دينۍ د مقابلې په اړه له الهي سنتونو سره اړخ لګوي؛ ځکه قران مجيد په دې باره کې واضح او څرګند ايتونه لري.

که ولسواکي بل هېڅ کمال ونه لري او يوازې د انسانانو په ټولنيز ژوند کې قدرت مهار کړي او قدرت د قانون په وسيله اېل کړي، همدا به د انسانانو لپاره بهترين خدمت وي او ورسره د توحيد د مفهوم د يوې برخې د تحقق لپاره به بهترينه لاره وي. په همدې وجه ليکوال غواړي يو ځل بيا تکرار کړي چې د مشهورې فقهي قاعدې له مخې "ما لا يتم الواجب إلا به فهو واجب" (هغه څه چې له هغه پرته واجب نه تکميلېږي، پخپله هم واجب دی) ولسواکي يوه شرعي اړتيا او اسلامي فريضه ده او هغه کسان چې په اسلامی ټولنو کې د ديموکراسي د تحقق لپاره صادقانه هڅه کوي، په حقيقت کې د اسلام د يوه اساسي مقصد لپاره يې ملا تړلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دین او د پدیده پوهنې ننګونې

نوي عصر رنګارنګې بریاوې درلودلې دي. نوي علوم او ګڼ میتودونه چې د تحقیق او تحلیل لپاره د انسانانو په واک کې ورکول شوي، د دې بریاوو یوه برخه ده چې انسان ته د درک او پېژندلو فرصت په لاس ورکوي. اوس کولای شو یوې پدیدې ته له څو لیدلوریو وګورو او په نتیجه کې به یې د پدیدو له ګڼو ځنډو څخه یوه نوې ځنډه ووینو چې ښایي پخوا به مو نه وه لیدلې. **د نویو علومو په برکت د انسانانو لید له ساده حالت څخه مرکب حالت ته لوړ شوی دی.**

مثلاً که پخوا به چا غوښتل د فقر ساده او څرګنده مسأله مطالعه کړي، ښایي هغه به یې د ټولنې په اقتصادي وضعیت پورې تړلې مسأله ګڼلی او له همدې زاویې به یې ورته کتلي وای. خو نن کولای شو فقر هم له دې زاویې او هم له ګڼو نورو لیدلوریو وڅېړو، د ټولنپوهنې، اروا پوهنې، وګړپوهنې، د ژواک د چاپیریال او ممکن له ځینو نورو لیدلوریو. دا چې دغه میتودونه سره توپیر لري نو دا تمه کولای شو چې متفاوتو نتیجو ته به ورسېږو؛ نو فقر ته زموږ کتنه به له ساده لید څخه مرکب لید ته بدله شي.

ګڼې نورې موضوع ګانې لکه سیاست، ټولنه، فرهنګ، دین، علم، اخلاق او نورې هم همداسې درواخله. دغې هرې موضوع ته له څو زاویو کتلای شو او له هر میتود سره نوې نتیجې تر لاسه کولای شو.

البته دا جوته خبره ده چې ټول میتودونه د هرې موضوع لپاره نه شو کارولای او د هرې موضوع د څېړلو لپاره د میتودونو یوه برخه استعمالولای شو، نه غونډ میتودونه. دا مطلب د میتودپوهنې په مبحث کې په تفصیل سره یادېږي. خو نن سبا دې کې شک نشته چې اکثره موضوع ګانې په څو میتودونو مطالعه کولای شو.

یو له هغو علومو څخه چې نن سبا د ډېرو موضوع ګانو په مطالعه کې کارول کېږي، پدیده پوهنه ده. دا علم چې اصلاً یوه فلسفي طریقه ده، د پراخ استعمال په وجه کله کله د یوه غورځنګ په توګه پېژندل کېږي، نه یوازې د یوه نګه څېړنیز میتود په توګه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پدیده پوهنه څه غواړي؟

په دې میتود کې هڅه کېږي چې د شیانو د حقیقت د پېژندلو لپاره د هغوی د څرګندېدو بڼې ته وکتل وشي. دا میتود ذهن له هغو وار له مخکې قضاوتونو څخه ساتي چې د سنت، فرهنګ یا بل هر عامل په وسیله ورباندې تپل شوي دي؛ نو ذهن به شیان په هماغه بڼه وپېژني چې ورته څرګندېږي. ځکه دا ګومان کېږي چې فرهنګ، دین، علم او ان انګېرنې کولای شي د سړي په ذهن باندې د ډېرو شیانو په اړه ځانګړي مفهومونه وتپي او دغه تپل شوي مفهومونه د شیانو د حقیقت د پېژندلو خنډ وګرځي. د سارتر او مرلوپونتې په تعبیر – چې دوی بیا د هوسرل او د هغه له شاګردانو متاثر وو – درک او شناخت باید داسې وي چې ژوند تر هغو وار له مخې قضاوتونو ورهاخوا ثبت کاندي چې د تجربه پالنې او اروا پوهنې له خوا مطرح شوي دي.

یعنې د دې میتود مطابق، پخوانیو انتزاعي مفاهیمو ته لومړیتوب نه ورکول کېږي چې پدیدې د هغو مصنوعي مفاهیمو پر اساس تفسیر او تاویل شي؛ بلکې لومړیتوب پخپله پدیدو ته ورکول کېږي، پدیدې څرنګه چې لیدل کېږي او درک کېږي، هماغسې پېژندل کېږي او د هغې پر اساس مفاهیم د تابع په توګه رامنځته کېږي. یعنې پدیده اصل او مفهوم یې فرع ده، نه دا چې مفهوم دې اصل وي او پدیده د هغه فرع.

دا مطلب د کمونیزم د یوه مثال په ذریعه ښه ترا څرګندولای شو. کمونیزم په لومړي سر کې ځینې تیوري ګانې وې چې د اشتراکي مکتب د پلویانو او عمدتاً د کارل مارکس او انګلز په اثارو کې مطرح شوې؛ خو د روسیې تر 1917 انقلاب وروسته، عملاً داسې یو بهیر راپیدا شو چې د سوسیالیستي نظام د جوړولو او د کمونیستي ټولنې په لوري د تګ ادعا یې کوله. څو موده وروسته په چین او د لاتیني امریکا په ځینو هېوادونو او ځینو اسیایي او افریقایي سیمو کې هم ورته غورځنګونه وزېږېدل او ورته حکومتونه یې جوړ کړل.

که د دغو بهیرونو تر منځ له ورو توپیرونو چې د بومي تفاوتونو په وجه شته وو، تېر شو، دا ټول د کمونسیتي نظامونو تر نامه لاندې ډلبندي کېږي.

اوس که وغواړو کمونیزم وپېژنو، له کومه به یې پیلوو؟

یوه لاره دا ده چې د مارکس او انګلز اثارو ته مراجعه وکړو او وروسته د لینین، ستالین، مائو، تیتو، انور خوجه، کاسترو او نورو کړنې وڅېړو. بیا وګورو چې د مارکس او انګلز د نظریاتو او د دغو کسانو د اعمالو تر منځ توپیرونه شته، د دې لپاره چې له تناقضه ځان خلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو، وايو به چې د مارکس اصلي نظريې خو ښې دي، انساني دي – او هغه د چا خبره – کمونيزم په خپل ذات کې عيب نه لري، هر عيب چې دی د دغو کمونيستانو په کمونيستي کې دی. دا نو هماغه لاره ده چې د هر مذهب او هر مکتب پلويان يې غوره کوي او دا سنتي او متعارفه لاره ده.

دويمه لاره دا ده چې د پديده پوهنې له ميتودونو استفاده وکړو او ووايو چې تاسې له دوو چارو سره مخ ياست، په يوه خوا کې مو بې ژواکه نظريې دي چې په څو کتابونو کې ځای شوې دي او د تېرو انسانانو په ژوند کې بيخي نه وې، او په بله خوا کې مو يو غټ، درونډ او ځانګوړ بهير دی چې تاريخ يې بدل کړی او د خلکو د ژوندانه په ټولو مهمو اړخونو کې مجسمې دي او د ميليونونو وګړو پر ژوند يې اغېز ښندلی دی او د ملتونو برخليک يې بل ورړ کړی دی.

د هغو نظريو او دې اعمالو ترمنځ نسبت يو سست او لړزانده نسبت دی او که وغواړو له دغو دوو شيانو څخه يو يې د کمونيزم د پېژندلو لپاره د اساس په توګه ومنو، هغه حقيقت چې خلکو ته يې ځان ښکاره کړی دی، د کمونيزم د پېژندلو لپاره ټينګه مبنا جوړوي. او هغه د مارکس او انګلز مفکورې او تيوري ګانې سره له دې چې له دې حقيقت سره يو کمزوری تړاو لري؛ خو څکه د کمونيزم د پېژندلو اساس نه شي کېدای چې د عملي کمونيزم په لارښوونه کې يې لويه ونډه نه درلوده.

دلته پديده پوهان په کتابونو کې بندي شويو تيوري ګانو ته چې د ليکوال له تخيل او توهم سره يو شان دي، چنداني اهميت نه ورکوي. دوی د دې تيوري اعتبار د هغه څه له مخې ټاکي چې په همدې نامه تطبيق شوي دي. دلته د پديدې واقعيت ځان په کتونکو او شنونکو مني او هغه ليکلې او تدوين شوې تيوري ګانې د همدې واقعيت پر اساس تاويلېږي.

په کلاسيک ميتود کې په يو څو توکه کتابونو کې ليکلې رسالې او مانيفيست ته اعتبار ورکول کېده او نور نو د دې بهير د مدعييانو له خوا چې هر څه شوي وو، هغه ټول د هماغو رسالو پر اساس تاويلېدل. که د دې لارې لارويانو ميليونونه وګړي وژلي، که يې په ټوله دنيا کې زندانونه جوړ کړي، که يې د ملتونو چارچاپېره اوسپنيز دېوالونه درولي دي، که يې له خلکو څخه هر ډول ازادي اخيستې ده، دا ټول له نګه او ناب کمونيزم څخه انحراف ګڼي او وايي چې د مجرمانو او ورانکارانو کړنې به د دې شريفو او مهربانو تيوري ګانو سره په يوه تله کې نه تلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدیده پوه وايي: ستا تاویل غلط دی؛ ځکه دا دومره ویني، شکنجې، دا له انساني حقونو دومره محرومیتونه، دا د ملتونو او قومونو له برخلیک سره لوبې او دا ټولې نورې ناروا وې نه شو کولای په دې دوو جملو ختمې کړو او تاریخ په بله بڼه ولیکو. څه چې عملاً په تاریخ کې پېښ شول، دوه شیان وو: یو، څو ټوکه کتاب چې لیکل شوي دي، بل میلیونونه انسانان چې قتل شوي او زرګونه مصیبتونه چې پر نورو بني ادمانو راغلي دي. که دا دواړه د تاریخي واقعیتونو په لحاظ سره وتلو، هېڅ منطق یې سره هم وزنه نه ګڼي او د هغه څو ټوکه کتاب پله به درنه نه شي چې بیا د کمونیزم د حقیقت په پېژندلو کې کتابونه اصل وګڼل شي.

په لومړي میتود کې هڅه کېږي چې د ایدیالوژیکي، مذهبي، فرهنګي، سیاسي او نورو بهیرونو تاریخ پاک او خالص وکښل شي، هماغسې چې د کتابونو په منځ کې کښل شوي دي او هر څه چې د همدې خالص تعریف خلاف وي، هغه به تاویل شي. دا حقیقت له یاده ووځي چې د بني ادمانو تر منځ کړنې هماغه دي چې پېښې شوې دي او په دې منځ کې خلوص ته اړتیا نشته. اصلاً د بني ادمانو به نړۍ کې خالص حقیقت نه شو موندلای. څه چې زموږ په نړۍ کې پېښېږي، د ښو او بدو، ترخو او خوږو، ښکلاوو او بدرنګیو ... ګډوله ده. د هېڅ شي د خالص تاریخ د لیکلو امکان نشته او په دې لاره کې هره هڅه به بل ناخالص کار وزېږوي چې تزویر، تقلب، درغلۍ، مبالغه، ځان غولول او تېر ایستل به په کې وي.

په دویم یعنې د پدیده پوهنې په میتود کې، د کمونیزم په نامه حقیقت له هماغه ځایه پیلېږي چې کمونیستې ګوند یا ډله رامنځته کېږي او په همدې نامه یو حکومت او نظام جوړېږي چې تاریخ جوړوي. په کتابونو کې راغلې تیوري ګانې د دې تاریخ یوه وړه او ناڅېزه برخه ده چې د نورو واقعیتونو تر څنګ محدود ځای لري. **نو پدیده پوه د کمونیزم د پېژندلو لپاره نه راساً د دغې وړې محدودې (تیورۍ) لمن نیسي او نه هغه د اساس په توګه مني چې نور ټول واقعیتونه د هغې په وړاندې بې اعتباره وګڼل شي.**

څه چې وویل شول، یوازې د کمونیزم په اړه نه؛ بلکې د هر فکري، فرهنګي، سیاسي او مذهبي بهیر په اړه سم راځېږي. په همدې میتود کولای شو هره موضوع وڅېړو او د هغې بل تعریف او بل تصویر وړاندې کړو، داسې تصویر چې ممکن د هغې د پلویانو په طبع ونه لګېږي.

وروسته تر هغې چې د انسانانو د ټولنیز او مدني ژوند مختلفې موضوع ګانې د پدیده پوهنې په میتود مطالعه شوې، دین هم له دې قاعدې مستثنا پاتې نه شو او متخصصانو په همدې میتود مطالعه کړ.

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دین د پدیده پوهنې په تله کې

په دې لیدلورې کې دین هغه څه نه دی چې په کتابونو او مقدسو متنونو کې یې په اړه لیکلي دي؛ بلکې دین هماغه دی چې د متدینو په تاریخ کې یې ځان ښکاره کړی دی، د دوی له حکومته رانېولې تر عبادتونو پورې، تر پوهې او هنره پورې، تر جګړې او سولې پورې، له زغمه یې تر تعصبه پورې، له ښو یې تر بدو پورې...

د دې نظریې پر اساس د دین د پېژندلو لپاره به له لومړي سره کتابونه ونه ګورو او دین به په انتزاعي عالم کې له واقع څخه لرې نه تحلیلوو او دا به نه کوو چې د دې کتابونو له مخې ځینې مفاهیم راوباسو او هماغه اصل وګڼو او بیا څه چې په پېړیو پېړیو کې د دین په نامه او د متدینو له خوا ترسره شوي دي، یو مخ پاک کړو.

په دې نظریه کې، له مقدسو متنونو څخه راخیستل شوي کتابونه او نظري مفاهیم، د دین د واقعیت یوه برخه ده، غونډ یې نه دی. د دې لپاره چې د دین په نامه پدیده ښه وپېژندل شي، باید د هغه ګُلیت په پام کې ونیول شي چې دا ګُلیت هم په کتابونو کې د دین په اړه راغلي نظریات رانغاړي او هم هغه تاریخ چې متدینو یې په خپلو اعمالو لیکلی دی.

کله چې د دین – د هر دین - تاریخ ته وررسېږو، مختلفې بڼې به یې وګورو. له یوې خوا به دغه شیان وینو: هغه مناسک چې انسان له بیروني نړۍ سره نښلوي او له متعالي عوالمو سره یې مخ کوي او احیاناً له ځینو متدینو سره مرسته کوي چې لوړې عرفاني تجربې وکړي، او همدارنګه ځینې د خیر او بشرپالنې کارونه چې د دین د ارشاداتو له مخې ترسره شوي دي او کونډو، یتیمانو او بې وزلو ځنې ګټه اخیستې ده، او د خپلې خوښې ځینې کارونه چې له نورو سره د همدردۍ او د اجتماعي همکاریو لپاره په اخروي انګېزو باندې ترسره شوي او داسې نور کارونه چې په ښېګڼه او ګټورتوب کې یې هېڅوک شک نه لري.

له بلې خوا به وروینو چې: د دین په نامه جګړې شوې دي او یا ممکن د دین په نامه نه وي خو د دین پیروانو به کړې وي، د هر دین د مذهبونو او فرقو تر منځ اختلافونه چې د کرکې، بد ویلو، تهمتونو، او تربګنیو سبب شوي دي، داسې کړنې چې د خاصې مذهبي فرقې څرک به په کې نه وي؛ خو ترسره کړې به وي داسې کسانو چې یقیناً دینداره وګڼي وو خو د تدین د متعارفو معیارونو له مخې یې په کارونو کې جنجالونه وي. دغه د وروستي ډول کړنې ذاتاً په دین پورې نه تړل کېږي؛ خو دلته دینداړانو د نورو انسانانو په شان داسې کارونه کړي دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروا او ناولي دي لکه دروغ ویل، د خلکو ازارول، د چا د حق تلفول ... یعنې سره له دې چې دغه کارونه دیني منشأ نه لري خو د هغوی په ژوند کې د هغوی له دیني باورونو سره د یو ځای کېدلو وو.

نو په عملي لحاظ، د دین لپاره داسې خالص تاریخ چې د پدیده پوهنې له نظره د متدینو د تدین او کړنو سره یو شان وي، نشته. په دې لیدلوري کې دین لکه موزاییک له مختلفو رنګونو او شکلونو رغېدلی دی چې هم روښانه او ښکلي رنګونه په کې شته او هم تیاره او بدرنګه...

کله چې د داسې رنګارنګ او متنوع او ان متناقض تاریخ په اړه قضاوت کېږي، داسې نه کېږي چې یوازې د دین هماغه روښانه برخه او د متدینو هماغه ښې او روښانې کړنې راواخلې؛ بلکې تیاره او بدرنګې برخې یې هم د قضاوت په تله کې تلل کېږي. هلته به له متدینو پوښتنه کېږي چې مګر داسې نه وو ویل شوي چې دین به د انسانانو لپاره سر تر پایه رحمت او سوکالي وي او خیر او برکت به راوړي؟ نو ولې د دین په تاریخ کې دومره جنګونه، جګړې، تعصب، خشونت، ورانی، وژنې او قتلونه تر سترګو کېږي؟ ولې د دین په نامه لښکرې راوتلې دي، خزانې یې ډکې کړې دي، وینزې او مریيان یې د انسان پلورلو بازارانو ته وروستلي دي، ولې ګڼ کورونه وران شوي او ګڼې کورنۍ د غم په تغر کېنول شوې دي؟ ولې د عمر بن عبدالعزیز او صلاح الدین ایوبي په خوا کې یزید او حجاج هم پیدا شوي چې یوه د پیغمبر له زویه سر غوځ کړی او بل یې د خدای خونې ته د تېرو وار برابر کړی دی، دا چې له نورو سره یې څه کړي دي، له هغې به تېر یږو...

په کلاسیک میتود کې د دې ټولو پوښتنو لپاره هماغه یو وار له مخې تیار شوی ځواب شته او هغه دا چې: دین پخپله هېڅ عیب نه لري، څومره عیبونه چې دي هغه د متدینو په اعمالو کې دي.

خو دغه ځواب یوازې یو شمېر متدینان قانع کولای شي، هغه هم هماغه متدینان چې دا پوښتنې د هغوی د خپل دین په اړه مطرح شوې دي. هغوی دا ځواب یوازې د خپل دین په اړه سم ګڼي او کله چې د بل دین پیروان هم همدا ځواب ورکړي، دوی یې په هېڅ وجه نه مني. یعنې که مثلاً د کاتولیکې کلیسا پیروانو ته ووایې چې ولې د دین په نامه د عقایدو د پلټنې هغومره محکمې جوړې وې او انسانانو ته هغومره عذاب او شکنجې ورکړل شوې او د کلیسا مشرانو هغسې تور خونړی تاریخ راپرېښی دی او ولې د دوی دین خپلو پیروانو ته د داسې اعمالو

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهام ورکړی دی؟ هغوی به د دې کارونو لپاره بله هېڅ توجيه ونه لري، يوازې به هماغه ځواب درکوي.

طبعاً دا ځواب به هغه مسلمانان قانع نه کړي چې له صليبي جګړو خبر دي او تر اوسه پورې هغه جنګونه د غربي ټولنې له مسيحي مذهبه ګڼي. دوی به ونه مني چې مسيحيت پخپله عيب نه لري، څومره عيبونه چې دي د منځنيو پېړيو د متعصبو ميسحيانو په عملونو کې دي چې د غه جګړې يې په مخه کړې وې.

## د تاريخي روايتونو د اعتبار اندازه

ښايي بل ځواب دا وي چې د تاريخ ليکونکو له خوا کښل شوي شيان به د دين د تاريخ سم او واقعي تصوير نه وي؛ ځکه لومړی خو هر مورخ د خپلې سليقې، خپل دين او خپل ذوق سره سم او د خپل فرقه يي دريځ سره موافق واقعات ليکلي دي؛ نو ډېر حقيقتونه ناويلي پاتې دي او ډېر شمېر دروغونه غټ شوي دي –دويم دا چې يو مورخ هغومره نه دی چې د يوه دين مکمل تصوير وکاږي ځکه دين بې ساری عظمت او برم لري؛ نو د مورخانو روايتونه تر هغه ځايه د منلو دي چې د دين له عظمت او پرتم سره اړخ لګوي او همدا چې خپله لاره کږوي او داسې خبرې کوي چې دين له پوښتنې سره مخ کوي، بيا نو نه شو کولای ورته ارزښت ورکړو او روايتونه يې معتبر وګڼو، د مورخانو د روايتونو دغه برخه د حاکمو نظامونو د توطيو يا پخپله د مورخانو د بدو نيتونو زېږنده ده چې د دين په ځلانده څېره کې داغ ګڼل کېږي.

مفتي محمد شفيع په «مقام صحابه» کتاب کې همدغسې استدلال کړی دی، هغه وايي چې تاريخ او مورخ هغومره نه دي چې د صحابه وو د مقام او د هغوی د کارنامو په اړه څه ووايي. همدغه استدلال د ائمه اهل بيت په اړه هم شوی دی. يوسف قرضاوي هم په «تاريخنا المفتری عليه» کتاب کې هڅه کوي د همداسې استدلال پر اساس د هغو کسانو مقابلې ته ورودانګي چې د مسلمانانو په تاريخي کړنو کې يې د نيوکې وړ موردونه موندلي دي. تر هغه د مخه محمد عماره هم د اسلام د تاريخ د بيا له سره ليکلو خبره کړې وه چې د مسلمانانو له تاريخه داغونه پاک شي. عمادالدين خليل او ځينې نور ليکوال چې په تاريخي مسايلو کې تخصص لري، هم غواړي تر يوه حده همدغه ميتود وکاروي.

دا ميتود يوه ستونزه لري چې د ابوالاعلی مودودي ورته پام شوی او په «خلافت او ملوکيت» کتاب کې يې ورته اشاره کړې ده. ستونزه دا ده چې که تاريخي روايتونه بې اعتباره شي نو هغه برخې به يې هم بې اعتبارې شي چې د دين ښېګڼې يې بيان کړې دي؛ ځکه دا خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم له هماغو منابعو تر لاسه شوې دي. په علمي موضوعاتو کې نه شو کولای د یو بام او دوه هوا لاره ونیسو؛ ځکه دا کار له علمي اخلاقو سره نه جوړېږي او د دین له اخلاقي موازینو سره چې قران مجید مطرح کړي دي، هم په ټکر کې راځي. قران مجید ویلي دي: "ویل للمطففین الذین إذا اکتالوا علی الناس یستوفوق و إذا کالوهم أو وزنوهم یخسرون" یعنې افسوس پرهغو کسانو چې له نورو څخه پیمانه پوره اخلي خو پخپله یې کمه تلي.

د قران ځینې مفسران وایي چې له یوه حقیقت سره دوه ګونی چلند له هغې کړنې سره یو شان دی چې په دې ایت کې غندل شوې ده.

خو پدیده یوه د مسألې په تاریخي ثقه توب پورې نه وي، هغه له اوسنۍ زمانې څخه دومره زیات شواهد او مثالونه په واک کې لري چې تاریخ ته د مراجعې اړتیا نه پاتېږي. هغه به درته ووایي چې ښه نو د تاریخ روایت به ناسم وګڼو، د دیندارانو له اوسنیو کړنو سره به څه وکړې؟ که ورته وګورو په نننۍ نړۍ کې د مختلفو مذهبونو د متدینانو کړنې هغه څه ته ورته دي چې په تاریخ کې راغلي دي. داسې به وګڼو چې په تېر کې هېڅ یزید او حجاج نه وو او دا نومونه د مغرضانو تخیل زېږولي دي، داسې به وګڼو چې تېر تاریخ له عمر بن عبدالعزیز غوندي کسانو څخه ډک دی؛ خو د هغو جګړو په اړه به څه ووایې چې پر کابل یې د توغندیو باران جوړ کړی و او کابل یې کنډواله کړ؟ د هغو وېروونکو قتلونو به څه ووایې چې په الجزایر کې یې دوه لکه کسان ووژل؟ او په دې منځ کې سلګونه ښځې او ماشومان هم وو. هغه تهمتونه او توطیې به څرنګه تفسیر کړې چې په سودان، عراق، ایران، پاکستان او ډېرو نورو ملکونو کې د یوه بل پر ضد شوي دي؟ د طالبانو او القاعده اعمال به څرنګه توجیه کړې چې لا اوس هم لسګونه بې ګناه انسانان وژني او ان د جوماتونو په منځ کې خلک قتلوي؟

که له یوې خوا خیریه او ښه کارونه وینو چې د دیني ارشاداتو او د اعتقاد زېږنده دي، له بلې خوا وژنې، ځانمرګي، د ترهې خلقول، د انسانانو په منځ کې د کرکې د تخم شیندل او داسې نور مضر کارونه وینو چې د متدینو له خوا په دوامداره توګه تر سره کېږي او په ډېرو موردونو کې له دیني انګېزو سره مله دي. هغه دینداره چې له دې اعمالو سره مخالف دی، هماغومره د دیندارۍ ادعا کوي څومره چې د دې اعمالو مرتکبین یې کوي او په دې لحاظ دوی هېڅ توپیر سره نه لري. موږ د چا باطن نه شو ارزولای او څه چې موږ ورسره کار لرو، هغه د انسانانو ویناوې او کړنې دي. په دې لحاظ د دې دواړو ډلو دینداري عین اعتبار لري او که توپیر په کې وي نو د دوی د کړنو او د دیندارۍ په ډول کې دی؛ نه دا چې د یوې ډلې کار دیني

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګڼو او د بلې غير ديني؛ بلکې د ټولو کړنې د دين په نامه او له ديني توجيه سره ترسره کېږي؛ خو د هرې ډلې د کړنو رنګ او بڼه بېله ده.

د پديده پوهانو په نظر، دين او تدين د دې ماجرا کُلّيت دی او انتخابي چلند ورسره نه شي کېدای. که سلا پر دې وشي چې هر څوک دې په خپله خوښه د يوې پديدې يو جز راواخلي او د هماغه پديدې کُل يې وګڼي؛ نو دا به د ديندارانو د خولې خوند هم ورخراب کړي؛ ځکه بيا خو خلک کولای شي د ديانت د پديدې ټول مثبت اړخونه له پامه وغورځوي او يوازې هغه منفي اجزا يې وځلوي. که دا کار د ديندارانو په نظر د حقيقت تحريفول دي؛ نو هغه بل روش چې په کې يوازې د دين مثبت ټکي ځلول کېږي، هم هماغسې وګڼه.

ليکوال په دې کې نه دی چې د پديده پوهنې د ميتود يا يې د نتيجو د سموالي دفاع وکړي؛ بلکې غواړي متدينه ټولنه پر غوږ ووهي چې نن سبا د دين په مخ کې ګڼې نظري او عملي ننګونې شته او که دوی غواړي دين يې له دې ننګونو څخه صحيح سلامت راووځي او د سبا لپاره په نړۍ کې ځان ته ځای پيدا کړي، نو بايد دغو ننګونو ته په کمه سترګه ونه ګوري. البته په دې دې هم وپوهېږي چې دا ډول بحثونه له دين سره د دښمنۍ يا د توطيې په خاطر نه کېږي؛ بلکې دغسې بحثونه په نورو ډګرونو کې ازمويل شوي دي او دين هم ځنې لرې نه شي پاتېدای.

که دغه حقيقت ښه درک شي، څرګنده به شي چې له تورې او توپک سره د دې ننګونو مقابله نه شو کولای، له تکفير او تفسيق سره يې له منګولو نه شو خلاصېدای؛ بلکې يوازې د ديني تفکر په اصلاح کولو او له هغه څخه د زړو ګردونو په څنډلو سره، کولای شو خپل ځواب ووايو او ديانت د منلو وړ پديده معرفي کړو.

د دين په اړه د پديده پوهنې د مطالعاتو په پام کې نيول مو دغو نتيجو ته رسوي:

1- د نظر او عمل تر منځ د کرښې راايستل که په ځينو موردونو کې ممکن دي، په ځينو کې ناممکن دي. لږ تر لږه دا کار د کتونکو او شنونکو د يوې برخې لپاره د قناعت وړ نه دی او هغوی د هرې نظريې اعتبار د هغې د عملي نتيجو له مخې سنجوي. په دې حساب، د متدينو د ديندارۍ ښه او بلکې د هغوی ټول اعمال په يو ډول سره په دين پورې تړل کېږي. که دوی د خپل دين په مقابل کې مسوووليت احساسوي او باور لري چې دين ورباندې دين لري؛ نو بايد چې دا دين ادا کړي. دوی بايد خپل اخلاق ښه کړي او له ناوړو کارونو ډډه وکړي ... دا يوه دوامداره هڅه ده چې ديندارو خلک يې بايد ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او مخکې له دې چې د نورو په وړاندې ودرېږي، بايد خپل نفس تزکيه کړي.. دا هغه څه دي چې په ځينو روايتونو کې د «جهاد اکبر» تعبير ځنې شوی دی. البته ياده دې وي چې د نفس تزکيه بايد تکتيکي چاره نه وي چې وګړي له نورو سره د جنګ لپاره چمتو کړي. د بنسټپالو په لاربښوونو کې د نفس تزکيه په همدې ډول استعمالېږي.

2- هماغسې چې تاريخي تجربو له پيله تر ننه پورې ښودلې ده، که دوی تر سختو او پر له پسې هڅو وروسته وليدل چې بې عيبه فاضلې مدينې ته رسېدل ناممکن دي، او دا يې هم وليدل چې په اجتماعي چارو کې د ديندارو کړنې له نورو چندانې توپير نه لري نو بيا دې افراطي قضاوتونه پرېږدي، نور دې خلک په تور او سپين ونه ويشي او بايد دا ومني چې د ديندارو هر څه بې عيبه نه دي او د نورو هرڅه عيبجنه نه دي. انصاف را نه غواړي چې که د ديندارو د وګړو يا ټولنو په ژوند کې ښېګڼې وينو بايد د هغوی پر کميو او عيبونو هم سترګې پټې نه کړو. همدارنګه که د نورو په ژوند کې عيبونه رامعلومېږي، بايد ښېګڼې يې هم يادې کړو او د افراط او تفريط لاره ونه نيسو. دا روش هم شرعاً لازمي دی ځکه په قران مجيد کې ورباندې ټينګار شوی دی او هم اخلاقاً ښه کار دی. دا داسې کار دی چې په نوره نړۍ کې د يوه اخلاقي اصل په توګه منل شوی دی.

3- که ديندارانويني چې د دوی ځينې کړنې د دې سبب کېږي چې ځينې خلک د دوی شعارونو ته اهميت ورنه کړي او د دوی د اعمالو په وجه، دين ته شا کړي، ښه به دا وي چې د هغوی د ګرمولو پر ځای، هغه کسان ملامته کړي چې د دې خلکو د بې اعتقادۍ او نا باورۍ سبب شوي دي. دوی بايد د نورو د بې دينۍ مسوول همدغه بد عمله ديندارن وګڼي او نور معذور. دوی بايد له نورو کرکه ونه کړي؛ بلکې هغوی ته بايد د بد عملو ديندارو د قربانيانو په سترګه وګوري. د ابن القيم په وينا: دا هغه قطاع الطريقان دي چې د نورو پر مخ يې خدای ته د رسېدو لاره تړلې او هغوی يې نورو لارو ته سوق کړي دي.

4- راتلونکې نړۍ به په چټکۍ سره بدلېږي او تغيير او تحول به په کې راځي، هلته به د هغه دين بازار ګرم وي چې د دښمنۍ او تربګنۍ تخم ونه کري، چې د انسانانو تر منځ د جنګ او دښمنۍ اور ته لمن ونه وهي؛ بلکې خپل پيروان ښو اخلاقو ته وروبولي، د انساني ټولنې په خير تمام شي، انسانانو، ژونديو موجوداتو او طبيعت ته لږ زيان واړوي. هر دين چې په دې چارو کې ناکامه شو، جبراً به خپل ځای سيالو دينونو ته پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



5- دې پړاو ته رسېدل تر هغې پورې ممکن نه دي چې ديندارانو د ځانغوښتنې لمن خوشې کړې نه وي او د عارفانو خبره: له خودبينۍ او ځانولۍ تېر شوي نه وي او د ځان او خپل دين اخلاقي نقد ته يې غاړه نه وي ايښې. دا کار هله کېږي چې دوی خپلې نيمګړتياوې ومني او چاره يې ولټوي. که داسې وشي د دوی ديانت به تبليغاتو او مبالغه يي ستاينو ته اړتيا ونه لري؛ بلکې پخپله به روښانه وځلېږي او د هر چا سترګې به پخپله وروا وړي. ښه يې ويلي دي: مشک آن است که خود بويد ، نه آن که عطار ګويد.

*(رحمان بابا په دې اړه فرمايي:*

*هر بلبل به دې ثنا کا که ته ګل شې/ په خپل ځان خپله ثنا څه په کار نه ده. ژباړن)*

**او په پای کې:**

مډرن علوم او هغه مطالعې چې د نويو علومو پر اساس ترسره کېږي، له يوې خوا دين له مهمو او انکار نه منونکو ننګونو سره مخ کوي او له بلې خوا له متدينو سره مرسته کوي چې د نننۍ نړۍ له غوښتنو سره سم خپل دين سمبال کړي او د دومره تحولونو له څنګه چې د انسان ټول ژوند رانغاړي، بې توپيره او په کبر او غرور تېر نه شي. له دې علومو سره اشنايي کولای شي د ځينو ديندارانو غرور راکم کړي او د هغوی په کړنو کې مطلوب بدلون رامنځته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کلام ته ورستنېدل، فلسفې ته ورستنېدل

د کلام علم د اسلامي تمدن په تاریخ کې یو له عمده او پخوانیو علومو څخه دی چې له پیله تر ننه پورې له مختلفو دریځونو سره مخ شوی دی.

څوک یې مخالف او څوک ورسره موافق وو. مخالفان یې غالباً اهل حدیث او ځینې فقیهان وو. د دوی د مخالفت وجه یا انګېزه غالباً له دیني متنونو څخه د دوی په انګېرنې پورې اړه درلوده او کله ناکله یې د مخالفت دلیل ناپوهي وه. کله به یې استدلال کاوه چې د سلف په عصر کې چې د مسلمانانو په دیني تاریخ کې غوره دوره وه، دا علم ګرد سره نه و یا لږ تر لږه په مدونه بڼه نه و. خو دغه استدلال چندانې غښتلی نه ښکارېده؛ ځکه په هغه زمانه کې خو له فقهې او تفسیره رانېولې تر نحو او بلاغته پورې ډېر نور علوم هم نه وو، یا لږ تر لږه تدوین شوي نه وو. که وویل شي چې دا نور علوم خو د مسلمانانو په منځ کې په نامدونه بڼه په بحثونو او خبرو اترو کې وو، نو دا خبره د کلام د علم په اړه هم سمه ده.

دوی به کله ویل چې په دې علم کې د پردیو علمونو او فکرونو لاره کړې ده او دیني خلوص یې نه دی پاتې. د دې استدلال په اړه هم ویلای شو چې علم پوله نه پېژني او د حکمت خبره که له هرې منبعې وشي، مسلمان باید تر نورو مخکې ځان ورورسوي او ګټه ځنې واخلي، دا په دې چې: "الحكمة ضالة المومن أنى وجدها فهو أحق الناس بها" (علم د مومن انسان ورکه ده چې هر چېرته یې مومي، دی یې تر نورو ډېر حقداره دی)

کله به هم دا ویل کېدل چې که مومنان د کلام په مبحثونو ناخبره وي، عقیده به یې لا سمه وي او که دا سې موضوعات د مسلمانانو په فکر کې داخل شي، نه یوازې دا چې ګټه یې نشته بلکې تاوانونه هم لري. په ځواب کې یې ویل شوي دي چې ان هغه مهال چې د کلام علم هم نه و، د مسلمانانو تر منځ فکري اختلافونه وو. دا اختلاف د حکمیت له بحثه رانیولې د قضا او قدر تر مسایلو ... پورې و. نو په علمي او معقول میتود سره د مسلمانانو د اعتقادي اساساتو

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



توضیح او تبیین یوازې په همدې علم باندې کېدای شي او بې له هغه ان د عوامو اعتقاد هم سستېږي او د شک پارونکو د شکونو په وړاندې به تاب رانه وړي.

دا استدلالونه چې هر څه وو او چې تر شا یې د هر چا ملاتړ و؛ خو په عمل کې یې ونه شو کولای د کلام د علم د ودې مخه ونیسي. اسلامي تمدن د نورو علومو تر څنګ د دې علم ودې ته هم زمینه برابره کړه. کرار کرار د مسلمانانو تر منځ د کلام د علم تالیفات لاس په لاس شول او په علمي ډلو کې ورته د بحث لاره خلاصه شوه او په دې برخه کې تکړه او نامتو متخصصان راڅرګند شول. غزالي چې په دې وخت کې پیاوړی مفکر و، په «حجت اسلام» باندې مشهور شو. فخر رازي ته په دې برخه کې د خپلو کارونو په خاطر د «امام المتکلمین» لقب ورکړل شو. پر دوی سربېره نورو هم دې علم ته مخه کړه او ځینې اثار یې ولیکل. معنا دا چې د کلام علم د محدثانو او ځینو فقیهانو له کلکو مخالفتونو سره سره په اسلامي تمدن کې خپل ځای پیدا کړ.

خو د اسلامي تمدن د ځلا او ښېرازۍ په پای او د هغه د راپرځېدو له پیل سره چې د متاخرانو دوران هم نومول کېږي او غالباً د ابن خلدون له زمانې څخه را په دې خوا تر ننه پورې رانغاړي، د هغه تمدن ټول علوم مړاوي شول او د خزان بادونو د دې بڼ پاڼې ګلونه ورژول. په دې منځ کې د کلام علم هم خوندي پاتې نه شو؛ بلکې شغله یې تر نورو علومو لا زیاته تته شوه. ممکن دلیل به یې دا وي چې کلام د تکړه او وتلیو پوهانو لپاره د درک وړ و، نه د عوامو لپاره. ځینې نور علوم لکه فقه ان که مړژواندي هم وو، خو تر یوه حده یې خپل ژوند ته ادامه ورکړه او دلیل یې دا و چې عوامو ورته اړتیا درلوده، هغه که حاکمان وو که د هغوی عام رعیت. دا چې په دې دوره کې ځینې د فقهې تالیفات او له هر ډول ابداع څخه لرې کم عمقه تفسیرونه ولیکل شول، وجه یې تر ډېره بریده همدا وه.

په اسلامي ملکونو کې د نوي عصر له پیلېدو سره چې کولای شو په احتیاط سره یې د ختیزو ملکونو رنسانس وبولو (ځکه چې لا یې عواقب نه دي څرګند)، د ځینو علومو بخت بیدار شو او د ځینو سمونپالو او نوښتګرو پاملرنه یې ځان ته راواړوله؛ خو د کلام علم په دې ډله کې نه و. یوازې محمد عبده په دې اړه وړکی رساله وکښله او اقبال لاهوري ورباندې ځینې بحثونه وکړل.

په دې دوره کې د قران مجید تفسیر له سره ولیکل شو، د حدیث علم ته توجه وشوه او له ضعیفو او له ځانه جوړو شویو روایتونو څخه پاک شو، فقهي متنونه تدوین شول، ګڼ شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلاسيک متنونه او تراث له سره چاپ شول، د پخوانو علمي ميراث احيا شو. په دې موردونو کې زيات اهتمام وشو او د پام وړ کارونه ورته وشول. خو کلامي مباحث لا هماغسې تت پاتې شول او چا ورته خپل توان، وخت او پيسې ونه لګولې.

## د کلام له علم سره د بې مهرۍ علتونه

دليلونه يې زيات وو. يو دليل يې دا چې دغه علم د مسلمانانو په تاريخ کې تر سخت بريد لاندې راغلی و. سره له دې چې دغه بريد په لومړنيو دورو کې نه و توانېدلی چې د ځينو عالمانو مخه ونيسي؛ خو په راوروسته وختونو کې دغه بدبينۍ چې د اسلامي ټولنې د اروا په تل کې ورکښېنته شوې وې، دې علم ته د خلکو د تمايل مخه ډب کړه. بل دليل يې دا و چې دغه پيل شوی خوځښت او بيداري، د اسلامي ټولنو د دروني تکامل او پوخوالي په وجه نه و؛ بلکې په دې خاورو کې د استعمار د موجوديت په وجه و. ځکه خو ټولې هڅې يا زياته برخه يې ازادي غوښتنې او د استعمار ضد مبارزو ته وقف شوې وې او هر څه چې په دې لاره کې په درد لګېدل، هماغه ته به توجه کېدله. طبيعي ده چې په داسې معرکه کې د کلام علم ببرني ضرورت نه و؛ ځکه خو دې علم ته پام کول موجه نه ښکارېده. همدارنګه په دې وخت کې له دينه بهر علوم په تېره بيا انساني علوم چې تل يې د کلام د علم په وده کې موثر نقش درلودلی دی، يا خو نه وو او يا کمزوري وو، دا خبره هم د کلام علم ته د نه تمايل دليل ګڼلای شو. که د استعمار په دوران او تر هغه وروسته پر وتليو شرقي خلکو او رهبرانو د سياست غلبه او قدرت ته د رسېدو تفکر هم له نورو عواملو سره يو ځای کړو؛ نو څرګنده به شي چې ولې د کلام علم دوی ته کافي جاذبه نه درلوده. په تېره بيا دا چې د دوی اکثره کسانو په فلسفي او انساني علومو کې ژوره پوهه نه درلوده. پر دوی په سياسي او نظامي ډګرونو کې د معمولي کړنو روحيه غالبه وه. دوی تر لويو تمدني پروژو، ببرنۍ مبارزاتي ستراتيژۍ غوره ګڼلې. دوی هڅه کوله چې په کم وخت کې زيات وګړي له ځان سره کړي او د دې کار لپاره په کار وه چې ډېرې مقبولې او فکري مسايل اسانه کړي او عامو خلکو ته د پوهېدو وړ شعارونه برابر کاندي چې ولولې يې راوپاروي او د مبارزې ميدان ته يې راوځکوي. دغه روش خپلې ښېګڼې او خپل عيبونه لرل.

له دې سريزې غواړو دا نتيجه واخلو چې د کلام د علم د کنګل پاتېدو دليلونه او عوامل په خپله په نوي دوران او د غورځنګونو په دوران کې دي او نن چې مو هغه تجربې تر شا پرېښې دي، غېر له دې چې په دې اړه بيا کتنه وکړو او له سره ورباندې فکر وکړو، بله چاره نه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کلام علم باید زموږ په فکري منظومه کې خپل ځای بیامومي. که وغواړو چې له اوسني وضعیته تېر شو او د لا ښه راتلونکي په لوري ګام کېږدو، له دې چارې نه شو تېرېدای. له اوسني وضعیته اوښتل، لومړی له فکري او ذهني اوښتون سره پیلېږي. موږ باید له فوسیلي او تړلیو ذهنیتونو تېر شو او د نړۍ، تاریخ، انسان، پوهې، هنر، سیاست او ګڼو نورو مقولو په اړه نویو فکرونو ته لاره خلاصه کړو.

پخوا وختونو کې د کلام علم په داسې شرایطو کې وغوړېد چې عالمانو له هماغه نړۍ ځخه مناسب درک درلود. دغه درک د هماغه زمانې پر رایجو علومو د دوی د پوهېدو محصول و. د هاغه مهال د کلام علم په حقیقت کې د هاغه وخت له واقعیتونو سره د هماغه عصر د علم او فکر د تعامل نتیجه وه چې د وخت له عیني او ذهني شرایطو سره یې اړخ لګاوه. په همدې وجه د کلام علم کولای شول له دیني اساساتو څخه په دفاع کې او همدارنګه د دین پوهنې په تحلیلونو کې هماغه نقش ولري چې د وخت نورو علومو لاره. د هاغه وخت کلام له نورو علومو بېل نه و؛ بلکې له نورو علومو څخه یې ګټه اخیستله او په عین وخت کې یې پر نورو علومو اغېز ښنده. په همدې وجه که د هاغه وخت د وګړو ټولې فکري ستونزې یې نه شوای حل کولای، یوه برخه خو به یې حل کوله.

خو د کلام پرونی علم د ننني وګړو درد نه شي دوا کولای؛ ځکه ننني انسان لوی بدلونونه تر شا پرېښي دي او د ژوند په ټولو ډګرونو کې یې ژور او پراخ تغییرات تجربه کړي دي. ننني انسان که له پخوانیو سره ځینې ورته والي لري، مهم توپیرونه هم ځنې لري. د اوسني انسان علم بدل شوی دی او په همدې دلیل لید یې هم بدل دی او د دې دواړو نتیجه دا ده چې سلوک او کړنې یې هم بل ور شوي دي.

ننني انسان په ډېرو موردونو کې بل ور فکر کوي، په ډېرو برخو کې تر پخوا زیاته وړتیا لري، په ګڼو موردونو کې یې نور سلوک او نورې کړنې خپلې کړې دي، په زیاتو مسایلو کې نورې اندېښنې او وسوسې لري، په ډېرو برخو کې یې په نورو امیدونو او هیلو پورې زړه تړلی دی.

د دې توپیرونو پېژندل او د راپېښ شویو بدلونونو په کچې ځان پوهول، د مسألې د درک کیلي ګڼل کېږي.

څوک چې معلومات یې په هغو تیت و پرک خبرونو خلاصه کېږي چې د رسنیو له لارې یې اوري او پوهه یې د ننۍ نړۍ له محدودې نه وي پراخ او ژور او فلسفي تحلیل نه لري، نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېدای چې په څه رنګه نړۍ کې اوسېږي او له څه ډول انسان سره يې سر و کار دی. د درېمې نړۍ د انسان د ستونزې جوهر همدا دی چې ننني انسان او ننۍ نړۍ نه پېژني.

د ننني انسان او ننۍ نړۍ د پېژندلو لپاره بايد پراخ معلومات ولرو. دغه معلومات بايد هم د وروستيو څو پېړيو تحولات راونغاړي او هم هغه علوم چې په معاصر تمدن کې غوړېدلي دي. همدغه علوم د اوسني تمدن د ماغزو حيثيت لري او ننی انسان د همدې علومو په مټ پر نړۍ حکومت چلوي. له دې علومو پرته نه شو کولای د دې دور انسان او دغه زمانه سمه وپېژنو؛ ځکه دغه علوم له اوسنيو واقعيتونو سره په تړاو کې او د همدې عصر د غوښتنو پر اساس راڅرګند شوي دي او له معاصر ژوندانه سره نه شلېدونکي اړيکې لري. ننۍ اروا پوهنه، ټولنپوهنه، وګړپوهنه، هستي پوهنه او ګڼ نور علوم چې ټول د ننۍ فلسفې يا د ننيو فلسفو پوروړي دي، هغه وسايل دي چې له موږ سره مرسته کوي چې ننی انسان او ننۍ نړۍ وپېژنو او د دوی تر منځ شته مناسبات هم په فردي کچه هم په ټولنيزه کچه وپېژنو.

## موږ او ننۍ نړۍ

يو له هغو علتونو څخه چې ولې موږ شرقي وګړي ونه توانېدو چې له اوسني جهان سره لاره يو سو او په معاصره نړۍ کې ځان ته مناسب ځای وګورو او له نورو سره خپل روابط سم کړو، همدا دی چې موږ له دې علومو ناخبره وو.

موږ د منځنيو پېړيو له ذهنيت سره د ننۍ نړۍ هر کلي ته ورغلي يو او هڅه مو کړې ده په هماغه اساس يې تحليل او تجزيه کړو. دغه ذهنيت د نورو واقعيتونو په بستر کې د نورو علومو په واسطه رامنځته شوی و؛ خو اوس د هغو واقعيتونو اثار هم لا نه دي پاتې. همدا وجه وه چې دا ډول ذهنيت په دې وخت کې په درد نه لګېده او ان د دې پر ځای چې د انسان او نړۍ په پېژندلو کې را سره مرسته وکړي، لا يې سربداله کولو او لا يې ګډوډولو.

په پخواني ذهنيت کې د کليوال او ښاري ژوند تر منځ پوله نه وه کښل شوې. د دولت او ملت تر منځ د رابطې تعريف خام او غيرعلمي و. د ټولنيزو بنسټونو په نامه څه شی نه وو. ځانګړي صنفي او طبقاتي حقونه چا په رسميت نه پېژندل او د ځينو صاحب نظرانو په باور طبقې لا زېږېدلې نه وې. هنر، اقتصاد، سياست او ډېرو نورو مقولو لا پوخ علمي تعريف نه درلود.

د هاغه ذهنيت له مخې د انسانانو اړتياوې د هماغه مهال د ژوند له واقعيتونو سره سمون درلود او د اوسني ژوند له اړتياوو څخه يې واټن جوت و. بده به نه وي چې يو مثال يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاد کړو: که فقهي کتابونو ته مراجعه وکړو ، د انسان اساسي اړتیاوې (حاجات اصلیه ) په دریو شیانو رالنډېږي: کور ، خر ، نوکر. څوک چې دغه درې ولري د فقیرانو له ډلې راووځي او د ښه ژوندانه څښتنان بلل کېږي او دا سې ګڼل کېږي چې ټولې اړتیاوې یې پوره دي. خو په نننۍ نړۍ کې د انسان اساسي اړتیاوې دا نه دي. نن سبا تعلیم، درملنه، کار روزګار، د ژواک سالم چاپېریال، او ډېر نور شیان په اساسي اړتیاوو کې حسابېږي. پر دې سربېره ډېر نور شیان دي چې د ژوند لازمي اړتیاوې ګڼل کېږي لکه رادیو ، تلویزیون، ورځپاڼه، کمپیوټر، انټرنټ او نور شیان چې ورځ تر بلې یې شمېر زیاتېږي.

پرونی ذهنیت د نني ژوند په تحلیل او د نني انسان په پېژندلو کې خورا ناتوانه دی. دغه ذهنیت ان په دې هم ناتوانه دی چې خپله ناتواني وپېژني، دا نه شي درک کولای چې د نوې نړۍ او وسني انسان په پېژندلو کې عاجز دی. دا ذهنیت نه شي پوهېدلای چې د لومړۍ او دریمې نړۍ ترمنځ واټن ولې دی او د دې مسألې په تحلیل کې ټولې قضیې یوه یا دوو کلیشه یي عواملو ته راجع کوي مثلاً دا هرڅه له استعماره او د استعمار د تفرقه اچونې له سببه ګڼي.

دې ذهنیت ته د دغو ټولنو د دروني ستونزو د حل لاره هم نه ده ورمعلومه چې په هغې باندې د مختلفو ادیانو او مذهبونو د پیروانو تر منځ د سوله ییز ژوند زمینه برابره کړي او د بېلابېل قومونه او قشرونه سره پخلا کړي. که د ستونزو او مشکلاتو د فشار په وجه کله دې ته اړ کېږي؛ نو د دې ستونزو په اړه د تاریخي لید او علمي تحلیل د نه لرلو په وجه د دې پرځای چې له واقعیتونو سره د مخامخ کېدو مېړانه ولري او اساسي حل لاره راوباسي، هڅه کوي عوام پسندو او تیارو شعارونو ته مخه کړي او د مسألې له اساسي حل څخه وتښتي. د اسلامي مذهبونو په تېره بیا د سني او شعیه تر منځ د نزدېکت مسأله یې یوه جوته بېلګه ده. په دې اړه په تېرو څه له پاسه پنځوسو کلونو کې هېڅ کار نه دی شوی، ایله یو څو نمایشي کنفرانسونه جوړ شوي او یو څو بې معنا شعارونه ورکړل شوي دي. د دواړو خواوو یوه هم دې ته حاضره نه شوه چې ځان نقد کړي او مقابل لوری د خپلو دریځونو په خاطر معذور وګڼي. هر کنفرانس چې پای ته رسېدلی، هر څوک بېرته په خپله زړه لاره تللي دي. هېچا هم پوښتنه ونه کړه چې د دې بې معنا لوبو حاصل څه دی؟ له دې بې اساسه او بې مصداقه وینااوو سره به څوک وغولوو؟ په همدې وجه د سني او شیعه ستونزه په خپل قوت پاتې ده او هېڅ توپیر یې نه دی کړی. همدا چې د عراق په شان د دې اسلامي ټولنو شرایط ګډوډ شي، وبه وینو چې څومره وینې د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختلافونو په سبب تو يېږي. د عراق د پېښو يو درس دا و چې څومره بې بنسټه کورونه مو جوړ کړي دي... دا سې کورونه چې تاداو يې په سست او بې کاره عقلانيت ايښودل شوی دی.

موږ چې اسلامي مذهبونه سره نه شو پخلا کولای، څرنګه به له نورو اديانو او فرهنګونو سره د ګډ ژوندانه خبرې وکړو او د تمدنونو د خبرواترو خبره وکړو. دا شعارونه هغه شخوند ته ورته دي چې تر خولې مو غټ دی او په مرۍ کې به مو ښخ شي.

حال دا چې نننی بشر تر بل هر وخت له نورو سره ګډ سوله ييز ژوند، تفاهم او همکارۍ ته اړتيا لري او که له نورو سره په ګډه هڅه او همکاري ونه کړو، د ټولو ګانده به خرابه وي. خو ستونزه دا ده چې د منځنيو پېړيو ذهنيت د نړۍ د راتلونکې په اړه هېڅ تصور نه شي کولای. د زرګونو علمي موندنو او د څېړنو د نتيجو په مقابل کې، د دې ډول عقلانيت لپاره همدا بس دی چې د يوه پخواني کتاب په حاشيه کې يو کمزوری روايت پيدا کړي چې موعود منجي به يې راشي او ټوله دنيا به ګل و ګلزاره کړي. بيا نو نه ورته د ژوند چاپېريال اهميت لري، نه په نړېوال اقتصاد او په اټومي بټيو چورت خرابوي، نه د ټولنيزو جنجالونو په کيسه کې وي، نه د وګړو زياتېدل ورته مهم ښکاري، نه د طبيعي منابعو کمېدل ورته د فکر کولو وړ برېښي، او نه دې ته ورته لسګونه او سلګونه نورې قضيې چې همدا اوس يې د نړۍ ځينو پوهانو ته اندېښنې وراچولې دي. د دې عقلانيت په حساب د نورو مصيبت، مصيبت نه ګڼل کېږي؛ ځکه په جلا دين او مذهب پورې اړه لري. د انسان جمعي برخليک ورته بې معنا ښکاري؛ ځکه د دوی په باور د انسانانو عمده برخه د ضلالت خوا ته ورروانه ده او له اهل ضلالت سره ګډ برخليک نه شو لرلای. دوی فکر کوي چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د تحقيقي مرکزونو تحليلونه مفتې کيسې دي چې يوازې د ساعت تيرۍ لپاره په درد لګېږي؛ د دوی په ګومان دا څېړنې اغلباً د توطيو پر اساس روانې دي چې د امپرياليستي او پانګوالو ځواکونو له خوا طرح شوې دي چې ناپوهو ولسونو ته فکري خوراک برابر کړي.

حقيقت خو دا دی چې دا ډول طرز فکر او عقلانيت او دا ډول ذهنيت په اوسنۍ نړۍ کې ريښه نه لري او له اوسنيو علومو سره يې پيوند خورا سست دی.

د دې لپاره چې شرقي ملکونه له اوسنيو کړکېچونو راووځي او ځان نننۍ نړۍ ته ورسوي، بايد لومړی له دې ډول عقلانيته تېر شي او له دا ډول ذهنيته وژغورل شي. له دې فکري او ذهني وضعيت څخه خلاصون خورا ستونزمن کار دی؛ ځکه ځانګړي مديران او مهندسان غواړي. دا سې مديران چې تر اوسه يې په قدر څوک نه پوهېږي او څوک يې په نقش

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې باور نه لري. دا هغه متفکران دي چې د نويو الهياتو او نوي کلام بنسټ به کېږدي. دغه الهيات به د ډېرو مفاهيمو بيا پېژندلو ته ملا وتړي، انسان، ټولنه، طبيعت، کاينات، تاريخ، ښځه، ماشوم، قانون، علم، بين الملل روابط، تمدن، دين، دنيا، اکثريت، اقليت، حقوق، په اوسنۍ نړۍ کې ژوند ... او نور مفاهيم به له سره تعريفوي.

دا اسې رسالت فلسفې ته ورستنېدل لازمي کوي؛ ځکه کلام له فلسفې پرته نه غوړېږي. سره له دې چې کلام پر نورو علومو هم تکيه کوي؛ خو زيات تکيه يې پر فلسفه باندې وي.

بايد زموږ په علمي او فکري مجامعو کې فلسفي بحثونه پيل شي. ډېر مفاهيم بايد له سره وڅېړل شي. د تابوګانو [1] او بوتانو يوه لړۍ بايد ماته شي، د کرښو يوه لړۍ چې هسې په ناحقه سرې کرښې معرفي شوې دي، بايد نا ليدلې وګڼل شي. بايد فکر ته لاره خلاصه شي چې حرکت وکړي. د انسانانو د دې خداى ورکړي ځواک مخه بايد ونه نيول شي. کاذبې پوهې بايد ختمې شي. بايد ټولو ته د پوښتنې جرئت ورکړل شي. بايد خلک له ناپوهۍ وځورېږي او وشرمېږي او د پوهېدو لپاره يې په دوه هڅه وکړي.

د فلسفې په غوړېدو سره ذهنيتونه بدلېږي او د همدې پوهو په موجوديت کې به داسې کلام او الهيات رامنځته کېږي چې د دې دورې له شرايطو او غوښتنو سره به اړخ لګوي.

1. تابو (Taboo, Tapu) د پولي نيزي کلچر يوه اصطلاح ده چې د فرانسوي ژبې له لارې انګليسي او نورو ژبو ته راغلې ده او معنا يې مقدس او ممنوع ده. په دې کلچر کې تابو يا خورا مقدس او يا ډېر ملعون شي ته اطلاقېږي. همدا چې په يوه شي د تابو نوم کېښودل شو، بيا ټول مجبور وي چې په پټو سترګو يې ومني، احترام او ان پرستش يې وکړي او د هغه په اړه نظر ورکول او خپله رايه څرګندول ممنوع وي. که څوک تابو ته بې احترامي وکړي، ټولنه به يې ورټي او په کرکه به ورته وګوري. داسې شيان په هر فرهنګ کې شته، مثلاً زموږ په ټولنه کې جنسي مسايل تابو ګڼل کېږي چې څوک يې په اړه خبرې نه شي کولاى او ان اکثره وګړي که جنسي ستونزه ولري، ډاکتر ته حال نه وايي. مذهب زموږ په ټولنه کې بله تابو ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د انتحار فرهنګ که د فرهنګ انتحار

انسان فرهنګي موجود دی. دا یو له هغو څو تعریفونو څخه دی چې د انسان په باره کې وضع شوي دي او دې تعریف ته دلیلونه هم شته.

که داسې وي نو فرهنګ د بني ادم د تفکر او ذهن په جوړولو کې، د هغه په سلوک کې او د هغه د ژوندانه د لوري په ټاکلو کې مهم نقش لري. د انسانانو د پېژندلو لپاره او د دې لپاره چې د هغوی د کړنو ریښې ومومو، کولای شو هغه فرهنګ مطالعه کړو چې دوی په کې روزل شوي دي. ټولنه هم پر همدې لاره مطالعه کولای شو او د هغې د ودې او پرمختګ یا د راپرځېدو دلیلونه او عاملونه پېژندلای شو. ښایي همدا خبره به وه چې فروید ویلي دي: بني ادم دومره د خپل مور و پلار اولاد نه دی، څومره چې د هغه فرهنګ اولاد دی چې دی په کې لوی شوی دی.

نن سبا هېڅوک د فرهنګ له اهمیته منکر نه دي، غیر له هغو کسانو چې نه پوهېږي فرهنګ څه دی. فرهنګ د انسانانو له اجتماعي ودې او تکامل سره ګام په ګام د یوه ژوندي موجود په څېر وده کوي او تکامل ته رسېږي او د ټولنې له خوالو او ناخوالو سره یوځای لوړې ژورې تجربه کوي.

په دې تحولاتو کې کله نا کله ځینې پدیدې د یوه فرهنګ په منځ کې راپیدا کېږي چې له فردي او استثنایي سلوک څخه ورهاخوا وي او په عامه یا نسبتاً عامه پدیده بدلېږي. کله چې دغه پدیدې د وګړو لپاره داسې دروني ښه غوره کړي چې په اسانۍ سره یې عملي کړای شي، دغه پدیدې د هماغه دور د فرهنګ په یوې برخې بدلېږي. کله کله ویل کېږي چې د پلانکي کار فرهنګ رامنځته شوی دی، مثلاً د مطالعې فرهنګ، د مېلمه پالنې فرهنګ ... دغه فرهنګي پدیدې که مثبتې او ګټورې وي، د هماغه فرهنګ د ودې او غوړېدا ننبه ګڼل کېږي؛ خو که منفي او مضرې وي، د دې فرهنګ د ناکامۍ او ناروغۍ ننبه.

یوه له هغو پدیدو څخه چې د مسلمانانو په فرهنګ کې یې مخینه نه درلوده؛ خو نن سبا مخ په خورېدو ده او دغسې روانه ده چې په ځینو اسلامي ملکونو کې په یوې فرهنګي پدیدې

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدله شي، انتحار دی. په لومړي سر کې يعنې دوه لسيزې وړاندې دا نادره چاره وه او خلکو به ورته د عجيب او پردي شي په سترګه کتل؛ خو اوس تر دوو لسيزو وروسته په داسې پديدې بدله شوې ده چې د مسلمانانو د ټولنې ځينې برخې ورته د تمجيد په سترګه ګوري او هغه کسان چې دغه کار کوي، ورته اتلان ښکارېږي. که د دوی له جسدونو څخه څه راپاتې وي، دوی ورسره د متبرک څيز په شان چلند کوي. ځينې نور که دا کار ستايي نه، غندي يې هم نه او ځينې هڅه کوي ځانوژونکي معذور وګڼي او د هغوی کړنې ته عذرونه وتراشي. دوی هڅه کوي ځانوژونکي ته برائت ورکړي او له انتحار څخه د رامنځته شويو زيانونو مسووليت د نورو غاړې ته ورواچوي او داسې وښيي چې نورو عواملو دغه وګړي ځانوژنې ته اړ کړي دي.

ليکوال نه غواړي دلته فقهي بحث ته ورننوځي او د دې عمل شرعي حکم چې علمي او اصولي مطالعې ته سخته اړتيا لري، وارزوي. البته ليکوال دې ته حيران دی چې دا دومره ديني عالمان ولې داسې کوي چې په ډېرو معمولي مسايلو يې ديني غيرت راپارېږي او چيغې وهي چې هلئ دين په خطر کې دی؛ خو کله چې د انسان وينه تويول کېږي، ښځې کونډې کېږي، ماشومان يتيمانېږي، او کورنۍ تباه کېږي، دوی هېڅ غږ نه کوي. دوی نه يوازې دا چې پر منبرونو دا عمل نه غندي؛ بلکې په نسبتاً علمي او اکاډيميکو محيطونو کې هم په دې اړه بحث نه کوي او ځان ته زحمت نه ورکوي چې د دې عمل شرعي حکم مشخص کړي. ګوندې د انسان وينه هغومره ارزښت نه لري چې څوک ورباندې علمي او فقهي بحث وکړي.

ليکوال نه غواړي دې بحث ته ورننوځي؛ خو غواړي دا پديده له بل ليد لوري، د فرهنګي دلالتونو له ليد لوري، لنډه وڅېړي. د مسألې مفصله توضيح به هغو کسانو ته ورپرېږدي چې په ټولنپېژندنه کې تخصص لري چې هغوی په خپلو تخصصي روشونو دا کار وکړي. البته دا پديده د انسانانو له وينې او ژوند سره تړلې ده؛ نو بايد له مختلفو اړخونو لکه ارواپېژندنه، فقه او نورو اړخونو وڅېړل شي.

د هغه ليد لوري پر اساس چې د ليکوال منظور دی، کله چې يو فرهنګ دې کار ته غاړه ږدي، د خپلې ناتوانۍ اوج ښيي ... خپله نااميدي، مزمنه ناکامي او سرناخلاصي ننداري ته وړاندې کوي ... له دې ليدلوري انتحار د فرهنګ د ځانوژنې معنا ښندي، نه يوازې د يوه يا څو تنو بني ادمانو ... خو څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې خبرې د توضيح لپاره ناچاره يو چې لږ شا ته لاړ شو او د موضوع ريښه له نوې نړۍ سره د مخامخ کېدو له پيله، له نظره تېره کړو او وګورو چې زموږ په فرهنګ کې کوم نور شيان ازمويل شوي او څرنګه خبره انتحار ته رسېدلې ده.

د مسلمانانو په تاريخ کې يوه دوره ده چې د دوی تمدني – جمعي شعور بې سده شوی او کوما حالت ته تللی دی. دا چې دا حالت کله پيل شو، صاحب نظران ورباندې يوه خوله نه دي؛ خو له اتمې هجرې پېړۍ را په دې خوا، دا بهير پيل شوی او په لسمه او يولسمه پېړۍ کې خپل اوج ته رسېدلی دی. په دې حالت کې دغه شعور يو مخ ختم شوی و چې موږ څوک يو، د نورو امتونو په منځ کې زموږ نقش څه دی، ايا دا هماغه مقام دی چې بايد يې ولرو که نه. دې وخت کې د مسلمانانو په جمعي شعور کې نه د ځان جامع تعريف شته او نه د نورو واضح تصوير. څوک چې د اسلامي عالم په شرق کې اوسېدل د هغوی په اړه په څه نه وو خبر چې په غرب کې اوسېدل او جنوبيوال يې له شمالي والو نه وو خبر. دوی نه د نورو ملتونو په منځ کې د ځان لپاره کوم نقش يا رسالت ته قايل و او نه په دې پوهېدل چې له خپلې شا و خوا نړۍ سره څه پيوند لري؛ دا ځکه چې له خپل شا و خوا بيخي ناخبره وو. د دې مهمې چارې تاريخي او مستنده څېړنه به بل وخت ته پرېږدو.

په دې پېر کې د نړۍ يوه بله برخه د انسان د تمدن خورا مهم او بې مخينې پړاو پيل کړی و. د دې تمدن له تبعاتو څخه يو يې دا و چې پښې يې د نړۍ شرق و غرب ته خلاصې شي او لاسونه يې د عالم او ادم ژوند ته وروغځېږي. څو پورې چې مسلمانانو سترګې پرانيستې او راويښ شول، اوبه له ورخه تېرې وې او د تمدن کاروان خورا وړاندې تللی و او دوی ډېر شا ته پاتې وو.

دغه نوي موقعيت له پخواني موقعيت څخه دومره لوی توپير درلود لکه د غالب او مغلوب، هغه هم نه يوازې د دوو ډلو يا دوو ملتونو تر منځ د غالب او مغلوب حالت؛ بلکې د دوو تمدنونو او دوو فرهنګو تر منځ و. په نورو جنګونو او شخړو کې د دوو هم دينو ملتونو يا دوو هم مذهبو هېوادونو تر منځ قضيه دغومره جدي نه وه، کېدای شوای څو موده وروسته دوی بېرته سره پخلا شي او تفاهم ته سره ورسېږي، لکه څنګه چې د مسلمانانو تر منځ په جګړو کې يا د اروپايانو په جنګونو کې په کراتو دا کار شوی و؛ خو دا ځل قضيه خورا ژوره وه.

دا ځل ان د غالب او مغلوب تر منځ ګډه ژبه نه وه پاتې چې خبرو ته لاره يوسي. مشترکه ژبه له مشترک ذهنيت او ليدلوري راپيدا کېږي چې په دې وخت کې دا شيان نه وو. ګوندې هره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا د ببلې نړۍ يا ببلې سيارې خلک وو. غالبه خوا د دې لپاره چې مغلوب لوری ښه وپېژني، يو ګام وړاندې شو او يوه لړۍ مطالعې يې وکړې چې وروسته د ختيځپېژندنې په نامه يادې شوې. خو دغو مطالعو يو وار له مخې قضاوت درلود، دوی مغلوب لوري ته د شي په سترګه کتل (شی انګېرنه). په دې سترګه يې نه ورته کتل چې بايد ورسره د خبرو اترو لاره پرانيزي. مغلوبې خوا خو ان د دې کار توان هم نه درلود. دا ناتواني د يوه فرهنګ د جمعي ذهن د ناتوانۍ جلوه وه چې په دې وخت کې سخت بېچاره او خوار ښکارېده.

په نوي وضعيت او يو مخ متفاوتو موقعيتونو کې، هر لوری د بل په اړه داسې تعريف ته ورسېد چې تر ډېره بريده له هماغه موقعيت څخه يې سرچينه اخيستې وه. دغه تعريفونه که سم و که ناسم؛ خو د هر لوري د جمعي شعور تل ته ورورسېدل او د دوی د راوروسته پېژندنې په سرچينې بدل شول. يوه لوري دا بل بې تمدنه، له تفکر څخه عاجز، او له هغو حقونو څخه محروم باله چې رسېدلي او باشعوره ملتونه يې لرل. دې لوري ويل چې له دې بل سره به هله راشه درشه وکړي چې بالغ شي او پر خپلو پښو ودرېږي او د يوه سيال په توګه راڅرګند شي... دا هغه څه وو چې په نژدې وختونو کې به نه کېدل.

بل لوري خپل مقابل لوری بې ايمانه او له انساني تعهد او فضايلو څخه لرې ګاڼه. هغه يې بې رحمه يرغلګر استعماري ځواک ليدلی و چې خپلو طمعو ته د رسېدو په لاره کې يې د هر څنډ د ختمولو نيت درلود، که دغه څنډ دين وي که فرهنګ، که اخلاق او يا پر دې شيانو باورمن خلک.

په دغو تعريفونو کې چې هر لوري د مقابل لوري په اړه درلود، يوازينی شی چې نه په کې ځايېده، د يو بل د درک کولو او پېژندلو لپاره د زمينې برابرول وو. دا چې د دې وضعيت عواقب دواړو خواوو ته او ټولو ته څه وو، بل وخت او بل ځای ته به يې پرېږدو. خو د مسلمانانو لپاره، د هغه فرهنګ لپاره چې په دې وخت کې مقهور شوی و او د هغه تمدن لپاره چې له صحنې وتلی و، بد وضعيت و. دا وضعيت کړکېچن او دردونکی و. دا امت سر تر پايه په کړکېچ کې ډوب و، دا ملت به له ځانه پوښتنه کوله چې ولې نور پر مخ لاړل او موږ شاته پاتې شوو؟ د شکېب ارسلان يو کتاب چې همدا يې عنوان دی، د يوه تمدن د ټوليز وضعيت هنداره وه. د «څه بايد وکړو؟» پوښتنه هم په هغې بلې پوښتنې پسې د مسلمانانو په جمعي شعور کې په محراقي پوښتنه بدله شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه خو د لومړۍ پوښتنې ځرګند او واحد ځواب له چا سره و، نه د دويمې. هر چا به د خپل درک پر اساس يو ځواب ورکاوه او ډېر کسان به د هماغه ځواب پر اساس روانېدل، جماعتونه جوړ شول او ګوندونه رامنځته شول، هځې پيل شوې او شخړې رامنځته شوې، ډېر قابليتونه ولګول شول چې کړکېچ ختم شي...

د دې بهير پيل د نولسمې پېړۍ له نيمايي ځخه ګڼلای شو. هغه مهال د نويو پاځونونو سروالانو د استعمار پر ضد د مبارزې بېرغ اوچت کړ او د مډرنو ملي دولتونو د تاسيس خبره يې وکړه. دوی له خپل درک سره سم، د خپلو ټولنو نوسازۍ ته ملا وتړله.

دغو هځو د شلمې پېړۍ تر لومړۍ نيمايي پورې دوام وکړ او له ټولو لوړو ژورو سره يې وشول کولای خپل هدف ته چې د خپلواکۍ ګټل او د نويو دولتونو تاسيس وو، ورسېږي. خو هغه اصلي ستونزه چې وروسته پاتې والی و او د ډېرو وګړو ژوند يې ورتريخ کړی و، هماغسې پاتې شوه. د استعمار تګ هم د دې ستونزې له حل سره مرسته ونه کړه، نه د دې ټولنو په دروني وضعيت کې عمده تغيير راغی، نه يې په بيروني مقام کې. کړکېچ پسې وغځېد او هغه پوښتنې لا خپل ځوابونه نه وو موندلي.

د نويو حرکتونو د سروالو له خوا هغه حل لارې چې د دې ټولنو د دروني ګډوډيو او محروميتونو لپاره وړاندې شوې وې، ناکامې شوې او دغه ناکامۍ د خلکو په منځ کې غوسه، کينه، بدبيني او ناچاري پيدا کړه، بيا نو تر هغې وروسته داسې ادبيات رواج شول چې د جګړه ماري، دښمنۍ او بربادۍ خبرې يې کولې او دا ادبيات د ځوانانو خورا زيات خوښ شول. دا د لومړۍ دورې د ادبياتو مخالف لوری و. په لومړۍ دوره کې ادبياتو تر ډېره بريده، ځان ته د ورستنېدلو او د استقلال د اهميت خبرې کولې او ورسره يې سيال تمدن ځاره او د هغه له ښېګڼو ځخه يې د استفادې تجويز کاوه. دا شيان د محمد عبده، خيرالدين تونسي، اقبال لاهوري او نورو په ليکنو کې ځرګند وو. خو په دويم پړاو کې د بل تمدن په وړاندې د تقابل او مقابلې خبرې وشوې، د جهاد نوی تعريف وړاندې شو چې د بريد او حملې معنا يې ښندله. خپلو هدفونو او غوښتنو ته د رسېدو لپاره د چپي فاشيستي سازمانونو تقليد وشو.

په دې دوره کې د ابوالاعلی مودودي، سيد قطب او د ورته فکر نورو کسانو کتابونو ښه بازار پيدا کړ. د دې پېړۍ د منځ لسيزو مسلط ادبيات هماغه وو چې ويل يې نړۍ د شلمې پېړۍ د جاهليت تر ولکې لاندې ده او بايد تر هغې پورې مبارزه وشي چې د دې جاهليت ټغر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول شوی نه وي. دا ډول رسالې او کتابونه خورا زيات لاس په لاس ګرځېدل او په سيمه ييزو ژبو ژباړل کېدل او د ځوانانو فکري خوراک يې براباراوه.

په دې ادبياتو کې د اسلامي ټولنو ستونزو ته چا د فرهنګ له نظره نه کتل. هر څه په تنګه ايدیالوژيکه تله تلل کېدل چې په هغې کې له ټکر او اصطکاک پرته بل څه نه وو. په دې دوره کې هغو کسانو ته چې متفاوت ادبيات يې مطرح کول او په تېره بيا هغوی ته چې د فرهنګ پر اهميت او د فرهنګ پر بيارغاونې او پياوړي کولو يې ټينګار کاوه، د چا پام نه وراوښت. مهمترينه نمونه يې د مالک بن نبي ليکنې دي چې د هغه مهال د نورو ليکنو په پرتله يې ژور نظر درلود.

د پخلاينې ادبيات چې اساس يې تفاهم و او په دواړو کورنيو او بهرنيو ډګرونو کې يې لومړيتوب پوهې او معلوماتو ته ورکاوه، د څو لسيزو په مخه تت او ناباوره پاتې وو. نتيجه يې دا شوه چې د فرهنګ د ودې او د ټولنې د پوهاوي او خبرتيا لپاره اساسي هڅې ونه شوې او اسلامي ټولنو ته تجويز شوې نسخې هماغسې يوه په بلې پسې له ماتې سره مخ کېدې. بده لا دا چې که به چا خلک د فرهنګونو او تمدنونو متقابل درک او پوهاوي ته وربلل، تر ډېرې مودې پورې به په خيانت، د پرديو په پيروۍ او داسې نورو تورونو تورنېدل، سره له دې چې د دوی نيتونه به پاک وو.

د ساړه جنګ دوران صنعتي هېوادونو ته ښه فرصت په لاس ورکړ چې د دويمې نړېوالې جګړې ورانۍ تر شا پرېږدي او ځان د راتلونکو دورو لپاره پياوړی کړي. خو په دې دوره کې اسلامي ملکونو خاصه برېا نه درلوده. محروميتونه او ناخوالې هماغسې لا پاتې وې او له نوې نړۍ سره د دوی واټن مخ په زياتېدو و.

کله چې سوړ جنګ ختم شو او يو مهم کمپ يې رانسکور شو، له کنډوالو څخه يې نوی نړېوال نظم سر راپورته کړ؛ خو بيا هم اسلامي هېوادونو ته په کې مشخص ځای نه و ټاکل شوی. په لومړي سر کې فکر کېده چې د کمونيزم په نړېدو به اسلامي بهيرونه ګټه وکړي او په دې رامنځته شوې تشه کې به د خلافت او نړېوال اسلامي دولت د جوړېدو لپاره لاره هواره شي. همدا و چې ځينې مذهبي ځواکونه له وخته مخکې ولولو واخيستل او خپلو مخاطبانو ته يې د تياره دوران د ختمېدو او د سپېدې د جوتېدو خبر ورکړ. هغه مهال د لنډې مودې لپاره د بشارت او زيرې د ادبياتو بازار تود شو؛ خو ژر ښکاره شول چې دا تصور له واقعيته لرې دی او هماغه زاړه نظامونه له يو عالم عيبونو سره د دې ملتونو پر برخليک واکمن دي او په اسانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره به ميدان خوشې نه کړي. دا ځل نو رواني ماته لا ژوره شوه، د پخوانو نسخو بله برخه هم بېکاره راوختله او د ځينو اسلامي بهيرونو له نظره منسوخه شوه. د اسلامپالو نوی نسل لا توندو لارو ته لېوال شو او له پخوانيو ادبياتو يې هماغه برخې راواخيستې چې د توندۍ او تېزۍ په درد لگېدلې.

په دې نوې لاره کې چې دغو ډلو ځينو مسلمانو ځوانانو ته ورښودله، په خورا شديدو خشونتونو او ان په انتحار لاس پورې کول، د مبارزې له وياړه ډک روش معرفي شو. دغه ډلې چې له سيمه ييزو کمزورو قدرتونو سره په مقابله کې ناکامې شوې وې، د نړۍ له لويو نظامي قدرتونو سره لاس او گرېوان شول او دا پخپله يو ډول انتحار و چې د دې ډلو د خوارۍ نښه وه. د نړېوال تجارتي مرکز چول او ورپسې د غبرگو برجونو نړول د دې لارې د تجلي اوج گڼل کېږي.

دغه ډلې د خپلو ټولنو د داخلي ستونزو د ريښو په موندلو کې پاتې راغلې وې، دوی نه شول کولای د خپلو ټولنو د لرغوني او معاصر تاريخ تاريخي بهير تحليل کاندي او ذهن يې د ننيو ټولنو د پېچلو جوړښتونو په تجزيه او تحليل کې هېڅ کار نه کاوه. کله چې يې ونه شول کولای د مختلفو معلولونو او علتونو تر منځ معقوله رابطه پيدا کړي، خورا اسان تحليل ورته همدا ښکاره شو چې د توطيې تيوري ته پناه يوسي، ځان قرباني وگڼي او د ډېر مظلوميت احساس وکړي او د نورو پر وړاندې هر څه کول جايز وگڼي، بې له دې چې په اخلاقي توب يا غير اخلاقي توب پسې يې سر وگرځوي.

فرهنگ د ملتونو د عقل او جمعي شعور مظهر دی. د فرهنگ يوه اصلي وظيفه دا ده چې وگړو ته پر ناکاميو د غلبې لپاره شعور او پوهه ورکړي او د ناخوالو د له منځه وړلو معقولې او گټورې لارې وروښيي. کله چې د يوه فرهنگ پر وگړو باندې ستونزې راځي، هغوی د خپل جمعي عقل په مرسته د مقابلې غوره لاره مومي چې په لږ مصرف ډېره نتيجه واخلي. البته کله کله به داسې ونه شي.

خو کله چې د يوه فرهنگ بچيان د خپلو ستونزو د واقعي ريښو په پېژندلو کې پاتې راشي او له ځانوژنې پرته د مقابلې بله هېڅ لاره پيدا نه کړي، دا نو د هغه فرهنگ د ناکامۍ او خوارۍ اوج ښيي. په تېره بيا چې د ځانوژنې د گټې او نتيجې هېڅ ضمانت هم ورسره نه وي. په حقيقت کې دغه فرهنگ د خپلو ځينو بچيانو له انتحار سره، پخپله انتحار ته غاړه ايښې ده.

انتحار د نااميدۍ او د ټولو هغو لارو د بندېدو نښه ده چې ژوند ته رسېږي. دا تر ژوند او بقا د مرگ او نيستۍ غوره گڼل دي. ځانوژنه د دې نښه ده چې پر ستونزو د غلبې له زرگونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارو یوه یې هم د سړي ذهن ته نه ورځي او یوازینۍ لاره چې ورته پاتې کېږي دا ده چې ژوند ته شا کړي او لته ورکړي. دا هغه حل لاره ده چې د ازمویلو او خطا په میتود سره یې هم د سموالي یا ناسموالي پته نه شو لګولای.

هغه فرهنګ چې خپلو بچیانو ته د ژوند معنا او د ژوندي پاتې کېدو لاره نه ده ښیيلې او د هغې پر ځای یې ورته مرګ او نیستېدل تجویز کړی وي، ناروغ فرهنګ دی. دا فرهنګ چې د ژوند له پېچلو او سختو واقعیتونو سره مخامخېږي، له ډېرې خوارۍ او ناتوانۍ د نابودۍ لاره له ستونزو د تېښتې د لارې په بڼه غوره کوي.

نه وایم چې د ختیزو ملکونو فرهنګ سر تر پایه په دې کنده کې غورځېدلی دی. که داسې وای نو د دې غمیزې لمن به تر دې زیاته پراخه وه، له نیکه مرغه داسې نه ده او د عقلانیت او شعور ځینې بخرې په کې شته چې په کورنیو لانجو کې له غیرعقلاني کړنو سره مقابله کوي. خو سره له دې هم انکار نه شو کولای چې د دې فرهنګ ځینو برخو سخت زیانونه لیدلي دي او له تعقله پاتې دي او ځینو غیر عقلاني میتودونو ته یې غاړه ایښې ده چې تر ټولو عمده او خطرناک یې ځانوژنه ده.

دا چې په نننۍ نړۍ کې هدف ته د رسېدو لپاره ګڼې لارې شته؛ خو بیا هم ځانمرګي بریدونه کېږي او بیا څوک یې شهادت طلبانه عملیات بولي او ستایي یې، ځینې ورته چوپه خوله پاتې کېږي او ځینې نور ځنې ډارېږي او نیوکه پرې نه کوي، دا ټول که سره یو ځای کړو، زموږ په فرهنګ کې د داسې خلل نښه جوړوي چې اند پښنه او فکر ورته په کار دي.

دا ښیي چې د فکر او فرهنګ متولیان له دې عاجزه دي چې خپلو خلکو ته خپلو غوښتنو ته د رسېدو نورې بهترې او ګټورې لارې چارې وروښیي او هغوی پر خپلو قابلیتونو باورمن کړي، ژوند ته، پاتې کېدو ته او پایېدو ته یې امید غښتلی کړي.

په دې وضعیت کې زموږ فرهنګ داسې خوار موجود ته ورته دی چې د نړۍ د سترو او خورا چټکو بدلونونو په وړاندې هېڅ غبرګون نه ښیي، ایله د مرګي حاله بني ادم په څېر لاس و پښې خوځوي خو نور یې هېڅ نه دي زده.

تر دې د لا اند پښنې خبره دا ده چې د فکر او فرهنګ خلک هڅه نه کوي چې د دې پدیدې فرهنګي لاملونه مطالعه کړي او د خپلو ټولنو وضعیت چې له مرګونو او نیستۍ سره مخ دي، نقد او تحلیل کړي او په دې مورد کې د ټولنپوهنې، اروا پوهنې او انسانپوهنې معاصر علوم وکاروي چې د فرهنګ له تنه دغه بیماري راوباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې ټول يا اکثره خلک د دې پديدې له څنګه ښوی تېرېږي او بيا چې انتحاري عمليات وشي، ايله همدومره ووايي چې په دې کې د سياست لاس دی او د نيوکې ګوته ګاونډيو ملکونو ته ونيسي او بس، دا پخپله زموږ د جمعي تفکر ناتواني ښيي چې له دومره جدي او مهمې ستونزې سره داسې بې پروا چلند کوو.

که په پرمخ تللو ټولنو کې داسې څه پېښ شي، بس پر سبا به يې توانمند څېړنيز مرکزونه جوړ وي. متفکرې ککرۍ به ورباندې لګيا شي او د ستونزې ان هغه لانديني قشرونه هم د څېړنې او تحقيق تر ذره بين لاندې ګوري، پر موضوع به مهم کنفرانسونه جوړوي چې خپلې موندنې له عامو وګړو سره شريکې کړي. دوی په دې ډول پر ستونزې د لاسبرې لپاره خپل رسالت ترسره کوي او له داسې ستونزو سره د مقابلې د مناسبو لارو د موندلو په برخه کې له خپل فرهنګ سره مرسته کوي.

زموږ په شا و خوا کې سره له دې چې ډېرې وينې بهول شوې دي، لا هم هغه بحثونه چې په عمومي رسنيو کې يا د جوماتونو په منبرونو کې او يا هم په نمايشي کنفرانسونو کې جوړېږي، له دې ستونزو سره چنداني رابطه نه لري او لوستونکي پوهېږي چې دا بحثونه د څه رقم مسايلو په اړه وي.

داسې بريښي چې نور نو بايد د ستونزو په پېژندلو او حل کې د خپل فرهنګ ناتواني په رسميت وپېژنو او په دې برخه کې د فرهنګ د پياوړې کولو لپاره خپله دنده ترسره کړو او په بدن کې يې نوې ساه ورپو کړو. دا د هغو کسانو مسووليت دی چې د فکر او پوهې په ډګر کې کار کوي او له څېړنيزو او روزنيزو مرکزونو سره يې کار دی او رسنۍ هم د همدوی په واک کې دي. قلموال بايد خپل تاريخي رسالت ته متې راونغاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د قدرت او معرفت ديالکتيک

### کرښې ايستل او تابو جوړول

د قدرت او معرفت رابطه له سره لا ډېره څېړنه غواړي. په دې برخه کې هڅې شوې دي خو کافي نه دي. ځينو غربي مفکرانو په دې اړه جدي بحث کړی دی؛ خو زموږ په وطن کې لا دې مسألې ته کمه توجه شوې ده. د ليکوال د معلوماتو له مخې محمد عابد جابري تر ټولو مشهور او مهم کس دی چې په خپلو ځينو ليکنو کې يې په دې اړه جدي کار کړی دی. د دې مبحث تکامل ته د رسېدو لپاره زموږ په فکري حوزه کې لا اوږد واټن په مخ کې دی. ځکه دې هدف ته هله رسېدای شو چې له دې نظره خپل ټول فرهنګي ميراث ته - له پخوا تر ننه پورې - په ژوره توګه وګورو او ويې ارزوو ، بې له دې چې دې ته وګورو چې د غه فرهنګي ميراث په کوم مشرب او کوم مذهب پورې اړه لري.

د قدرت او معرفت په رابطه کې بايد د دوی دوه اړخيز او متقابل تاثيرات چې يو پر بل يې لري، مطالعه شي. له دې سره به وګورو چې معرفت تر کومه ځايه پورې د قدرت د خاوندانو تر اغېزې لاندې پاتې شوی او د هغوی ښکاره او پټې غوښتنې څومره پر معرفت اثر کړی دی. همدارنګه دا چې قدرت څومره د معرفت او پوهې په رابطه کې ځان رغولی دی او ځان يې د معرفت له غوښتنو سره سم سمبال کړی دی.

دا تصور خام او غير علمي دی چې ګواکې دا دواړه يو مخ مستقل پاتې شوي او بې له دې چې يو له بل سره اړيکي ولري، خپلواک عمل يې کړی دی او د دواړو ترمنځ پولادي دېوال تېر شوی و. دا خبره که د علم او معرفت د تقديس په مقصد او که په بل نيت شوې وي، چندانې ارزښت نه لري. د انسان علم او معرفت چې هرڅه وي، د انسان پيداوار دي او د هغه د ژوند د واقعيتونو په ترڅ کې رامنځته کېږي، غوړېږي او حاصل ورکوي. انسان که وغواړي که نه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند واقعيتونه يې تل په يو نه يو ډول له قدرت سره ايجابي يا سلبي پيوند ساتي. د دې موضوع مفصله شرحه به په بل ځای کې وګورو چې له خپلې موضوع لرې نه شو.

په دې مقدمه کې غواړم پر دې مسألې ټينګار وکړم چې د معرفت ځينې مقولې له قدرت سره د ديالکتيکي رابطې پر اساس رامنځته کېږي او که دا خبره ومنو، ګڼو نتيجو ته رسېږو او له هغې جملې څخه دې نتيجې ته چې قدرت د ځينو معرفتي مقولو شا و خوا ته کرښې راباسي او له هغو څخه «غروق» جوړوي چې څوک ورنژدې نه شي او د هغوی په اړه خپل فکر ونه جنګوي. دغه مقولې سره له دې چې معرفتي مقولې ښکارېږي او په دې لحاظ بايد تل نظري بحث ته تيارې وي؛ خو په عمل کې داسې نه ده او که څوک ورنژدې شي، لکه ممنوعه ساحې ته چې ورنژدې شوی وي، مخه يې نيول کېږي. تر دې چې د وګړو تر منځ اجماع پيدا کېږي چې څوک دې په هغه اړه بحث نه کوي او يوازې د هغه کاذب تفکر اجازه به لري چې وار له مخې په قالبونو کې جوړ شوی دی. دغه کاذب تفکر په ظاهره کې تفکر ته ورته وي؛ خو په باطن کې تفکر ځپي او ټکوي يې.

په ټول تاريخ کې دغسې تابوګانې جوړې شوې دي، البته په هر مورد کې په متفاوت هدف او متفاوت ميتود سره. خو اکثره وګړي ان هغوی چې په تکړه خلکو کې حسابېږي هم له دې خبرې ناخبره پاتېږي. په همدې وجه ځينې مقولې، شعارونه، تعريفونه، اصطلاحات او مفاهيم د فکر له لاسرسي بهر پاتې کېږي. دا موضوع هغه وخت لا اهميت پيدا کوي چې وګورو ځينې همدغسې شعارونه، اصطلاحات او مفاهيم د تفکر بېخ بنا جوړوي او د ټولنې لويو فکرونو ته لوری ورکوي او په دې لحاظ د دوی پر ژوند اغېز ښندي او کله کله د دوی پر لويو تاريخي انتخابونو اثر غورځوي.

دلته د ژمن او متعهد څېړونکي دنده دا ده چې له نا حقو جوړو شويو پولو واوړي، تابوګانې ماتې کړي او د دې پولو په ايستلو کې د قدرت له نقشه د پردې په پورته کولو سره، خلکو ته جرئت ورکړي چې پر دې مسايلو فکر وکړي او ځان د هغو تابوګانو له شره خلاص کړي چې د دوی فکرونه يې شنډ کړي دي. هغه څېړونکي ته چې دې کار ته ملا وتړي، د روښانفکر لقب ورکول کېږي. اساساً څه چې روښانفکران له نورو تعليم يافته وګړو بېلوي، همدغه نقش يې دی.

هغه پوهه چې د وګړو رنځونه کم نه کړي، پر ناخوالو د غلبې لاره ورته ونه ښيي، له خرافاتو يې ونه ژغوري، تفکر يې غښتلی نه کړي او پر ژوند يې اغېز ونه کړي، مړه او بې اثره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهه ده. داسې پوهه که د ساده علمي مسایلو په تحقیق کې په درد هم ولګېږي، د روښانفکري له تعریف سره بیخي نه جوړېږي.

ژمن روښانفکر او متفکر دا خپله وظیفه ګڼي چې د نورو بر خلاف په هغه لومه کې ونه لوېږي چې قدرت ورته غوړولې ده. دی باید هغه پوله ونه مني چې قدرت ورباندې د ده تفکر ایساروي. دی باید د پوهې او نقادانه تفکر وسله په لاس واخلي او هغو ځایونو ته ورشي چې لږو کسانو یې د ورتلو جرئت کړی وي. دی د دې مفاهیمو تاریخچه معلوموي او ګوري چې په کومو فرهنګي او تاریخي شرایطو کې راپیدا شوي دي، هغه عوامل راپېژني چې د دې مفاهیمو په جوړېدو کې یې مستقیم یا نامستقیم نقش لرلای دی، د دې مفاهیمو اصلي بڼه او هغې بڼې سره پرتله کوي چې د تاریخي تحولاتو په نتیجه کې یې خپلې کړې دي، روښانفکر په هر پړاو کې سیاسي، اجتماعي او معرفتي کړنې راسپړي.

د دې لارې غوره کول، کولای شي د ټولنې تفکر ته وزر ورکړي او د الوتلو جوګه یې کړي چې د قدرت او حکومتونو په لاس له جوړ شوي قفس ازاد شي. هغه ټولنې چې پرېکړه یې کړې ده چې خپل برخلیک به پخپله په شعوري او ازاده توګه لیکي، تر هر څه وړاندې یې همدغه (د تابوګانو د ماتولو) توان پیدا کړی دی. ښایي د "تغییر ما بالانفس" مفهوم چې په قران مجید کې د انسانانو په ژوندانه کې د بدلون مقدمه ګڼل شوې ده، همدا تحول وي یعنې د نه فکر کولو او د تفکر د جرئت نه لرلو له پړاوه، د فکر کولو او په مېړانه فکر کولو پړاو ته تحول او ځان له مصنوعي پولو او چوکاټونو ازادول.

له پخوا څخه تر ننه پورې د معرفتي مقولو په شاوخوا کې د قدرت له خوا د کرښو ایستلو او له هغوی څخه د تابوګانو د جوړولو ګڼ مثالونه لرو چې وروسته به یې څو نمونې یادې کړو؛ خو تر هغې د مخه لازمه ده یاده کړو چې دلته له قدرت څخه منظور لزوماً حکومت او سیاسي مسلط نظام نه دی؛ ځکه قدرت هېڅکله په دې پولو نه ایسارېږي، قدرت ټولې ډلې او شبکې چې د انسانانو پر ژوند اغېز ښندلای شي، رانغاړي. دغه ډلې او شبکې د سلطې له دستګاه سره رابطه جوړوي، یا د مخالفت یا د ملګرتیا یا د مشارکت او یا د نورو.

کله کله قدرت د هغې سلطې معنا لري چې د یوه جماعت، فرقې، ګوند او یا اجتماعي جوړښت په دننه کې اعمالېږي، سره له دې چې له حکومتي دستګاه سره مستقیم سر و کار ونه لري او حساب کتاب یې له حکومته بېل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قدرت دغه مفهوم چې له علمي تعریف سره یې ډېر اړخ لګوي، موږ ته لا واقع بینانه درک راکوي چې په مرسته یې کولای شو د اجتماعي ژوند پېچلتیا وپېژنو او د هر عنصر او مقولې د اغېز ښندلو څو بعدیزوالی رامعلوم کړو.

قدرت کولای شي پرګڼې سره تنظیم کړي، حتمي نه ده چې دا کار دې د حکومت د راپرځولو او یا تقویې لپاره وشي؛ بلکې دا کار د ځینو سنتونو د منسوخولو لپاره یا له شته وضعیته د دفاع لپاره، یا د یوه میراثي بهیر د دوام او غځولو لپاره او یا له ایدیالوژیکو بهیرونو سره د مقابلې لپاره کېږي.

په دې حساب داسې جماعت او ډله نه شو موندلای چې د قدرت مناسبات دې په کې نه وي رامنځته شوي او وګړي یې له دې عنصر سره سر و کار نه وي لرلای. مذهبي ډلې، د صوفیانو جماعتونه، تبلیغیان، سلفیان او ورته بهیرونه چې په ظاهره کې له قدرته (قدرت په عامه او ساده معنا) تښتي، هر یو په خپل وار سره د قدرت له جوړښتونو سره په پټه لاس او ګرېوان دي او عملاً د خپلو سازمانونو په منځ کې قدرت کاروي. د نورو سیاسي ګوندونو او د سیاسي اسلام د ډلو حال خو جوت دی چې پخپله په ښکاره د قدرت پر سر دعوا او شخړه کوي.

کله چې د قدرت او معرفت تر منځ له دیالکتیکي رابطې غږېږو منظور مو دا وي چې هر ځواکمن جوړښت (حکومتونه، جماعتونه، ګوندونه، اجتماعي ډلې او ان د خپلو نیکونو د دودونو په ساتلو کې پرګڼې) پر معرفت باندې خپله اغېزه غورځولې ده او د همدې اغېزو تر سیوري لاندې ځینې معرفتي مفاهیم رامنځته شوي او د ملتونو او امتونو په فکري منظومه کې یې ځای نیولی دی.

د نفوذ د همدې اعمال په وجه ځینې مفاهیم او مقولې د دې منظومې په مرکز کې واقع شوې دي او ځینې نورې یې څنډې ته پورې وهل شوې دي. د ځینو مفاهیمو ښکلې او روښانه تصویرونه وړاندې شوي او د ځینو نورو تت او بې خونده چې د چا زړه ورباندې اوبه ونه څښي.

د دې اصل په درک کولو سره لیدلای شو چې زموږ ژوند د څرنګه مفاهیمو او انګېرنو تر اغېز لاندې دی او موږ ممکن ان لوېې پرېکړې د همدې انګېرنو تر اثر لاندې وکړو.

## پر معرفت باندې د قدرت د نفوذ ځینې نمونې

د دغې ادعا د توضیح لپاره چې ډېره انتزاعي بریښي، په لرغوني او نوي تاریخ کې ګڼې نمونې موندلای شو او که وغواړو ټولې نمونې یې سره راټولې کړو، باید پراخه څېړنه وکړو چې غونډې نمونې په کې ځای شي. دلته ناچاره یو چې له پخوانیو او نویو بېلګو څخه یو څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



داني يې له تاريخي ترتيب او تسلسله پرته، غوره کړو چې يوازې د قدرت او معرفت تر منځ رابطه وښيو.

د مسلمانانو په زاړه تاريخ کې د معرفت پر حوزې د قدرت د نفوذ يوه نمونه د امام جائر موضوع ده. د امويانو په دوره کې د اسلامي نړۍ په خو ځايونو کې وسله وال پاڅونونه وشول او د دې احتمال پيدا شو چې دا ډول پاڅونونه به عام شي؛ نو له امام څخه د اطاعت موضوع راپورته شوه ان که هغه جائر يعنې ظالم هم وي. دغه مفهوم د ديني روايتونو په مرسته داسې مطرح شو چې هېڅوک ځان ته له حاکم نظام څخه د سرغړولو اجازه ورنه کړي.

هغه دين چې اساساً د عدالت د تأمينولو او د هر ډول ظلم د ختمولو لپاره راغلی و او غوښتل يې داسې نظم رامنځته کړي چې د بې عدالتۍ او نابرابرۍ اثر په کې نه وي پاتې، په دې وخت کې پخپله خپلو پيروانو ته ورزده کول چې ظالمو حاکمانو ته دې سر ټيټ کړي. د دين عالمانو دې چارې ته د اعتقادي مسلماتو رنګ ورکړ، ان تر دې چې د ځينو فقيهانو له خولې دا خبره هم وشوه چې له نورو څخه د اهل سنت توپير په همدې کې دی چې اهل سنت به هر ډول حاکميت ته غاړه ږدي بې له دې چې ظلم او عدل ته يې وګوري.

کله چې يوه موضوع د فکري مسلماتو په توګه مطرح شوه، نور نو د مناقشې لپاره ځای نه پاتې کېږي او د فکر کړکۍ هغې خوا ته نه خلاصېږي، چا ته اجازه نه ورکول کېږي چې د هغې په اړه بحث وکړي؛ ځکه په مسلماتو باندې سترګې پټول د اجماع د خرق سبب کېږي.

د اجماع موضوع هم په همدې نمونو کې ګڼلای شو. اجماع د اسلام د پيغمبر (ص) او او د خلفای راشدين په زمانه کې شرعي اصل نه و او چا د اجماع په اړه څه نه ويل، ګواکې اصلاً په دې معنا چا نه پېژندله. له معاذ بن جبل څخه يو مشهور روايت وايي چې هر کله چې په کتاب او سنت کې يو شی ونه مومم، په خپل فکر مې اجتهاد کوم. ده بل اساسي اصل ته اشاره ونه کړه او دا خبره د اسلام پيغمبر تاييده کړه.

خو په راوروسته پېړيو کې اجماع هم د کتاب او سنت په څېر اعتبار خپل کړ چې تر قياس، استحسان، عقل، مصلحت مرسله او نورو شرعي احکامو يې پورته مقام ترلاسه کړ. لا مهمه دا چې د اجماع پر تعريف او مباني او مصاديقو باندې هېڅ اجماع نشته؛ ځکه خو دا چاره د مخالفانو او د بل ور فکرونو د خاوندانو د ځپلو لپاره د يوې وسلې په توګه استعمال شوه، خصوصاً په حاکمو نظامونو پورې د اړوندو کسانو له خوا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جالبه دا ده چې د امام ابن حزم په شان لوی مجتهد، سره له دې چې په تفکر کې لوی مقام لري، يو کتاب ليکلی دی چې د اجماع موضوعات راوپېژني؛ خو بل لوی عالم ابن تيميه پر دې کتاب تعليقونه کښلي او ښيېلي يې دي چې د هغو موردونو عمده برخه چې په اړه يې د اجماع د موجوديت خبره شوې ده، اجماع ورباندې نشته. نو هغه وينا چې له امام احمد بن حنبل رانقل شوې چې وايي د اجماع ادعا بې بنسټه ادعا ده، سمه راخېژي.

## قدرت او د ايډيالوژيو جوړول

معتزله او د هغې په اړه غالب نظر د دې نمونو بله ښېلګه ده: کله چې عباسيان واک ته ورسېدل، له ګڼو سياسي رقيبانو سره مخ وو. دوی يوه موده له هر يوه سره تکتيکي روغه جوړه وکړه؛ خو وروسته لکه څنګه چې د قدرت غوښتنه ده، هر يو يې په مناسب وخت کې له صحنې وشاړه.

په لومړي سر کې يې چې د اموي حکومت د راپرځولو په خاطر هڅه کوله، له يوې خوا يې د پيغمبر د اهل بيت د تلف شويو حقونو د اعادې ادعا کوله چې د اهل بيت پلويان خپل کړي، له بلې خوا شعوبيه او نورو ناعربو قومونو ته يې چې تر ظلم لاندې وو، ځان ورنژدې کړ چې د امويانو پر ضد يې له ځواک څخه ګټه واخلي.

په دې پړاو کې چې کامياب شول، لومړی يې خپل سياسي شريکان چې عمدتاً خراساني شعوبيان او ترک وو، له منځه يوړل او د ابومسلم خراساني په وژلو او وروسته د برمکي کورنۍ له ختمولو سره يې حکومت له دې خلکو تصفيه کړ. بيا يې خپل بل رقيب يعنې علويان پسې واخيستل او په سياسي او اجتماعي ډګر کې يې ميدان ورباندې تنګ کړ چې پخپله بې غمه حکومت وکړي.

په دې وخت کې يې چې خپل درې سره رقيبان مات کړي وو او په ټولنه کې يې هغه خلک له لاسه ورکړي وو چې د دې ډلو پلويان وو، دې ته يې اړتيا درلوده چې د خپل حکومت د مشروعيت او ټينګښت لپاره مناسبه ايډيالوژي جوړه کړي. د دې کار لپاره يې لومړی پرانيستې تمدني لاره خپله کړه، د ترجمې نهضت يې رامنځته کړ او د يونان، روم او فارس د تمدنونو مختلف علوم يې ترجمه کړل چې د دې مشروعيت لپاره لاره هواره کړي.

تر ټولو مناسب فکري مذهب چې کولای يې شو دې منظور ته مناسبه زمينه برابره کړي، معتزله وه. حکومت وغوښتل دا بهير په يوه ايډيالوژيک چوکاټ بدل کړي چې د نظام د مشروعيت ستن وګرځي. په همدې هدف يې ځينې محکمې لکه د عقايدو د تفتيش او پلټنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



محکمې جوړې کړې چې هر هغه څوک راپيدا کړي او ويې ځپي چې له دې ډول طرز فکر سره مخالف وي او د ټولنې ټول تکړه وګړي په يوه ايديالوژيک قالب کې واچوي. خو څه موده وروسته وليدل شول چې دا بهير دا کار نه شي کولای، خصوصاً هله چې د امام احمد حنبل او ځينو نورو عالمانو د نيولو او شکنجه کولو پر سر، خلکو غبرګون ونښود او دا چې معتزله تر ډېره بريده د نخبه ګانو په طبع برابر فکري بهير و او په عامو وګړو او پرګنو کې يې ريښه نه درلوده؛ نو حکومت دا ايديالوژي له پامه وغورځوله.

خو ها خوا ته حکومت ليدل چې له بل پياوړي رقيب سره مخ دی چې په ځينو سيمو کې مخ په پراخېدو و او کرار کرار يې وشول کولای د عباسيانو د قلمرو په ځينو برخو کې حکومتونه جوړ کړي او د عباسيانو له واکمنې يې راوباسي. دا رقيب ځينې شيعه جوړښتونه وو چې پر خپلې ځانګړې ايديالوژۍ باندې په اتکا سره يې د نظام پر ضد فعاليت کاوه او جدي ګواښ يې ورته جوړ کړی و. په دې بهير کې اسماعيلي شيعه ګان چې د افريقا په شمال او مصر کې يې فاطمي خلافت رامنځته کړی و او اثناعشري شيعه ګان چې د ايران په ځينو برخو کې يې د آل بويه او ديلميان حکومتونه جوړ کړي وو، دواړه شامل وو.

دلته عباسيانو او د هغوی ملګرو سيمه ييزو حکومتونو مناسبې ايديالوژۍ ته اړتيا لرله چې د رقيبو قدرتونو پر وړاندې د دوی د مشروعيت اساس وګرځي. دوی د اهل سنت ډول وډنګاوه او له دې سنګره يې د نورو د مشروعيت پر وړاندې ورودانګل. تر دې وروسته د شيعه تر څنګ معتزله هم د اهل سنت فکري دښمن معرفي شو او دواړه په مذهبي ادبياتو کې تر بې دربغو بريدونو لاندې ونيول شول او دا حقيقت له ياده ووت چې تر صدر اسلام وروسته د بدلونونو په نتيجه کې ټول رامنځته شوي مذهبي بهيرونه د وګړو د اجتهاد او انګېرنو محصول وو چې د ګڼو معرفتي او نامعرفتي عواملو پر اساس رامنځته شوي وو او په دې لحاظ د دوی تر منځ هېڅ ذاتي توپير نشته. دا قضيه دومره مخته لاړه چې په راوروسته پېړيو کې او ان تر ننه پورې، د اهل سنت په منځ کې د معتزله خبره نه شي کېدای او څوک يې له فکري ميراثونو ګټه نه شي اخيستی يا لږ تر لږه څوک يې بې طرفه مطالعه نه شي کولای، حال دا چې د معتزله ډېر عالمان د امام ابو حنيفه او امام شافعي په فقهي مذهبونو کې وو.

په نوي عصر کې چې د اسلامي ټولنو د فکر سرلارو ځانونه له مهمو فکري ننګونو سره مخامخ وليدل، پته ورته ولګېده چې يوازې د يوه فکري مذهب ميراث د دې وضعيت پوښتنو ته ځواب نه شي ويلای او بايد له نورو فکري سرچينو څخه هم استفاده وشي چې په دې جمله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې معتزله فکري بهير هم شامل دی، په تېره بيا په دې چې دغه بهير د عقلاني فکري مباحثو په لحاظ تر ټولو رسېدلی بهير و. خو په عمل کې يې د دې چارې لپاره لاره ونه موندهء ځکه کېدای شو، دوی معتزله بهير ته د تمايل په تور تورن شي او ټولې هڅې يې پيکه شي. دا وضعيت تر ننه پورې لا روان دی او د معتزله فکري ميراث يو له هماغو تابوګانو څخه دی چې څوک يې د ورنژدې کېدو جرئت نه لري. دا د معرفت په حوزه کې د قدرت د مداخلې او د فکري قضيو د رامنځته کولو له نتيجو څخه ده.

## د مذهب بدلول

په راوروسته پېړيو کې هم دې ته ورته کارونه تکرار شوي دي. اهل سنت په څلورو فقهي مذهبونو وېشل او مشروعيت همدې څلورو ته انحصارول، د قدرت او فکري بهير تر منځ د رابطې بله نمونه ده. د دې څلور ګونو مذهبونو د سروالو لويو مجتهدانو په وخت کې فقهي مذهبونه تر دې خورا ډېر وو، د ځينو صاحب نظرانو په باور شمېر يې ان پنځو سوو ته رسېده. په لومړي سر کې دا ټول ساده فکري تمايلونه وو چې مسلمانانو ته له هر يوه سره د تعامل ازادي وه او د هېڅ يوه مذهب پيروي چا ته الزامي نه ګڼل کېده.

تر دريېمې هجري پېړۍ وروسته ځينې فقهي مکتبونه په مختلفو دليلونو هېر شول او ځينې نور يې چې په حکومت کې يې پلويان لرل، د خپل فقهي مذهب د نظرياتو په بابولو بوخت شول. دا ځل هم فقهي تمايل چې اصلاً د فکري سليقې بڼه لري او هېڅ دعوا او دنګله نه غواړي، حساسيت پاروونکی ايدیالوژيک رنګ يې خپل کړ او په مسلمان امت کې يې لا تفرقه او ډلې ټپلې پيدا کړې.

په پنځمه پېړۍ کې اختلافونه خپل اوج ته ورسېدل او سره له دې چې څلور واړه مذهبونه په حقه ګڼل شوي وو؛ خو عملاً هېچا ته د دې حق نه و چې له يوه مذهبه دې بل ته واوړي او خپل مذهب بدل کاندي. له يوه حق مذهب څخه بل حق مذهب ته وراوښتل باطل کار ګڼل کېده او د هر مذهب پيروانو باور درلود چې له يوه مذهبه بل ته تلل، د مجازاتو او په درو وهلو مستوجب دي. نور چا حق نه درلود چې خپل مذهب پخپله وټاکي، هغه که خوښ و که خپه، مجبور و په هماغه مذهب کې پاتې شي چې پلار نيکه يې غوره کړی و.

خبره تر دې پورې سخته شوه چې که يو مسلمان عالم به دې حد ته ورسېد چې پخپله اجتهاد وکړي او يقين به يې و چې په يوه مسأله کې د پخوانو فقيهانو نظر ناسم دی؛ خو د دې حق يې نه درلود چې خپل نظر څرګند کړي او له څلور ګونو مذهبونو سره مخالفت وکړي. کله

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ابن تیمیه په یوې فقهي قضیې کې د څلور ګونو رسمي مذهبونو له نظره عدول وکړ، محاکمې ته ورکش کړای شو او یوه موده زندان ته ولوېد او څه موده تبعید ته مجبور شو. په همدې وجه ډېرو هغو عالمانو چې د اجتهاد توان یې درلود، د خپلو اجتهادونو د څرګندولو جرئت یې نه درلود او داسې یې ښيیل چې ګواکې په یوه رسمي مذهب عمل کوي.

د څلور ګونو رسمي مذهبونو موضوع یوه بله تابو ده چې د قدرت د خاوندانو په لاس جوړه شوې او په پېړیو پېړیو یې د ازاد تفکر او اجتهاد په لاره کې جدي خنډ جوړ کړی دی. البته نن سبا د مسألې شدت یو څه کم شوی او په ځینو اسلامي ملکونو کې څوک پسې سر نه ګرځوي خو پخوا داسې نه وو.

د متاخرینو د عصر په وروستیو کې بلې موضوع هم د ډېرو مسلمانانو ذهنونه مشغول کړل او تر ډېرې مودې پورې د سرخوږۍ لامل و، دا د وهابیت پر مسألې دعوا وه.

وهابیت د حنبلي مذهب پر اساس یو دیني غورځنګ دی چې د ابن تیمیه او ابن القیم نظریاتو ته یې تمایل درلود او د عربستان په ټاپووزمه کې راڅرګند شو. دا غورځنګ له هماغه پیله د هماغه وخت له قدرتونو سره ښکېل شو. وهابیت هم د ټاپووزمې له حاکمانو سره په لانجه کې و چې له عثمانیانو سره یې ښه رابطه درلوده او هم د عراق او مصر له حاکمانو سره. په همدې وجه له هماغه پیله د وهابیت پر ضد، ضد او نقیضې شایعې خپرې شوې او د قدرت خاوندانو د خلکو په ذهنونو کې د هغه وېرونکی انځور جوړ کړی و. د وهابیت په اړه د خلکو په منځ کې دغه انګېرنه او دا نظر سبب شو چې وروسته مختلفې ډلې له وهابیت څخه د ځان په ګټه او د نورو پر ضد کار واخلي. کله چې د هند په براعظمګي کې مسلمانانو د سید احمد بن عرفان تر مشرۍ لاندې د انګرېزانو پر ضد غورځنګ پیل کړ، د دې خوځښت پر ضد له هماغو بدبینیو موثره استفاده وشوه چې د وهابیت پر ضد موجودې وې. پر دوی باندې تور پورې شو چې غواړي وهابي مذهب رواج کړي. دې تور سره دوی ته سخته ضربه ورکړل شوه.

وروسته تر دې چې په ایران کې اسلامي انقلاب وشو او د اسلامي جمهوري حاکمانو د ټولو مسلمانانو د رهبرۍ او مشرۍ دعوا وکړه، د سعودي عربستان حاکم نظام هم هڅه وکړه په یو ډول سره د اسلامي هېوادونو مشري خپله کړي نو د دواړو تر منځ سخته سیالي او دښمني پیدا شوه. په دې وخت کې هم د وهابیت مسأله د سعودي د مخالفانو لپاره په یوه وسله بدله شوه چې د ځان په ګټه یې وکاروله، هماغسې چې سعودي نظام د خپل نفوذ د پراخولو لپاره ورڅخه استفاده وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وهابيت تورنول سوکه سوکه د ډېرو مذهبي، سياسي او اجتماعي فعالانو د ټکولو په میتود بدل شو او ډېرو په دې لاره ضربې وخوړې.

د شوروي د سره پوځ پر وړاندې د جهاد او مقاومت په کلونو کې له دې وسلې د افغانستان د جهادي ډلو تر منځ په سياسي مقابله کې هم پرېمانه استفاده وشوه. په کور د ننه ډېرو وسله والو جهادي ډلو او له هېواده بهر سياسي ډلو يوه بله د وهابيت د ايديالوژۍ په خپرولو تورنوله او له دې لارې يې هڅه کوله د خپلو رقيبانو مشروعيت ختم کړي.

نتيجه دا شوه چې د وهابيت موضوع په يوه تابو بدله شي چې هېڅکله ځوک ورباندې علمي بحث ونه کړي او تل په سياسي تربګنيو کې ځنې استفاده وشي. هر وخت د دې قضيې په مطرح کولو سره د ټولنې ذهنيت ګډوډېږي او د مختلفو ډلو او قشرونو تر منځ بدنيتۍ او بدبينۍ پراخېږي. دا د بل وړ فکر کوونکو د ځپلو لپاره لاره هواره کړه او ان هغه کسان چې له وهابيت سره شديداً مخالف وو خو نوي فکرونه يې په سر کې لرل، وهابيت ته په تمايل تورن شول او په اجتماعي لحاظ ورته سرخوږۍ جوړ شو.

که قدرت په دې قضيه کې نه واى دخيل، کېداى شو د وهابيت مسأله د ګڼو نورو موضوعاتو په څېر سمه تشريح شي او په اړه يې سم معلومات رامنځته شي چې په ناحقه ډېر کسان ورباندې تورن نه شي او د دښمنۍ او اختلاف دومره پراخ ميدان ته لاره هواره نه شي.

په نوي عصر کې هم د قدرت او معرفت ترمنځ ديالکتيکي رابطه وغځېده. ډېرو مفاهيمو او ګڼو فکري مقولو ځکه زموږ فرهنګي منظومې ته لاره وکړه چې د قدرت – قدرت په عامه معنا - له بهيرونو سره يې رابطه وه. دا ځل هم ځينې مفاهيم د ټولنو او جماعتونو د بحثونو په محراق کې واقع شول او ځينې نور يې څنډې ته پورې ووهل شول او يا په ممنوعه محدوده کې راايسار شول او په اړه يې بحث او خبرې کول منع شول.

د دين او سياست د رابطې جنجالي رابطه له همداسې موردونو څخه ده. کله چې عثماني حکومت يعنې د مسلمانانو د قدرت سېمبول راوپرځېد او خلافت لغو شو، ډېرو ديندارو ته دا سودا پيدا شوه چې ګواکې دوى او د دوى دين بې ملاتړې شول او نور داسې ځواکمن ځوک نشته چې د دوى او د دوى د ارزوګانو دفاع وکړي. دا پېښه په سېمبوليک لحاظ د اسلامي ټولنې ځينو برخو ته د خپګان خبره وه، په تېره بيا هغو کسانو ته چې لا د دولت – ملت له مډرنو مفاهيمو سره اشنا شوي نه وو او د امت او امامت په اړه يې هماغه پخوانى کلاسيک تصور درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې ځینو دیني جماعتونو هڅه وکړه د دین پر اساس غورځنګونه رامنځته او دیني حکومت جوړ کړي. دغو جماعتونو چې د دیني حکومت په اړه یې په ذهن کې هېڅ روښانه تصور نه درلود، خپل هدف یې د اسلامي خلافت اعاده کول وباله. دوه مشهوره غورځنګونه اخوان المسلمین او حزب التحریر خورا مشهورې ډلې دي چې په همدې نیت رامنځته شوې دي. په نورو سیمو کې هم ورته جماعتونه جوړ شول چې د ټولو ګډه ځانګړنه د سیاسي قدرت د نیولو لپاره دیني فعالیتونه وو.

کله چې د سیاسي حزبونو رقیبو ډلو ولیدل چې په سیاسي مبارزو کې د دین له نامه څخه استفاده، دیني جماعتونو ته ډېره ګټه کړې ده، هڅه یې وکړه داسې پوښتنې مطرح کړي چې په هغوی سره خلکو ته وروښیي چې مذهبي جماعتونه د خپل سیاسي نظام لپاره مدونه تیوري نه لري او هغوی هم د نورو ګوندونو په شان دي او باید په دې مبارزو کې له دین څخه د وسلې په توګه کار وانه خلي. دغو پوښتنو له مذهبي جماعتونو څخه د دوی برتري اخیستله، دوی یې له خپلو رقیبانو سره همسویه او برابر ښیېل؛ نو دا پوښتنې د سیاسي اسلام په ډېرو ډلو باندې بدې ولګېدې او بیا د دین او سیاست د رابطې بحث په عام پسنده بڼه رامیدان ته شو.

په دې بحثونو کې ټینګار پر دې باندې کېده چې د دین له کامل والي څخه داسې تفسیر راوباسي چې سیاست د دین نه بېلېدونکې برخه معرفي شي او چې هر څوک دا ادعا ونه مني، په دیانت کې به یې شک کېږي. دې کار په مخالفه جبهه کې وېره پیدا کړه او ډېرو له دې وېرې چې په بې دینۍ به تورن شي، شا ته شول او هغه پوښتنې یې پرېښودې چې په لومړي سر کې یې مطرح کړې وې. هغه کسان چې په لومړي سر کې به یې د سیاسي اسلام پر جماعتونو بریدونه کول او ویل به یې چې دغه ډلې له دین څخه د سیاست په بازار کې وسیله جوړه کړې ده، په دې وخت کې دفاعي حالت غوره کړ او ډارېدل چې څوک یې تکفیر نه کړي. په دې برخه کې به همدا بس وي چې د علي عبدالرازق خواشینونکي برخلیک ته اشاره وکړو چې څرنګه انزوا ته وروځکول شو او محمد عماره بیا د یوه متفکر ټکول او تحریم په څومره فخر رانقل کړی دی.

د دې چارې دوام سبب شو چې د دین او سیاست د بېلوالي بحث په یوه فکري تابو بدله شي چې نور هېڅوک یې مطرح کولو ته زړه ښه نه کړي. شیخ یوسف قرضاوي په «فقه سیاسي» کتاب کې ښکاره وایي چې باید د دین او سیاست دوسیه ختمه اعلان شي او نور دې په دې اړه بحث ونه شي؛ ځکه د مخالفې نظریې د مطرح کولو لپاره ځای نه دی پاتې. حال دا چې که په علمي لحاظ بحث وشي، تر اوسه په دې اړه تخصصي بحثونه لږ شوي دي. په دې اړه تخصصي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحث رانه غواړي چې له دوو ليدلوريو ورته وګورو، يو د سياسي علومو له ليد لوري چې د سياست ماهيت سم تعريف شي، بل د دين پېژندنې له ليدلوري – د دين په اړه هم د دين له نظره او هم له دينه د باندې له نظره – چې وليدل شي ايا دين ماهيتاً له سياست سره تړاو لري که نه.

په هر صورت، دا موضوع له دې کشمکشونو جلا هم د دې وړ وه چې علمي ارزونه يې وشي چې هر څوک وکولای شي د تکفير له وېرې پرته، خپل ګټور تحليلونه او خپل نظر څرګند کړي او ټولنه د مختلفو فکري ليدلوريو په مطرح کېدو سره د فکر ښېرازۍ ته ورسېږي.

څه مو چې دلته ياد کړل، د فکر په حوزه کې د قدرت د تابو جوړولو د نقش څو تيت و پرک مثالونه وو. که څوک وغواړي د دې بحث له اوږدې او پراخې جغرافيې سره اشنا شي، بله چاره يې نشته بې له دې چې په اسلامي تمدن کې د معرفت تاريخي بهير او اثر غورځونکي عوامل يې په هر اړخيزه توګه وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ابوزید یاد

## د یوه اشنا کیسه

لومړی ځل چې د نصر حامد ابوزید له نامه سره اشنا شوم، هغه وخت و چې په مصر کې د هغه او مخالفانو تر منځ جنجالي دعوا روانه وه. له کویت څخه خپرېدونکې «المجتمع» مجلې په خپلو ځینو ګڼو کې د دې دعوې نتیجې خپرولې. په اخر کې پوه شوم چې هغه د خپلو نظریو په وجه تکفیر شوی دی. سره له دې چې زه هاغه مهال د بنسټپالنې له جبهې سره نژدې وم او د ابوزید په محکومیت باندې خوشحاله شوم؛ خو په دې حیران شوم چې هغه څرنګه د داسې نظام له لوري تکفیر شوی دی چې د اسلامي بنسټپالو په نظر نا اسلامي او مردود نظام ګڼل کېده. ما نه شو کولای چې دا تناقض حل کړم. کلونه وروسته پوه شوم چې نه دا رژیم د نورو هغو رژیمونو په پرتله چې اسلامي بلل کېږي، چندانې غیر اسلامي و او نه یې اسلام پاله مخالفان په هغو ایدیالو معیارونو برابر وو چې موږ هاغه مهال په پام کې لرل. دا د **۱۹۹۵** او **۱۹۹۶** کلونو خبره ده.

څو کاله وروسته، په **۲۰۰۲** کې چې ما غوښتل د تهران د کتاب نړېوال نندارتون ته سر ورجوت کړم، په دې لټه کې شوم چې په دیني نوفکرۍ پورې مربوطې موضوعګانې لا ډېرې وڅېړم. په هغه وخت کې نوي مبحثونه راته په زړه پورې شوي وو او غوښتل مې چې پوه شم چې ولې ځینې غواړي د دین نوی تفسیر وړاندې کړي او دا کار په کومو وسایلو باندې کوي. ما تر هغه مهاله د عبدالکریم سروش کتابونه لوستي وو او د کیان له مقالو سره بلد شوی وم. دا چې ولې مې پام په خاصه توګه ابوزید ته واوښت، دلیل یې د کتاب د نندارتون په ترڅ کې زما له کتابخوان او پلټونکي ملګري ښاغلي سفید روان سره بحث و. ما ولیدل چې هغه ابوزید ته عجب رقم لېوال شوی دی. ګومان کوم دا تر هغه وخته یو څه مخکې و چې د کیان خپرونه دې له ابوزید سره د مرکې په سبب بنده شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هغه دمه مې فکر يو څه نرم شوی و او نور له داسې مفکرانو سره د مخالفت روحيه چنداني راکې پاتې نه وه. هلته مې د ابوزيد د «معنای متن» د کتاب تر څنګ چې تازه خپور شوی و، د سعيد عدالت نژاد يو کتاب هم ترلاسه کړ چې د ابوزيد د افکارو په اړه مقالې په کې وې. دا کتاب مې نظر لا جامع کړ او د ابوزيد د اثارو، د هغه د مفکورو او د هغه پر وړاندې د نيوکو په اړه يې زما معلومات زيات کړل.

دوه کاله وروسته چې د «نقد گفتمان ديني» کتاب ترجمه او خپور شو، زه د قراني علومو د تخصص د دورې محصل وم. د يوه درس په ترڅ کې د استاد په غوښتنه مجبور شوم چې د «معنای متن» کتاب نقد کړم. لا هم د ابوزيد او د هغه د همفکرانو په اړه د مخالفت کمزوري رګونه راکې ژوندي وو، په همدې وجه مې دغه کتاب چې پخوا مې لوستی و، يو ځل بيا په لا دقت او وسواس سره وارزاوه چې د انحراف هر تار چې په کې ومومم، رابرسېره يې کړم چې هم د بنسټپاله– سنتي ديني فکر د ارزښتونو په دفاع کې خپله توره وښيیم او هم استاد خوشحاله کړم.

کتاب مې په ځير ولوست او يادښتونه مې واخيستل. کله چې د ترتيب او ليکنې په اړه مې تحقيق پيل کړ، داسې څه مې پيدا نه کړل چې د مدعا په درد مې ولګېږي، د ابوزيد د تکفير لپاره مې هېڅ سند نه و موندلای. کتاب مې بيا وپلټه؛ خو بيا مې هم ګوتو ته څه رانه غلل. دا مې هم نه شول کولای چې د هغه خبرې تاويل کړم او د هغه د ويناوو په لوازمو پورې ونښلم او داسې خبرې هغه ته منسوبې کړم چې ده نه دي ويلي. دا کار له علمي روحيې سره نه جوړېده او د استاد خوشحالول هم دومره راته نه وو مهم چې د ځان د غولولو په بيه يې خوشحاله کړم.

عملاً هغه تحقيق چې ما بايد ليکلی وای، عقيم او خوار پاتې و؛ ځکه دا تحقيق مې نه د ابوزيد د ستاينې او تمجيد په موخه پيل کړی و نه په ناپيېلې روحيه؛ بلکې نيت مې دا و چې بې رحمانه نقد ته به يې وروداننګم چې هم ځان راضي کړم، هم استاد. حيران وم څه وکړم چې د ويلو لپاره خبره ولرم. ناچاره شوم، «نقد گفتمان ديني» کتاب مې سره له دې چې د بحث له موضوع سره يې نېغه رابطه نه وه، راواخلم او بيا يې ولولم او په کې يو څو شيان پيدا کړم چې د ابوزيد د نسبتاً علمي نقد لپاره يو څه جوړ کړم؛ خو هلته مې هم داسې څه ونه موندل چې د مسلمانو متکلمانو د علمي قواعدو په پام کې نيولو سره، هغه ورباندې تکفير شي. جالبه دا وه چې څه موده وروسته د خراسان د قلموال له يوه ليکوال ښاغلي مصطفی اربابي سره چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټپالنې فکرونه يې تر ما غښتلي وو، په دې اړه خبرې وکړې، ومې ليدل چې هغه هم «نقد ګفتمان ديني» کتاب لوستلی و او ويل يې چې د دغه سړي ځينې نيوکې سمې دي او موږ بايد د هغه له ټولو ويناوو سره د تعصب له مخې چلند ونه کړو. په دې وخت کې زما نظر د ابوزيد په اړه يومخ بدل شوی و، په تېره بيا چې د هغه بل کتاب «نظريه مجاز در نزد معتزله» مې هم له نظره تېر کړی و. البته هاغه مهال مې دغه بدلون چې د هغه تحقيق نتيجه وه، په ليکنه کې مې نه شو راوړلای؛ ځکه له دې سره به مې استاد خپه کېده او دې کار زما پر نمرو اغېز ښندلای شو.

دا هم د شرقي نړۍ له مصيبتونو څخه دی چې زموږ په پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په محيطونو کې د نظر هغومره پراخوالی نشته چې که د تحقيق نتيجه مو له وار له مخکې فرضونو سره سمه نه وي، بيا هم وشو کولای دغه نتيجه په اسانۍ سره خپره کړو. حال دا چې د علمي تحقيقاتو اصل دا دی چې څېړونکی دې هڅه وکړي له وار له مخکې فرضونو څخه ځان وژغوري او ذهن له مخکينيو دريځونو خالي کړي، بيا دې په څېړنه پيل وکړي. که دا کار پوره ممکن نه وي، هغه دې لږ تر لږه په رواني لحاظ دې ته چمتو کړي چې که د څېړنې په ترڅ کې داسې نتيجو ته ورسېږي چې له وار له مخکې فرضونو سره په ټکر کې وي، نو بايد ويې مني.

په ۲۰۰۸ کې چې مصر ته لاړم، د مصر د فلسفي ټولنې عمومي منشي ډاکتر حسن حنفي د دې ټولنې کلني کنفرانس ته چې د سکندريه په مشهور کتابتون کې جوړېده، وروبللم. د کنفرانس په لومړۍ ورځ يوه ويناوال پر حاضرينو زېری وکړ چې ډاکتر ابوزيد هم مصر ته راغلی او د کنفرانس په نورو غونډو کې به راسره وي. دا خبر راته په زړه پورې و چې له دې فرصته په استفادې سره له ابوزيد سره اشنا شم. په دويمه ورځ کې يوه ګړۍ ورسره کېناستم...

د بحث موضوع مو ختيځ رنسانس و او دا چې د ديني تفکر د اصلاح نقش او په دې برخه کې د پوهانو د کار اهميت څومره دی. د خبرو په ترڅ کې مې هغه دروغ تحقيق ته هم اشاره وکړه چې يو وخت کې مې کړی و او بيا په ايران، افغانستان او نورو اسلامي هېوادونو کې د ديني نوفکرانو خبره ياده شوه. هغه ښاغلی مجتهد شبستري ياد کړ او ويې ويل چې هغه له سنتي منابعو سره ښه اشنايي او پر هرمنوتيک بحثونو تسلط لري. ابوزيد وويل چې که له سنت (دود) سره ژوره بلدتيا ونه لرو، اصلاح کولای يې نه شو. دا خبره يې هم وکړه چې له شبستري سره اشنا دی او اروپا ته د هغه په يوه سفر کې دی هوايي ډګر ته مخې ورغلی و.

ده راته وويل چې دی فکر کوي په دې مبحثونو کې شبستري تر ډاکتر سروش زيات تسلط لري ځکه ښاغلی سروش په سنتي علومو کې تخصص نه لري. خو ما وويل چې سروش

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ډېرو خلکو څرګند اغېز ښندلی دی، ان تر يوه نسله پر زياتو وګړو. دا مې هم وويل چې سروش په خپلو بحثونو کې معتبرو منابعو لکه د امام فخر رازي تفسير کبير، د علامه طباطبايي الميزان او د شاه ولي الله دهلوي حجة الله البالغة ته اشاره کوي، له بحثونو يې څرګندېږي چې دی که په دې برخه کې تخصص نه لري نو ښه بلد خو ورسره دی.

ما پوښتنه وکړه چې ولې د اسلامي نړۍ وتلي متفکران په تېره بيا هغوی چې د ديني اصلاح په لاره کې هڅه کوي، په خپلو کې نړېوال پيوند سره نه جوړوي چې هم مشخص مرکز ولري او هم مشخص تريبيون او له دې لارې د افکارو د تبادلې ښه زمينه برابره شي. که دا کار وشي، بيا به د فردي کارونو پر ځای د جمعي خوځښتونو شاهدان واوسو چې په لا محسوس ډول زموږ د خلکو پر فکر او فرهنګ اغېز وغورځوي.

هغه وويل: دا چې د دې شخصيتونو هر يو خورا بوخت او په نړۍ کې خواره واره دي نو د داسې طرحې تطبيقول، ډېرې پيسې غواړي چې د حکومتونو له جدي ملاتړ او همکارۍ پرته امکان نه لري او حکومتونه ورته لېوالتيا نه ښيي.

ما وويل چې دغه کشمکشونه چې زموږ په نړۍ کې روان دي، د توندلاريتوب د خپرېدو خطر ځنې احساسېږي او د تمدنونو تر منځ واټن ورځ تر بلې زياتېږي؛ نو هغه حکومتونه چې عاقلانه فکر کوي، ممکن د داسې خوځښت هرکلی وکړي او ورته د يوه ضرورت په سترګه وګوري؛ ځکه دا فکري بهير کولای شي د تمدنونو تر منځ کړکېچ کم کړي او د خشونت او افراطپالنې پر ځای اعتدال او ارامي راولي.

ده وويل زما نظر دا دی چې حکومتونه خپلو هغو ګټو ته لومړيتوب ورکوي چې ژر حاصل ورکوي او زموږ په خبر له ليکوالو يې هم تمه دا ده چې د دوی د غوښتنو لپاره تريبيونونه شو او دا هغه څه دي چې موږ ورته غاړه نه ږدو. سياستوال رانه تمه لري چې د منبري دعوتګرو په نقش کې عمل وکړو نه د نظريه جوړونکو پوهانو په نقش کې. ده زياته کړه چې د ځينو نورو ستونزو تر څنګ چې زموږ په سيمو کې روانې دي او زموږ له ملي ګټو سره تړاو لري، دا عامل هم د فکر د خاوندانو او سياستوالو تر منځ د همکارۍ او تفاهم په لاره کې خنډ جوړوي.

ما يې خبره تاييد کړه؛ خو ومې ويل چې که مسألې ته د فقهې له عينکو وګورو او د مصالحو او مفاسدو د ارزولو په اړه قواعد په پام کې ونيسو، ممکن د اتمې هجري پېړۍ له فقيه ابن عبدالسلام سره همغږي شو چې وايي زموږ په دنيا کې خالصه چاره نشته، هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصلحت له ځان سره مفسده هم لري هماغسې چې هره مفسده یو مصلحت هم لري او موږ ناچاره یو چې ټول وارزوو او هغه څه غوره وګڼو چې مصلحت په کې زیات او مفسده په کې کمه وي. بیا مو سلا پر دې وشوه چې بل وخت به پر دې موضوع لا زیات بحث وکړو او عملي لارې چارې ورته وګورو.

څه موده وروسته د مصر فلسفي ټولنې ابوزید ته بلنه ورکړه چې په قاهره کې د دې ټولنې په مقر کې وینا وکړي. وینا یې په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې د ځینو مسلمانو او مسیحي متکلمانو تر منځ پر فکري راکړې ورکړې وه. په مجلس کې د قاهرې د پوهنتون یو استاد چې له ابوزید سره ښه نه و، هم ناست و. د ابوزید تر وینا وروسته چې د سوال او ځواب وار راورسېد، هغه ابوزید ته وویل: «نن دې په دې بحث کې ناخبره ګیر شوم، ما ویل ښایي بله داسې جنجالي موضوع به مطرح کړې؛ خو داسې ونه شول.» ابوزید وویل څېړونکی باید د موضوعاتو خوا ته له وار له مخکې فرضونو او قضاوتونو سره لاړ نه شي. واقعي څېړونکی پخپله هم نه شي کولای وار له مخکې پیشبیني وکړي چې د څېړنې نتیجې به یې چېرته ورسېږي... وروسته په ارامه فضا کې خبرې اترې وغځېدې. څه چې هلته یې زما پام ځان ته واړاوه، له یو بل سره د پوهانو چلند و. ډاکتر حسن حنفي د ابوزید تر خبرو وروسته وربانديې ظریف نقد وکړ او ځینو ټکو ته یې اشاره وکړه، په دې وخت کې یې پر شونډو مالګینه موسکا خوره وه او د خبرو له طرزه یې ښکارېده چې ابوزید ته احترام او لېوالتیا لري. ابوزید هغو نیوکو ته په سړه سینه غوږ ونیو، بې له دې چې څه غبرګون وښیي. ومې لیدل چې د نظر اختلاف د زړونو د لرېوالي سبب نه دی شوی. ما دغه شی د انسانانو په ژوند کې د علم تر ټولو مبارکه مېوه وګڼله.

تر هغې وروسته موږ له یو بل سره د لیکونو رابطه لرله. یو ځل مې ورته ولیکل چې دلته په پوهنتونونو کې د تعامل اخلاق ښه نه دي. زیات شمېر استادان پر دې سربېره چې په څېړنیزو موضوعاتو کې د نوښت او د نویو موضوعاتو د مطرح کولو اجازه نه ورکوي، له محصلانو سره بد وضعیت کوي او د هغوی انساني کرامت تر پښو لاندې کوي.

هغه راته ولیکل: «دا خواشینونکې او د شرم خبره ده ... خو خپله اراده به سستېدو ته نه پرېږدو؛ ځکه څه چې رښتیا وي، په اخر کې به یې رښتینوالی راڅرګند شي. ښکاره ده چې د ډېرو استادانو چلند له تکبر سره مل دی چې دا له حقیقي استاد سره نه ښایي... خو ته به خپلې څېړنې او مطالعې په علمي روحیه کوې او په کار پسې به پاتې کېږې. لیکنې وکړه، خپرې یې کړه، خدای به درسره مرسته وکړي او د حقیقت د پلټنې روحیه به درکې غښتلې کړي».

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولنه کې له ابوزید سره مخالفت او موافقت روان وو. یو ځل د سوریې د یوه محصل د دکتورا د دفاع مجلس ته د قاهرې پوهنتون ته وربلل شوی وم. د تېزس موضوع یې د قران مجید د نویو تعبیرونو نقد و. لیکوال د دریو اشخاصو نظرونه د خپل کار محور ګرځولی و: محمد ارګون، نصر حامد ابوزید او محمد شحرور. زه منتظر وم چې وګورم دغه نقد په کوم میتود او میکانیزم ترسره شوی دی. هغه چې د خپل کار لنډکی ګزارش وړاندې کړ چې هماغه د دغو دریو تنو د نظرونو نقد او ردول وو، ومې لیدل چې استاد او محصل دواړو مخکې له مخکې سره توافق درلود چې څه به وایي او څه به لیکي. د مجلس فضا د محصل په ستاینو ډکه وه چې پر دغو دریو کسانو یې حمله کړې وه. یوه استاد چې له خبرو یې احساسات ورېدل، وویل د دغو بهیرونو نقد کول دین ته تر ټولو لوی خدمت دی چې په دې شرایطو کې یې کولای شو او تر ټولو ارزښتناکه جهاد دی. د غونډې فضا سخته عاطفي او له احساساتو ډکه وه. هلته هېڅوک نه و چې د مقابل لوري استازولي وکړي یا وشي کولای یا وغواړي د هغوی دفاع وکړي.

په ۲۰۰۹ کې چې ابوزید په یوه کنفرانس کې د ګډون لپاره کویت ته وبلل شو، ناڅاپه د دې هېواد په هوایي ډګر کې یې مخه ونیول شوه او دې ملک ته یې د ورننوتو مخنیوی وشو. دې موضوع د عربي نړۍ د ډېرو روښانفکرانو غوسه راوپاروله. ځینو عربي او بهرنیو رسنیو دا موضوع راواخیسته. د بي بي سي عربي څانګې په یوه ګردي مېز کې د دې کار موافقان او مخالفان سره کېنول چې دلیلونه یې روښانه شي. د هغوی له خبرو سرې داسې پوهېده چې بنسټپالو ډلو د کویت پر دولت فشار راوړی چې د ابوزید ویزه لغوه کړي او دې هېواد ته یې د ننوتو مخه ونیسي. خو هغه د ویډیو کنفرانس له لارې خپله وینا واوروله او خپلې خبرې یې د هغو وګړو غوږونو ته ورسولې چې هورې ورته منتظر وو، د بنسټپالو هڅې ناکامې شوې.

دغه دعوې د ابوزید تر وفات وروسته هم دوام وکړ. د هغه د وفات په ورځ کې په جریدو او خصوصي او نیمه خصوصي محفلونو کې مختلف درېځونه او غبرګونونه څرګند شول. ځینو د هغه په وفات خوشحالي وکړه او د هغو ورځو په څېر چې دی ژوندی و، د هغه افکار یې نقد کړل. ځینو نورو په ویرجن ډول هغه وستایه او د داسې شخصیت له لاسه ورکول یې نه جبرانېدونکې ضایعه وبلله.

چا چې د هغه ښه نه ویل، درګرده یې هماغه خبرې تکرارولې چې هر وخت پر دیني نوفکرانو د حملې پر وخت ویل کېږي. دوی به له دینه د انحراف، د اسلام په دښمنانو پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تړاو، د پردیو د فرهنګ متابعت او داسې نور تورونه پورې کول. هغوی چې د دوی په مقابل کې دفاع کوله، دې تورونو ته ځوابونه وویل. د ابوزید یو دوست چې پخپله یې هم په الازهر کې درس ویلی و او بیا د نورو زده کړو لپاره هالند ته تللی و، په الاهرام ورځپاڼه کې ولیکل: «د تحصیل پر مهال په فارغو وختونو کې په کراتو د ابوزید کور ته ورغلی او ساعتونه مو سره خبرې کړې دي. د هغو خبرو برخلاف چې د ده په اړه ویل کېږي، دی له صادقانه دینداری، سره ښه جوړ و، څه چې دی ځنې ځورېده، کاذبه او نمایشي دینداري وه چې نن سبا په اسلامي نړۍ کې ډېره ده. ابوزید په خپل کمپیوټر کې د هالند په افق د اذان وختونه تنظیم کړي وو چې د هر لمانځه پر مهال د اذان غږ واوري. یو ځل چې د ده په کور کې وو، همدا چې له کمپیوټره یې د اذان غږ اوچت شو، ده وویل په خدای قسم چې په مصر کې د خپلې سیمې د جومات په اذان پسې خپه شوی یم.»

ځینو نورو په تحقیق کې د ابوزید پر برلاسي او د ده پر ارزښتناکو قلمي کارونو ټینګار کاوه او د داسې ملکونو پر حال یې خواشیني وښوده چې د خپلو پوهانو په قدر نه پوهېږي. مشهور مصري لیکوال جابر عصفور ولیکل چې د دې کسانو په قدر هغه کسان پوهېدای شي چې د علمي کار په ارزښت پوه شوي وي. په هغو ځایونو کې چې د پوهې او فکر ارزښت نه وي معلوم شوی، د داسې کسانو مقام هم په ښه توګه نه ټاکل کېږي. یوه بل ولیکل چې ابوزید سره له دې چې په خپل هېواد کې د علمي کار له ادامې سره شدیده علاقه درلوده؛ خو له دې فرصته محروم و او د ځینو ستونزو په وجه مجبور و په تبعید او پردیس کې ژوند وکړي او بخت یې یوازې همدومره و چې تر مرګ وروسته یې جسد په خپله خاوره کې ښخ شي.

یو له هغو موردونو څخه چې د ابوزید د مړینې پر مهال یې زما پام ځان ته واړاوه دا و چې د غې حادثې چنداني پراخ انعکاس نه درلود او یوازې قلموال او د پوهې خاوندان د ده پر مرګ خبر شول او اهمیت یې ورته ورکړ او همدوی وو چې د ابوزید جنازې ته راغلي وو. هغه مهال د یوه عرب لیکوال خبره رایاده شوه چې کلونه وړاندې یې چېرته لیکلې وه چې په دې ټولنو کې که یو فلمي ستوری یوه ښار ته ورشي یا د یوه فوټبالیست حیوان ناروغ شي یا کومه ممثله له مېړه سره لانجه وکړي، ټول پرې خبرېږي او اکثره وګړي ورباندې خبرې کوي او د ټولنې ذهن او اروا ورسره ښکېل کېږي؛ خو که یو زبردست او کم ساری عالم او لیکوال د دوی له منځه لاړ شي، د وګړو په منځ کې هېڅ انعکاس نه مومي، دا پېښه د اکثرو لپاره دومره بې اهمیته وي چې ګواکې هېڅ هم نه دي پېښ شوي او هېڅوک فکر نه کوي چې څومره نوره موده باید تېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي چې يو بل ځوک له دومره پوهې سره راپيدا شي او د فکر او فرهنګ پر ودانۍ يوه نوې خښته کېږدي او د فرهنګ برم ته پاينښت او دوام وروبخښي.

ابوزيد د بل هر عالم په څېر د مسلمانانو د فکر او ديني ميراث په اړه او هم په نورو برخو کې ځينې نظريې لرلې. هغه هېڅکله خپل افکار له تېروتنو پاک نه ګڼل او نه د هغه همفکره وګړو داسې تصور درلود. په دې لحاظ دا کومه خبره نه ده چې د هغه افکار دې نقد شي او د هغه د بحثونو ارزښت وارزول شي؛ ځکه دا پخپله د فکر له زېږېدو او ودې سره مرسته کوي او د علم او فرهنګ برم زياتوي؛ خو دا د منلو وړ نه دي چې ځوک دې د نقد پر ځای کنځل، د تحليل پر ځای تکفير او د بحث او خبرو اترو پر ځای اوتې بوتې وو ايي. دا هغه څه دي چې لا تر اوسه هم شرقي ملکونه ځنې نه دي خلاص.

د ابوزيد د مړينې پر ورځ، بي بي سي راډيو راسره مرکه وکړه او پوښتنه يې وکړه چې په اسلامي ټولنه کې د ابوزيد مقام څرنګه و؟ ومې ويل زما په نظر د هغه او د نړۍ د دې برخې د نورو پوهانو کيسه د لاهوري اقبال په دې شعر کې رالنډېږي چې وايي:

چو رخت خويش بر بستم از اين خاک    همه گويند با ما آشنـــــا بود
و ليکـــن کس ندانست اين مســـــافر    چه گفت و با که گفت و از کجا بود

ژباړه:

له دې دنيا چې لاړ شم، واړه وايـــي    چې دی مې يار و، دی مې اشنـــا و
خو يو هم پوی نه شو چې دې مسافر    څه يې وې، چا ته يې وې، دی د چا و

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تر ساړه جنګ وروسته

## زموږ په سیمه کې مذهبي بنسټپالنه

د پانګوالۍ او سوسیالیستۍ بلاکونو ترمنځ نه پخلاکېدونکې دښمني د ساړه جنګ له مهمو ځانګړنو څخه وه. په دې دښمنۍ کې د حریف د ماتولو لپاره د هرې وسیلې او اوزارو استعمال روا ګڼل کېده. د نړۍ په هغه برخه کې چې د قدرت له دغو دوو بلاکونو څخه لرې پرته وه او له یوه سره یې هم ښکاره اړیکې نه لرل، مختلفو ډلو هلې ځلې کولې چې خپلې ټولنې ته بل رنګه او تر یوه حده بهتره برخلیک وټاکي. دغو ډلو یا غوښتلي یا ناغوښتلي دا روا ګڼله چې د دغو بلاکونو یوه سره علاقه وښیي او یا ورسره په تړون کې ورګډ شي، حتی که دا کار په تکتیکي حد کې هم وي. ځینې مذهبي ډلې چې د سیاست سودا ورلوېدلې وه او غوښتل یې د خپل هېواد په سیاسي بدلونونو کې نقش ولري، په همدې ډلو کې راتلې. سره له دې چې دوی د ایدیالوژۍ له مخې د نوي تمدن له هر څه سره مخالفې وې؛ خو بیا یې هم بده نه ګڼله چې د پانګوالۍ بلاک غیرمستقیم ملاتړ له ځانه سره ولري.

غربي نړۍ چې په سر کې یې متحده ایالتونه وو په دې خبره پوهېدله او د سوسیالیزم د کمزوري کولو لپاره یې په دې کې ستونزه نه لیدله چې د دغو مذهبي ډلو تر شا ودرېږي او تقویه یې کړي. دا کار یې ځکه کاوه چې له سوسیالیستي بلاک سره د مبارزې پېټی په یوازې سر پورته نه کړي، په تېره بیا د انساني تلفاتو پېټی چې په غربي نړۍ کې د درېیمې نړۍ برخلاف خورا درونډ پېټی ګڼل کېږي؛ ځکه هلته د انسان ژوند ته اهمیت ورکول کېږي.

همدا خبره وه چې په افغانستان کې د متحدو ایالتونو او بنسټپالو مذهبي ډلو تر منځ اړیکې ټینګ شول. د دې ماجرا پیل هاغه مهال وشو چې د پاکستان سیکولروزمه ولسمشر ذوالفقار علي بوټو له متحده ایالتونو سره د تړون پر اساس، په دې لټه کې شو چې په افغانستان کې خپل نفوذ پراخ او د محمد داوود حکومت کمزوری کړي. محمد داوود چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغاني کمونيستو ډلو په همکارۍ واک ته رسېدلی او د شوروي اتحاد تاييد سره و او په عين وخت کې يې جګړ ربېل، د پاکستان اندېښنه يې راپارولې وه. دا د متحدو ايالتونو له عمومي سياست سره اړخ لګاوه چې له مخې يې بايد په سيمه کې د شوروي اتحاد ملګري کمزوري شوي وای. بوټو پوهېده چې له بنسټپالو مذهبي ډلو سره اړيکي ټينګول، په افغانستان کې د پاکستان ستراتيژيکو هدفونو ته لاره هواروي او دا کار به د متحدو ايالتونو تاييد هم له ځانه سره ولري. ده د دې ارتباط د تأمينولو لپاره د پاکستان له بنسټپالو مذهبي ډلو څخه په تېره بيا له جماعت اسلامي چې ظاهراً د اسلام آباد په اپوزيسيون کې شامل و، ګټه واخيسته.

په افغانستان کې د کودتا له لارې د کمونيستي رژيم واکمنېدل او بيا چې کمونسيتانو په خشونت او تاوتريخوالي لاس پورې کړ او لږ وروسته د شورويانو د سره پوځ يرغل، پاکستان ته طلايي چانس په لاس ورکړ چې هم د کابل د دولت په مخالفانو کې خپل نفوذ تقويه کړي او هم غربي نړۍ او خصوصاً متحده ايالتونو ته ځان مهم ښکاره کړي او په دې لاره پاکستان ته د لويو مرستو بهير ورمات شي.

متحده ايالتونه پوه شول چې شورويانو ته ښه لومه جوړه شوې ده؛ نو پر دې يې غور وکړ چې څنګه د شوروي پر ضد د جګړې اور ته لمن ووهي. لږ وروسته د غرب د ټرونوالو په تېره بيا د عربي هېوادونو پاملرنه هم دې قضيې ته واوښته او د عربو د مالي مرستو سېلاب د پاکستان خوا ته راوبهېده. د دې مرستو يوه برخه افغان مجاهدينو ته رسېده او بله برخه يې پر بنسټپالو مذهبي تعليماتو باندې لګېدله.

په دې وخت کې افغان ځوانانو ته د ديني مدرسو تعداد په بې ساري ډول زيات شو، ځای ځای کې نيم دوديز- نيم عصري تعليمي مرکزونه هم جوړ شول، د مجاهدينو د مختلفو ګوندونو او هغو موسسو له خوا چې ظاهراً د دوی مرستې ته راغلې وې، په لوړ تيراژ داسې خپرونې چاپېدلې او وړيا ويشل کېدې چې محتويات يې د بنسټپالنې وو. ايدیالوژيکې رسالې او کتابونه هم پربمانه چاپېدل او ويشل کېدل. عربو او پاکستاني بنسټپالو ډلو خپلې تجربې له افغان ځوانانو سره په منظمه توګه شريکولې. د مجاهدينو د مرستې په نامه ګڼې خيريه موسسې جوړې شوې چې د بنسټپالو سياسي – مذهبي فعاليتونه يې تر پوښښ لاندې راوستل. هلته هم القاعده ته او هم د پاکستان استخباراتي سازمان ته د جنګياليو د پوره کولو لپاره کافي کسان پيدا شول چې وروسته د طالبانو لښکر ځنې جوړ شو، هماغسې چې تر دې مخکې سپاه صحابه، لشکر طيبه او کشميري جنګيالي ورنه راټوکېدلي وو. په هغه پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چې د متحده ایالتونو په اشاره جوړ شوی و، لومړی د مصر ولسمشر انور سادات رامخته شو او د افغانستان له مجاهدينو سره يې مرستې وکړې. سعودي عربستان، کویټ او خلیجي ملکونه هم ورسره یوځای شول. دې ملکونو پر خپلو مرستو سربېره، نورو بشرپالو مرستو او خیریه موسسو ته هم زمینه برابره کړه چې د دولتونو تر څنګ په دې چاره کې برخه واخلي. دغو ملکونو غوښتل چې له دې کار سره یو خو خپل مصرفونه کم کړي او یو څه لګښت د نورو په غاړه واچوي، له بلې خوا يې غوښتل خلک هم په دې بهیر کې شریک کړي او داسې وښيي چې د اسلام او اسلامي امت په مقابل کې خپله ديني وجيبه ادا کوي. بل منظور يې دا و چې د مذهبي ځواکونو انرژي له کوره د باندې ولګوي چې په کور د ننه ورته سرخوږی جوړ نه کړي، حقيقت دا دی چې دوی یو ډول له ځانه مزاحمت لرې کاوه.

په پاکستان کې د مجاهدينو او افغان مهاجرانو لپاره جوړ شويو سازمانونو او موسسو له قوي مذهبي روحيې سره فعاليت کاوه او دوه هدفونه يې لرل، له يوې خوا يې د افغاني ټولنې له يوې برخې سره بشرپاله او خيريه مرستې کولې او له بلې خوا يې د خلکو په منځ کې بنسټپالنه رواجوله چې په افغاني ټولنه کې د دوديز او سنتي اسلام ځای ونيسي.

په هغو شرايطو کې بشرپالې مرستې زموږ د ټولو وګړو لپاره خو نه، مګر د هغو وګړو لپاره چې په جنګونو کې يې زيان ليدلی او پاکستان ته مهاجر شوي وو، ګټورې وې او د هغوی ځينې ببرنۍ ستونزې يې ورحل کولې او هغوی ته يې دا موقع په لاس ورکوله چې خپل اولادونه د پاکستان مدرسو، کورسونو او پوهنتونونو ته ولېږي. د ټولنې دغه برخه چې عمدتاً کليوال وګړي وو، په دې وخت کې دويم نسل پاله چې دا نسل د کليوال فرهنګ او دوديزو يا نيمه عصري زده کړو په ګډولې سمبال و. د افغانستان د مذهبي بنسټپالو دويم نسل په همدې دوره کې وروزل شو. دوی د متحدو ايالتونو او شوروي اتحاد تر منځ د ساړه جنګ مستقيم محصول وو.

د دې تر څنګ، پر دغو مرستو تکيې، زموږ په خلکو کې د مفت خوري، توقع، تمه او خارجي مرستو ته د سترګو نيولو فرهنګ باب کړ. له دې سره د هغو بهيرونو لپاره چې زموږ په ملک کې يې د نفوذ نيت درلود، لاره تر پخوا هم زياته هواره شوه. تر دې مهمه دا وه چې په همدې دوره کې د فساد او اختلاس تخم وکرل شو؛ ځکه د سياسي رهبرانو، نظامي قوماندانانو او تنظيمي چارواکو لاسونو ته بې شمېره اوبو راوړې پيسې ورتلې او چا ورسره حساب کتاب نه کاوه. دا پديده چې په لومړي سر کې يو عارضي وضعيت ګڼل کېده، د وخت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرېدو سره د ټولنې د واقعیت په یوه لویه برخه بدله شوه. د وروستیو کلونو مالي فساد په حقیقت کې د هماغه بهیر ادامه ده چې اوس په لا لویه کچه ترسره کېږي. جنایي – مافیایي اقتصاد چې د مشروع دولتي اقتصاد تر څنګ یې نور واړه دولتونه جوړ کړي دي او د موثر دولت د جوړېدو د لارې خنډ کېږي، د بنسټپالو د تمویل عمده برخه وه چې پیل یې په هماغه کلونو کې شوی و.

په هره توګه، له دې جانبي عوارضو ورهاخوا د بنسټپالنې ودې له هماغه پیله تصاعدي بڼه لرله. سره له دې چې هاغه مهال د دیموکراتیکې نړۍ ځینې بشرپالې موسسې هم فعالې وې؛ خو د هغوی پروګرام ایله همدومره و چې د جنګیالیو ملاتړ وکړي او له شوروي سره د مبارزې په جبهه کې د جبهې تر شا مرستې ورسره وکړي. دوی د فرهنګې ودې، له بیسوادۍ سره د مبارزې، د فکري مقولو د مطرح کولو او د دیموکراسۍ د فرهنګ د ودې او له مډرنې نړۍ سره د خلکو د بلدولو هېڅ پروګرام نه درلود.

په دې دوره کې د مطرح شویو فکري مقولو او مفاهیمو مطالعه جوته راښیي چې مډرنې او اصلاح غوښتونکې مفکورې د خشونت محوره بنسټپالو مفاهیمو په پرتله په نشت حساب وې. د شویو مرستو د حجم په پام کې نیولو سره او دا چې دا مهال د افغاني ټولنې لپاره د زړو ګردونو د ځنډلو زمینه برابره شوې وه، دا موضوع خورا مهمه وه؛ خو هاغه مهال چا ورته پام ونه کړ. متحدو ایالتونو او ټرونوالو یې همدا بس ګڼل چې خپل پیاوړي حریف ته سخت ګوزارونه ورکړي... او دا چې تر هغې وروسته به څه کېږي، ورته مهم نه وو. د دې معنا دا ده چې د بنسټپالنې خطر یې له پامه غورځولی و.

له هماغه شېبې چې شوروي اتحاد ماتې وخوړه او پرېکړه وشوه چې عسکر به یې له افغانستانه وو ځي او تر هغې وروسته چې د سوسیالیزم د کمپ د ړنګېدو نښې ښکاره شوې، افغانستان د غرب لپاره خپل اهمیت له لاسه ورکړ او پاکستان د هغه د واکمن وکیل په توګه دا فرصت وموند چې خپل پروګرامونه تطبیق کړي او هغه خوبونه پوره کاندي چې د دې هېواد جنرالونو لا پخوا لیدلي وو.

جالبه دا ده چې غربیانو او متحدو ایالتونو ته ځرګنده وه چې د جنرال ضیا الحق د رژیم ماهیت څه دی. دوی لیدل چې د دوی تر سیوري لاندې د پاکستان په پوځ او استخباراتو کې بنسټپاله روحیه غښتلې کېږي او د دې دوو مهمو دستګاوو په مهمو چوکیو کې توندلاري خلک ځای پر ځای کېږي او هره ورځ د دیني مدرسو شمېر لا پسې زیاتېږي او په دې مدرسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې خورا زیات کسان روزل کېږي، بې له دې چې سبا یې چا ته روښانه وي. د ځینو شنونکو په باور غربي هېوادونو او ورسره متحده ایالتونو له فکري او فرهنګي مقولو سره اوزاري چلند وکړ او دې ته یې هېڅ اهمیت ورنه کړ چې د خو پاکستاني جنرالانو لاسونو ته د افغانستان غورځول او میدان عربي – پاکستاني بنسټپالو ته خوشې کول او د افغانستان ګټو ته ژمن د دیموکراتیکو ځواکونو نه رامنځته کول، به څه ګډوډۍ رامنځته کړي.

هغه مهال چې په کابل کې د مجاهدینو تر منځ بربادونکې جګړې نښتې وې او هېواد مو د بې نظمۍ او ګډوډۍ په سین کې لاهو و، متحدو ایالتونو او ملګرو یې د اندېښنې تر ځرګندولو پورته هېڅ ونه کړل او دې ته یې پام نه شو چې دا خاوره به د توندلارو په ځاله بدله شي. امریکا د داسې یوه ملت د برخلیک پر وړاندې بې تفاوتي خپله کړه چې په خپلو انساني تلفاتو یې د هغې ځواکمن حریف په ګونډو کړی و. دا داسې لویه تېروتنه وه چې تاریخ ورته ګرانه بیه وټاکله.

دا چې طالبانو د افغانستان له شرقه تر غربه پورې غورځې پرځې کولې، دا چې د بنسټپالنې نیالګي حاصل ورکړی و او د میوې تریخ خوند یې د افغانستان مېرمنو، ځوانانو، فرهنګیانو او ټولو څکه، نه خو امریکا ته اهمیت درلود او نه یې ملګرو ته. که د غربي نړۍ د بشر د حقونو د ځینو ډلو په تېره بیا د امریکا د ښځو له حقونو د دفاع د سازمانونو هلې ځلې نه وای، د بېل کلنټن دولت به د هغه د جمهوري ریاست په لومړۍ دوره کې د پاکستان او سعودي عربستان په هڅونه، دې ته تیار شوی و چې تر ټولو تورزړی او سر نا خلاصی بنسټپالی رژیم (د طالبانو رژیم) چې د خورا خطرناکو بنسټپالو پټنځای و، په رسمیت وپېژني. خو د امریکا د ټولنې د یوې برخې اخلاقي وجدان وکولای شول چې د امریکا د سیاستوالو مخه ونیسي.

د غبرګو برجونو چاودنې د نړۍ د دې زبرځواک غرور مات کړ او د دې هېواد د سیاستوالو له سترګو یې خوب والوځاوه. دوی په لومړي ځل متوجه شول چې له بنسټپالنې سره اوزاري چلند او د هغې پر عواقبو سترګې پټول، به چېرته رسېږي.

ناڅاپه د بنسټپالنې په اړه د متحدو ایالتونو دریځ ۱۸۰ درجې بدل شو او په لومړي ځل د هغې پر وړاندې سم دم جنګ اعلان شو او له نورو هم وغوښتل شول چې خپل حساب دې معلوم کړي چې له بنسټپالو سره درېږي، که له دوی سره.

د دریځ دغه بدلېدل ډېر خلک خوشحاله کړل. په تېره بیا د افغانستان خلک چې تر ټولو زیات رنځ یې ګاللی و، خوشحاله شول. دا چې د بنسټپالو ډلو د ختمولو پخه اراده شوې وه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ پراخه برخه په دې اراده کې شريکه وه، دا هيله يې وزېږوله چې د ديموکراسۍ څلورمه څپه به هم روانه شي او استبداد ځپلي محيطونه به په خپل معاصر تاريخ کې د نويو ورځو شاهدان اوسي.

خو د وخت په تېرېدو سره جوته شوه چې که چېرې د دريغ بدلول د احساساتو له مخې وي، نه د محاسبې او د درک له مخې، يو ځای ته به هم نه رسېږي. هغه کړنې چې لنډمهالې ژر تېرېدونکې ګټې يې مطلب وي، تل پاتې او دوامدارې نتيجې نه ورکوي. د ترهګرۍ – چې نن سبا د بنسټپالنې مهم اړخ دی – پر ضد مبارزه هله مناسبې نتيجې ورکولای شي چې د بنسټپالنې، ترهګرۍ او خشونت څرګند تعريفونه ولرو او هغه کسان چې د دې شيانو پر ضد جنګېږي، پر دې تعريفونو سره اتفاق وکړي.

دا ځل هم د ترهګرۍ او بنسټپالنې پر ضد د متحدو ايالتونو مبارزه يو بعديزه مبارزه پاتې شوه چې تمرکز يې د افغانستان په دننه او د ډيورند کرښې په سرحدي سيمو کې پر وسله والو ډلو و. هغه کسان چې په تېرو دېرشو کلونو کې زموږ له پولو هاخوا د ترهګرو او بنسټپالو اصلي او ځواکمن روزونکي وو، خوندي پاتې شول؛ بلکې يو ځل بيا ورسره د څو ميليارډ ډالرو مرسته وشوه. په افغانستان کې د ننه هم د بنسټپالنې د ريښو وچولو ته چندانې توجه ونه شوه. د ټولنې فکري او فرهنګي پراختيا ته کار ونه شو، د هېواد فرهنګ ته د مډرنو مفاهيمو د معرفي کولو هڅه ونه شوه؛ بلکې په مختلفو ډولونو بنسټپالو ډلو ته د فعاليت او مانورې مجال ورکړل شو او بنسټپالنه پر خپل ځای پاتې شوه.

اوس چې د نړېوالې ټولنې او امريکايي ځواکونو د وتلو خبرې کېږي او د بنسټپالنې ستونزه لا حل شوې نه ده، د دې بهير په بدن کې به نوې ساه چلېږي او دا باور به ورته پيدا کېږي چې څوک يې نه شي ماتولای. دې سره به د غربي نړۍ د ديموکراسي غوښتنې شعارونه هم تر پوښتنې لاندې راشي.

په افغانستان کې په دې دېرشو کلونو کې د بنسټپالنې له ستونزې سره د اسې تعامل، ناکامه او له زيانه ډک سياست و چې هم يې د سيمې ديموکراسي پلوو ځواکونو ته زيان اړولی دی او هم غربي هېوادونو ته. له بلې خوا دې کار د تمدنونو او فرهنګونو تر منځ لانجه لا زياته کړې ده او د ډېرو ملکونو ثبات ته يې خطر پېښ کړی دی. د دې وضعيت له نتيجو څخه يوه يې په غرب کې له اسلامه زياتېدونکې وېره او په اسلامي ملکونو کې غربي ضد روحيه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



متحده ایالتونه او نور ملګري یې بلکې د نړۍ ټول دیموکراسي پلوه ځواکونه کولای شي او دا یې اخلاقي وظیفه ده چې د بنسټپالنې ټولو ډولونو ته هغه که اسلامي وي، که مسیحي که یهودي، د یوې جدي ستونزې په سترګه وګوري او د هغې د مهارولو لپاره او د دې لپاره چې معاصرې ټولنې د بنسټپالنې د تبلیغاتو له لومې وژغوري، پلان جوړ کړي او د تفاهم، ازادي غوښتنې او یووالي لپاره لاره هواره کړي.

دا کار هله کېدای شي چې د ترقي پسندو افکارو خپرولو ته ژمن بنسټونه رامنځته شي او نړیوال ارزښتونه چې بشر یې د خپل اجتماعي تکامل په بهیر کې تر لاسه کړي دي، د سیاست له لاسه لرې وساتل شي چې سیاست ورسره لوبې ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په افغانستان کې د ديني مرجعيت د بيارغاونې

### يوه لاره

افغانستان مذهبي هېواد دی. د دې ملک اکثره وګړي پر ديني اعتقاداتو باور لري او اجتماعي فرهنګ يې له ديني ارشاداتو سره ټينګه رابطه لري. هر تحول چې په دې خاوره کې دين له پامه وغورځوي، ناکام به شي. د دې ادعا د ثبوت لپاره ګڼ دليلونه لرو چې په خپل ځای کې يې مطرح کولای شو.

په تېرو دېرشو کلونو کې چې د دې ملک وګړو ډېرې سرې تودې ليدلي دي، دين د ټولو عناصرو په منځ کې تل تر ټولو موثر عنصر پاتې شوی دی. هغو کسانو چې غوښتلي يې دي د دې وطن پر وضعيت اثر وغورځوي، له دې عنصر څخه يې په مهارت کار اخيستی دی، که يې باور ورباندې درلودلی دی او که هسې د اوزار په سترګه يې ورته کتلي دي.

د دين عنصر د دوه تېغه تورې په شان دوه طرفه کار کوي، هم يې د ښو او بې تاوانو هدفونو لپاره استعمالولای شو او هم يې د تباهۍ او زيانونو په لاره کې. دا چاره يوازې په افغانستان پورې نه ده محدوده؛ بلکې په لرې نژدې ټولنو کې يې هم شواهد موندلای شو.

دين د ملتونو په ژوندانه کې يوازينی موثر عنصر نه دی او عمل يې د نورو موثرو عناصرو لکه اقتصادي، اجتماعي، سياسي، فرهنګي او تاريخي عناصرو په عمل، ماهيت، نوعيت او نقش پورې توپير کوي. هغه مثبت يا منفي بدلونونه چې په مختلفو ټولنو کې راغلي دي، د همدغو عناصر تر منځ د تعامل په پام کې نيولو سره، ښه درک کولای او تفسيرولای شو.

دين د هرې ټولنې وګړو ته چې دغه عنصر يې په عقلانيت سره کارولی دی، هوساينه، عاطفه او احساس ورډالۍ کړي دي او هره ټولنه چې دا توان يې نه دی لرلای، دين په کې د لويو او پراخو ګډوډيو سبب شوی دی.

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ديني فرهنګ او دودونو په برخه کې تر ټولو مهم شعوري کار چې ټولنو کړی دی، د دې شيانو اصلاح کول دي. د دين اصلاح يوازې د تفسيرونو او ورپورې تړليو انګېرنو په اصلاح کولو ممکن وي. دين له هغو تفسيرونو او انګېرونو د باندې چې پېروان يې لري او څرګندوي يې، نشته. د دين اصلاح يعنې د ديني مفکورې اصلاح او په نتيجه کې يې له دينه د رازېږېدلو فرهنګي پديدو اصلاح چې د وګړي او ټولنې سلوک رانغاړي.

د ديني فرهنګ او مفکورې اصلاح اوږدمهاله پروسه ده چې يوه برخه يې د سمونپالو په ارادې او شعور پورې اړه لري او بله يې د هغو زمينو په فرهنګي، اجتماعي، تاريخي، چاپېريال او ځای زمان په شرايطو پورې چې دا پروسه په کې عملي کېږي.

که سمونپال په دې برخه کې په علمي تيوريو باندې ولاړ معرفت ولري، دا پروسه به لا په کاميابۍ سره پر مخ لاړه شي او که د دوی اراده يا پوهه په لازم حد کې نه وي، بايد يوازې تاريخ ته په تمه کېنو چې د تصادف له مخې لاره چپ کړي او که داسې ونه شي؛ نو بايد د ديني فرهنګ او فکر د محسوسې اصلاح تمه ونه لرو.

هغه کسان چې د دين د اصلاح په برخه کې محسوس او اغېزناک کارونه کولای شي، په څو ډلو وېشل کېږي:

- هغه وتلي کسان چې د فکر او فرهنګ په برخه کې فعالانه عمل کوي او د توليد توان لري،
- هغه دولتي چارواکي چې اساسي هدف يې د موثر او روښانه راتلونکې نظام جوړول وي،
- د دولت ځينې بنسټونه چې د ځينو دولتي چارواکو له خوا اداره کېږي،
- ځينې ازاد خصوصي بنسټونه چې د مدني ټولنې د ودې سېمبولونه دي،
- او بالاخره هغه رسنۍ چې د راديو، تلويزيون او يا چاپي رسنيو له لارې مخاطبان لري.

البته په دې پروسه کې د هر يوه برخه د هغه له امکاناتو او ظرفيت سره متناسبه وي.

په افغانستان کې د ګڼو نورو اسلامي ټولنو په څېر جومات د دين تر ټولو مهم بنسټ دی. ډېر مسلمانان هره ورځ جومات ته تګ راتګ کوي او اقلاً په اونۍ کې يو ځل هغو خبرو ته غوږ نيسي چې له منبره کېږي. د راديوګانو او تلويزيونونو په راپيدا کېدو سره، نوي منبرونه هم رامنځته شوي دي. دغه منبرونه هم غالباً اونۍ کې يو ځل او په ځينو خاصو ديني موسمونو کې هره ورځ خپلو مخاطبانو ته هماغه پيغام ورکوي چې له منبره يې ورکوي. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حساب د ټولنې لويه برخه هغه پيغامونه اوري چې د دين په نامه ورته ورکول کېږي. جوماتونه عمدتاً په حج او اوقافو وزارت پورې اړه لري؛ خو مډرن منبرونه يعنې رسنۍ په اطلاعاتو او فرهنګ وزارت پورې.

ځوک چې په جوماتونو او منبرونو کې راځرګندېږي او خپله مذهبي وظيفه ترسره کوي، له مدرسو او يا احياناً د شرعياتو له پوهنځيو راځي. مدرسې عمدتاً د معارف وزارت تر نظر لاندې وي او د شرعياتو پوهنځي د لوړو زده کړو په وزارت پورې اړه لري. داسې مدرسې هم شته چې په معارف وزارت او يا نورو دولتي ادارو کې نه دي ثبت شوې او يو مخ په خصوصي ډول اداره کېږي.

نو څلور وزارتونه په مستيقم يا نامستقيم ډول له هغو کسانو سره سروکار لري چې ديني فکر جوړوي او خپروي يې. دا کسان د جوماتونو امامان، د منبرونو خطيبان، د ديني مدرسو او د شرعياتو د پوهنځيو استادان دي.

ديني جماعتونه او نور مذهبي سازمانونو هم په ديني برخه کې فعاليت لري چې له هېڅ رسمي ادارې سره يې سروکار نشته لکه جماعت تبليغ، صوفيه، اخواني او سلفي ډلې، حزب تحرير او ... د دوی فعاليتونه په ديني برخه کې سره متفاوت او احياناً متضاد عواقب لري چې بايد جلا وڅېړل شي؛ ځکه دلته زموږ بحث هغې برخې ته متوجه دی چې په دولت پورې اړه لري.

نن سبا په ديني ډګر کې د اغلبو فعالو ځواکونو فکري توليدات يا ټولنې ته د دوی پيغامونه، يو لاس نه دي او له ځو اړخونو معيوب او ناروغ دي، په همدې وجه افت زېږوي او نه شي کولای د افغاني ټولنې لپاره د روښانه راتلونکې زېری ورکړي.

دا چې ولې دا ديني پيغامونه يولاس نه دي، ځو لاملونه لري. يو عامل يې دا دی چې خطيبانو او استادانو په مختلفو مرکزونو او احياناً په مختلفو ملکونو کې مختلف درسي پروګرامونه لوستلي دي. دا توپيرونه د دوی د پيغام د شکل او ماهيت د بدلېدو سبب شوي دي او دوی غوښتلي يا ناغوښتلي د خپلو زده کړو د محيطونو د فکري او فرهنګي شرايطو ځرکونه له ځانه سره لېږدوي او په خپل پيغام کې يې ځايوي. دا چاره تر ډېره بريده طبيعي ده او ځنې ډډه نه شي کېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله وجه يې دا ده چې تر دې دمه دولت او د ټولنې فکري سرلارو د دې ډګر نقد او ارزونې ته جدي پام نه دی کړی او ان ښايي پر اهميت يې هم نه وي پوه شوي، په همدې وجه په دې اړه کوم جدي بحث نه دی شوی.

خو د دې پیغامونو ناروغي ګڼ عوامل لري. يو عامل يې دا دی چې د ديني زده کړو اکثره فارغان د فقهي پاراډايم يا فقاهتي اسلام په منځ کې روزل شوي دي، هغه هم غالباً د اسلامي تمدن د راپرځېدلو په شپو ورځو کې رامنځته شوې فقه. دغه کسان ځکه له مذهبي او فرقه يي تنګو چوکاټونو څخه نه شي راوتلای او تر مذهب پورته فکر نه شي کولای چې له عرفاني، کلامي او فلسفي اسلام سره بلد نه دي، په همدې وجه د اسلامي تمدن له ټولو فکري منابعو څخه استفاده نه شي کولای.

په پخواني فقهي تفکر کې د ديني اختلافونو او فروع پر اساس د فقهي مذهبونو تر منځ کرښې راايستل شوې او ډلې جوړې شوې دي، هغه هم داسې چې د تفاهم او ډيالوګ لپاره يې هېڅ لاره نه ده پرېښې او د انحصارګري روحيه ورباندې غالبه ده، هره ډله ځان حق او نور باطل ګڼي. که له دې چوکاټونو ووتلای شو او د ټلليو له ټولو فرهنګي ميراثونو څخه د استفادې زمينه برابره کړو، د اصلاح په لوري به مو يو مهم ګام پورته کړی وي. په هغو مدرسو او مرکزونو کې چې د افغانستان د اوسنۍ ټولنې امامانو او خطيبانو زده کړې کړې دي، هغه که په کور د ننه وي که بهر، د دا ډول تفکر لپاره ځای په کې نشته او د پوهې او شعور دې سطحې ته د رسېدو لاره نه لري.

بل عامل يې دا دی چې په دې روزنيزو مرکزونو او د هغوی په تعليمي پروګرامونو کې د نورو فرهنګونو او تمدنونو پر مخ ورونه تړلي وي. په دې ځايونو کې د پرمخ تللې نړۍ برخلاف چې هورې لږ ډېر هڅه کېږي چې د زده کوونکو لپاره له نورو فرهنګونو او تمدنونو سره د اشنايي لاره هواره شي، دلته دې خبرې ته هېڅ توجه نه کېږي؛ بلکې هېڅ موافقه روحيه ورسره نه وي. کله چې د «بل» د پېژندلو روحيه راکې نه وي، هغه که په فرهنګي کچه کې وي، که په ديني يا تمدني کچه کې، نو بيا خو د مدارا او تسامح تمه نه شو لرلای او د بل د زغملو روحيه به راکې نه شي پيدا. همدرانګه بيا نه شو کولای د نورو له فرهنګونو څخه ګټور شيان راواخلو او د خپل بومي شرايطو او فرهنګ د بهبود لپاره کار ځنې واخلو.

ستونزه هله لا پېچلې کېږي چې يو خو «بل» په رسميت نه پېژندل کېږي او بل «هغه» چې په رسميت پېژندل کېږي هم د هاغه تعريف پر اساس وي چې په پخوا زمانه کې په يو مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



متفاوتو شرايطو کې وړاندی شوی دی. نتیجه دا شي چې د ديني پيغام عمده برخه د ننني انسان او اوسني مخاطب له ډېرو غوښتنو او واقعيتونو سره اړخ نه لګوي.

يو بل عامل يې له دې موضوع سره غيرعلمي او سياسي چلند دی چې مسأله لا پېچلې کوي. سياستوال غالباً لنډ مهال وضعيت ته پام کوي او که ووينې چې د يوې وسيلې په استفادې سره ژر هدف ته رسېږي، د خپلو ځينو کړنو اوږدمهالو نتيجو ته اهميت نه ورکوي. په افغاني ټولنه کې له مذهب سره همدغسې چلند د طالباني او د بنسټپالنې او افراطپالنې د نورو ډولونو له عواملو څخه ګڼل کېږي. په دې لحاظ هم لوی قدرتونه او هم سيمه ييز لوبغاړي د دېرش کلنې جګړې له پيله تر ننه پورې په ورته لاره تللي دي.

**حل لاره څه ده؟**

که وغواړو پر دغه ستونزه غالب شو او ونه غواړو د هېواد راتلونکې د دين له نامه څخه په استفادې سره لا زيات له لويو ګډوډيو سره مخ شي، بايد له دې پديدې سره لوبې ونه کړو او د دې پرځای چې خامه سياسي او عاجله ګټه ځنې واخلو، بايد دقيق او علمي پروګرام ورته جوړ کړو.

په دې لاره کې تر ټولو مهم ګام د مرجع بنسټ جوړول دي چې په افغاني ټولنه کې د مذهب استازولي وکړي. دا بايد يو ازينی بنسټ وي چې د دين په نامه د خبرو حق ولري چې له اوسنيو ګډوډيو مخنيوی وشي، داسې نه لکه اوس چې هر څوک بې له دې چې کوم معيار يا څرګنده ضابطه په پام کې ونيسي، ځان د دين ويباند بولي.

اکثره هغه کسان چې نن سبا له منبرونو يا نورو تريبيونونو څخه د دين په نامه غږېږي، د دې کار لپاره لازمه وړتيا نه لري. د دوی اکثره کسان نه په ديني علومو باندې پوره تسلط لري، نه د دنيا له شرايطو خبر دي او نه د هېواد له اوضاعو او اساسي اړتياوو. په دوی کې ډېرو خو لا ان هغه کلاسيک تعليمي نظامونه هم نه دي ختم کړي، دا خو لا پرېږده چې هغه نور معلومات او پوهه ولري چې په ننني نړۍ کې هر هغه چا ته په کار وي چې په عمومي ډګر کې يې سروکار وي.

داسې کسان چې په اجتماعي کچه د فکر او فرهنګ د رغوونکو مقام ته ورسېږي، بلوا او بغاوت ته زمينه برابروي. په هېڅ اسلامي ملک کې اجازه نه ورکول کېږي چې هر څوک دې له هر ځايه د دين په نامه اواز اوچت کړي او هره فتوا چې يې زړه وغوښته، صادره کړي. د دې کار لپاره لازمه وړتيا اساسي شرط دی؛ ځکه د دين په نامه خبرې کول، حساسه موضوع ده او ځينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فتواګانې د انسانانو د وینې په تويېدو ختمېږي. نو باید د دې ګډوډیو مخه ونیول شي او یوازې یو مشخص بنسټ حق ولري چې په رسمي او په ملي کچه د دین په نامه خبرې وکړي.

د دې لپاره چې دغه بنسټ کافي مصداق ولري او تش په نامه او بې اعتباره نه شي، باید داسې لاره ورته وکتل شي چې د دې قشر ټول وګړي تر پوښښ لاندې ونیسي او په يو ډول سره له ټولو سره اړیکي ولري. دا بنسټ کولای شي د افغانستان د عالمانو شورا وي چې همدا اوس شته؛ خو دا شورا هغه ځانګړنې او میکانیزم نه لري چې په دې بحث کې مو منظور دی. دغه موجوده شورا کېدای شي له ځینو اصلاحاتو سره په هماغه بنسټ بدله شي چې موږ ورباندې خبرې کوو.

د دې لپاره چې دغه شورا په مطلوب بنسټ بدله کړو یا نوی بنسټ ورته جوړ کړو، باید دغه څلورواړه وزارتونه سره همکاري وکړي، په تېره بیا دوه وزارتونه له دې قشر سره پراخ اړیکي لري، د پوهنې او د حج او اوقافو وزارتونه. په دې برخه کې د لوړو زده کړو او د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارتونو نقش په دویمه درجه کې راځي. تر هغې پورې چې مطلوب بنسټ خپلې چارې سمبالوي، باید یو بل بنسټ هم په دې بهیر کې جدي برخه واخلي او هغه د جمهوري ریاست د امنیت شورا ریاست دی چې د هېواد له لویو امنیتي تحولاتو سره نېغ په نېغه رابطه لري او د قضیې کورنې او بهرنې دواړه اړخونه تر څارنې لاندې لري.

د پوهنې وزارت باید د دیني مدرسو د ټولو استادانو او شاګردانو لست برابر کړي او بیا د دیني علومو استادان دقیقه ډلبندي کړي. دغه ډلبندي باید د درېیو محورونو پر اساس وي:

- لومړی، د دوی تحصیلي اسناد،
- دویم، د دوی سابقه او هغه موده چې په دې برخه کې يې تېره کړې ده،
- درېیم، فرهنګي تولیدات يې لکه لیکلي یا ژباړلي اثار يې، یا په فرهنګي او اجتماعي ډګرونو لکه مجلو، ټولنو، او له مدرسې د باندې فرهنګي بنسټونو کې د دوی د برخې اخیستلو اندازه.

هغه کسان چې د داسې ارزونې له مخې په سرلارو کې راځي، باید د عالمانو شورا ته غوره شي. د غوراوي سیستم باید په روښانو معیارونو بنا وي چې څوک ناحقه او د ځینو حزبي، قومي او سمتي ملاحظو پر اساس شورا ته لاره ونه مومي.

له بلې خوا د اوقافو وزارت به د ټولو جوماتونو د امامانو او خطیبانو لست جوړ کړي، هغه که په دولت کې ثبت دي او معاش اخلي او که معاش نه اخلي، ټول. دا ډله به هم د هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



معیارونو پر اساس چې مخکې مو ورته اشاره وکړه، ډلبندي شي. هغه کسان چې د دې سیستم مطابق په سرلارو کې راځي، د عالمانو شورا غړیتوب ته دې غوره شي.

دا بهیر باید لومړی په ولایتونو کې ترسره شي او د عالمانو ولایتي شوراګانې د ولایتونو د مرکز او ولسوالۍ د عالمانو په ګډون رامنځته شي. بیا دې د ولایتي شوراګانو د غړو له منځه هغه تکړه او غوره کسان یې مرکزي شورا ته راوستل شي. همدا اوس د عالمانو ولایتي شوراګانې هم شته خو دومره ده چې د دقیق سیستم د نشتوالي په وجه له ځینو نیمګړتیاوو سره مخ دي چې په همدې وجه دا شوراګانې ناکاره شوې دي.

د ولایتي شوراګانو ریاست او د مرکزي شورا غړیتوب باید موقتي وي مثلاً دوه یا درې یا څلور کلنې دورې دې وي چې د دوی د کړنو تر ارزولو وروسته، د دوی بدلولو ته لاره وي. همدارنګه هغه کسان چې د خپلو مسلکي مهارتونو د لوړولو استعداد او توان لري، باید لا ډېره هڅه وکړي او دوی دې په دې باندې یقین ولري چې که د ټاکل شویو هدفونو د رسېدو په لاره کې محسوسې بریاوې ونه لري، له دې مقامه به ایستل کېږي او ځای به یې داسې کسانو ته ورکول کېږي چې تر دوی تکړه دي.

د عمر په لحاظ هم باید انډول په پام کې ونیول شي، معنا دا چې باید هم په ولایتي شوراګانو کې او هم په مرکزي شورا کې، هم دې مشرانو او سپین ږیرو ته ځای ورکړل شي او هم ځوانانو ته چې هره مسأله کې د دواړو لیدلوري شامل اوسي او هرڅه تېر نسل ته پرې نه ښودل شي.

قومي او نژادي توازن هم مهم دی. د هر قوم او توکم دیني سرلاري دې دې شورا ته لاره ومومي او دې تور ته دې ځای پاتې نه شي چې ګواکې دا بنسټ یوه خاص قوم ته ځانګړی شوی او ټول قومونه په کې ونډه نه لري.

په ټېټه کچه، د اوقافو وزارت باید د هغو امامانو لپاره چې یوازې امامت کوي او مدرس او خطیبان نه دي، روزنیز پروګرام جوړ کړي چې دوی د شاګردانو په روزلو کې ګټوره او مهمه برخه واخلي. دا پروګرام باید د پوهنې او د ټولنیزو چارو وزارت په همکارۍ ترتیب شي. پروګرام دې هغسې طرح شي چې د وړکتونونو او تر ښوونځي مخکې پړاو ته مناسب وي. امامان چې د ښوونې دغه میتود زده کړي، بیا کولای شي د ماشومانو له کورنیو څخه د خپلې معلمۍ حق الزحمه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که خلک ووینې چې جومات د دوی اولادونو ته سواد ورزده کولای شي، پخپله به راضي شي چې امامانو ته مناسبه حق الزحمه ورکړي. که جومات په دې برخه کې مناسب خدمتونه وړاندې کړي، هم به د امامانو اعتبار زيات شي او هم به يې اقتصادي وضع ښه شي او دا بيا کولای شي د دوی پر پيغام باندې مهمه اغيزه ولري.

په ډېرو ملکونو کې تر ښوونځي مخکې پړاو لپاره خاص ښوونيز پروګرام جوړ شوی چې په وړکتونونو کې تطبيقېږي او دا ځايونه اغلباً ناحکومتي وي او خلک د خپلو اولادونو د شاملولو لپاره پيسې ورکوي. دا چې افغانستان دوديز هېواد دی، اکثره وګړي لومړی خپل اولادونه جومات ته لېږي. که د اوقافو وزارت وشي کولای د وړکتونونو په څېر مناسب پروګرام جوړ کړي، جومات به هم عين کار وکړي.

دم ګړۍ اساسي ستونزه دا ده چې د جوماتونو اکثره امامان خورا نيستمن او محروم وګړي دي. دوی له مډرنو زده کړو سره هېڅ اشنايي نه لري او په همدې وجه په دې برخه کې خدمتونه نه شي وړاندې کولای او دا چې د دوی اوسني خدمتونه خورا برسېرن او کم تاثيره دي؛ نو خلک ورسره چنداني مالي مرسته نه کوي او ان ګڼ شمېر خلک خپل اولادونه يوازې د دې لپاره جوماتونو ته استوي چې په کور کې يې له شر و شوره بې غمه شي، يعنې له جومات څخه تر دې پورته توقع نه لري.

په همدې وجه له جوماتونو څخه د سواد د بابولو کار نه دی اخيستل شوی او د جوماتونو د امامانو ژوند هم خوار پاتې شوی دی. که د جوماتونو امامان د يوه سم ښوونيز پروګرام په برخه کې په کار وګومارل شي، له يوې خوا به په ټولنه کې د سواد کچه لوړه شي او له بلې خوا به د ټولنې يوې برخې ته کار روزګار پيدا شي. که د جوماتونو د امامانو ژوند بهتره شي، د دوی په پيغام کې به هم توپير پيدا شي. بيا به دوی د ټولنې امنيت ته په لا زيات اهميت قايل شي، د مډرن ژوند په اړه به د دوی منفي نظر بدل شي او د نفرت او کرکې د خپرولو پر ځای به د سالمو اخلاقي مفاهيمو ترويج ته پام وکړي.

له دې لارې به حکومت هم پر جوماتونو او امامانو لا زيات کنټرول پيدا کړي. په حقيقت کې په دې حالت کې به درې واړه لوبغاړي سره تعامل پيدا کړي، خپلې متقابلې ګټې به په پام کې ونيسي او د اجتماعي تړون له لارې به خپلې ګټې خوندي کړي. يو له درېيو لوبغاړو به د جوماتونو امامان وي چې خاص خدمتونه به وړاندې کوي او سوکه سوکه به د ټولنې متوسطې طبقې ته ورنژدې کېږي، بل به يې خلک دي چې د خپلې مرستې په بدل کې مناسب خدمتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي، دربېیم لوبغاړی دولت دی چې دغه زمینه یې برابره کړې ده او د جوماتونو او امامانو لپاره یې کاري چوکاټ جوړ کړی دی.

هغه خطیبان چې د جمعې په ورځو کې منبرونو ته خېژي او هغه مدرسان چې په مدرسو یا د شرعیاتو په پوهنځیو کې اسلامي علوم تدریسوي، باید د عالمانو د ولایتي شوراګانو اصلي غړي اوسي.

که دغه شوراګانې خپل مصداقیت ثابت کاندي او د خلکو اعتماد حاصل، خلک به د خپلو امامانو او خطیبانو د غوره کولو لپاره دوی ته مراجعه کوي او په دې ترتیب سره به دې چارو ته مناسب او تکړه کسان ورمعرفي شي. نور به خلک د مختلفو سلیقو پر اساس خپل امام نه ټاکي، داسې به نه وي لکه دا اوس چې خلک داسې کس خپل امام نیسي چې کمه تنخواه واخلي، یا د سیمې مشرانو او شتمنو ته سر ټیټ کړي، یا چې مظلوم سړی وي او د چا په ښو او بدو کار ونه لري، یا د حکومت پر ضد ژبوره خوله ولري او حق نا حقه د دولت پر سیاستونو ولګېږي.

په دې ترتیب سره به جوماتونه د عالمانو د شوراګانو تر ولکې لاندې راشي او دا چې د دې شورا اصلي غړي به لوی خطیبان، مدرسان او د دې مسلک استادان وي، څوک به ورسره مخالفت ونه کړای شي. ولایتي شورا به له مرکزي شورا سره ارتباط ولري.

د مرکزي یا سرتاسري شورا غړیتوب به هم موقتي وي چې د نویو استعدادونو د جذب زمینه برابره شي او نور وهڅول شي چې د مراتبو سلسلې ته اهمیت ورکړي او په دې سیستم کې د پرمختګ لپاره ځان چمتو کړي او په عین وخت کې یو ډول دیموکراسي هم تجربه کړي.

ډېرو اسلامي ملکونو دا تجربه له لرې یا ډېرې کامیابۍ سره تېره کړې ده او دیني بنسټ یې منظم او قانوني جوړ کړی او له دې لارې یې د ګډوډیو مخه نیولې ده. په اسلامي هېوادونو کې افغانستان په دې لحاظ تر ټولو بې ضابطې وطن دی.

### د مرکزي/ سرتاسري شورا دندې

مرکزي شورا به د ولایتونو او مرکز له وتلیو عالمانو جوړېږي. د شورا په سر کې به منتخب رییس وي چې دوه مرستیالان به لري. په مشرتابه کې به یې پر دغو دریو تنو سربېره، د اوقافو وزیر، په دیني چارو کې د ولسمشر سلاکار، قاضي القضات یا یې باصلاحیت استازی، او د معارف وزارت د اسلامي تعلیماتو معین هم شامل وي. دغه نور کسان به د شورا په اداري چارو کې ګوتې نه وهي؛ خو د پالیسیو په جوړولو کې به دخیل اوسي.

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکزي شورا به څو کميټې ولري: لومړۍ، د جوماتونو د چارو کميټه چې د جمعې د ورځې ويناوو ته به پروګرامونه جوړوي او خپلې طرحې به د اوقافو وزارت ته استوي چې اجرا يې کړي. دويمه، د مدرسو کميټه چې د مدرسو د درسي وضعيت د ښه والي لپاره او د علمي کچې د لوړولو لپاره به پروګرام جوړوي او خپلې طرحې به د پوهنې وزارت ته ورکوي. دريمه، د افتا کميټه چې د افتا د چارو متخصصان به په کې وي او د دارالافتا کار به کوي. څلورمه، فرهنګي کميټه چې مجلې، رسالې او کتابونه به خپروي چې هم په ديني مسايلو کې او هم په عصري مسايلو کې د ملايانو پوهه زياته کړي. پنځمه، د پلان جوړولو کميټه چې د شورا کاري پلانونه به جوړوي. د اړتيا پر اساس به نورې کميټې هم جوړېدای شي.

د ولايتي شوراګانو فيصلې به يوازې سرتاسري شورا ته راجع کېږي او هېڅ دولتي ادارې ته به نېغ په نېغه نه صادرېږي. د سرتاسري شورا فيصلې به د توصيې، مشورې او وړانديز بڼه ولري او د سکټوري وزارتونو لپاره به الزامي نه وي؛ خو دا چې د دې وزارتونو لوی چارواکي په دې شورا کې شته؛ نو د شورا فيصلې به له پامه ونه غورځول شي.

په دې ډول، د ولسواليو او ولايتونو په کچه به د هماغه ځايونو وتلي عالمان ولايتي شورا کې شامل شي او د ولايتونو تکړه عالمان، د شرعياتو د پوهنځيو رييسان او د مرکز سرلاري عالمان به د مرکزي يا سرتاسري شورا غړي شي او د شورا په مشرتابه کې به جګ پوړي دولتي چارواکي هم وي. په دې لاره به د ديني عالمانو داسې شبکه رامنځته شي چې په افغانستان کې به د ديني بنسټ استازيتوب وکړي. دا شبکه به د جوماتونو او ديني مدرسو کارونو ته پلان جوړوي او په يو ډول به يې څارنه کوي.

د کنفرانسونو جوړول او د ديني څېړنو ترتيبول په تېره بيا په نويو موردونو کې او په دې برخه کې د نورو اسلامي هېوادونو د تجربو ارزول، به د سرتاسري شورا په اصلي کارونو کې وي چې په دې برخه کې حاکم کنګل رامات کړي او ديني فکر په خوځښت راولي او هم مهاله له نورو فکرونو سره ډيالوګ او خبرې اترې وکړي چې د فکري راکړې ورکړې په برکت پر خپلو اوسنيو ستونزو غالبه شي.

د پلان جوړولو کميټه چې نور دولتي او خپلواک کارپوهان به هم په کې وي، دا ډول پروګرامونو ته به ملا وتړي.

منظور دا دی چې داسې يو بنسټ رامنځته شي چې په افغانستان کې ديني فعاليت تر پوښښ لاندې ونيسي او غوره دا ده چې دا بنسټ دولتي نه؛ بلکې يو ملي بنسټ وي چې هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت د هېواد ګټو ته فکر وکړي او اجازه ورنه کړي چې نور دې څوک د دين په نامه وطن وران کړي. سره له دې چې دولت به د دې شورا په ترتيب او جوړولو کې برخه ولري؛ خو د دې لپاره چې شورا د خلکو اعتماد جلب کړي، لازمه ده چې د دولت لاسپوڅې نه وي.

که دغه بنسټ خپله خپلواکي يو مخ له لاسه ورکړي او وګړي ورباندې اعتماد ونه کوي، بيا به خلک هغه فتواګانې ومني چې د پولو له هغه خوا صادرېږي او دا هغه ستونزه ده چې افغانستان بايد ځان ځنې خلاص کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویمه برخه

# د طالبانیزم ریښې او نښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طالباني الهيات

الهيات يعنې په خدای پېژندنې پورې اړوند مباحث او په پراخه معنا، يعنې په ميتافيزيک او ماورأالطبيعه پورې اړوند مبحثونه. دغه محبثونه او موضوع ګانې د نړۍ لېد اساسي اجزا دي. الهيات هغه مبحثونه رانغاړي چې د خدای د ذات او صفاتو په اړه رامنځته کېږي، همدارنګه هغه مباحث په کې شامل دي چې په بلې دنيا پورې اړه لري، دلته بله دنيا هم په زماني کچه او هم په وجودي کچه مطرح ده. په زماني کچه بله دنيا يعنې هغه دنيا چې تر لويو کيهاني انقلابونو وروسته چې د دنيا اوسنی نظم به ختموي، رامنځته کېږي. په وجودي کچه بله دنيا يعنې د هستۍ غيرمادي برخه چې د دين له نظره همدا اوس هم شته او د ارواحو، فرشته ګانو او نورو مجرده عالمونو برخه ده. دا ټول د الهياتو مبحثونه ګڼل کېږي او په ديني لارښوونو کې محراقي ځای لري او د معتقدانو د شخصيت په جوړولو کې اساسي او بې بديله نقش لري.

په دې حساب، د هرې مذهبي ډلې د سمې او ژورې پېژندنې لپاره بايد تر هر څه د مخه يې د الهياتو منظومه وڅېړو او وګورو چې کوم تبعات ورباندې ترتيبېږي او دغه منظومه د دې مذهبي ډلې د پيروانو پر سلوک او عملي ژوند باندې څرنګه اثر پرې باسي. د دې منظومې څېړل تخصصي کار دی او دقيقه علمي وړتيا غواړي؛ خو دا کار هماغومره مهم او اساسي هم دی او له هغې پرته د يوې مذهبي ډلې د اساسي او ژورې پېژندنې ادعا نه شو کولای. دا هم طبيعي ده چې که يوه مذهبي ډله سمه ونه پېژنو، د هغې په وړاندې سم دريځ نه شو غوره کولای.

دا چې د طالبانو پر الهياتي اړخ باندې ټينګار کوو، معنا يې دا نه ده چې د دې ډلې په رامنځته کېدو کې نور موثر عوامل لکه سياسي، اجتماعي، فرهنګي او نور نفي کوو. ليکوال په نورو مناسبتونو کې دا نور اړخونه هم سپړلي دي. دا چې د دې پديدې په تحليل کې هغه نور اړخونه په کافي اندازه تر بحث او ارزونې لاندې نيول شوي دي؛ نو د دې اړتيا نه وينې چې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځل بیا یې رامیدان ته کړي او دا غوره ګڼي چې هغه اړخونه په ګوته کړي چې نورو شنونکو کمتر پام ورته اړولی دی.

د طالبانو له پیدا ابښته تر ننه پورې، له هغوی سره په مواجهه کې له پټو ګوټونو څخه، یو یې د طالبانو الهیات دي. دا بیا د څېړونکو د سربدالۍ سبب شوی او په کار کې یې ابهام رامنځته کړی دی. دا چاره د دې سبب شوې ده چې د طالبانو له پیدا ابښته تر ننه پورې د دوی د پلویانو او مخالفانو تر منځ پوله کله دې خوا کله ها خوا خوځېدلې ده. معنا دا چې ځینو له طالبانو سره په داسې حال کې مخالفت کړی دی چې د دوی له الهیاتو سره یې خپله رابطه نه ده پرې کړې او د نړۍ لید په حوزه کې لا په هماغه ځای کې پاتې شوي دي او له دې عاجز پاتې شوي دي، چې په دې لحاظ خپل دریځ بدل کاندي. دوی په دې نه پوهېدل چې د طالبانو اعمال د هغوی له الهیاتو سرچینه اخلي او دا خلک پخپله له دې الهیاتو سره خدای پاماني نه ده کړې. په دې حساب په اسانۍ سره دا شنلای شو چې ولې همدا چې طالبان راپیدا شول، د وسلوالو مجاهدینو ګڼې ډلې هغوی ته وروا وښتلې او داسې دېوال یې تر منځ نه و چې د دوی مخه ونیسي.

له بلې خوا، دا چاره سبب شوې ده چې د طالبانو پر ضد په مبارزه کې د دې پر ځای چې ریښې یې غوځې شي، یوازې یې ښاخونه پرې شوي دي او په حقیقت کې په دې لاره کې لګول شوی ځواک مطلوبه نتیجه نه ده ورکړې. د طالبانو له الهیاتو سره بلدتیا او د هغه علمي نقد، د طالبانو پر ضد د مبارزې مهمترینه لاره ده او دا کار تر اوسه پورې نه دی شوی. وجه یې هم دا ده چې دا جګړه نه ده چې له توپ او ټانک سره یې مقابلې ته ورودانګو، بلکې دا علمي – فکري کار دی چې یوازې دین پوهان او د الهیاتو د مباحثو متخصصان یې کولای شي. په دې مقاله کې هڅه کوو د موضوع مقدماتي درک ته ورنژدې شو او د لا جدي بحث لپاره لاره پرانیزو.

کله چې طالباني الهیات یادوو، منظور مو دا نه دی چې طالبانو دغه الهیات رامنځته کړي دي او تر دوی مخکې دا ډول نړۍ لید او الهیات ګرد سره نه وو او ګواکې دا د طالبانو د فکري هڅو پیداوار دي. لیکوال پر دې باور دی چې دا الهیات اوږده مخینه لري او طالبان په حقیقت کې د همدغه الهیاتو محصول او د دې نړۍ لید تجسم دي. طالبانو د دې نړۍ لید په فکري او تیوریکي وده کې څه نه دي کړي؛ بلکې په دې برخه کې د طالبانو برخه دا وه چې دا نړۍ لید مجسم او عیني کړي. دې کار له کتونکو سره مرسته کړې ده چې د دې نړۍ لید له پټو ګوټونو سره لا ښه بلد شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طالباني الهياتو د مخينې د پېژندلو لپاره مجبور يو د اسلام په تاريخ کې د الهياتي منظومو رامنځته کېدو ته اشاره وکړو چې د طالباني الهياتو نسب نامه پکې پيدا کړو.

د اسلام په تاريخ کې دوه – درې لومړنۍ پېړۍ د کلامي او تيولوژيکو بحثونو په لحاظ خاص اهميت لري. ټول عمده کلامي مکتبونه په همدې دوره کې جوړ شوي دي. د دې لويې تاريخي پېښې د سببونو او عواملو څېړل او سني بحث سره تړاو نه لري او کولای شو په بل ځای کې يې مطرح کړو.

کلامي مکتبونه او ډلې په مختلفو برخو کې د نظر د اختلافونو پر اساس، په مختلفو محورونو کې ډلبندي شوي دي او يو عمده محور يې د دوی د خدای پېژندنې ډول دی، يعنې هغه تعريف چې دوی هڅه کړې ده د خدای په باره کې يې وړاندې کړي او دا چې د دې خدای رابطه له انسان او له نړۍ سره څرنګه ده. په دې لحاظ دوه موضوع ګانې يعنې تشبيه او تنزيه هغه عمده شاخصونه وو چې دا مکتبونه او ډلې يې سره بېلې کړې دي. ځينې کلامي تمايلونو د تنزيه په اخر سر کې وو او ځينې يې د تشبيه په اخري سر کې او ځينې نور بيا د دې دوو تر منځ لړزانده او په نوسان کې وو.

په دې برخه کې د نظر د اختلافونو معنا دا ده چې په دې موضوع کې قطعيت نشته. د دې اختلافونو ريښه په دې کې ده چې اسلام د ابراهيمي درې ګونو دينونو د يوه دين په توګه، د شرقي دينونو برخلاف، خدای ته هغه صفات منسوبوي چې لږ تر لږه د عبارتونو او لفظونو په کچه، د بني ادمانو صفاتو سره ورته دي. د ځينو دينپوهانو په باور الهي پيغمبرانو (د هغه تعريف پر اساس چې په ابرهيمي دينونو کې د پيغمبر په اړه وړاندې شوی دی) هڅه کوله انسانان له خدای سره ونښلوي او دا ارتباط يې له مينې، محبت او ايماني عاطفې سره ګډاوه. د دې چارې لپاره بله چاره نه وه غير له دې چې د خدای په اړه داسې خبرې وشي چې د بني ادم ذهن او عقل او احساس يې درک کړای شي او مومنان وشي کولای ورسره باطني رابطه برقراره کړي. څنګه چې په شرقي دينونو کې ليدل کېږي، که د خدای په اړه بې پايه تنزيهي تعريف وړاندې کړو چې د انسانانو هېڅ صفت ورته منسوب نه شي، بني ادمانو ته کار سختېږي او له داسې موجود سره مخ کېږي چې د هغه د شتون او نه شتون تر منځ پوله خورا تته وي. په دې حالت کې خلک په خلا کې واقع کېږي او مجبورېږي چې د دې خلا د ډکولو او د خدای د مجسمولو لپاره پخپله مجسمې جوړې کړي او د شرک او بوت پرستۍ خوا ته لاړ شي. ابراهيمي دينونو په دې لحاظ دا کاميابي ترلاسه کړې ده چې بوت پرستۍ ته يې ميدان تنګ کړی او انسانان يې عملاً

(c) ketabton.com: The Digital Library



له یوه اعتقادي پړاو څخه چې د بوتانو لمانځنه ده، ژغورلي دي. دا کامیابي د هغه تعریف په مرسته حاصله شوې ده چې دغو دینونو د خدای په اړه وړاندې کړې دی.

له بلې خوا د خدای همدغه تعریف چې نن سبا د تطبیقي دین پوهانو په منځ کې «د خدای متشخص او انسانوزمه تعریف» بلل کېږي، ځینې عوارض هم لرلي دي او د مختلفو فرقو او ډلو ترمنځ د کلامي اختلافونو وجه هم همدغه موضوع ده. دا متشخص تعریف د قضیې له بل اړخ سره په تضاد کې راولي، هغه دا چې ټول دینونه د ابراهیمي دینونو په شمول، د خدای پر کاملې تنزیې ټینګار کوي او وایي چې خدای له مخلوقاتو سره له هر ډول مشابهت او ورته والي څخه پاک دی، تر دې چې د خدای او مخلوقاتو تر منځ هېڅ ورته والی نه پاتې کېږي او هر هغه څه چې خدای ته منسوبېږي، باید کاملاً متعالي او د هغه له شأن سره سم وي. که خدای ته داسې څه منسوب شي چې د مخلوقاتو په شأن کې وي، دا د تنزیې خلاف خبره ګڼل کېږي او د خدای د شأن او مقام د ټیټولو معنا ځنې اخیستل کېږي.

د مسلمانانو کلامي ډلې او عقیدتي فرقې د دې موضوع په وړاندې مختلفې لارې غوره کړې دي. هغه ډلې چې په حشویه مشهورې دي، له مخلوقاتو سره د خدای په تشبیه کولو کې دومره مخته تللي دي او احیاناً دومره د خدای تجسیم ته قایل شوي دي او هغه یې انسانوزمه ذات ګڼلی دی چې یوازې د کمیت او کیفیت په لحاظ له انسان سره توپیر لري، ګواکې خدای داسې انسان دی چې تر نورو انسانانو لوی دی، تر نورو یې وړتیاوې زیاتې دي څکه خو پر نړۍ حکومت کوي. حشویه ډلې د غیب په اړه د نورو مسایلو په باره کې هم ورته لاره غوره کړې ده او د هرې میتافیزیکي موضوع تشبیهي تأویل یې وړاندې کړی دی یا یې له دې موضوع ګانو هغه معنا اخیستې ده چې د انساني عالم په کچه معنا ولري.

د دوی په مقابل کې نورې ډلې، له مخلوقاتو سره د خدای د تشبه کولو په تنزیه کې دومره پر مخ لاړل چې د خدای ټول صفتونه یې رخصت کړل، معنا دا چې دا صفتونه یې بې معنا وبلل او یوازې د تأویل په وسیله یې د ځینو معناګانو د مفروض ګڼلو لاره خلاصه پرېښوده او بس. جهمیه هغه ډله وه چې په دې ځانګړنه مشهوره وه.

دغه دواړه ډلې د مسلمانانو په منځ کې په اقلیت کې وې او اکثرو مسلمانانو چې د اهل سنت او جماعت په نامه پېژندل کېږي، هڅه وکړه چې داسې منځنۍ لاره خپله کړي چې له دواړو ډلو په یوه اندازه مسافه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو اهل سنت هم له دې کشمکشه لرې پاتې نه شول او د دغو ډلو تر منځ د نوسان په نتيجه کې په درېو اساسي ډلو وويشل شول او هرې ډلې بيا ځان واقعي اهل سنت او نور تش په نامه اهل سنت وګڼل.

هغه ډله چې تنزيهي تمايل يې درلود او هڅه يې کوله د خدای صفتونه داسې درک کړي چې له هر ډول تشبيه پاک وي، د معتزله په نامه ياده شوه چې پلويان يې غالباً د امام ابوحنيفه د مذهب پيروان وو او ځينې يې بيا د شافعي يا اماميه مذهبونو خلک وو. خو نورو هڅه وکړه دا ډله د اهل سنت له جرګې څخه وتلې وګڼي. معتزله هم عين کار کاوه او خپل مخالفان يې د اصلي سنت له لارې منحرف ګڼل. لا تر اوسه هم پر معتزله او پر دې چې له اهل سنت سره يې نسبت څه و، لانجه روانه ده.

بله ډله چې د دې طيف په مقابل لوري کې وه او د متن پر محوريت يې خورا زيات ټينګار کاوه او له تأويله يې په شدت ډډه کوله، اهل حديث ونومول شوه چې د خدای ټول صفتونه يې بې له تأويله هماغسې چې د متن د الفاظو له ظاهره ځرګندېږي، منل. دوی يوازې د خدای له صفتونو سره «بلاکيف» کلمه زياتوله چې له حشويه او نورو تشبيه پالو ډلو څخه ځان بېل وساتي.

درېيمه ډله چې غوښتل يې منځنۍ لاره ولټوي، د ابو الحسن اشعري او ابومنصور ماتريدي پيروان وو. سره له دې چې دوی په ځينو چارو کې توپير سره درلود؛ خو په لويه کې ټول اشاعره بلل کېږي. د اشعري پيروان تر اهل حديث له معتزله څخه ډېر لرې وو؛ خو د ماتريدي ملګري بيا معتزله ته نژدې او له اهل حديثه ډېر لرې وو.

په هره توګه دغو درې واړو ډلو ځانونه واقعي اهل سنت ګڼل او نور يې د اهل سنت په دويمه او درېمه درجه کې حسابول.

کولای شو له تنزيه طيفه تر تشبيه طيفه پورې دغه ډلې داسې تصور کړو:

**جهميه ⇦ معتزله ⇦** اشاعره (دلته اشاعره په لويه معنا راغلې ده چې ماتريديه هم رانغاړي)⇦ **اهل حديث ⇦ حشويه**

د دغو ډلو تر منځ د پولې خبره هر وخت په تيوريکي کچه او د متخصصانو او اهل علم په منځ کې مطرح پاتې شوې ده؛ خو کله چې د خلکو په منځ کې شايع شوي ديني فرهنګ ته او په تېره بيا هغه څه ته رسېږو چې ځينو مذهبي بهيرونو خصوصاً مدرسه يي هغو يې رواج کړي دي، زياتره د حشويه او اهل حديث له ذوق سره مخ کېږو او وينو چې د خدای د تنزيهي تعريف

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وړاندې کولو لپاره چنداني هڅه نه کېږي. د دې شي يو علت خو دا دی چې د اسلام په تاريخ کې هر وخت غلبه د فقيهانو په برخه وه او دوی د عارفانو او متکلمانو له خدای سره چنداني جوړ نه وو. فقيهانو عملاً حشويه خدای ته يعنې متشخص انسانوزمه خدای ته تمايل درلود، حال چې رسماً ورسره مخالف هم وو؛ دا په دې چې د خدای په اړه دا ډول تصور په حقوقي ظرافتونو، شرعي حيلو، او فقهي وچو کلکو سختيو کې د فقيهانو مرسته کوله؛ نه هغه متعالي او منزه خدای چې له تسامح، رحمت، حلم، غفران، کرم او نورو کمالاتو سره خپلو بنده ګانو ته راڅرګندېږي او هغوی ته په ځمکه کې د تبعيد شويو محکومانو په سترګه نه ګوري او له هغوی سره يې رابطه يوازې په ورځنيو وچو امر و نهيو نه خلاصه کېږي؛ بلکې خپلو بنده ګانو ته د مکرمو مخلوقاتو په سترګه ګوري چې د ده د کرم پر دسترخوان کېناستلي دي او له هغه څخه يې کرامت او خلافت حاصل کړی دی او کولای شي له هغه ذات سره د مينې او دوستۍ اړيکې ولري.

هغه خدای چې اکثرو مسلمانو عارفانو معرفي کاوه، يا په لا دقيق تعبير سره، هغه الهيات چې د اهل عرفان له خوا بابېدل، مهربانه او بخښونکی خدای يې معرفي کاوه چې خپلو بنده ګانو ته هم د اخلاقي تعالي توصيه کوي. په دې الهياتو کې د خدای ذات ته د نژدېوالي معيار، د بنده پاکوالی او معنوي اعتلا ده. د خدای په اړه دا تصور د مومنانو لپاره د ارامۍ، پخلاينې او هيلې موجب ګرځېده او هغوی يې له نورو سره مينې، فدا کارۍ، عاطفې او مهربانۍ او نورو اخلاقي مکارمو ته هڅول.

خو په مقابله خوا کې نورو ډلو د خلکو په ذهنونو کې د خدای څېره قهرجنه انځوروله او هغه يې د يوه حسابګر سوداګر، بې مدارا قاضي، او مستبد حاکم په څېر معرفي کاوه. دا انځور د حشويه د ډلو په الهياتو کې ريښه درلوده. دغو ډلو خدای د يوه انسان په جامه کې معرفي کاوه، څنګه چې د انسان حال بدلېږي، حوصله يې تنګېږي او کله سور شي کله سوړ، دوی خدای هم هماغسې ګاڼه.

هغه انسان چې د خدای له داسې تصور سره لاس او ګرېوان و، هر وخت به يې ځان له داسې ذات سره مخامخ ليده چې د اميد پر ځای يې وېره، او د لطف او مهربانۍ پر ځای يې قهر او غوسه ښکاروله او د هستۍ له عالم سره يې رابطه د کرم او بخښنې پر ځای د حساب کتاب او امر و نهي پر اساس ولاړه وه، هماغسې رابطه چې د حاکم او محکوم تر منځ وي. نو دا بې دليله نه ده چې د معاصرو اسلامي بنسټپالو په ادبياتو کې د حاکميت مفهوم ډېر مطرح کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د خدای او بنده ګانو تر منځ نوري رابطې یې کمرنګې کړې وي، ان تر دې چې ځینې یې د «لا اله الا الله» طیبه کلمه له «لا حاکم الا الله» سره مترادفه تفسیر کړې ده. البته دا چې بنسټپالې بهیرونه په سیاست کې خورا زیات اخته دي؛ دغه شي په دې برخه کې د مضاعف عامل په څېر عمل کړی دی.

په رواني لحاظ د خدای په اړه دا ډول تصور، د هغه تصور انعکاس ګڼلی شو چې دغه خلک یې د ځان په اړه لري. دوی په ناخبره توګه خدای د ځان په څېر قیاس کاوه او هماغه صفتونه یې خدای ته منسوبول چې په ځان کې به یې لیدل. لکه د فوئرباخ او فروید او ځینو نورو نظریې چې پر خدای باندې د انسان د باور د ریښو په اړه یې وړاندې کړې دي.

په تاریخي لحاظ، تر اوومې او اتمې پېړۍ وروسته چې ان د فکري سرلارو په منځ کې هم د کلام او فلسفي بحثونو غروب وکړ او عقلي مبحثونه کمرنګه شول، د خدای په اړه د حشوي عامیانه تصوراتو لپاره لاره خلاصه شوه او نور د هند د براعظمګي، منځنۍ اسیا او د شمالي افریقا په شمول د عربي نړۍ په دیني مدرسو کې کلامي موضوعات نه مطرح کېدل. له کلامي بحثونو سره کېدای شول چې الهیاتي مبحثونه لا پاخه شي او لا وده وکړي او حشوي لیدلوری تر نیوکې لاندې راشي او څه چې د دیني اعتقاداتو په نامه ترویجېږي، دوامداره په علمي موازینو تر نقد او چڼولو لاندې ونیول شي.

د دې بهیر دوام سبب شو چې د اسلامي ټولنې د ځینو برخو په دیني اعتقاداتو کې د خدای پېژندنې حشوي – ظاهري لیدلوری ځای ونیسي او د خدای هغه متعالي تصور چې د انسان له معنوي تعالي سره یې مرسته کوله، وار په وار کمزوری شي. سره له دې چې د اسلامي ټولنې په ځینو نورو برخو کې د عارفو مسلمانانو ارشادات څه نا څه لا پاتې وو؛ خو په وروستیو پېړیو کې پر تصوف باندې د عوامو باورونو غلبه وکړه، په تصوف کې د مولوی او ابن عربي په شان نور وتلي کسان پیدا نه شول چې خلکو ته د خدای متعالي تعریف وړاندې کړای شي، فقیهان په دیني بحثونو کې او د دین په استازولۍ کې بې رقیبه پاتې شول؛ نو د مسلمانانو په منځ کې بل داسې ځواکمن عرفاني بهیر راڅرګند نه شو چې نظري موثر ملاتړ ولري او وشي کولای تدین ته لا ژوره معنوي صبغه ورکړي.

د هند په براعظمګي کې چې د تعلیمي مدرنیزېشن په عکس العمل کې د دیوبند مدرسه تاسیس شوه، په دې سېمه کې د دیني مفاهیمو او ارشاداتو د صورتبندۍ نوې دوره پیل شوه. په ظاهره کې خو د دوی موخه د دین نوی کول او د دیني تجدید د هڅو ادامه وه؛ خو پر دې مدرسې اهل حدیثي بعد غلبه وکړه، له کلام او فلسفې سره بې مهري او ان مخالفت وشو، د الهیاتو مبحثونه هماغسې

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیکه پاتې شول او ظاهرپالنه او حشویتوب لا زیات شو؛ دا په دې چې په دې وخت کې ځینو بهیرونو لکه بریلویه او ځینو صوفیانو په سخاوت سره خپله غېږه عامیانه خرافاتو ته خلاصه کړې وه او دیوبند د دغو ډلو له خوا له ترویج شوي الهیاتو سره مخالفت وکاوه، همدا وه چې ظاهرپالنې او حشویتوب ته لاره خلاصه شوه، په تېره بیا په دې چې دې وخت کې د عربستان له ټاپووزمې څخه راولاړ شوی سلفیتوب هم له دیوبند سره همغاړې وه.

د دې مدرسې سیمه ییزې څانګې چې ورسره یې هېڅ ارګانیک ارتباط هم نه درلود او دیوبند ته یې یوازې د نمونې په سترګه کتل، څومره چې له دې مدرسې لرې وې (لکه د پاکستان په سرحدي سیمو کې)، هماغومره زیاتې حشوي پالې وې او داسې الهیات یې رواجول چې عامیانه، ظاهري او حشوي رنګ یې درلود. البته دا مدرسې حنفي مکتب سره لفظي او تش په نامه نسبت درلود؛ نو ځکه یې هڅه کوله خپل الهیات په تنزیهي څُم کې هم رنګ کړي.

تر دې وروسته په دغو مدرسو کې داسې تدین تدریسېده او بیا یې د فارغانو له خوا د دیني فکر په عمومي حوزه کې خپرېده چې پر حشوي – ظاهري الهیاتو بنا و. هغه خدای چې د دغو مدرسو اکثرو شاګردانو پېژندلی و، شدید فقهي رنګ یې درلود. د دوی په الهیاتو کې د عرفاني لوړو فکرونو برخه خورا کمه وه.

په دې الهیاتو کې انسان همیشه داسې موجود تصور کېږي چې د دیني تکالیفو او هغو تکالیفو په ترسره کولو کې پاتې راغلی چې په مختلفو دورو کې فقیهانو ورته ټاکلي دي؛ نو دغه موجود باید هروخت ورټل شي. د دې تصور پر اساس هغه کسان چې په دې مدرسو کې یې درس ویلی دی، حق لري چې د خدای په استازولې وګړي تر پوښتنې ګروېږنې او محاسبې لاندې ونیسي. دوی خپل نظر او ان خپله سلیقه داسې معیار او محک ګڼي چې ورباندې د ټولنې تدین تللای شي او سموالی یا ناسموالی یې معلومولای شي، دا ځکه چې دوی له شرعي احکامو او تکالیفو سره اشنایي لري. یوازې دا نه؛ بلکې دوی کولای شي د شرع په استازیتوب حدود جاري او شریعت تطبیق کاندي او مجرمانو او منحرفانو ته جزا ورکړي.

د جهاد په لومړیو کلونو کې د اکثرو هغو وګړو صحرایي اعدام چې د سیمې د ملا په فتوا یا بې له فتوا، بې له قانوني تحقیقاتو، له دولت سره د همکارۍ یا د عقیدې د انحراف په تور ووژل شول او همدارنګه د هغو وګړو سنګسار یا په درو وهل چې د زنا تور ورباندې لګېدلی و، د خدای په اړه د انسان له همدې ډول تصوره سرچینه اخلي او ځینې کسان د خدای په استازیتوب دا کارونه کوي. طالبانو هم د همدې تصور پر بنیاد د منځنه راتلو له هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړيو ورځو څخه د هغو کسانو په تعذيب لاس پورې کړ چې منحرف ګڼل کېدل، دوی دا کارونه په داسې وخت کې کول چې لا د حکومت څښتنان هم نه وو او لا يې د احکامو د تنفيذ حد اقل قانوني معيارونه هم نه وو پوره کړي. حکومت ته تر رسېدو وروسته او لا تر اوسه پورې چې دوی له خشونته ډک کارونه کوي، مسأله هماغه ده.

کله کله په ټولنه کې د دې کارونو هرکلی کېږي او ان ستايل کېږي، خلک دا کارونه د عمل قاطعيت ګڼي او ان وايي چې د افغانستان په شان ټولنو کې دا شيوه ښه نتيجه ورکوي. له دې څرګندېږي چې د ټولنې د ځينو وګړو د ديني اعتقاداتو تر پوستکي لاندې خشونت پاله الهياتو ځای نيولی دی. که دا خبره سمه وي، بايد ومنو چې خشونت د خلکو د اعتقادې تصوراتو ژورو ته لاره کړې او هماغلته کېناستلی دی؛ نو بايد چې د طالباني الهياتو پر ځای د افغاني الهياتو خبره وکړو.

حال دا چې افغانستان د خپل پياوړي عرفاني ميراث په برکت د رحمت او عطوفت له الهياتو سره لا غښتلی نسبت لري. د دې الهياتو ځانګې او پانې د حکيم سنايي، مولوی بلخي، خواجه نقشبند ، مولانا جامي هروي او نورو لويو عارفانو په لاسونو سينګار شوې دي.

زموږ په عرفاني الهياتو کې د خدای په نامه د انسانانو د ځورولو او خشونت لپاره ځای نشته. زموږ ډېرو متکلمانو په لومړيو پېړيو کې هڅه کوله چې خدای له هغه څه څخه منزه او پاک وګڼي چې د هغه په شأن کې نشته او هغه داسې معرفي کړي چې له احتشام او شاهانه کرم سره يې وښايي.

خشونت پاله الهيات په وروستيو پېړيو کې په تېره بيا له نوي تمدن سره تر مخامخ کېدو وروسته مخ په وده روان شول. دا هغه مهال و چې د اسلامي ټولنې ځينو قشرونو خپل هويت په خطر کې ليده او له دې چلينج سره د مقابلې عاقلانه لاره نه وه ورمعلومه. دوی د کار چاره همدا ګڼله چې بل ته – هر بل، هغه که کورنی وي که بهرنی – تندی تريو کړي او وروسته وربانديې بريد وکړي، ان که دا بريد مأيوسانه هم وي او هېڅ ګټه هم ونه لري. دوی خپل دغه کار ته زموږ په تاريخي سنت کې د شته حشوي – ظاهري الهياتو په مرسته مشروعيت ورکړ.

هغه څوک چې اعتقاد يې پر همدغسې الهياتو بنا وي، د دې پر ځای چې د خدای بې پايه رحمت ته فکر وکړي او د خدای د مهربانۍ د لمر تلپاتو وړانګو ته د روح دريڅه پرانيزي او د دې پر ځای چې د خدای له مخلوقاتو سره مينه وکړي، ژوند ته د مردارو چيکړو او ټولو خلکو ته د تباهکارانو په سترګه ګوري او ټول طبيعي تحولات ورته د نه مهارېدونکي الهي قهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نښانې برېښي چې ژر یا په ځنډ به د ځمکې د اوسېدونکو ټغر ټول کړي او هر یوه ته یې خپله جزا ورکړي.

په همدې وجه، هغه کسان چې په سر کې دا سې الهیات لري، هر کله چې منبر ته خېژي، پر خلکو د ملامتیې او رټلو ډزې پیلوي او هغوی په بې دینۍ او ډول ډول انحرافونو تورنوي. د دوی له خبرو ګوانښونه او ډارونې ورېږي، دوی خلکو ته د اخروي دردناکه عذاب ګوانښونه کوي یا یې له هغو دنیوي جزاګانو ډاروي چې په همدې دنیا کې د ځینو کسانو په لاس، د خدای په نامه، ورکول کېږي.

که د دې الهیاتو تار و تنستې وخېږل شي او د انسانانو پر روح او روان باندې یې تاثیر مطالعه شي، جوته به شي چې ولې دا کسان په آسانۍ سره انسان وژني، وینې تویوي، کورونه ورانوي او تباهي زېږوي. دوی ځانونه د هغه خدای استازي ګڼي چې کار یې شکنجه کول او جزا ورکول دي او د مجرمانو له مجازاتو او د ګناهکارانو له عذابولو پرته، بله سودا نه لري.

**د دې ډول الهیاتو سپړل او نقد کول هم دیني وجیبه ده او هم انساني کار**. په دې خاطر چې نور د خدای په نامه کمتر کسان ووژل شي او د خدای د دین په نامه کمتر جنایتونه وشي. د خشونت او وحشت پر ضد مبارزه او د تباهۍ او جنایت د مخنیوي هڅې به هله کامیابې شي چې د قضیې ریښو ته فکر وشي او دې اساسي مبارزې ته لازم اهمیت ورکړل شي.

باید سړي وژونکي او قاتلان په دې وپوهول شي او دا یقین په کې ایجاد شي چې که انسان وژني او وینه تویوي، نو ر به نو له خدای سره کوم نسبت او رابطه ونه لري او هغه کس چې دوی یې پرستش کوي، شیطان دی او همدغه شیطان ورباندې د قتل او غارت امرونه کوي او پر ورانیو او جرمونو خوشحاله کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نرم طالبان، سخت طالبان

په یوه بله مقاله کې مې لیکلي وو چې په توندلارو او منځ لارو باندې د طالبانو ویشل سم نه دي. هلته مې خپل دلیلونه هم وړاندې کړي وو او تر اوسه هم پر هماغه باور ولاړ یم. په هغه مقاله کې مې توضیح کړې وو چې که څوک له خشونته لاس واخلي او مدني ژوند ته چې منځلاریتوب یې طبیعي لازمه ده، راوګرځي، هغه خو بیا نور طالب نه دی؛ ځکه د طالبانو په ایدیالوژۍ کې توندلاریتوب په ذاتیاتو کې راځي او ده خپله رابطه ورسره شلولې ده. هغه خبره چې دلته یې کوم، له هغې موضوع سره په ټکر کې نه ده او غواړم دا ووایم چې په افغاني ټولنه کې داسې ډلې شته چې رسماً د طالبانو په کتار کې نه راځي یعنې نه پخپله ځانونه طالبان ګڼي او نه نور یې طالبان بولي؛ خو په عمل کې طالباني لیدلوري ته معتقد دي او د طالباني افکارو په رواجولو سره هماغه ځای ته رسېږي چې طالبان یې غواړي. لیکوال پر دې باور دی چې د طالبانو په تقویت کې او د هغوی لپاره د فکري او فرهنګي ملاتړ په برابرولو کې د دې ډلو نقش خورا موثر دی. که طالبان د جبهې شا ته داسې ملاتړي ونه لري، د دې وس به ورته پاتې نه شي چې په ټولنه کې حضور ولري او خپل سیاسي ژوند وغځوي. دا هم د مطلب شرحه:

څوک چې له کمپیوټر سره سروکار لري – او نن سبا ډېر هم دي – پوهېږي چې کمپیوټر له دوو مهمو برخو رغېدلی دی، یوه برخه چې دغه دستګاه ځنې جوړه شوې ده، سخت اوزار (hard ware) نومېږي، بله برخه چې پر همدې سخت اوزار باندې نصب شوي پروګرامونه دي، نرم اوزار (soft ware) بلل کېږي. دواړه برخې د یوې بلې مکملې دي او په یوازې سر کار نه شي کولای.

غواړم د همدې ساده او شایع مثال په مرسته د طالبانو په اړه یو د تأمل وړ ټکی بیان کړم. د لیکوال په نظر څوک چې نن سبا د طالبانو په نامه پېژندل کېږي او په اوسني افغانستان او بلکې په سیمه کې د ډېرو ناامنیو او شخړو سبب دي او د سیمې د ثبات او استقرار مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيسي، د پورتني مثال په شان په دوو برخو ويشل کېدای شي چې هره برخه يې د بلې برخې رسالت تکميلوي. د طالبانو يوه ډله به سخت اوزاري يا هارډ نوموو او بله ډله يې نرم اوزاري يا سافټ او دا هماغه کسان دي چې په رسمي ډلبنديو کې د طالبانو په کتار کې نه حسابېږي.

دا چې د دې پديدې په اړه تيوريکي بحثونه خام دي او اکثره وګړي ان په ډېرو لوړو کچو کې په خپلو بحثونو کې له دې قضيې سره سطحي چلند کوي او برسېرن تحليلونه وړاندې کوي او د دې پر ځای چې د ستونزو اساسي حل لارې ومومي، له عامو افکارو سره لوبې کوي؛ نو تر اوسه پورې د طالبانو د ډلو تفکيک نه دی شوی او په دې مورد کې شته ابهام نه دی روښانه شوی. د دې کار نتيجه دا راوتلې ده چې د دې ستونزې په تحليل، چاره او د هغې پر وړاندې د دريځ په غوره کولو کې نيمګړتيا پيدا شي او دا بيا له دې ستونزې سره د مبارزې د ناکامۍ سبب شوې ده او د ډېرو کسانو هڅې يې ابته کړې دي.

د همدغسې چلند په وجه له دربو لسيزو راهيسې په سيمه کې توندلاريتوب ورځ تر بلې زيات شوی او سياستوالو د دې پر ځای چې د دې شي عواقبو ته پام وکړي، هر وخت يې هڅه کړې ده چې سترګې ورباندې پټې کړي او ښايي له خپلو رقيبانو سره په سياسي کشمکشونو کې ځنې ګټه هم واخلي. د ليکوال په باور د طالبانو او القاعده پر ضد د مبارزې دغه روش به مقصد ته ونه رسېږي او حاصل به يې يوازې د ځواکونو ضايع کول او له عمومي افکارو سره لوبې کول وي.

د طالبانو يوه برخه چې سخت دريځه او خشونتپاله ډله يې ده او عملاً وسله په لاس کې لري، د سيمې د سياسي صحنې ډېرو کتونکو ته اشنا او د درک وړ ده. دغه برخه پېژندل شوي رهبران لري چې عملاً د جګړې لارښوونه او اداره يې په لاس کې ده. نن سبا ټول پام او ټولې سياسي مناقشې د طالبانو همدې برخې ته وقف شوې دي.

څه چې ډېر عوام او خواص ځنې غافل پاتې شوي دي او په لږو تحليلونو کې ورباندې بحث شوی دی، د طالبانو بله برخه ده چې نامرئي (نه ښکارېدونکي) طالبان دي. له هغوی پرته د طالبانو د جنګي ډلې فعاليت له ستونزې سره مخ کېږي. د جنګي طالبانو د فعاليت ادامه شديداً په دې ډلې پورې تړلې ده؛ ځکه دا ورته د جبهې شا ته ايډيالوژيکي ملاتړ برابروي. هېڅکله د دې ډلې نقش چې لومړی، ډلې ته اجتماعي – فرهنګي بستر جوړوي او جنګيالي ورته برابروي، جدي نه دی ګڼل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خشونت او توندلاريتوب پر ضد د مبارزې علمبرداران د دې برخې پر خطر که پوه شوي هم وي، ممکن په تکتيکي لحاظ يې دا لازم نه وي بللای چې د جګړې جبهه پراخه کړي او دا به يې غوره ګڼلای وي چې يوازې هغه کسان طالبان وبولي چې عملاً د جنګ په ميدان کې ولاړ دي او روزمره په وژلو او ورانيو لګيا دي. ښايي تصور دا وي چې د جګړې د ميدان تنګول او دښمن په يوې خاصې برخې پورې محدود ګڼل به له هغه سره د مبارزې چاره اسانه کړي او پر هغه به د غلبې لاره هواره کړي؛ خو له دې ډلې سره د يوې لسيزې مبارزې د بهير ارزول ښيي چې دا باور ناسم و.

عملاً په دې لاره د طالبانو ځواک کم نه شو او هغه هدفونه چې له دوی سره د مبارزې لپاره په پام کې نيول شوي وو، لاس ته رانه غلل؛ بلکې څومره چې وخت تېر شوی دی هماغومره د طالبانو د فعاليت کړۍ پراخه شوې او خطر يې څو چنده زيات شوی دی او د دوی فعاليتونه عملاً د افغانستان له پولو اوښتي او هغو سيمو ته هم رسېدلي چې هېڅکله يې اټکل نه کېده چې طالبان به ورورسېږي.

د طالبانو د دې ودې دليل هماغه دی چې د طالبانو قضيه يوازې په سياسي بعد کې خلاصه شوې وه او هغه فرهنګ چې د دې ډلې له پراخېدو سره نېغه مرسته کوي، له پامه غورځول شوی و. په بله وينا هغه ځواکونه له پامه غورځول شوي دي چې عملاً له طالبانو سره نه دي ولاړ او ان ښايي د طالبانو نقد او مخالفت هم وکړي؛ خو په عين وخت کې داسې فرهنګ رواجوي او داسې افکار خپروي چې نتيجه يې يوازې دا ده چې په سيمه کې طالباني فکر او طالباني روحيه پياوړې شي.

د دې ځواکونو ډېره برخه له جګړې سره مستيقمه رابطه نه لري او ظاهراً د ټولنې د مدني جوړښت يوه برخه ده او يا دا د طالبانو مخالف هغه سياسي – مذهبي فعالان دي چې د اساسي قانون تر چتر لاندې ژوند کوي – سره له دې چې پر اساسي قانون چنداني باور نه لري او کله نا کله عملاً ورسره مخالفت هم کوي – ځينې نور يې ان پر دولتي چوکيو ناست دي؛ خو بيا هم د دوی کارونه سبب کېږي چې د طالب پالنې فرهنګ لا غښتلی شي او هغه کسان چې غواړي له طالبانو سره اساسي مبارزه وکړي او د دې بهير ټولنيزې ريښې وروچې کړي، ځنډې ته وهل کېږي چې هېڅ کار و نه کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرم طالبان هغه کسان دي چې د اسلام له طالباني تعبير سره يې خپله رابطه نه ده شلولې او په دې تعبير کې هېڅ شک نه کوي او دې ته هم نه دي چمتو چې په دې اړه بحث او مناقشه وشي. دوی دې ته هېڅ رغبت نه لري چې په عمومي بحثونو کې د طالبانو منځ ته راوړونکي فکرونه او تيوري ګانې تر نقد لاندې ونيول شي. دوی دين د قدرت داسې اوزار ګڼي چې ورباندې کولای شي سياسي – اجتماعي موقف حاصل کړي او له دې لارې په قدرت کې برخه واخلي او يا د قدرت له خاوندانو باج واخلي. دوی د دين له هر هغه تعبير سره مخالف دي چې له دين څخه د دنيوي استفادې لاره بندوي، په همدې وجه يې ډېر فکري او اجتهادي مبحثونه چې لا اختلافي دي او تر شا يې هېڅ کوم قاطع ديني نص هم نشته، په ممنوعه حريمونو بدل کړي دي او هېچا ته په کې د ورننوتلو اجازه نه ورکوي او که له کومې ګوښې د نوفکرانو اواز اوچت شي، ټول خپل اختلافونه يوې خوا ته پرېږدي او د هغوی د ځپلو په خاطر سره يو کېږي.

دوی په دې خطرناک دي چې د فکر له ازادۍ څخه وېره لري او دا خطر تر هغه خطر خورا زيات دی چې طالبان يې د خپل توندلاريتوب په وجه د ټولنې عمومي امنيت ته رامنځته کوي. په همدې وجه دوی په رسنيو کې او په هغو تريبيونونو کې چې په واک کې يې لري، د انسانانو پر وژل کېدلو او د سلګونو او زرګونو وګړو د خونو د خرابېدلو په اړه څه نه وايي او پر دې سيمې له راروانې تيارې څخه هېڅ شکايت نه کوي؛ خو همدا چې په يوه ګوښه کې د دوی د ذوق او سليقې خلاف يوه خبره وشي، ټول د ليونيانو غوندې رادانګي او داسې ښيي چې ګواکې پر دين او مقدساتو او سنتونو باندې بريد شوی دی، بيا واټونه او سړکونه له خپلو پلويانو ډکوي او خپل زور ښيي.

دغه ډلې د هېواد په هر ګوټ کې مختلف مرکزونه لري. جوماتونه د دوی دي، دوی د پخواني او نوي سبک تعليمي مرکزونه لري او پر هغوی سربېره يې احياناً ځينې سرتاسري رسنۍ هم تاسيس کړي دي او غښتلي خپرندوی ارګانونه لري، ورسره يې مالي بنسټونه او د ګټې وټې شرکتونه جوړ کړي دي او د اوسنيو شرايطو او تحولونو په برکت يې لويې سرمايې ګټلې دي.

دوی پر ځينو حکومتي بنسټونو د خپل نفوذ له لارې، خپلې سليقې پر خلکو مني او خپل فکري مخالفان په مختلفو لارو تر فشار لاندې راولي. په همدې وجه ډېرې ډلې او ډېر بنسټونه ورته باج ورکوي چې د دوی له تبليغاتي يرغله په امان کې پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی چې رسنۍ او نور امکانات یې په واک کې دي، د ټولنې د عمومي ذهنیت په جوړولو لګیا دي او ځانګړې مفکورې رواجوي او خاصه ایډیالوژي خپروي، هغوی له ټولو هغو امکاناتو څخه پوره ګټه پورته کوي چې د وروستیو کلونو د تحولاتو په برکت ورپه برخه شوي دي؛ خو دوی دا نه شي زغملای چې نور وګړي چې د دوی په شان فکر نه کوي، هم له دې فرصتونو استفاده وکړي او همدا چې بل کس وغواړي د دوی په شان د ټولنې په فرهنګي او فکري ډګر کې رامیدان ته شي او په ځینو موردونو کې د فکر او لید تکثر نندارې ته وړاندې کړي، هغوی بیا له دین څخه په استفادې سره او د دین تر پوښښ لاندې، پر نورو میدان تنګوي او څه چې ځان ته یې خوښوي، نورو ته یې نه خوښوي.

جالبه خو دا ده چې دغه ډلې له یوې خوا د هېواد له هغو ټولو امکاناتو څخه چې په سیاسي او اجتماعي ساحه کې شته، ګټه اخلي او له بلې خوا هر وخت د منتقد او معترض په دریځ کې راڅرګندېږي او د نظام د مشروعیت او په خلکو کې د نظام د نفوذ مخه نیسي. دوی هغه فساد په شدت رابرسېره کوي چې پخپله هم په کې برخه لري او په کافي اندازه یې ګټه ځنې کړې ده او په دې توګه د نظام د مسالمتپالو مخالفانو په جامه کې ځان رانبیي.

دغه ډلې نه رسماً په طالبانو کې حسابېږي او نه د هغوی په مخالفانو کې. دوی له یوې خوا د طالبانو پر موجودیت او د هغوی په جګړو خوشحاله دي خو خپله خوشحالي نه څرګندوي؛ مګر د طالبانو موجودیت د خپل باج اخیستنې لپاره غوره فرصت ګڼي. یعنې که د دوی غوښتنې ونه منل شي، دوی هم له طالبانو سره یو ځای کېدای شي یا کولای شي د هغوی په شان د خشن مخالفت بیرغ اوچت کړي او خپل پلویان خشونت ته وروبولي او د ټولنې عمومي فضا ګډه وډه کاندي. له بلې خوا له خشونت سره په مبارزه کې ځان د نړېوالې ټولنې ترړونوال بولي او هڅه کوي په ګټو کې تر نورو هم زیاته برخه وروړسېږي.

زموږ بحث پر دې باندې نه دی چې ولې دغه ډلې له موجوده سیاسي فضا څخه خپله ګټه غواړي؛ ځکه د سیاست په نړۍ کې دا بیخي معموله چاره ده او هر څوک په هر ځای کې دغسې کوي، اساساً د سیاست کار له دې پرته بل څه نه دی چې فرصت وپېژني او ګټه ورنه پورته کړي. خبره دا ده چې دغسې کړنې له یوې خوا د خشونت او افراطپالنې پر ضد هڅې ناکاموي او له بلې خوا د ټولنې ګُلې فضا خرابوي او لاخرابوي یې او عمومي امنیت ته شدیداً تاوان رسوي.

دغه ډلې باید د هغوی له بحثونو، د هغوی له پیغامونو او هغې روحیې وپېژنو چې خلکو ته یې ورکوي. که د دوی بحثونه د اباديۍ، ارامۍ، تفاهم، تعاون، تسامح، اتحاد، اتفاق، پیوستون،

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو لاس کېدل، بشرپالنې، خيرغوښتنې او دې ته ورته نورو ارزښتناکو مفاهيمو پر محور وچورلي؛ نو دې کې به شک نه وي چې دا پيغام له دين څخه راوتلی، د ټولنې له عمومي ګټو سره سمون لري او د نننې نړېوال تمدن له روحيې سره اړخ لګوي او د دغو بحثونو د خاوندانو فکري تعالي او فرهنګي لوړتيا ښيي. که داسې وي نو طالباني فرهنګ به کمزوری شي او د دې بهير فکري بنسټونه به زيانمن شي.

خو که ووينو چې د دوی کار دی:

- پر نظام باندې دوامدارې نيوکې،

- د منبرونو او عامه تريبيونونو سياسي کول،

- پر پرديو دوامدارې حملې، هغه هم هغه پردي چې که په هر نيت وي خو زمونږ د وطن په بيارغاونه کې يې برخه اخيستې ده، نه هغه پردي چې له تېرو د پرشو کلونو راهيسې يې کار د دې وطنورانول دي،

- د ايدیالوژۍ پر اساس د انسانانو تر منځ بريدونه تېرول،

- له نوي تمدن سره دښمني او د هغه ټول مثبت اړخونه تر پوښتنې لاندې راوستل په دې پلمه چې ځينې عيبونه او نيمګړتياوې لري، حال دا چې دا عيبونه د نوي تمدن په جانبي عوارضو کې حسابېږي،

- د ملي غيرت او ديني عرق په نامه خشونت ته د خلکو هڅول،

- د ديني روحيې او ايماني جذبې تر پوښښ لاندې په دوامداره او پراخه توګه د نفرت او کينې خپرول،

- د صنفي او ډله ييزو انګيزو په وسيله د ټولنې له عمومي برخليک سره لوبې کول،

- د خلکو د ويرولو او ګواښولو لپاره له ملي شعارونو او ديني مفاهيمو څخه د اوزارو کار اخيستل،

- مذهبي او فرقه يي اختلافونو ته لمن وهل،

يعنې که د يوې ډلې د بحثونو اصلي محور دې ته ورته موردونه وي، شک نشته چې هغوی د طالبانو په شان دي، سره له دې چې رسماً د هغوی تر څنګ نه جنګېږي؛ خو هغه رسالت چې دوی يې ځان ته ټاکلی دی، تخريب او ورانول... لا ډېرې وژنې ... د لا زياتو اورونو بلول... او لا پراخې تباهۍ... دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا اوس دا ډول خبرې د وطن په ځينو ځايونو او ان په ښاري سيمو کې د پراخيدو په حال کې دي او له خپلو مخاطبانو غواړي چې د وضعيت د ګډوډولو، د شرايطو د خرابولو او د اوسني مات ګوډ نظم چې په سل رقم خواريو برابر شوی، ړنګولو ته چمتو شي.

که دغه ليدلورى وسپړل او وڅېړل شي، ټولو ته به څرګنده شي چې طالبان اساساً د همدغسې ليدلوري زېږنده او د همدغسې فرهنګ محصول دي. که د يوې ټولنې د يوې برخې د وګړو فکري تکوين له همدغسې ليدلوريو او مفکورو رغېدلى وي، څرنګه کولای شو د دې ټولنې د امنيت او ارامۍ خبره وکړو او د پرمختګ او ښېرازۍ دعوا يې وکړو؟

تر هغې پورې چې د نورو زغمل، مدارا، عقلانيت، عمومي مصلحت او نور اخلاقي فضايل د يوه ليدلوري په عمده برخه بدل نه شي، نه شو کولای له دې ليدلوري دا تمه ولرو چې له رغولو او ابادۍ سره دې مرسته وکړي او ودې او پرمختګ ته دې خدمت وکړي.

ممکن ځينې هغه کسان چې دا سې بربادونکي ليدلوري رواجوي، له طالبانو ښه زړه ونه لري او ان د طالبانو له ځينو کارونو ګيله من يا خپه هم وي؛ خو د دوی کړنې او پيغام عملاً د طالبانو په ګټه تماميږي او مستقيماً د هغوی د تقويې سبب کېږي.

خبره دې حد ته رسېدلې ده چې نظام د دې ليدلوري مخې ته د ډال حيثيت غوره کړی او هڅه کوي د هغه له شاخصونو سره ځان عيار کړي. نظام به فکر کوي چې له دې کار سره به مشروعيت حاصل کړي؛ ځکه ګومان کېږي د ټولنې د دوډپالنې په خاطر بايد داسې ليدلورى په رسميت وپېژندل شي او ورسره جوړ جاړی وشي. دا يوه بله لويه تېروتنه ده چې عواقب به يې خورا ګران تمام شي. دا کارونه پخپله په يو ډول له طالبانيزېښن سره مرسته کوي.

دا نا ممکن دي چې د طالبانيزم ټغر د هغه له منطق سره د جوړ جاړي له لارې راټول کړو. طالبانيزم يعنې د نه زغملو، له نورو سره د دښمنۍ، د عدم مدارا او د خشونت ايديالوژي. له دې ايديالوژۍ سره مبارزه د جوړ جاړي له لارې نه؛ بلکې د هغې له ديني ضد او غيرانساني څېرې څخه د پردې په لرې کولو سره کېدای شي.

دغه ايديالوژي بايد په بربنډه او شفافه توګه تر بې رحمانه نقد لاندې ونيول شي او انسان دښمنه، ويجاړونکي بعدونو يې رابرسېره شي چې هېڅ ته د ابهام ځای پاتې نه شي او د قران مجيد په تعبير سره "قد تبين الرشد من الغی..." ګمراهي او هدايت په روښانه توګه سره وپېژندل شي. په دې صورت کې به د ډېرو وګړو حال معلوم شي، ځوک چې طالب پاله او خشونتپاله دي، خپله لاره به جلا کړي او هغوی چې غواړي ټولنه په سوله او ارامۍ کې ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي، بلکې لاره به غوره کړي او دا هغه کسان دي چې نه غواړي نور دې د دين يا ديموکراسي يا بل څه په نامه د انسان وينه تويه شي او د خلکو کورونه ړنګ شي او د ډېرو وګړو برخه تباهي او بدبختي شي.

د طالباني ليدلوري پر وړاندې بې تفاوتي او هغه ته ميدان پرېښودل، له هغو سترو تېروتنو څخه دي چې د توندلاريتوب او خشونت ټولو مخالفانو په کې برخه لرلې ده. د طالبانو له وسله والو ځواکونو سره مبارزې د طالباني افکارو او د طالب پاله فرهنګ د څېړلو لپاره ځای پرې نه ښود. اوس وينو چې له يوې لسيزې وروسته، هغه نسل چې په دې تاريخي مقطع کې راټوکېدلی دی، تر پخوا زيات له طالباني شعارونو او خوبونو سره انس لري.

هغه مهال چې طالبانو پر هېواد حکمونه چلول، د ټولنې اکثرو ځوانانو او ان د جوماتونو زيات شمېر امامانو د طالبانو ضد دريځ درلود او د دې بهير له فکري او فرهنګي بڼې سره يې مخالفت کاوه؛ خو نن وضعيت تقريباً اپوټه دی. دا چې موږ بايد له نورو سره څه نسبت ولرو، له لرې او نژدې وګړو سره څرنګه روابط تأمين کړو، د خپلې راتلونکې لپاره څه ډول تدبيرونه ولرو، دا چې په نننۍ نړۍ کې ځان څرنګه تعريف کړو، مبهم او ناڅرګند مفاهيم دي چې د دې نسل ذهنونه ځوروي او ورته روښانه ځواب نه لري. په همدې ابهام او لالهاندي کې طالباني ليدلوری رامخته کېږي چې د دې پوښتنو د ځواب پر ځای خپل ايديالوژيک ليد ځای پر ځای کړي.

هغه نسل چې له دې تبليغاتو سره مخ و او ورسره يو ځای يې وده کړې ده، د دې پر ځای چې اوسنی وضعيت عاقلانه تحليل کړي، پرونۍ ستونزې او د سبا لپاره پروګرام وڅېړي، په يو څو شعارونو پورې زړه تړي چې دا شعارونه نه خو منطقي اساس لري او نه واقعي زمينه. دوی ته داسې وهمونه ښودل کېږي چې نه خو د دنيا په درد لګېږي او نه د دين خدمت ورباندې کېدای شي. البته رسمي طالبانو ځوانانو ته دا وهمونه نه دي ورکړي؛ ځکه له نېکه مرغه طالبان د فکري او علمي وړتياوو په لحاظ په دې حد کې نه دي چې وشي کولای د تعليم يافته ځوانانو په منځ کې خپل پيغامونه رواج کړي؛ خو له بده مرغه دا وهمونه او نيمګړې مفکورې هغو کسانو رامنځته کړې دي چې ظاهراً خو طالب نه دي؛ خو په فرهنګي ډګر کې د طالبانو رسالت ترسره کوي، دا هغه کسان دي چې په دې بحث کې د نرمو طالبانو په نامه ياد شوي دي.

که خبره رالنډه کړو بايد ووايو چې طالبان يوازې هغه کسان نه دي چې وسله يې په لاس کې ده او له نظام سره جنګېږي. د هغو ځواکونو يوه برخه چې عملاً په ټولنه کې د طالبانو د ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دوام سره مرسته کوي، هغه ډلې دي چې د طالباني افکارو په خپرولو سره يې د هغه پراخ فرهنګي تحول پرمخ لاره بنده کړې ده چې کولای شي مونږ له ننني نړۍ سره ونښلوي. دغو ډلو - که د نظام په د ننه کې دي که بهر - د ډېرو اساسي مفاهيمو په اړه د خپل دوه مخي او مبهم دريځ په وجه او ان د تمدن له ځينو اساسي مقولو سره د دښمنۍ په وجه، نوی نسل له طالباني ليدلوري سره اشنا کړی او دوی يې له ځينو طالباني مفکورو سره پخلا کړي دي.

له طالبانو سره د مبارزې سياستونو په دې وجه چې د طالبانيزېشن د فرهنګي بهير غم يې نه دی کړی او ان هغه ته يې په تکتيکي ډول لاره ورکړې ده، د دې ټولنې د هر ډول اساسي تحول لپاره يې ميدان تنګ کړی دی او په دې لاره يې د طالبانو له بيا راپاڅېدو او ودې سره مرسته کړې ده.

ګومان کوم په دې حساب به دې ته اړتيا نه وي چې دا پوښتنه مطرح شي چې ولې طالبانو يو ځل بيا سياسي - نظامي ژوند ته لاره ومونده او په لا زيات قوت راڅرګند شول. ليکوال لا هم په دې باور دی چې که پخه اراده ورته شته وي، د طالبانو ټغر راټولېدای شي، سره له دې چې د سيمې ځينې هېوادونه به دا نه غواړي خو دا به وشي؛ خو شرط دا دی چې د طالبانو پر ضد مبارزه له هغو ابهامونو او ستونزو پاکه شي چې اشاره ورته وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توندلاري طالبان، منځلاري طالبان

### مبهم او ناسم مفهومونه

یوه له هغو موضوعاتو چې کله ناکله مطرح کېږي او له سرې لاره ورک کوي، د منځلارو طالبانو اصطلاح او له توندلارو طالبانو څخه د هغوی بېلول دي. لیکوال د کلمو اساسي اهمیت ته او د هغوی استعمال ته په پام سره او دې ته په پام سره چې کلمې د خلکو د اعمالو او د انتخاب لوری بدلولای شي، له داسې تعبیرونو او ډلبندیو سره نه جوړېږي، البته له دې تعبیرونو سره د نه جوړېدلو اصلي علت یې دا دی چې دا تعبیر مبهم او ناسم دی. له مبهم او ناسم تعبیره منظور دا دی چې یوه کلمه یا یو تعبیر کافي واضحه نه وي او تر یوه زیات مفهومونه ځنې متصور وي، خصوصاً متناقض مفهومونه.

د لیکوال دا باور دی چې «طالبان» داسې کلمه ده چې هېڅ مختارې، روستارې یا صفت ته اړتیا نه لري؛ ځکه په لومړي تعبیر یعني «توندلاري طالبان» کې یو شی د هماغه شي له نفس او ذات سره یو ډول توصیف شوی دی، دا زموږ د مکتب د هغه کمسواده مدیر خبرې ته ورته دی چې په جدي او د رټنې په انداز به یې ویل: «شرم وکړئ! دروغجن، کذاب دی". هغه نه پوهېده چې کذاب او دروغجن یوه معنا لري او دا خبره په منطقي لحاظ هېڅ مفهوم نه لري چې ووایې دروغجن دروغجن دی. په حقیقت کې داسې عبارتونه عبث او بې معنا دي او د ویونکي پر ناخبرۍ دلالت کوي چې د دواړو کلمو د معنا په ورته والي نه دی خبر. همدا وجه وه چې هر وخت به چې شاګردانو د مدیر له خولې دا خبره واورېده، یو بل ته به یې سره وکتل؛ خو څه به یې نه ویل چې مدیر ونه شرمېږي.

په دې اړه د منطق په علم کې د دلالت په بحث کې او همدارنګه په معاني او بیان کې چې د بلاغت د علم څانګې دي، په کافي اندازه بحث شوی دی. د ژبې په اوسنۍ فلسفه کې معناګانو ته د کلمو د ارجاع پر ډول باندې زیات بحثونه شوي دي او فکر کوم که هغو بحثونو ته ورننوځو، له اصلي مطلبه به لرې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تعبير له داسې طريقې يوازې هله استفاده کولای شو چې توصيفي بڼه ولري او د لا زيات توضيح لپاره استعمال شي. لکه چې ويل کېږي «روښانه لمر» چې دلته د ويونکي منظور دا دی چې مخاطب د لمر روښانوالي ته لا زيات متوجه کړي، که نه روښنايي خو د لمر التزام دی او بې له دې چې له لمر سره روښانه ووايو، پرې پوهېږو؛ ځکه داسې لمر چې تياره يا تور وي، ګرد سره نشته. «خوشبويه عطر» همدغسې عبارت دی، ځکه عطر خو ذاتاً خوشبويه وي او داسې نه ده چې ګواکې دوه ډوله عطره ولرو، يو خوشبوی او بل بد بوی. که يو شی بد بوی ولري، هغه ته خو بيا عطر نه وايو. که د «تونددلاري طالبان» اصطلاح په همدې طريقه استعمال شي خو سمه به وي، دا په دې چې د طالب د کلمې پر دې اړخ تمرکز او تاکيد وشي.

خو دويم تعبير يعنې «منځلاري طالبان» تر دې هم زيات جنجال لري؛ ځکه متناقض مفهوم لري چې په منطقي لحاظ نا موجه دی. منځلاری طالب د «عادل مستبد» د اصطلاح په شان دی چې يو وخت کې د ځينو شرقي نوښتګرو د سرلارو له خوا استعمال شوی و او په معنا کې يې د تناقض په وجه ډېرو صاحب نظرانو ورباندې نيوکې کړې وې، دوی به ويل چې عادل مستبد له عادل ظالم سره برابر دی. د استبداد مفهوم چې معنا يې يوازې خپله خوښه او خپله رايه چلول دي، د ستم او بې عدالتۍ مستلزم وي. مستبد هغه کس دی چې نور له ټولو يا ځينو حقونو څخه محروموي، دا حقونه کېدای شي د مالکيت حق، د عقيدې د ازادۍ حق، د سياسي مشارکت حق، د بيان د ازادۍ حق او يا نور حقونه وي. که حاکم داسې کس وي چې له نورو څخه د هغوی يو حق هم وانه خلي، بيا خو ورته مستبد نه شو ويلای. که دی مستبد وي، حتماً خپل رعيت له ځينو حقونو محروموي او په دې صورت کې به دی ظالم وي او ظالم عادل نه وي.

عين نيوکه د «منځلاري طالب» پر اصطلاح هم وارد ېږي. د دې ټکي د پوهېدو لپاره بايد يو ټرمينالوژيک اصل په پام کې ونيسو. هره اصطلاح په يوه خاصه تاريخي مقطع کې او په خاصو سياسي – اجتماعي شرايطو کې رامنځته کېږي. اساساً کلمې او اصطلاحات د واقعيتونو تالي (وروستني يا تابع) وي. لومړی يو شی يا يوه پديده رامنځته کېږي يا يو واقعيت پېښېږي، وروسته هغه کسان چې له دې پديدو او واقعيتونو سره سروکار لري، د هغوی د تعبير لپاره او د دې لپاره چې ګډ او عمومي مفهوم يې وړاندې کړي، يوه کلمه يا اصطلاح ورته غوره کوي. دا کلمه کله نا کله نوې اختراع کېږي، لکه څنګه چې په ځينو ملکونو کې د ژبې د فرهنګستان مرکزونه دا وظيفه پر غاړه لري او د ځينو نويو شيانو يا پديدو لپاره مناسبې کلمې، په ژبه کې د موجودو کلمو له منځه مشتقوي او د نوې اصطلاح په توګه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کوي. ځينې وخت بيا د موجودو کلمو او اصطلاحاتو له منځه يوه يې غوره کېږي او پر نوې پديدې اطلاق کېږي. سره له دې چې د دې کلمې نسب هماغه پخوانۍ کلمې ته رسېږي؛ خو نور به يې معنا هغه پخوانۍ معنا نه وي او د نوې اصطلاح په توګه به نوی هويت و مومي او مستقل شخصيت به مومي.

يعنې داسې نه ده چې لومړی دې کلمه رامنځته شي او وروسته دې د هغې پر اساس مفاهيم يا واقعيتونه رامنځته شي؛ بلکې تل لومړی هغه مفهوم يا واقعيت راپيدا کېږي چې کلمه ورته راجع کېږي، وروسته بيا کلمه ورته جوړېږي. دا موضوع دومره ابهام نه لري چې د اثبات لپاره يې د سيمانټيک (Semantic) د بحث لمن ونيسو. دا يو عام اصل دی او پر ټولو کلمو او اصطلاحاتو صدق کوي.

بناً «طالبان» هم داسې اصطلاح ده چې خپله خاصه تاريخچه لري او يوازې د طالب العلم چې د ديني علومو هر زده کوونکي ته اطلاقېږي، معنا نه لري؛ نو نه شو کولای طالبان پر څو ډلو وويشو. د طالبانو اصطلاح چې نن سبا په سياسي مباحثو کې مطرح کېږي، په هېڅ توګه د طالب العلم معنا نه لري. که په دې بحثونو کې له طالبانو څخه مو مطلب طالب العلمان وي؛ نو دا اصطلاح بايد له سياسي لانجو لرې په اکاډيميکو محيطونو او ښوونيزو مجامعو کې مطرح شي.

هغه څه چې په رسنيو کې د سياستوالو له خوا مطرح کېږي، يو بهير، يوه پديده او يو سياسي – نظامي جوړښت دی چې مشخصه تاريخچه او خاصه کارنامه لري، د سياسي، ټولنيزو، فرهنګي، اخلاقي او ديني مسايلو په اړه خاص ليدلوری لري او هر وخت چې د طالبانو خبره کېږي، منظور همدغه ډله، له همدې ځانګړنو سره وي.

طالبان يعنې هغه بهير چې غواړي د زور او خشونت له لارې قدرت ته ورسېږي. ټول پوهېږي چې طالبان په دې معنا، د مجاهدينو د حکومت پر مهال او د کورنيو جګړو په سختېدو سره رامنځته شول او ظاهراً قصد يې د پاټکونو ټولول او له غيرمسوولو وسله والو سره نښته وه. البته وروسته بې شمېره اسناد او شواهد راووتل چې دا بهير د پاکستان د استخباراتي سازمان د يوې پروژې محصول و چې پر افغانستان د ولکې د ټينګولو لپاره يې طرح کړې وه او په دې برخه کې يې په سيمه ييزه او نړېواله کچه د خپلو ځينو ترونوالو موافقت هم ترلاسه کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د دې ډلې په منځته راتګ کې د سياسي عامل له نقشه تېر شو، د هغې په راټوکېدو کې فکري او فرهنګي بستر هم اهميت لري. طالبان د هغو مدرسو محصول و چې د مولوي سميع الحق او مولوي فضل الرحمن په مشرۍ جميعت علمای اسلام بنا کړې وې. دې مدرسو يوه خاصه ايديالوژي رواجوله چې د عربي ملکونو او په تېره بيا د عربستان د ټاپووزمې د ځينو متشددو ډلو په طبع برابره وه.

د دې ډلو د ايديالوژيکو اساساتو او فکري محورونو پېژندل هم خاص اهميت لري؛ ځکه که دغه ابعاد روښانه نه شي، د طالبانو په اړه بحثونه به له سرې لاره ورکه کړي او په دې باره کې د نظر اختلافونه به هم پای ونه مومي.

هغه ايديالوژي او طرز فکر چې طالبان د هغوی پر اساس او پر هغوی د تکيې په نتيجه کې رامنځته شوي دي، تر دې ډېره موده پخوا جوړ شوي وو. د دې طرز فکر بهير مو په بله مقاله کې څېړلی او له تکراره يې تېرېږو. د دې تفکر اساسات په درېو محورونو کې رانغاړلی شو: لومړی، د دين تعبير–دويم، انسان ته د کتلو طرز–درېيم، دنيا ته د کتلو بڼه. دلته له دنيا څخه مطلب هم د دنيا طبيعي جوړښت دی او هم اجتماعي روابط او تاريخي تکامل يې چې حکومت، ټولنيز بنسټونه، او تمدني وده يې په کې راځي. دغه فکري اساسات چې له نظامي امکاناتو، سازماني جوړښت او سياسي ملاتړ سره يوځای شي، د طالبانو په نامه پديده ځنې رازېږي.

دا پديده نه يوازې يو فکري او ايديالوژيک بهير دی او نه يوازې يو نظامي يا سياسي بهير، که داسې وای نو دا دومره سرخوږی او خطر به يې نه رامنځته کول. فکري او ايديالوژيک بهيرونه تر هغې پورې چې واقعاً فکري او ايديالوژيک پاتې شي او فعاليتونه يې په هماغه محدوده کې روان وي، د زغملو وي او د اندېښنې سبب نه کېږي.

په صدر اسلام کې، کله چې خوارج راپورته شول، د صحابه وو مشرانو د څلورم خليفه په شمول په دې نظر وو چې خوارج تر هغې پورې چې وسله يې نه وي پورته کړې او يوازې له نظام سره يا د اسلامي ټولنې له عمومي بهير سره په فکري او تيوريکي مخالفت اکتفا کوي، د اندېښنې وړ نه دي او دوی د فکري مبارزې له حقه برخمن دي. خو کله چې خوارج د ټولنې عمومي امنيت ګډوډ کړي او خپل هر ايديالوژيک مخالف له تېغه تېر کړي، بيا نو بايد ورسره شديد چلند وشي چې وځپل شي او د نورو پر مال او سر د تعرض فرصت پيدا نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبان هم که يوازې يو سياسي يا نظامي بهير واى، له هغوى سره تعامل به اسانه و او د دې ستونزې د حل موندل به سخت نه و؛ ځکه هم د سياست ميدان او هم د جګړې ډګر خپل خاص منطق لري او د پېژندل شويو قوانينو تابع دي.

خو هغه څه چې طالبان له ډېرو نورو بهيرونو څخه بېلوي دا دى چې په دې بهير کې خاصه ايډيالوژي د خشونت له اوزارو او پرمخ تللو ترهګريزو ميتودونو سره يو ځاى شوې او پېچلى ترکيب يې جوړ کړى دى. اوس نو نړۍ له يوې کاملاً نوې او متفاوتې پديدې سره مخ ده چې له پخوانيو جهادي بهيرونو او کلاسيکو اسلامي غورځنګونو څخه يو مخ متفاوته ده. طالبان د القاعده د ډلې افغاني – پاکستاني تجسم دى. دوى که له القاعده سره نژدې سازماني اړيکې هم ونه لري، بيا به هم دا خبره سمه وي. القاعده بيا په خپل وار سره د هغو توندلارو اسلامي ډلو د يوځاى کېدو محصول دى چې په اويايمو کلونو کې د عربي نړۍ په يوه برخه کې راڅرګندې شوې او تکفيري چلند په مختلفو شکلونو ورباندې حاکم و. د مخالفانو تکفيرولو ته تمايل د تاريخ په ټولو پړاونو کې د خوارجي ډلو تر ټولو مهمه مشخصه پاتې شوې ده، البته دغه تمايل په دې ټولو ډلو کې يو شان نه دى ښکاره شوى.

د مخالفانو تکفيرولو ته تمايل او وروسته د ديني توجيه په مرسته د هغوى د وينې تويول، د يوه خاص رواني وضعيت ننبه ده چې دا پخپله بيا د خاصو اجتماعي – فرهنګي شرايطو محصول دى. بدويت په مختلفو کچو کې هغه مهم عنصر دى چې هم دغه فرهنګي شرايط او هم هغه رواني وضعيت تعريفوي. سخت زړي او ډبرزړي انسانان د متحجر، ډبروزمي، وچ او انعطاف نامنونکي فرهنګ زېږنده دي. دا فرهنګ د بدوي محيط په شان وچ او سپېره دى چې د شنيلي او طبيعي ښکلا او رنګارنګۍ څرک په کې نه ليدل کېږي.

دغه رواني وضعيت او هغه فرهنګي شرايط، يو بل ته د هنداري کار ورکوي او دواړه بيا دې ته لاره هواروي چې دين او بلکې حکومت او هره مقوله داسې تعبير شي چې د خشونت، وحشت، داړونکيتوب او خون خوارۍ لاره ونيسي او د ترهګرۍ، ورانۍ او تاوان رسولو تنده يې د ماتېدو نه وي.

دا رواني وضعيت او فرهنګي شرايط څرګندوي چې څښتنان يې له هغه پېر څخه ډېر واټن نه لري چې انسانان لا د مدنيت پړاو ته نه وو ورننوتلي او د ځناورو په شان به يې په غارونو او ځنګلونو کې بې له قانون، نظم او ادب څخه اوسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دين داسې تعبير چې انسانيت ته ارزښت ورکوي، مدنيت ته هرکلی وايي او فاضله اخلاقو ته غېږه پرانيزي، په داسې فرهنګي شرايطو کې ريښه نه شي ځغلولای او په داسې فضا کې به يوازې مړاوې شي او بس.

دا ډول انسانانو ته مطلوب ديني تعبير هماغه دی چې ظاهراً د شرع الفاظ پر نورو باندې د تېري او بريد په وسله بدل کاندي او د انسانانو پر ځان او ابرو تېری وکړي. دوی له دين څخه داسې تفسيرونه راباسي چې د جګړې او شخړې په درد ولګېږي او کله منارونو، سوځېدلو ځمکو، سر غوڅولو، په دار ځړولو او هر هغه څه ته لاره هواره کړي چې لازيات نفرت او کرکه زېږوي.

په دې منطق کې دين يعنې هغه تيوري چې د دُره وهلو، لاس غوڅولو، بندي کولو، سر پرې کولو، خپټه څېرلو، د جسدونو ډېرولو، د واکمنۍ پر چوکۍ کېناستلو او دا هرڅه په بې غمه زړه او ارامه وجدان سره کولو ته لاره هواره کړي؛ ځکه دا ټول د شريعت تطبيق او د رسالت سرته رسول ګڼي.

په دې منطق کې د انسان کرامت، شرافت او حيثيت مطرح نه دي او د انسان لپاره د برابرۍ، عدالت او ازادۍ خبرې په کې نه کېږي. په دې منطق کې تر ټولو خواتنګوونکې کلمه ازادي ده چې بايد په هر ډول او هره بيه چې کېږي، ورسره جګړه وشي او د مطرح کېدلو مخه يې ونيول شي. ښايي لږې داسې کلمې پيدا کړای شو چې د ازادۍ د کلمې په شان د دې منطق د څښتنانو ټينګه وينه ايشوي او ليونتوب يې راپاروي. دا کلمه تر ټولو سخته زياره ده چې دوی ته يې کولای شو او تر ټولو تريخ ګواښ دی چې دوی پرې ګواښلي شو. ځکه خو دوی که له هر شي سره جوړجاړی وکړي، له دې مقولې سره يې نه کوي او تر هغې چې ساه يې په بدن کې وي، ورسره جنګېږي او د ختمولو هڅه به يې کوي.

په دې منطق کې د انسان د شخصيت اساس برده ګي ده. دلته د عبادت معنا برده ګي ده، نه هغه بنده ګي چې عارفانه معنا يې له مينې او محبت سره غوټه ده. دلته برده ګان بايد يوازې منونکي او مطيع اوسي، ان په خپلو ډېرو خصوصي چارو کې هم او فرمانروايي يوازې د هغه خدای ده چې دغه واکمنان يې د خلکو پر سر رانازل کړي دي او د خپل شريعت د تطبيق وظيفه يې ورپه غاړه کړې ده. دغه خدای، مخصوص خدای دی چې له نورو سره کار نه لري او د نورو برده شويو بنده ګانو د درد او رنځ پروا نه لري او د کمزورو نېکمرغي او بدمرغي ورته اهميت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لري. ده ته يوازې د لږ شمېر کسانو کاميابي اهميت لري، د هغو کسانو چې توانېدلي دي نور د ده په نامه مريبيان کړي او د ده شريعت په زور او اکراه ورباندې تطبيق کړي.

دا هغه تصوير دی چې خدای او له انسانانو سره د هغه د رابطې په اړه وړاندې کېږي او په دې منطق کې منعکسېږي. خو دا چې انسان پر ځمکه د خدای خليفه او د موجوداتو اشرف ګڼل کېږي او دا چې د خدای د يوه بنده د زړه ازارول، کعبې ته تر اهانت لازياته ناروا ده او دا چې د خدای د بنده ګانو خدمت تر ټولو عبادتونو لوړه درجه لري او دې ته ورته نور مفاهيم، له دې فکري او رواني ليدلوري سره رابطه نه شي جوړولای.

د طالبانو او نورو ورته ډلو خورا اساسي ستونزه په همدې محور يعنې د خدای او له بنده ګانو سره د هغه د رابطې په اړه د دوی په ذهنونو کې پراته تصوير پورې تړلې ده. که وغواړو دغه تصوير تشريح کړو، بايد جلا مقاله ورته ځانګړې کړو. هغه څه چې بايد ورباندې تأکيد وکړو، د دې ډلو د الهياتو او تيولوژي اهميت دی چې که ورباندې ټکان ورکونکی نقد ونه کړو، ستونزه به يې همداسې پاتې شي.

همدارنګه څنګه چې مو مخکې اشاره ورته وکړه، دنيا ته د کتلو طرز هم د دې ډلو مهمه ځانګړنه ده. دوی د دنيا د فيزيکي پېژندلو په لحاظ په ډبرپېر (عصر حجر) کې اوسېږي او د ټولنې او د انسانانو د ټولنيز ژوند د مسايلو د پېژندلو په لحاظ هم په هماغه پېر کې دي. دوی سر بېره پر دې چې د ساينس او فيزيک په اړه د لومړي ټولګي د شاګردانو په اندازه، هغه خوار ساده او ابتدايي معلومات هم نه لري، دا ډول علوم د علومو په توګه په رسميت هم نه پېژني او پر هر هغه څه چې په دنيا کې په مسلمانو کې حسابېږي، ملنډې وهي.

دوی د اجتماعي چارو او هغو تحولاتو په اړه چې د حکومت او په تېره بيا د مډرنو حکومتونو د پيدايښت سبب شوي دي، هېڅ خبر نه دي او دې ډول تجربو ته اصلاً اهميت نه ورکوي؛ ځکه د دوی په سيمو کې داسې پوهنې نه وې او دوی په خپل عملي ژوند کې ورسره سر و کار نه دی لرلی. دوی د داسې حکومتونو د جوړېدلو اهميت هم نه شي درک کولای چې خپلو ښاريانو (اتباعو) ته اساسي خدمتونه وړاندې کړای شي؛ ځکه پخپله يې داسې خدمتونه نه دي ليدلي او پر دې هم باور نه لري چې د داسې خدمتونو وړاندې کول، لازمي دي. دوی اساساً د ښاريتوب پر مفهوم باور نه لري؛ ځکه د دوی په سيمو کې يوازې رعيت معنا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رعیت چې د رعي له کلمې څخه راوتلی دی، معنا یې پېول یا څرول دي، دا د شپنو ژوند ته اشاره لري او په دې منطق کې حاکم یعنې هغه شپون چې څه یې زړه غواړي له خپلو پسونو او مېږو سره یې کولای شي او هر څه چې له رمې سره وکړي، د ده مهرباني او لطف به وي او که دغه مهرباني ونه کړي؛ نو پسونه به یې د اعتراض ژبه او حق نه لري.

په دې منطق کې هغه حکومت منل کېږي چې اولو الامر په کې فعال مایشأ دی او د خدای او پیغمبر په استازیتوب پر خلکو حکم چلوي او څه چې دی یې کوي، د ځمکې پر مخ د الهي حاکمیت تجسم دی او ټول وګړي یې له اطاعت او تایید پرته، بل حق نه لري.

طالبان په خاصه معنا هغې ډلې ته ویل کېږي چې د دغسې لیدلوري پر اساس سره یوځای شوې او سیاسي - نظامي جوړښت یې رامنځته کړی دی او تر هغې چې د خپلې خوښې حکومت یې نه وي جوړ کړی، له هېڅ کاره باک نه کوي، که هرڅومره وینې تویې شي، هر څومره کورونه وران شي او هر څومره ژوندونه له خطر سره مخ شي او هر څومره مصیبتونه پر خلکو راشي او د وګړو ورځ ورته توره شپه کړي، دوی یې پروا نه کوي.

په دې معنا طالبان په دې خاوره کې له پخوا څخه نه وو او اوږده مخینه نه لري او هماغسې چې اشاره ورته وشوه، د مجاهدینو د حکومت تر جوړېدو وروسته، راپیدا شول. دا سمه ده چې د دې بهیر فکري څرکونه له اوږدې مودې راهیسې زموږ په فرهنګ کې شته وو؛ خو دا چې هغه مفکورې له مدرنو وسلو او پرمختللي تنظیم سره نه وې یو ځای شوې نو په دې معنا طالبانو خارجي وجود نه و پیدا کړی. تر دې مخکې څه چې د طالبانو په نامه عیني وجود درلود، هغه شاګردان وو چې دیني علوم یې زده کول او له سیاست سره یې کار نه و، حکومت کولو ته نه هوسېدل او د ټولنې او خلکو امنیت ته یې خطر نه جوړاوه.

نن سبا هم د دیني علومو ګڼ شمېر زده کوونکي هم په افغانستان او هم په پاکستان کې شته؛ خو کله چې په سیاسي بحثونو او رسنیو کې د طالبانو خبره کېږي، منظور دغه زده کوونکي نه وي او اساساً په دې بحثونو کې د علم د زده کړې خبرې په منځ کې نه وي؛ بلکې د حکومت د نیولو او د ډار او وحشت پر بنا د حکومت د جوړولو خبرې کېږي.

په دې خاصه معنا باندې طالبان د سیمې پر اساس ویشلای شو او پاکستاني او افغاني طالبان یې بللای شو، یا یې د سیاسي – نظامي جوړښتونو پر اساس ویشلای شو او ویلای شو چې د حقاني طالبان، د ملاعمر طالبان او دغسې نور. خو دا چې وویل شي توندلاري طالبان او منځلاري طالبان، دا ناسمه ډلبندي ده او له سرې لاره ورک کوي؛ ځکه د دوی د فکري بناوو او

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ لید پر اساس، توندلاریتوب د دې ډلې نه بېلېدونکې برخه (جز لاینفک) ده. که څوک له توندلاریتوبه لاس واخلي، د نورو زغملو ته تیار شي، خشونت څنګ ته پرېږدي او دې ته چمتو شي چې په ګډه سیاسي لوبه کې له نورو سره په برابره توګه برخه واخلي او د دې لوبې قواعد مراعات کړي او د سیاسي مبارزو نتیجو ته غاړه کېږدي، بیا نو هغه له طالبانو څخه بېل شوی دی او نور په دې ډله کې نه حسابېږي. لکه څنګه چې همدا اوس د دې ډلې ځینې پخواني مشران له خشونت او شخړو لاس په سر شوي دي او د دې هېواد د نورو وګړو په شان طبیعي او بې ازاره ژوند کوي، دوی نور د طالبانو له ډلې نه دي، ان که په ځینو دلیلونو د طالبانو له ښکاره نقد څخه ډډه وکړي او د چوپتیا او د لارې له کړنلو کار واخلي.

دوی که طالبان وای؛ نو کولای یې شول پر طالبانو له خپل نفوذه کار واخلي، له دې نفوذه په سیاسي او نظامي تحولاتو کې ګټه واخلي او د دې بهیر پر یوې برخې اغېز وښندي، حال دا چې په طالبانو کې هېڅوک د دوی خبره نه مني او دوی نور نو د هغوی په منځ کې ځای نه لري او ان د ځینو یا اکثرو طالبانو په نظر دوی هغه خاینان دي چې جرمونه یې د بخښنلو نه دي.

دا چې ځینې کسان شته چې له طالبتوبه یې لاس اخیستی دی، معنا یې دا نه ده چې ګوندي دوی د طالبانو منځلاره ډله ده او دا له توندلارې ډلې توپیر لري. دا شمېر کسان تر هغې پورې چې د طالبانیزم په لیکو کې یې حرکت کاوه، په ټولو هغو کړنو کې شریک وو چې طالبانو کړې وو، هغه که له مخالفانو سره جنګونه وو که د دې ډلې سیاستونه، په دُره باندې د خلکو له وهلو را نیولې د بامیان د لرغونو مجسمو تر نړولو پورې...

خو په هماغه ورځ چې دوی د طالبانو د روش او کړنو پر ناسموالي پوه شوي او له خپلو پرونیو سنګروالو رابېل شوي او له عامو وګړو او ملت سره یو ځای شوي او له نظام سره یې په یوه ډول جوړ جاړی کړی دی، نور نو په هغه خاصه معنا طالبانو کې نه حسابېږي. نه طالبان دوی خپل غړي ګڼي، نه خلک ورته په دې سترګه ګوري، سره له دې چې دوی د طالبانو پر ځینو فکري باورونو باورمن هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د طالبانو مدرسې

## د تمویل منبعې او مقدسه مافیا

په هغو ټولنو کې چې پراختیا یې نه ده کړې او له مډرن ژوند سره لا بلدې نه دي، غالب نظر اسطوره یې نظر دی. دا تر مډرنیزم د مخکې زمانې د لید طریقه ده چې عمده ځانګړنه یې مرموزوالی دی. دوی هر څه ته، هغه که دنیوي چاره وي که دیني د اسطورې په سترګه ګوري. غیر له محدودو کسانو چې نورو ځایونو ته یې تګ راتګ کړی دی او په همدې وجه یې له عام او غالب طرز فکره بېل شوي دي، نور ټول وګړي هر هغه څه ته د تقدس په سترګه ګوري چې له دین سره رابطه ولري، دیني زده کړې او ورپورې تړلي محیطونه هم په همدې جمله کې راځي.

د دې ټولنو د ډېرو وګړو په نظر، دیني مدرسې پاک او سپېڅلي او له معنویته ډک ځایونه دي چې دیني ارزښتونه ژوندي ساتي او د انحرافاتو پر وړاندې چې عمدتاً له نوې نړۍ څخه راځي، مقاومت کوي. د دوی په باور له نوې نړۍ څخه راغلي نوي فکرونه او د ژوند نوي طرزونه انحرافونه دي او د دوی په نظر په ځینو برخو کې (خو د مدرسو په نظر په ټولو برخو کې) له دیني ارزښتونو سره په ټکر کې دي. دغه مدرسې د دغو انحرافونو پر وړاندې د دین د ساتنې تر ټولو ټینګې مورچې دي. دا هغه ادعا ده چې د مدرسو ناظمان، فارغان او پلویان یې هر وخت کوي. یوازې ځینې صوفیان له پخوا څخه د مدرسه ییانو پر دوه ګوني چلند پوهېدلي وو.

د مدرسو په باور، هر څه چې د دې مدرسو په طبع برابر نه وي او په بلې نړۍ او بلې زمانې پورې تړاو ولري، باید په ټول وس یې پر وړاندې ودرېږي. دوی فکر کوي چې نوې او متفاوتې جامې ان که د نارینه وو هم وي، د نویو مهارتونو زده کول (د بهرنیو ژبو په ګډون)، له نویو وسایلو او اوزارو استفاده ان که په درسي صنفونو کې هم وي، له فرهنګي توکو (د تازه کتابونو په شمول) سره تعامل، او داسې نور موردونه د نوې نړۍ د اغېزو نښې دي او که

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره مخالفت وشي، د هر ډول نوپالنې پر وړاندې به مقاومت شوی وي او دا به د سنتونو دفاع وي.

هغه مدرسې چې په دې برخه کې يې زياته سختي نه کوله، لږو کسانو په کې درس ويلی او لږ طالبان په کې پالل شوي دي. سخت ترينې طالباني مفکورې د هغو مدرسو محصول دي چې د نويو شيانو سختې دښمنانې دي. د قاضي حسين احمد د جماعت اسلامي د مدرسو په شان ځينې مدرسې چې له نويو شيانو سره يې تر يوه بريده لاره ورېله، سره له دې چې د ځينو نورو بنيادي مشترکاتو په وجه يې له طالبانيزم څخه يو مخ نه وې لرې شوې؛ خو بيا هم يو څه نرمې وې. په دغو مدرسو کې روزل شوي کسان معمولاً په نسبتاً ټيټو پوړيو کې وو او نيمه طالبي دريځونه يې درلودل. دې ټکو ته به وروسته اشاره وکړو.

د دې ټولنو وګړي پر دې اساس چې د دغو مدرسو په اړه څه ورته دريځ او څه نسبت لري، پر څو ډلو وېشل شوي دي. يوه ډله د هغو خلکو ده چې په اقتصادي لحاظ يې خوند نشته او د ژوند له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. دوی د کسب په لحاظ خپلو اولادونو ته روښانه ګانده نه ويني. کله چې د خپلو اولادونو پر وړاندې د دې مدرسو دروازې پرانيستې ويني، دغه وړيا فرصت غنيمت ګڼي؛ ځکه يو خو د اولادونو د مصرفونو له يوې برخې په تېره بيا د دوی د تعليم له مصرفه خلاصېږي او بل دا چې اولادونه به يې په ګانده کې د کسب او کار خاوندان شي. اکثره کسان چې مدرسو ته ورځي، له همدې طبقې دي. البته ممکن استثناً د متوسطې طبقې ځينې کسان هم دغو مدرسو ته ورشي.

په دويمه ډله کې د متوسطې طبقې وګړي دي. دوی معمولاً غوره ګڼي چې که ممکن وي خپل اولاد دولتي مکتبونو ته ولېږي چې عصري علوم زده کړي؛ خو په عين وخت کې دغو مدرسو ته هم په درنه سترګه ګوري او له دې مدرسو سره د مالي مرستې له لارې خپله ديني وظيفه ادا کوي. دغه مرستې ډېرې نه دي او که د مدرسو په تېره بيا د لويو مدرسو اړتياوو ته پام وکړو، دغه مرستې هسې سېمبوليکې ښکاري؛ خو بيا هم د مدرسو ځينې احتياجات پوره کولای شي او سر بېره پر دې دې کسانو ته دغه احساس ورکولای شي چې د ټولنې له پاملرنې او احترامه برخورداره دي او لا د خلکو پر وړاندې مسوولیت احساسوي. له دې مدرسو سره د خلکو د همکارۍ کچه کله کله د خلکو د ديندارۍ د معيار په توګه ګڼل کېږي.

دربيمه ډله د هغو وګړو ده چې د اجتماعي موقف او مالي امکاناتو په لحاظ د ټولنې د دوديزې رهبرۍ مقام لري او يا دې مقام ته نژدې دي. د ډلې ځينې کسان خپلو اقتصادي ګټو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجتماعي نفوذ ته په کتو سره دا تشخيصوي چې د مدرسو حمايت کولای شي له يوې خوا دوی ته د خپلو رقيبانو پر وړاندې مصئونيت ورکړي او د دوی شاوخوا ته حمايتي دېوال ودروي، له بلې خوا مدرسې ورته داسې اډانه (پايګاه) جوړولای شي چې د دوی اجتماعي موقف لا ټينګ کړي او که په سر کې لوړ خيالونه ولري، وررسېدو ته يې لاره هواره کړي. دا وړ کسان يا خو په خپله مدرسې جوړوي او يا له مدرسو سره جدي مرسته کوي او د مدرسو له ودې سره خپله مطلوبه اډانه ترلاسه کوي.

د دې مدرسو چلونکي تر لومړنيو پانګونو وروسته د ګټمنو مالي سرچينو په لټه راوځي چې هم د دوی کړې مصرفونه جبيره کړي او هم اضافي ګټه په کې وکړي؛ ځکه دوی پوهېږي چې هر څومره چې ډېره سرمايه جذبه کړي، هماغومره به ډېرې مانورې وکړای شي. دلته دايره يې او مسلسله رابطه برقرارېږي، معنا دا چې څومره چې ډېرې پيسې په لاس ورځي، هماغومره يې د ډېرو پروګرامونو او پلانونو لپاره لاس خلاصېږي، او څومره چې ډېر پروګرامونه لکه محفلونه، کنفرانسونه، اوړني او ژمني تدريسي پروګرامونه، په ځينو اجتماعي خدمتونو کې برخه اخيستل، فرهنګي خپروني او نن سبا د انټرنټي سايټونو جوړول او يا له ځينو تلويزيوني شبکو سره شريکېدل... او داسې نور پروګرامونه ډېر کړي، هماغومره د لا زياتو او غټو مرستو د جذبولو زمينه ورته مساعدېږي. دغه مدرسې په دې لحاظ د تشيع علميه حوزو ته ډېرې ورته دي.

مثلاً د دغو مدرسو ځينې چالاکه چلونکي هڅه کوي چې سعودي عربستان او خليجي ملکونو ته لاره وکړي او له دې لارې لا ډېرې او دوامدارې مرستې جذبې کړي. څنګه چې دغه هېوادونه په ديني، فرهنګي او د معيشتي شرايطو په لحاظ پاراډوکسي وضعيت لري؛ نو هېڅوک ځنې تش لاس او نااميده نه راستنېږي، همدومره چې څوک يوه پروژه ولري او له دين سره يې غوټه کړي، کار يې سمېږي.

د نړۍ د دې برخې وګړي چې د تېلو له برکته باد راوړې پيسې او د غربي هېوادونو د ملاتړ په وجه سم امنيت لري، له يوې خوا يې تجملي او له عيش و نوشه ډک ژوند ته مخه کړې او په اسراف او خوند اخيستنه کې افراط کوي، له بلې خوا پر دې ملکونو د حاکمې دوديزې ديني او فرهنګي تربيې په وجه نه شي کولای د مذهبي اندېښنو پر وړاندې يو مخ بې تفاوته پاتې شي. دغه متناقض وضعيت د دوی د ډېرو مذهبيانو وجدان په عذابوي. د دې ټولنو ځينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګړو ته د خپلو عياشيو کفاره، په غريبو ملکونو کې د خير ښېګڼې او مذهبي پروژو سره په مرسته کې ښکاري او ګومان کوي په دې توګه به په مذهبي ژوند کې خپلې کمۍ پوره کاندي.

دا به نه هېروو چې دغه ټولنې د خبرواترو د فرهنګ په لحاظ نورې نه اوري، يوازينۍ خبرې چې دوی ته د احترام وړ دي، له منبره راځي. د منبرونو په خبرو کې څه چې خورا زيات مهم دي او هر وخت په ټينګار سره تکرارېږي، دا دی چې مسلمان بايد خپلې ديني وجيبې ادا کړي خو نن سبا دغه وجيبې سمې نه ادا کېږي. دوی خپل مخاطبان په کراتو رټي چې ولې سمې لارې ته نه سيخېږي. کله چې دا خبرې د يوې لويې څپې بڼه خپلوي، خامخا د ټولنې پر باورونو محسوس اثر غورځوي او خلک هڅوي چې د خپلو کميو د جبېرې لپاره لا جدي فکر وکړي او دوی بيا بې له دې چې په خپل خصوصي ژوند کې تغيير راولي او ځان له خوندونو محروم کاندي، له ديني او د خير ښېګڼې له پروژو سره مرسته د دغو کميو د پوره کولو لاره ګڼي او له دې کار سره يې وجدان راضي کېږي.

له خيريه کارونو او له ديني پروژو سره مرستې يوازې يو څو ډوله دي: بشري مرستې، هغو سيمو ته چې له طبيعي حوادثو سره مخ شوې دي - د پيسو لېږل، هغو وسله والو ډلو ته چې د نړۍ په مختلفو ځايونو کې جنګېږي او د اسلام له دښمنانو سره د مبارزې دعوا کوي–له هغو مدرسو سره مالي مرستې چې په دوديز ډول ديني درسونه ورکوي. د جوماتونو جوړول هم په دې کارونو کې حساب دي.

د دوی په کارونو کې بشري مرستې چندانې سترګو ته نه درېږي. اصلي وجه يې د خيريه کارونو په اړه د دې خلکو په تعبير کې ده، د دوی په باور انساني مرستې او بشري خدمتونه ټيټه درجه لري او د دې خبرې ريښه په فقاهتي اسلام کې ده چې د عرفاني اسلام برخلاف، د بشردوستۍ د يوه ساده عمل په نسبت چې ديني رنګ نه لري، د دين رسمي اصولو ته زيات اهميت ورکوي. دا چې په دې ټولنو کې دين تر ډېره حده د هويت د اوزار کار ورکوي؛ نو په ديندارۍ کې هم هماغه اړخونو ته زيات اهميت ورکول کېږي چې دا هويت، يعنې هغه هويت چې مسلمان له نامسلمانه بېلوي، ورسره تقويه کېږي او عام انساني خدمتونه له دې هدف سره چندانې مرسته نه شي کولای.

البته د بشرپالنې معمولې چارې يو مخ هم له پامه نه شي غورځېدلی؛ ځکه که هر څه وي په ديني ليکنو کې پر بشرپالنې دومره ټينګار شوی دی چې څوک پرې سترګې نه شي پټولای. د قران په ډېرو ايتونو کې چې په مکه کې رانازل شوي او مسلمانانو ته يې لومړنې سپارښتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي دي، لمونځ کول او غريبانو ته ډوډۍ ورکول سره ځنګ په ځنګ ياد شوي دي. خو وروسته چې د مسلمانانو په تاريخ کې د دين فقاهتي تعبير پر نورو تعبيرونو غالب شو، د دين دغه توصيي او سپارښتني ځنډي ته پورې ووهل شوې او هغه برخې چې د دينداری مظاهر او شعاير ننداري ته وړاندې کوي، د دينداری په محراق کې واقع شوې.

دويم مورد يعني له تونډلارو وسله والو ډلو سره مرسته، سره له دې چې لا تر اوسه هم په دې ټولنو کې کافي جاذبه لري او تر يوه حده يې مادي او معنوي ملاتړ کېږي؛ خو د سيمه ييزو حکومتونو د فشار او نظارت په وجه او د هغوی او غربي قدرتونو د همغږۍ په وجه، دې ډول مرستو ته ميدان تنګ شوی دی او هغوی ته چې حساب کتاب يې د عقل په لاس کې وي، دا ډول کارونه چنداني واره نه کوي. البته د دې خبرې معنا دا نه ده چې ګوندې دا ډول مرستې بندې شوې دي؛ بلکې نن سبا په لا زيات احتياط سره کېږي.

نو هغه انتخاب چې لا هم سرخوږی نه جوړوي، له ديني مدرسو سره مرسته ده. دا ډول مرستې زياته اندېښنه نه پيدا کوي او د کورنيو او بهرينو حکومتونو له خوا چنداني خطري نه ګڼل کېږي. د مدرسو چلوونکي هم دې مساعد وضعيت ته په کتو سره هڅه کوي چې پوره استفاده ځنې وکړي. دوی معمولاً د عربي ټولنې متنفذو شيخانو ته مخه کوي. پخوا به سعودي کې شيخ ابن باز، ابن عثيمين، او ابوبکر الجزايري او په قطر کې شيخ قرضاوي دا ډول نفوذ درلود. پر دوی سربېره ډېر نور کسان هم وو او لا شته چې ورته نقش لري، سره له دې چې هاغومره شهرت نه لري.

زيات شمېر مذهبي شيخان چې د دې خلکو او شتمنو تر منځ مناسب منځګړي دي، په داسې کاري مراجعو بدلېږي چې له پراخ نفوذه برخمن دي. شيخان په دوو دليلونو دا کار کوي، يو دا چې په دې ډول د يوې ديني وظيفې په ترسره کولو کې مهمه ونډه اخلي او بل دا چې له دې کار سره پخپله هم ممتاز مقامونه حاصلوي.

مرستندويان هم له دې کاره راضي وي. يو خو په دې وجه چې ديني وظيفه ترسره کوي او په نورو چارو کې خپل قصور جبېره کوي او خپل مذهبي وجدان کراروي، بل په دې وجه چې له دې بې غمه وي چې د مدرسو د چلوونکو په اړه تحقيق وکړي او ويې پېژني. همدا بس وي چې شيخان د مدرسو چلوونکي وروپېژني او تاييد يې کړي. دا هغه لنډه لاره ده چې په کې د مدرسو د کړنو او په دې ملکونو کې د هغوی د عواقبو د سيستماتيکې څارنې اړتيا نه پاتې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته د دې چارې لپاره عاقلانه لاره خو به دا وه چې نادولتي خو له دولتي بنسټونو سره په همغږۍ کې سازمانونه جوړ شوي وای چې د دغو مرستو د راټولولو تر څنګ یې مرستو ته لوایح او مقررات رامنځته کړي وای او د مرستو د ویشلو لپاره یې نظارتي اداري تاسیس کړي وای. دغو اداره به نه یوازې د مدرسو کړنې او کیفیت وڅارې؛ بلکې د هغې تر څنګ یې درسي پروګرامونه، د زده کوونکو د ژوند شرایط، ښوونیز امکانات او تر ټولو مهمه د ټولنې لپاره د دې مدرسو نتیجې او عواقب وارزوي او مطالعه یې کړي او په دې برخه کې د ښوونې او روزنې له تکړه کارپوهانو او صاحب نظرانو څخه مرسته وغواړي. دوی کولای شي یا په ځینو بنسټونو کې د غړیتوب له لارې او یا په سیمینارونو او کنفرانسونو کې د ګډون له لارې دا کار وکړي.

خو اوس چې داسې سیستم نشته، په دې برخه کې یو ډول ګډوډې حاکمه ده او یو ډول مقدسه مافیا رامنځته شوې ده چې ورځ تر بلې غټېږي او نوي پانګوال له متفاوتو کړنو او مختلفو قابلیتونو سره د راټوکېدو په حال کې دي چې هم له حکومتونو باج اخلي او هم پر مدني بنسټونو فشاري اهرم جوړېږي او اجازه نه ورکوي چې دا بنسټونه د مدني ټولنې له ودې سره مرسته وکړي او خلک لازم شعور او لازمې پوهې ته ورسوي. فرهنګي او ټولنیز بنسټونه د حکومتونو په شان مجبور دي دې مافیا ته باج ورکړي او یا لږ تر لږه خپلې کړنې او پروګرامونه د هغوی له غوښتنو سره سم عیار کړي او د ټولنې په پراختیا کې په تېره بیا په فرهنګي حوزه کې له خپل نقش څخه لاس په سر شي.

که په دې برخه کې داسې سازمانونه وي چې روښانه او قانوني فعالیت ولري، که ټولې ستونزې حل نه کړي، د اوسنیو ګډوډیو یوه برخه خو به کمه کړي؛ ځکه له دې مدرسو سره ټولې مرستې خو د خلیجي شتمنو له جیبه نه راځي.

د مرستو یوه عمده مبنع چې د لویو مدرسو په برخه کېږي او د مدرسو چلوونکو ته هر وخت ګټه راوړي او د هغوی له سیاسي پروژو سره مرسته کوي، د ځینو حکومتونو مرستې دي. د معمرالقذافي مرستې د مولانا فضل الرحمن له مدرسو سره، د صدام حسین مرستې د پاکستان له ځینو دیوبندي مدرسو سره، او د عربي او اسلامي ملکونو د ځینو نورو حاکمانو مرستې لا تر اوسه د ځینو مدرسو لپاره ثابتې مالي سرچینې دي. که په دې برخه کې جلا مطالعه وشي، ښايي نوي او لا په زړه پورې معلومات ترلاسه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کې شک نشته چې دغو مدرسو ته لويې سرمايې رابهېږي او دا چې د دې مدرسو لپاره د نظارت او علمي پروګرامونو د جوړولو اداري نشته چې د دې مدرسو فعاليت د ټولنې له واقعي او اساسي غوښتنو او اړتیاوو سره برابر کاندي، د ناپېژاندو ، ورانکارو ځواکونو د راټوکېدو لپاره زمينه برابرېږي.

د برش کاله وړاندې چې د شوروي ځواکونو پر ضد په افغانستان کې د جهاد له پيلېدا سره د غرب سترګې دې سيمې ته واوښتې، د هغوی په متابعت د عربي نړۍ پام هم دې خلکو ته راواوښت او په نتيجه کې د دې مافيا جيبونو ته چې هغه مهال لا نوې زېږېدلې وه، بې حسابه پيسې ورغلې. هېچا فکر نه کاوه چې له دې محرومو او له پامه غورځېدلو مدرسو څخه به يو وخت تر ټولو خطرناکه پوځ راوټوکېږي او په سيمه او نړۍ کې به د ميليونونو وګړو امنيت وننګوي.

هغه مهال د پاکستان ولسمشر جنرال ضيأ الحق په خپلو پلانونو کې دې مدرسو ته توجه کړې وه او دغه مدرسې د هغه او د هغه د همفکرو ملګرو په هڅونه بې سارې وغوړېدې. د جهاد اوبو راوړو پيسو هم د دې مدرسو شمېر لا زيات کړ. هغه کسان چې د افغانستان د سياسي او نظامي ډلو مشرتابه ته ورسېدل او پخپله د دې مدرسو په ترويج کې يې برخه اخيستې وه، په لومړي سر کې دا تصور نه شو کولای چې يو وخت به له همدې کم اهميته مدرسو څخه وحشتناکه ځواک راپورته کېږي چې لومړني قربانيان به يې پخپله همدغه مشران وي.

هغه مهال ټولو جهادي رهبرانو بې له دې چې کوم خاص پروګرام ولري، يوازې د دې لپاره چې د افغانستان په دوديزه ټولنه کې د خپل مشروعيت لپاره يو سند پيدا کړي، د دې ډول مدرسو په جوړولو يا ملاتړ کې برخه واخيسته؛ خو داسې ورځ هم راغله چې دوی د همدغو مدرسو د روزل شويو طالبانو په لاس تارومار شول او که د سپټمبر د يوولسمې پېښه نه وای شوې، دوی به د راستنېدو لاره نه موندله، نه به سياسي ډګر ته راګرځېدای شول او نه هم د خپل وطن جغرافيې ته.

دا بهير به همداسې تکرارېږي؛ ځکه د داسې بې ضابطې مدرسو تاسيس، لا هم د ګټې کار و بار او د سياسي – اجتماعي مشروعيت د ګټلو لاره ده. لا هم د دې مدرسو عواقب جدي نه دي څېړل شوي، رسنيو ورباندې بحث نه دی کړی او د ټولنې ذهن پرې نه دی اخته شوی چې د دې شي ګټه او تاوان رامعلوم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا هم دې مدرسو ته د بې حسابو مرستو بهیر رامات دی، شاګردان چې د ټولنې د بېوزلې او محرومې طبقې وګړي دي ځکه ورته روان دي چې د ښه ژوند انه لپاره بل چانس نه لري او هغه مافیا چې په دې لاره خپل سیاسي او اقتصادي ژوند تأمینوي، په خپل کار کې تر پخوا لا زیاته پیاوړې شوې ده.

له دې بحثه منظور دا نه دی چې ګوندي دا مدرسې دې نه وي او یا دې مالي سرچینې ورباندې ودرول شي؛ ځکه دا کار امکان نه لري او تر هغې پورې چې خلک مسجد او منبر ته اړتیا لري، دې مدرسو ته به هم اړتیا ولري. زموږ اند ېښنه د دې مدرسو د شرایطو او احوالو په اړه ده، نه د مدرسو د ذات په خاطر.

داسې ښکاري چې په دې برخه کې به غوره کار دا وي چې دغه مدرسې له سیوري څخه لمر ته راوا ایستل شي او هر څه یې روښانه شي. پر دې مدرسو باید د افغانستان او پاکستان حکومتونه په لومړۍ درجه، عربي هېوادونه په دویمه او نړیواله ټولنه په درېیمه درجه د نظارت همغږی سیستم نافذ کړي. البته دا کار هله کېدای شي چې یاد بنسټونه له خشونت سره مبارزې او سیمې ته د امنیت اعادې ته صادق واوسي.

له بلې خوا د دې مدرسو پر مالي منابعو پر دقیقې څارنې سربېره، باید درسي نصاب یې هم د پوهانو او تکړه متخصصانو له خوا له سره وکتل شي. په دې اړه به بل ځای وضاحت ورکړم.

باید د مدرسو د ګډوډیو او تیت و پرک والي مخه ونیول شي او ټولې مدرسې د یوه همغږي تدریسي نظام تابع اوسي، هماغسې چې د اوسنۍ نړۍ په ټولو مکتبونو او پوهنتونونو کې دغه نظم شته.

له مدرسو سره باید سیاسي چلند ونه شي یعنې داسې نه شي چې یو حزب او خاصه ډله چې د قدرت پر سر ده او یا قدرت ته د رسېدو قصد لري، د دې لپاره چې ځان ته د تکیې ځای پیدا او یا یې لا مضبوط کړي، د مدرسو له مافیا سره معامله وکړي؛ ځکه دا د یوه هېواد له ملي منافعو سره معامله ګڼل کېږي. دا هغه څه دي چې په کراتو لیدل شوي دي او دا هغه تېروتنه ده چې پاکستاني حکومتونو کړې ده او اوس دوی په خپله د پاکستان له خلکو سره یو ځای په دې اور کې سوځي.

هر کله چې له علومو، ایدیالوژیو او دیني بهیرونو سره محض سیاسي چلند شوی او له هغوی څخه په سیاسي کشمکشونو کې د اوزارو په توګه کار اخیستل شوی دی، په پای کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه کسانو چې دا لوبه يې کړې ده، پخپله تاواني شوي دي. نن سبا متحده ايالتونه لګيا دي د همدغسې چلند تاوان پرې کوي، ځکه د سارِه جنګ په اخرو کې يې د خپلو سياسي ستراتيژيو په تطبيقولو کې له بنسټپالنې څخه د اوازر په توګه کار اخيستی و. دا تېروتنه دومره لويه او ګرانه وه چې بايد نوره هېڅکله تکرار نه شي او که څوک ازمويل شوې خطا بيا بيا تکراروي او ادامه ورته ورکوي، يا خو په پوره جهل کې ډوب دي او يا د خدمت او خيانت تر منځ پوله نه پېژني.

هر که نا آموخت درس از روزگار     هيچ ناموزد ز هيچ آموزگار

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طالبانو مدرسې

## له ماشوم څورونې تر انتحاره پورې (1)

طالبان د شرعي احکامو پر هو بهو او کلک تطبيق مشهور دي. ښوک چې د طالبانو له پخوانيو اعمالو، اخلاقو او د ژوند له جزياتو نه دي خبر، فکر کوي طالبان ځکه د شرعي احکامو پر جزياتو له حده زيات ټينګار کوي چې دوی به خورا متقي، پاک نفسه، او سر تر پايه پاک لمني وي، چې دوی به د ژوند له نورو نمونو سره اشنا نه وي او نه خو د شرع خلاف اعمال زغملای شي؛ ځکه خو دې ته حاضرېږي چې له سره تېر شي او انتحار وکړي، حال دا چې واقعيت د دې شي اپوټه دی او دوی ځکه په انتحار لاس پورې کوي چې له کړيو ګناهونو ځان پاک کړي. په دې ليکنه کې هڅه کېږي چې دا ماجرا تر يوه حده وڅېړل شي.

ډېری يا ميداني مطالعې ښيي چې د طالبانو په منځ کې هغه مهال چې دوی لا په مدرسو کې دي او سبق وايي، د شرعې خلاف ځينو کارونو ته علاقه زياته شايع ده او د دوی اکثره کسان په زلمکيتوب کې يو رقم او وروسته بل رقم په دې کارونو اخته کېږي. تر ټولو مشهور او مهم عمل چې د اسلامي احکامو له نظره ناروا ګڼل کېږي او ګناه يې تر عادي ګناهونو ښو واره زياته ده، له خپل همجنس سره جنسي رابطه ده چې دا په دې ډول مدرسو کې پخوانۍ او ځنډنه پديده ده.

### له ښځو سره د دښمنۍ عواقب

په دې مدرسو کې هر وخت پر دې ټينګار کېږي چې له ښځو سره دې له هر ډول رابطې پرهېز وکړي. دغه ټينګار د نرسالارۍ د فرهنګ انعکاس دی چې په اجتماعي ژوند کې د مېرمنو له هر ډول حضور سره مخالف دی. په دې فرهنګ کې ښځه يوه تابو ده چې په اړه يې د ښه ويلو اجازه لا نشته، دا خو لا پرېږده چې حضور يې، که په هر ډول وي، وزغمل شي.

په دې ليدلوري کې ښځه د نارينه وو د انحراف او د فتنې عامل ګڼل کېږي چې بايد سخت ځنې وډار اوسېږو. دغه فتنه ګري يوازې د ښځې پر حضور نه رالنډېږي، بلکې د هغې هر ساده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او معمولي عمل، د مخ جوتېدل يې، غړيې، پر لاره تګ يې، او هر څه يې فتنه زېږولای شي. ان د ښځو د بوټونو ټکا هم د غسې ده.

ښځه کرار کرار د دې ټولنې د نارينه وو له ځانخبري شعور څخه محوه کېږي، په تېره بيا په مدرسو کې او دا د نرسالارۍ او ښځه ټکونې روښانه منظره ده. ښځه يوازې کولای شي د دې نارينه وو په ناخبر شعور کې حضور ولري مثلاً په خوب کې يا دې ته ورته نورو حالتونو کې. په وينبه کې د ښځو په اړه هېڅ خبره نه کېږي، يوازې دا ويل کېږي چې شريعت د هغوی پر اعمالو کوم محدوديتونه او قيود لګولي دي او نارينه وو ته يې د هغوی په اړه څه ډول ګواښونه کړي دي چې د هغوی په لومه کې راګير نه شي.

پر دې شيانو سربېره د ښځو په اړه ان هغه عادي خبرې چې په نورو ټولنو کې کېږي، نه شي کېدای ان تر دې چې که د چا د کورنۍ يا خپلو خپلوانو د کومې ښځې نوم د نورو زده وي، هغه ته لوی ننګ او شرم ګڼل کېږي. هېڅوک نه غواړي د خلکو يې د خور و مور يا مېرمنې نوم زده وي او که داسې وشي، دی ځوروي لکه د ده يو راز او يا د شرم خبره يې چې چا موندلې وي. دا د صدر اسلام د وختونو بيخي اپوټه حالت دی، په هغه وخت کې د ډېرو وګړو د لوڼو او مېرمنو نومونه د خلکو زده وو، د پيغمبر د ازواجو او لوڼو نومونه د ټولو زده وو؛ خو چا دا شرم نه ګاڼه.

د نرسالارانو د ټولنې د دې نارينه وو په ذهن او روان کې د ښځې د نوم له حذف کېدو سره، دا تصور پيدا شوی چې د دې مدرسو طالب العلمان د يوه مهم اخلاقي خطر پر وړاندې چې د ښځې په اړه فکر کول او د هغې په لومه کې نښتل دي، بې غمه شوي دي ځکه نو د پاک لمنو نارينه وو د روزنې زمينه مساعده شوې ده.

## د طبيعت غريزي عکس العمل

دلته څوک نه پوهېږي چې د غريزي اړتياوو له پامه غورځول، د هغوی د محوه کېدو معنا نه لري. کله چې ښځه د ځوانانو په ژوند کې حضور ونه لري، معنا يې دا نه ده چې د دې ځوانانو جنسي تمايلات به تت شوي وي او نور به د دې غريزې ارضا ته اړتيا نه لري. دلته د غه څرګند حقيقت خورا اسانه له پامه غورځول کېږي او هېڅ چاره ورته نه لټول کېږي.

کله چې ځوانانويني چې ښځه د دوی له ژونده حذف شوې ده او هغې ته وررسېدل، ان په مشروع لارو هم زرګونه کړاوونه لري او ان په اړه يې غږېدل هم منع دي او د خيال په دنيا کې هم ورسره سروکار نه شي لرلای، که وغواړي يا نه، نوې لاره ورته پرانيستل کېږي. لکه هره بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبیعي انرژي چې که مخه یې بنده شي، نوې لاره جوړوي، دلته هم د زلمو جنسي غریزه نوې لاره خپلوې او دا هماغه له همجنس سره د ارتباط جوړولو لاره ده.

**له مخالف جنس څخه موافق جنس ته**

سره له دې چې له همجنس سره رابطه په شرعي لحاظ حرام او ناروا عمل دی چې باید پټ پاتې شي او څوک یې په ښکاره ونه کړي؛ خو دا چې ورته اړتیا ده، نوې لارې ورته لټول کېږي. له پخوا نه یې ویلي دي چې احتیاج د ایجاد مور ده. دلته هم باغي جنسي اړتیا ځان ته لاره؛ بلکې لارې پیدا کوي.

د دې مدرسو طالب العلمان معمولاً د مختلفو عمرونو او په مختلفو صنفونو کې وي او دا تفاوت یو ډول د مراتبو سلسله رامنځته کوي چې له مخې یې ځینې طالبان د خپل متې او بدني قدرت په زور تر نورو بر وي او ځینې یې په درسونو کې د تکړه توب په وجه چې د نایب استاد مقام یې خپل کړی وي. دوی کولای شي پر نورو خپل واک وچلوي او هغوی یو ډول استثمار کړي، په تېره بیا هغه کسان چې لا د ودې قانوني سن ته نه دي رسېدلي او په ماشومانو کې حساب دي.

دا به له یاده نه باسو چې د دې مدرسو یوه ستونزه دا ده چې طالب العلمان د قانوني سن پر اساس سره نه بېلوي. په دې مدرسو کې د شاګردانو د منلو لپاره معین عمر نه دی تعین شوی او هر وخت چې کورنۍ د بېوزلۍ په وجه او یا له مذهبي تعلیم سره د شوق په وجه خپل اولاد ورولېږي، دوی نه ورته نه وايي.

دغه ماشوم یا زلمکی چې مدرسې ته ځي، لومړنی درس یې د استادانو او د مشرانو شاګردانو احترام دی. دا احترام مختلفې بڼې لري، د هغوی په ننوتو سره پر پښو له درېدلو رانیولې د هغوی د لاسونو تر مچولو او د هغوی د امرونو تر اطاعته پورې. دا یو قانون دی او په ارزښتونو کې حسابېږي او په ندرت سره څوک ځنې سر غړولای شي؛ ځکه چې سرغړونکی بې تربیې ګڼل کېږي او جزا ورته ورکول کېږي.

**د حقوقو پر ځای له خپلو مکلفیتونو خبرېدل**

لږه موده وروسته تازه راغلی طالب العلم له وضعیت سره بالکل بلدېږي او د دغو نالیکلو مقرراتو مراعاتول زده کوي. هغه زده کوي چې لویانو او مشرانو ته د هیبت او ابهت (لویوالي) په سترګه وګوري او هغوی خپل ایدیال وګڼي. دلته یوازې د شاګرد پر مکلفیتونو په تکرار سره ټینګار کېږي او د هغه د حقونو خبره نه کېږي. شاګرد هله نا ویلو حقونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېدلی شي چې خپل مکلفیتونه ښه ترسره کړي. استاد او مشر طالب العلم هم د عسکري قطعې د قوماندان حیثیت لري او هم د مریدانو په منځ کې د پیر مقام. د دوی خبرې اکثراً د کاڼي کرښې وي او بې له کومې مناقشې منل کېږي او امرونه یې بې ښو بې بدو ترسره کېږي. د روزنې دا سبک وروسته بیا په وسلوال جهاد کې په درد لګېږي چې جنګیالي په پټو سترګو بې قید و شرطه د خپلو مشرانو اطاعت وکړي. هغه ماشوم یا زلمکی چې یوه موده په مدرسه کې اوسېدلی او د مدرسې له حاکم وضعیت سره روږدی شوی، سر تر پایه مطیع او منونکی شخص وي. د دې وضعیت غلبه مشرانو ته د امر و نهي زمینه برابروي او ورسره د دوی پټې وسوسې راپاروي. دا یوازې د دې مدرسو خبره نه ده. بشر له پخوا څخه دغسې دی چې که څوک یې هره خبره ومني او اطاعت یې وکړي، بیا یې نورې وسوسې او هوسونه راویښېږي، په تېره بیا چې مطیع کسان ورته دروني احترام هم ولري او د سرغړونې او باغیتوب انګېزه په کې نه وي پاتې.

دلته هم کم عمره او زلمکي شاګردان د اطاعت او تسلیم په وجه په مشرانو کې وسوسې راپاروي او پټې تمایلات یې لمسوي. ځینې غټې طالب العلمان چې خپلو دې وسوسو ته د ټینګې نه دي، کم عمره او زلمکو ته د تیارې مړۍ په سترګه ګوري چې په هر مناسب وخت کې به یې تېرولای شي.

دا سمه ده چې دا کارونه د ټولو د سترګو په وړاندې نه کېږي او په دې چې شرع یې ناروا ګڼي او ټولنه ورسره حساسه ده – سره له دې چې د زنا په اندازه حساسیت ورسره نشته – نو هڅه کېږي چې په پټه وشي؛ خو هغوی چې هر وخت شپه ورځ په مدرسو کې وي، په دې کارونو خبرېږي او کله کله په دې اړه له یو بل سره خبرې کوي. ان په ځینو موردونو کې غټان نه یوازې دا چې خپل کارونه نه پټوي؛ بلکې نورو ته یې هم کیسه کوي او پر دې چې داسې غوړه مړۍ یې په واک کې ده، فخر کوي. هغوی چې دغه تمایل لري خو وس یې نه لري او یا بخت ورسره نه دی ملګری شوی، له دوی سره رخه کوي.

کله نا کله بیا د غوړ او خوندور ښکار پر سر د زورورو تر منځ د رقابت اور بلېږي او هغوی چې لا زورور دي، څو نور کسان له ځان سره ملګري کوي او ډاره جوړوي چې د رقیبو باندونو په وړاندې ودرېږي. کله خو په دې سیالیو کې هڅه کېږي چې لا غوړه مړۍ په زوره له رقیبې ډلې واخیستل شي او کامیابه ډله ځنې استفاده وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پديده په هغو مدرسو کې چې په قبيله يي محيطونو کې دي او هورې د مدني قانون حاکميت کمزوری دی، لا زياته خوره ده. په هغو ښارونو کې چې يو څه پراختيا يې موندلې او مدني بنسټونه يا دولتي ادارې په کې ښې فعالې دي، د زورواکو باندونو د جوړولو جرائت کم وي او تر يوه حده يې زمينه له منځه ځي او بيا د ښکار د خپلولو لپاره داسې لومې غوړول کېږي چې خشونت ورسره ملګری نه وي، مخکې مو ياده کړه چې دلته زلمکي له اطاعت او منلو سره روږدي وي.

## فردي او ټولنيز عواقب يې

د دې وضعيت قربانيان په شديدو اروايي ستونزو اخته کېږي او تر ډېرو کلونو پورې له دې ستونزو سره لاس او ګرېوان پاتې کېږي.

- ځينې يې د وخت په تېرېدو سره له دې کار سره روږدي کېږي او په راوروسته کلونو کې د شخصيت په دوه ګوني توب اخته کېږي، د اروا پوهنې په اصطلاح دوه شخصيتي کېږي.
- ځينې نور يې چې غټان شي بيا له نورو هغو وړو ځخه خپل انتقام اخلي چې قسمت په لاس ورکړي دي او دا بهير د دوی د عمر تر ډېرو کلونو پورې غځېږي.
- ځينې په اروايي عقدو اخته کېږي او ټولو يا ډېرو خلکو ته په کرکه ګوري او هر وخت چې د خطابې موقع په لاس ورځي، کرکه خپروي او زياتو وګړو ته د بې دين او منحرف خطاب کوي. دوی پر ډېرو وړو خبرو چې د دين له نظره چنداني اهميت هم نه لري، سخت شورماشور جوړوي او تونديي تېزې خبرې کوي او اکثره وګړي په انحراف تورنوي. دوی دغه خبرې له کرکې په ډکه لهجه بيانوي. دا ډول ويناوې د دې پر ځای چې مخاطبانو او ټولنې ته ارامي وبخښي او د مينې محبت پيغام ورته ورسوي، لګيا وي بدبيني او کرکه رواجوي او په يو ډول د ټولو مشروعيت سلبوي. دوی هر وخت خلک رټي او د خلکو له انحراف او بې دينۍ ګيله کوي.

## د فاجعې اوج

فاجعه هله اوج ته رسېږي چې ځينې قربانيان د وجدان په عذاب اخته کېږي؛ ځکه که په لومړي سر کې په زوره دې کار ته اړ ايستل شوي دي؛ خو وروسته يې په خپله خوښه دا کار کړی او ځنګه چې په ديني روايتونو کې دا عمل تر زنا او ډېرو نورو ګناهونو بدتره ګڼل شوی دی، دوی ځانونه پليد او ګناهکاره ګڼي او دا چې هېڅ ارواشنونکی او اروايي ډاکتر ورته ميسر نه وي چې په مرسته يې پر خپلې ستونزې غلبه وکړي، او نه د ټولنې فرهنګ اجازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوي چې دوی خپله ستونزه له چا سره شريکه کړي، نو تل هڅه کوي چې هر څه پټ وساتي او په زړه کې يې ښخ کړي. دغه دروني غم دوی ته فکر ورپيدا کوي چې څنګه ځان يو مخ او اساسي پاک کړي... کله چې احساس وکړي چې دا ګناهونه په عادي او متعارفو عبادتونو لکه توبه او استغفار او روژه او نورو نه پاکېږي، هغه لنډه لاره چې ورته ښکارېږي، انتحار دی؛ ځکه دوی ته ويل شوي چې د ديني مقدسو ارمانونو د پوره کولو لپاره تر ټولو لوړه فداکاري همدا انتحار دی.

دا عمل له يوې خوا دوی ته د اتلولۍ حس ورکوي؛ ځکه د مهمو قدرتونو په مقابل کې درېږي او تصور کوي چې له خپل دې عمل سره د دين د دښمنانو تندی پر خاورو موښي او له بلې خوا له دې کار سره د اوږدو کلونو له رنځه خلاصېږي.

## پوښتنپاروونکی تجاهل

پوښتنه پيدا کېږي چې ولې دې پديدې ته په جدي سترګه نه کتل کېږي او استادان چې پخپله هم يو وخت د دې وضعيت قربانيان وو او پوهېږي چې په قوي احتمال شاګردان به يې هم په ورته جنجال اخته شي، ولې د دې ستونزې له څنګه همداسې ښوی تېرېږي او دا داسې طبيعي بهير ګڼي چې چاره يې نه کېږي. لا مهمه دا ده چې ان هغه شاګردان چې په دې شيانو ککړ هم نه دي، له دې وضعيت سره جوړجاړی کوي او حساسيت ورسره نه ښيي تر دې چې که ورته ووايې چې پلانکي رېږه خريبلې ده، سره له دې چې د رېږې خريبل د دين په منطق کې چنداني اهميت هم نه لري، دوی خورا زيات راپارېږي او غوسه کېږي؛ خو د مدرسې د شاګردانو په دې کارونو هغومره نه خپه کېږي.

يو ځل ما د دې مدرسو يوه استاد پر غوږ وواهه چې د هغه څه پر وړاندې چې د شاګردانو تر منځ يې روان دي، د مسووليت احساس وکړي او اجازه ورنه کړي چې داسې کارونه وشي، هغه په بې تفاوتۍ وويل: «دا خو يوازې د نن خبره نه ده چې چاره يې وشو کولای، دا خو له پخوا روان دي. دېرش کاله مخکې چې موږ د تحصيل په وروستي کال کې و او د حديث دوره مو ويله، ځينو غټو طالبانو تر هغې پورې استاد ته د درس د پيلولو اجازه نه ورکوله چې د دوی د خوښې واړه طالبان به نه وو حاضر شوي او د دوی په څنګ کې به نه وو کېناستلي چې دوی بيا په ارام فکر درس ته غوږ ونيسي.»

سره له دې چې د مدرسو اکثره استادان او فارغان د خپل عزت د ساتلو لپاره چمتو نه دي چې په دې اړه څه ووايي او ډارېږي چې پخپله به په دې کارونو تورن شي، يا وېره لري چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رازونو په افشا کولو سره به خپلې ټولې طبقې ته زيان ورسوي، له بلې خوا د پټولو او له شفافيته د تېښتې فرهنګ پر دې پديدې برغولی ږدي او د روښانو معلوماتو او احصاييو د راټولولو مخه ډب کوي؛ خو بيا هم که څوک په دې برخه کې جدي ګام واخلي، ټکان ورکوونکي معلومات به ترلاسه کړي.

له دې کاره لومړی نتيجه چې ترلاسه کوو يې، دا ده چې وپوهېږو ولې طالبانو تر دې حده له ښځو سره دښمني کوله او په اجتماعي ژوند کې يې د هغوی موجوديت نه شو زغملای. دويمه نتيجه به دا وي چې د طالبانو اعمال د دوی د تقوا او پاکۍ نښه نه ده؛ بلکې نور عاملونه او نور دليلونه لري. په دې هم پوه شو چې د ماشومانو د حقونو د تر پښو لاندې کولو يوه خورا بده شيوه څنګه ترسره کېږي، دا هغه څه دي چې د نړۍ معلومات په کې لږ دي.

## د ماشوم څورونې مخنيوی

که وغواړو دا وضعيت ختم کړو، بايد: لومړی، هغه شاګردان چې قانوني سن ته نه دي رسېدلي له هغوی بېل شي چې دې سن ته رسېدلي دي او بايد اجازه ورنه کړل شي چې په يوه ځای کې سره واوسېږي.

دويم، بايد ماشومانو ته د هغوی د حقونو او قانوني مصئونيتونو په اړه معلومات ورکړل شي او د دې حقونو د څارنې لپاره ميکانيزم برابر شي او که حقونه يې نقض کېږي، بايد ماشومانو ته د شکايت کولو لاره معلومه وي. درېيم، بايد ټولنې او کورنيو ته دقيق او منظم اطلاعات چې په سمو علمي لارو برابر شوي وي، ورکړل شي چې د دې مسايلو له عواقبو خبر اوسي او د مخنيوي په برخه کې يې خپل نقش وپېژني. څلورم، دولتونه بايد پر دې مدرسو رسمي څارنه زياته کړي او اجازه ورنه کړي چې دغه ګډوډ وضعيت دوام وکړي.

## استثنا، قاعده نه لغوه کوي

ښايي دا خبرې د ټولو مدرسو په اړه سمې نه وي؛ ځکه ځينو مدرسو هڅه کړې ده چې د دې شي لپاره ځينې تدبيرونه پيدا کړي؛ خو دا چې دغه موضوع د يوې مستقلې تحقيقي موضوع په توګه نه ده څېړل شوې، سړی د دغو مدرسو د کاميابۍ اندازه نه شي لګولای، په تېره بيا په دې چې د ځوانانو د دې غريزي ستونزې د حل لپاره هېڅ سنجول شوې لاره په پام کې نه ده نيول شوې او دغه ستونزه اساساً په رسميت نه ده پېژندل شوې.

دا به هم ووايو چې له دې خبرو بايد څوک دا مطلب وانه خلي چې ګوندي د دې مدرسو ټول زده کوونکي به په دې ستونزې اخته شوي وي؛ ځکه پاک لمني وګړي هم شته چې له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزو يې ځانونه لرې ساتلي دي. د هغو کسانو دقيق شمېر چې په دې مدرسو کې د بل ښکار شوي او يا يې پخپله ښکار کړی دی، هغه وخت معلومولای شو چې دقيقه ميداني څېړنې ورباندې وشي.

مهمه دا ده چې وپوهېږو، دا چې د دې مدرسو ځينې شاګردان خشونت ته مخه کوي او يا انتحار کوي، وجه يې هغه ظلم دی چې د دوی خپلو هم مسلکانو ورباندې کړی دی او دوی ځنې ځورېږي. دوی مخکې تر دې چې نور قرباني کړي، پخپله په بل رقم قرباني شوي دي.

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طالبانو مدرسې له ماشوم ځورونې تر انتحاره (2)

## د طالبانو په مدرسو کې پر ماشوم ځورونې

## يو يادښت

د پورته مقالې تر خپرېدو وروسته مې واورېدل چې ځينو شر و شور جوړ کړی او د مقالې د ليکوال په اړه يې بد رد ويلي دي. زه لومړی خو له هغو دوستانو چې احترام ورته لرم او د دې مقالې د خپرېدو په وجه خوابدي شوي دي، بخښنه غواړم او د سو تفاهم د لرې کولو لپاره دغه ټکي يادوم:

1- دا مقاله اساساً د هغو طالبانو د مدرسو په اړه ليکل شوې ده چې په سياسي معنا طالبان بلل کېږي، نه د ټولو ديني مدرسو په اړه. په سياسي معنا طالبان پېچلې پديده ده چې د سيمې د بحران له اصلي عواملو څخه دي او د دوی د رامنځته کېدو د عواملو له دقيقې پېژندنې پرته، د دې ستونزې د حل چاره ناممکنه ده. د قلموالو او شنونکو رسالت دا دی چې د فکر په مټ د دې معما راز راوسپړي او د علاج لاره يې پيدا کړي. د دې پديدې د پېژندلو او علاج لپاره د هغو سايکولوژيکو او روايي عواملو تحليل ضروري دی چې د دې پديدې په ايجاد کې موثر دي. طبيعي ده چې هر څوک چې له سياسي طالبانو سره خواخوږي او همغږي لري، د هر هغه تحليل په وجه به خپه شي او تندی به تريو کړي چې د طالبانو د نقد او رد سبب وګرځي، دا خو لا څه چې يوازې به په دې اکتفا هم ونه کړي او څه چې يې په توان کې وي، نه به يې دريغوي. دا مقاله د سياسي طالبانو پلويانو ته نه ده مخاطبه؛ ځکه د هغوی دريځ وار له مخې مشخص دی او هغوی عقلاني بحث ته چمتو نه دي. دې مقالې هڅه کړې ده د دې پديدې يو بعد عامو خلکو ته يعنې هر هغه چا ته چې دا معما ورته معما پاتې ده، وښيي. ليکوال په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې فکر نه و چې د دې موضوع په مطرح کېدو سره به د طالبانو له خوا خوړو پرته بل څوک غوسه شي. خو په دې وروستيو کې خبر شوم چې د اهل علم ځينو کسانو چې رسماً يا حد اقل ظاهراً له طالبانو سره نه دي ولاړ، هغوی هم خپه شوي او غبرګون يې ښودلی دی.

البته ليکوال پوهېږي چې دوه – درې علتونه د دې کسانو د خپګان سبب شوي دي. يو دا چې يوه سايټ چې دا مقاله يې خپره کړې وه، څو جملې يې په اصلي مقاله کې ورزياتې کړې وې چې ورسره د بحث لوری د افغانستان ديني مدرسو ته اوښتی و، حال دا چې مقاله اساساً د پاکستان د ديني مدرسو په باب ليکل شوې وه؛ ځکه طالبان له هماغه ځايه راټوکېدلي دي. ليکوال په هماغه وخت کې هغه سايټ ته خپل اعتراض ليږلی و چې ولې يې مقاله په خوښه بدله کړې او د سو تفاهم سبب شوی دی.

بل علت يې زموږ په محيط کې د خبرو د اړولو او شايعه خپرولو رواج دی او دا چې د ديني سپارښتنو او اخلاقي مقتضياتو بر خلاف، دروغ، مبالغه او تحريف شويو خبرونو ته زيات اهميت ورکول کېږي. دلته د لانجه زېږوونکو او مناقشه زېږوونکو بحثونو ښه هرکلی کېږي او دې ته اهميت نه ورکول کېږي چې د هر خبر په نقل کې او د هرې خبرې په منلو کې بايد احتياط وکړو. د قران يوه توصيه دا ده چې د قضيې د اصل په اړه بايد تحقيق وشي او صحت او سقم يې رامعلوم کړای شي. له بده مرغه دغه توصيې هغه خلک تر پښو لاندې کوي چې پخپله ديني عالمان دي.

همدارنګه ليکوال پوهېږي چې د دورغ جوړولو او شايعه خپرولو تر شنګ ځينې خلک شته چې دين قدرت ته د رسېدو او د ثروت د ګټلو د وسيلې په توګه کاروي (دا کار هم د سياسي اسلام د ايديالوژي په چوکاټ کې او هم د فردي هڅو په قالب کې کېږي). ليکوال له ډېرو کلونو راهيسې له دې ډلې سره په لانجو سر دی او اوس هم نه غواړي ورته تسليم شي. دوی هر وخت محضې پلمه لټوي چې پر حريف ورودانګي او خپل انتقام ځنې واخلي. دې مقالې دوی ته فرصت ورکړ چې ځينې شيان په کې ورزيات کړي او ورسره ليکوال تر تبليغاتي بريد لاندې راولي او خپلې عقدې پرانيزي.

2- ليکوال د مقالې په پای کې ياده کړې وه چې: " دا به هم ووايو چې له دې خبرو بايد څوک دا مطلب وانه خلي چې ګوندې د دې مدرسو ټول زده کوونکي به په دې ستونزې اخته شوي وي؛ ځکه پاک لمني وګړي هم شته چې له دې ستونزو يې ځانونه لرې ساتلي دي. " اوس هم پر دې خبرې ټينګ ولاړ دی چې مقاله د ټولو هغو وګړو په اړه نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په ديني مدرسو کې يې زده کړې کړې دي؛ ځکه پوهېږي چې د هرې ډلې او د هر اجتماعي طيف په اړه کُلي قضاوت او پر ټولو حکم صادرول غلط کار دی؛ ځکه په هره ډله کې ښه او بد دواړه شته. ليکوال پخپله هم په ديني عالمانو کې ګڼ شمېر دوستان لري چې هغوی ته سخت احترام کوي او د هغوی پر دوستۍ فخر کوي؛ خو د داسې محترمو شخصيتونو موجوديت د دې دليل نه شي کېدای چې په دې مدرسو کې پر يوې جدي ستونزې سترګې پټې کړو او هغه ناخوالې چې د دې طيف يوه برخه ورسره مخ ده، له پامه وغورځوو.

3- د دې ډول ستونزو د چارې لټول په دې نه کېږي چې پرده وربانديې وغوړوو، نه د تکفير په تورې او ګواښونو او نورو شورماشورو. که څوک وايي يا داسې ښکاره کوي چې داسې ستونزه نشته، بايد د خپلې ادعا د ثبوت لپاره د منلو وړ ميتود وړاندې کړي. کېدای شي دا ميتود په علمي روشونو ميداني تحقيقات وي، دا هغه ميتود دی چې نن سبا د نړۍ په هر ځای کې د ټولنيزو ناخوالو او ستونزو د پېژندلو او بررسۍ لپاره استعمالېږي. معمولاً د دې ډول تحقيقاتو نتيجې د منلو وړ او کاميابې دي. پر ستونزې برغولی ږدول هېڅکله هغه ستونزه نه حل کوي؛ بلکې لا يې زياتوي او خطر يې څو برابره ډېروي.

ولې به داسې وي چې نورې ستونزې او ناخوالې چې نورې ډلې ورسره لاس و ګرېوان دي، په علمي ميتودونو وڅېړل شي؛ خو کله چې وار د دې مدرسو وضعيت ته ورسېږي، دې مطالعاتو ته ځای نه وي، حال دا چې د مدرسو د مطالعې اړتيا په دې خورا زياته ده چې مدرسې په ټولنه کې حساس مقام لري.

4- دې مقالې اساساً دوه هدفونه لرل: يو د يوې محسوسې ستونزې څېړل چې په ځينو مدرسو کې شته او د دې مدرسو شاګردان يې په رواني ناروغيو او د شخصيت په اختلال اخته کړي دي او دوی بيا د ګناهګارۍ احساس او بالاخره انتحار کوي. دويم، انتقادي مطالعاتو ته د چمتو کولو له لارې لمر ته د ديني مدرسو راکښل. څوک چې له علمي مقولو سره سروکار لري، پوهېږي چې نقد او انتقاد د عيب لټولو او عيب جوړولو معنا نه لري. نقد يعنې بې طرفانه تحليل چې د يوې چارې مثبت او منفي اړخونه دواړه څېري چې دا اړخونه يو د بل تر پښو لاندې نه شي. نقد په دې معنا د اصلاح او بهبود لپاره تر ټولو ضروري اقدام او د هغو ناخوالو د مخنيوي او د کميو د چاره کولو يوازينی روش دی چې يو بنسټ، يوه طبقه، يو ګوند يا يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايديالوژي ورسره مخ وي. هغه څوک چې د اصلاح په لټه کې دي او پوهېږي چې هره بشري چاره له زيانونو او افتونو سره مخ وي، له نقد او انتقاد څخه نه وېرېږي، سره له دې چې نقد تريخ هم وي.

معمولاً دوه ډلې له نقده ډارېږي، يو هغه وګړي چې ځان ته د تقدس او عصمت په سترګه ګوري، ځان له هر عيبه پاک ګڼي او د نقد او انتقاد لپاره هېڅ ځای نه ويني، دويم هغه کسان چې پر خپلو عيبونو خبر دي او له جوتېدو څخه يې ترهه لري. له دې دوو ډلو پرته نور هر څوک پوهېږي چې هر هغه شی چې د انسانانو له عالم سره تعلق لري او بني ادم په کې نقش لري، له عيبه خالي نه وي. که وغواړو دا موضوع په عملي لحاظ وڅېړو، خبره به اوږده شي.

ټولو فقهاوو دا موضوع څېړلې ده او ښيېلې يې ده چې په دنيا کې مطلق مصلحت نشته او هر مصلحت له مفسده سره مل وي. فيلسوفانو او متکلمانو هم ښودلې ده چې د هر خير په څنګ کې شر شته. په دې اړه د ابن عبدالسلام قواعد الاحکام کتاب او د امام شاه ولي الله حجة البالغة کتاب ته مراجعه کولای شو.

د دې حقيقت په درک کولو سره هر څوک چې د خپل کار د ښه والي په لټه کې وي، نقد او انتقادي تحليل ته لاره خلاصه پرېږدي او هره خبره چې د اصلاح په نيت کېږي، ان که ظاهر يې تريخ او بې خونده هم وي، په ورين تندي مني.

په دې منځ کې څه چې فوق العاده اهميت لري او ليکوال په هغه مقاله کې په ضمني توګه غوښتل، د ديني مدرسو د رازونو سپړل وو. اهميت په دې کې دی چې تر هغې پورې چې اسطورې ماتې نه شي او د ټولو دنيايي چارو رازونه راونه سپړل شي او تناقضونه يې رفع نه شي، له نننۍ نړۍ سره نه شو جوړېدای. يوازې د بلې دنيا خبرې بايد د رازونو په ډله کې پاتې شي او بس.

موږ هله له دې تمدني بن بست نه راوتلای شو چې د هغو چارو چې عقل يې مني او هغو چارو تر منځ چې له عقله تښتي او له عقل سره جنګېږي، پوله جوته کړو. دا هماغسې کار دی چې په مقدماتي ډول د فقهاوو له خوا ترسره شو او د معقولة المعني او غير معقولة المعني امورو تر منځ پوله يې معلومه کړه؛ خو دا کار تر پايه پورې ونه غځول شو او منطقي مقتضيات يې له پامه وغورځول شول.

د هغو تحولاتو يو عمده دليل چې په نتيجه کې يې نوی عصر رامنځته شو، د اسطورو ختمول او د دې نړۍ د قضيو د رازونو سپړل وو چې ماکس وبر او ځينې نور پوهان ورباندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېدل. زموږ په ټولنو کې دا بهیر د علمي ودې او پوخوالي په برکت نه دی شوی؛ خو د نوې ټکنالوژۍ له واردېدو سره یو ډول اوزاري عقلانیت زموږ د ژوند پر ځینو برخو تحمیل شوی دی؛ خو نورې برخې لا هماغسې له عقلانیته لرې پاتې شوې او د اسطورو او پیچلو رازونو تر منځ ایسارې پاتې دي. نتیجه یې دا راوتلې چې زموږ جمعي شعور او ټولیز عقل په منطقي تناقض اخته شوي دي. د ژوند په ځینو برخو لکه طبابت، تعمیرات او ورته نورو چارو کې د عقلانیت منطق ته غاړه ږدو خو په نورو مهمو برخو کې له عقلانیته تښتو او د اسطورو له عینکو ورته ګورو. دا یو مهم بحث دی چې دا یې د څېړلو ځای نه دی. دلته یوازې غواړم یاده کړم چې دیني مدرسې زموږ د ټولنو پر وضعیت د موثر بنسټ په توګه باید د نورو ډګرونو په شان مطرح شي، اسطورې یې ختمې او رازونه یې وسپړل شي. دا هم د مدرسو په نفع او هم د ټولنې په ګټه دي.

باید ټولنه فکر وکړي چې له دې مدرسو باید څه تمه ولري او دا وڅېړل شي چې دغه تمې څومره منطقي دي او وګوري چې د دې ملکونو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره، دغه تمې په اوسني وضعیت کې ترسره کېدای شي که نه.

لیکوال په دې کې شک نه لري چې زموږ په سیمه کې د بحران د زیاتېدو او پراخېدو یو عامل، همدا اسطوره پاله او احیاناً عقل دښمنه ذهنیت دی. زموږ ځینې ځوانان په همدې روحیه روزل کېږي او په نتیجه کې یې په بې مفهومو شیانو سر ورکولو ته تیارېږي او له ځانه سره نور سرونه هم خاورې کوي. په تېره بیا انتحار په دې ډول ذهنیت او عقل دښمنه روزنه کې ژورې ریښې لري.

د دیني مدرسو علمي نقد او د هغوی د کمیو او ناخوالو د ختمولو هڅه، د مدرسو بهترۍ ته لاره باسي او ورسره مرسته کوي چې مدرسې د دې ټولنو د پرمختګ په لاره کې مثبت او ګټور نقش ادا کړي.

5- لیکوال پوهېږي چې په مذهبي ټولنو کې د دیني مدرسو موجودیت حتمي دی. **ده دا خبره له لوړ پوړو دولتي چارواکو سره په خبرواترو کې هم مطرح کړې ده او په خپلو لیکنو کې یې هم ورته اشاره کړې ده.** پر دې مدرسو نقد د دې لپاره نه کېږي چې مدرسې بندې شي او یا یې بازار سوړ شي. د نقد منظور دا دی چې د مدرسو ګټورتوب او وروستۍ نتیجې ښې شي او د شاګردانو تر شمېر یې د شاګردانو د تربیې کیفیت ته زیاته توجه وشي. که د اسلامي هېوادونو دیني مدرسې سم درسي میتودونه ولري، درسي ماحول یې معیاري وي او په دواړو برخو کې له نړیوالو تجربو څخه استفاده وشي، او لا مهمه دا چې پر مدرسو د پوهو شخصیتونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټونو نقد جاري وساتل شي، بې له شکه چې موږ به د داسې اجتماعي قشر د روزلو شاهدان اوسو چې د دین عقل منونکی تفسیر به ولري او ورسره به د دین د اخلاقي ارزښتونو مطابق په ټولنه کې تاریخي او تل پاتې نقش ادا کړي چې ورسره به دغه ټولنې له پراخو بحرانونو د ثبات، پراختیا او پرمختګ ساحل ته ورسېږي.

د روڼ اندو، متخصصو او تکړه عالمانو موجودیت چې په دیني حوزه کې به معنوي خلا ډکه کړي او وګړي د ښو اخلاقو خوا ته رهي کړي او ټولنې ته د سعادت او نېکمرغۍ زیری ورکړي، زموږ له اساسي اړتیاوو څخه دی.

خو که د مدرسو وضعیت مو دغسې ګډوډ او خراب پاتې شي او اساسي هر اړخیز اصلاحات په کې رانه شي، له دې مدرسو به یوازې بېسواده «نیمچه ملایان» راووځي چې دوی به هغه د پخوانو خبره د خلکو د ایمان آفت وي، هغه خو لا څه چې د خلکو ژوند او سر به هم په امن کې پاتې نه شي.

د دې ډول ملایانو ځینې کسان همدا اوس هم پر منبرونو ولاړ دي او خلک د خشونت او کرکې خوا ته وربولي او د دښمنۍ او نفرت خوا ته یې بيایي، حال دا چې ټولنې ته د دین پیغام باید چې سوله، پخلاینه، تفاهم، همکاري، مسالمت، امنیت، خیر، نوعپالنه، فداکاري، او نور اخلاقي مکارم اوسي چې په دې لاره خلک، هم له خپل خدای سره بهتره رابطه پیدا کړي او هم له بنده ګانو سره.

6- لیکوال د طالبانو په مدرسو کې د ماشوم ځورونې لانجمن او حساسیت پاروونکی بحث څکه مطرح کړی و چې ډېر خلک پرې پوهېږي او خاطرې څنې لري؛ خو څه نه وایي او د مطرح کولو جرائت یې له چا سره نشته.

سره له دې چې دا ستونزه عمداً د پاکستان په ځینو خاصو سیمو کې زیاته شایع ده؛ خو د نورو سیمو او د نورو اسلامي هېوادونو مدرسې هم بې کمې او بې نیمګړتیاوو نه دي او څارنې ته اړتیا لري.

ځوک چې د نقد ځیرې صحرا ته قدم ږدي، له پیله پر دې پوهېږي چې پر ځومره لانجمنه لاره تللی دی او باید د دې کار سختو عواقبو ته هم سترګې پر لاره اوسي. په تېره بیا د هغه بنسټ نقد چې له دین او مذهبي زده کړو سره یې سروکار وي؛ ځکه ډېر خلک دا هېروي چې پر مدرسې نقد، پر دین د نقد معنا نه لري؛ بلکې دا پر غیرمعصومو بني ادمانو نقد دی. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسان چې د دین او دیني فعالیتونو په نامه خپلې دنیوي ګټې کوي، دا سې نقدونه د دین نقد ګڼي او دا پر دین تعرض بولي چې په دې توګه د حقیقت د روښانولو مخه ونیسي.

شاوخوا دوه لسیزې کېږي چې لیکوال د دین په حوزې پورې د اړوندو افتونو پر ضد مبارزه کوي، پر خرافي مفکورو یې نیوکه کړې ده، له دینه د دنیوي او مادي ګټو مخالفت یې کړی دی، د دین تر چتر لاندې له عقل سره دښمني یې غندلې ده، او دا یې باور پاتې شوی دی چې د دین غیرعقلاني او غلط تفسیرونه به لویې فاجعې رامنځته کړي. دی په دې موده کې د شدیدو تورونو، توطیو او تهمتونو شاهد پاتې شوی دی؛ خو بله چاره یې نه ده لیدلې غیر له دې چې مقاومت وکړي او هغه لارې ته ادامه ورکړي چې ورته د ټولنې له اساسي اړتیاوو څخه ښکاره شوې ده.

په وروستیو کلونو کې د طالبانو پدیدې د لیکوال ذهن تر پخوا زیات بوخت کړی دی او دی یې مجبور کړی چې د دې بهیر پر فکري، اروایي، فرهنګي او تاریخي ریښو ژور فکر وکړي، د دې ډلې په پالنه کې د محیطونو او تدریسي میتودونو نقش راوپېژني او د دوی راتلونکې مطالعه کړي.

په مدرسو کې د ماشوم څورونې موضوع سره له دې چې خورا حساسیت پاروونکې ده؛ خو تر اوسه چا په جدي توګه نه وه مطالعه کړې. لیکوال هغه کسان په دې موضوع کې مسوول او ګرم ګڼي چې په دې اړه کافي معلومات لري؛ خو د عکس العملونو او مخالفتونو له ډاره یې خولې ګنډلې دي. کله چې لیکوال دا موضوع مطرح کړه، تمه یې دا وه چې هغه محترم عالمان چې د حقیقت له ویلو نه ډارېږي، جرائت به وکړي او د ده ملاتړ به وکړي.

ځینې عوام ځپلي کسان تصور کوي چې د حقیقت ویل یوازې پر حکومت نیوکه او د نظام پر اعتبار باندې غورځی دی. د دوی دا جرئت له حق ویلو منشأ نه اخلي؛ بلکې وجه یې د ځینو مسوولانو مدارا او بې تدبیري ده، که نه نو دې خلکو خو لا پخوا خپل امتحان ورکړی، هغه مهال چې د طالبانو تور استبداد ته یې سرونه ټیټ کړي او خولې یې ګنډلې وې.

د حق ویلو او حقیقت لټولو یوه مهمه جلوه خو همدا ده چې څوک دې د له هغو ټګانو ونه ډارېږي چې د حافظ شیرازي خبره «له قران نه یې د تزویر لومه جوړه کړې ده (قران را دام تزویر کرده اند )» او پر محراب او منبر یو رقم جلوه کوي؛ خو په خلوت کې سل رنګه داسې کارونه چې له دین او دیانت سره هېڅ اړخ نه لګوي. دا هغه څه دي چې ډېر خلک یې په خوب کې هم د ویلو جرئت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلونه کېږي چې ليکوال له تاريک فکرانو، خرافه پرستانو، او هغو وګړو چې په هر څه کې خپله ګټه لټوي، مقابله کوي او د دې کار تاوان پرې کوي او د دوی تورونه، تکفير او سپکاوی زغمي. خو ليکوال اوس هم د دې لارې پرېښودو ته تيار نه دی؛ خو دا تمه لري چې هغه کسان چې د دين پر راتلونکې، د ديني مدرسو پر راتلونکې او د دې ټولنې د انسانانو پر راتلونکې باندې زړه سوځوي، جرئت وکړي او له دې حقيقته چې بې پردې خو د اصلاح په نيت ويل شوی دی، دفاع وکړي او پرې نه ږدي چې د دوی د چوپتيا په وجه د جهل او خرافه پرده لا پرېړه شي او د عوامفريبانو بازار لا تود شي.

هغه کسان چې د حقيقت پروا نه لري او يوازې د خپل نوم او د ډوډۍ په فکر کې دي او په همدې وجه هېڅ نقد او اصلاح نه شي زغملای، که ګومان کوي چې د دې خبرې ځواب ورسره شته نو قلم دې راواخلي او دا موضوع دې په علمي تحليل سره تشريح کاندي. خو که يوازې شور جوړول او د ليکوال پر وړاندې د خلکو د ذهنونو پارول غواړي، بيا به يې حقيقي قاضي ته ورحواله کړم چې هر څه مناسب وي، هماغسې قضاوت ورباندې وکړي. البته بله لاره هم شته او هغه مباهله (يو بل ته لعنت ويل) ته د دعوت لاره ده چې قراني اصل هم لري، چې هغه کسان چې له دې موضوع انکار کوي او وايي چې داسې ستونزه نشته او ګواکې ليکوال پخپله جوړه کړې ده، راشي او دغه قراني روش ته غاړه کېږدي چې خدای پخپله رښتونی او دروغجن سره معلوم کړي.

په پای کې د حافظ په يوه نغز شعر خبره بس کوم چې وايي:

نقد زاهد نه همه صافی و بی غش باشد ای بسا خرقه که مستوجب آتش باشد
خوش بود گر محک تجربه آید به میان تا سیه روی شود هر که در او غش باشد

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ضميمې

# نقدونه او تعليقونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مډرن اسلامي فهم سور آش

خالد خسرو

محمد محق د مډرن اسلام د امکان یا امتناع خورا نادر او جنجالي بحث مطرح کړی دی. بې له شکه ممکن افغانستان هغه وروستی ملک وي چې لا په کې د اسلام د مډرن کولو خبره نه ده مطرح شوې. دودیز سنتي اسلام خوار او مقهور شوی او اخواني او سلفي ایدیالوژیک اسلام چې له سیاست سره مل شوی، د روښانګرۍ او مډرنیتې ضد غښتلی دښمن ځنې جوړ شوی دی.

څرګنده ده چې لا هم د ایران او ترکیې او ځینو نورو هېوادونو په اندازه په افغانستان کې د دیني نوفکرۍ بنسټونه نه دي رامنځته شوي چې د هغوی پر اساس د دین د نوي کولو او بیاکتنې بهیر په یوه مسلط ډیالوګ بدل شي. ځکه خو د ښاغلي محق بحث زیاتره په یوه خلا کې واقع کېږي چې نه یې د غځېدو تصور کېږي او نه د مذهب په اړه د عامو خلکو پر فهم یې د اغېز تصور. له بلې خوا دا به نه هېروو چې د مذهب په اړه هر بحث به له سانسور سره مخ شي؛ ځکه زموږ ټولنه له دیموکراتیک ډیالوګ سره بلده نه ده، په تېره بیا د مذهب په بحث کې خشونت او عصبیت منل شوې چاره ده. نو د مذهب په اړه هر نقد او هر بحث هر وخت د سانسور په وجه نیمګړی، مبهم، متناقض او وېربدلی وي. دلته هم عقل باید د مصلحت د رعایت او د ځان د مصوونیت په خاطر، د چوپتیا لاره ونیسي او دا له تفکره د ډډه کولو له دوامه پرته نور څه نه دي.

### د مډرن تفسیر دوه سرې توره

د روښانفکرانو او مذهبي نظریه سازانو لپاره په مډرن عصر کې د دین د نوي فهم د جوړولو لپاره تر ټولو جذابه تیوري د هرمنوتیک نظریه ده. مسلمانو دیني اصلاح غوښتونکو د نوي مذهبي فهم پر رامنځته کولو ډېر کار کړی دی؛ خو لا تر اوسه د سانسور او ناخبرۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجه، فارسي ژبو ته يې د سمې او ژورې پېژندنې امکان نه دی برابر شوی. مثلاً د محمد ارکون «د اسلامي عقل نقد» کتاب په ايران کې د بيا چاپېدا اجازه نه لري. د نورو ورته ليکوالو حال هم دغسې دی.

دلته چې د ښاغلي محق پر «مډرن اسلام، امکان که امتناع؟» بحث کوو، منظور مو د اسلامي بياکتنې پر ټول بهير بحث کول نه دي او نه خو ليکوال غواړي چې له مذهبي ليدلوري دغه ليکنه وارزوي. دلته د يوه لوستونکي په توګه د دې ليکنې او د مذهب د مډرن فهم په اړه ځينې پوښتنې مطرح کوم او ښايي ښاغلی محق هم ورسره علاقه ونيسي او دغه مبحث وغځوي.

لومړی مسأله دا ده چې ښاغلی محق د «ذات» او «عرض» تر منځ د توپير په اړه د ښاغلي کريم سروش د نظريې په تبعيت، د «متن» او «د متن د درک» تر منځ توپير کوي. دا د اسلام د نوي فهم په برخه کې د ده د خبرو زړی دی. ايا د تاريخ، متن او د مذهب په اړه زموږ د فهم تر منځ توپير امکان لري؟ ښاغلی محق دا کار ممکن ګڼي او دليل ورته دا راوړي چې د تاريخ په اوږدو کې مختلفو مذهبو فرقو د قران او اسلامي شريعت په اړه مختلف فهمونه درلودلي دي. ښاغلی محق، سنت پالي چې د اصلي متن د فهم امکان ممکن ګڼي، په دې نقد کوي چې د تاريخي او زماني واټن په وجه د متن حقيقي معنا ته رسېدل سخت دي.

خو دلته د نوي فهم پر وړاندې ځينې چلينجونه هم راولاړېږي. ښاغلی محق وايي چې «د ټولو بهيرونو اتفاق دا دی چې د دين نوی کول، د کتاب او سنت د تجديدولو معنا نه لري. کتاب او سنت د تدوين له وخته تر اوسه پورې په ليکلي بڼه له مسلمانانو سره شته او د ټولو بهيرونو په نزد يې اعتبار يو شان دی. کتاب او سنت زړښت نه مني نو نوي کولو ته اړتيا هم نه لري. نو د بحث موضوع دوو نورو سطحو ته انتقالېږي: يوه د تفسيرونو او هغو انګېرنو چې د کتاب او سنت په اړه رامنځته شوې دي او وروسته بيا د فرقو او مذهبونو په ايدیالوژۍ بدلې شوې دي او بله د عملي تطبيق او د فرهنګي تکون سطح.»

لومړی خو د متن او د متن د فهم تر منځ توپير سخت او له تناقضه ډک دی؛ ځکه متن په ژبه او په تاريخ کې خلقېږي او په همدې وجه زموږ لپاره د درک وړ دی. کله چې خدای په قران کې د جهاد خبره کوي، منظور يې په تاريخي بستر کې درک کوو. کله چې د هغو کافرانو او منافقانو د جزا په اړه چې حضرت محمد(ص) نه مني، خبرې کوي، د کلام وضاحت يې د درک وړ دی. دلته نه شو کولای د قران په څېر يو مذهبي کتاب د يوه خورا مبهم او سيمبوليک متن په

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه تصور کړو چې هر څوک ورځخه خپل برداشت وشي کولای. له یوه متن سره داسې چلند خورا سخت او ښايي ساده توب وي. دلته د مرجعیت بحث په شدت سره مطرح کېږي. د کتاب او سنت تفسیر د کومو کسانو ذمه واري ده؟ په مډرن فهم کې انسان مرجعیت دی چې په ډله ییز ډول او په سازمانونو او ټولنو کې یې قوانین جوړ کړي او تطبیقوي یې. مثلاً د پارلمان او دولت له خوا د تجارتي قوانینو تصویب. خو د مډرن ديني فهم په نظریه کې به څوک د کتاب او سنت پر اساس نوی تفسیر جوړوي او دا تفسیر به په کومو اصولو او موازینو برابرېږي او معیار او محک به یې څه وي؟

د کریم سروش په شان نظریه جوړونکي معمولاً پر اسلام باندې د روحانیت له حاکمیت سره ستونزه لري. خو تر هغې پورې چې د مرجعیت مسأله او د نوي تفسیر لپاره د معیارونو او موازینو مسأله حل نه کړي، د اسلام مډرن فهم به تشه نظریه پاتې وي. لږ تر لږه مډرنیتې د دین د نوي فهم لپاره اساس نه شي کېدای؛ ځکه مډرنه نړۍ ځینې ارزښتونه په رسمیت پېژني چې اسلام یې نه مني، لکه د همجنسانو تر منځ واده، د مالکیت مساوي حقونه، طلاق، شهادت، سرپرستي او د عقیدې ازادي. بې له شکه د اسلام مډرن فهم د مډرن هرمنوتیک پوروړی دی؛ خو مډرن هرمنوتیک د دین له اجتهادي درک څخه توپیر لري؛ ځکه د اسلام د فهم لپاره د کتاب او سنت مرجعیت شرط دی، حال دا چې مډرن هرمنوتیک د بشري علومو د مختلفو طیفونو پر اساس باندې د مفسر پوهه او فن دی چې دین هم د همدې طیفونو یوه برخه اوسېدای شي. دې مسألو ته په کتو سره ښاغلی محق باید خپل هرمنوتیکي او یا تفسیري وار له مخې شرطونه څرګند کړي. قران د ګڼو مذهبي احکامو او تعالیمو کتاب دی چې د دعوت او ژغورنې لپاره لېږل شوی دی. په همدې وجه قران د اسلامي شریعت اساس ګڼل کېږي. ممکن څوک ووایي چې د تاریخي واټن په وجه، د قران د تعالیمو هغسې درک چې د هغې زمانې خلکو کړی و، نور ممکن نه دی؛ خو دا استدلال ځکه چنداني قانع کوونکی نه برېښي چې د اسلام دین تاریخي تداوم، مکتوبات او متون لري. دا چې مختلفې ديني فرقې لکه تشیع او تسنن شته دي، معنا یې د قران او اسلامي تاریخ په اړه د دوی د فهم اساسي اختلافونه نه دي.

د مختلفو اسلامي فرقو په منځ کې کُلي شرعي احکام لکه لمونځ، روژه، پر اخرت باندې ایمان، پر خدای باندې د عقیدې او د حضرت محمد د پیغمبرۍ د منلو په واسطه ژغورنه، او ان جزايي احکام لکه سنګسار یا د لاس غوڅول، سره له دې چې په مختلفو دلیلونو نه تطبیقېږي، چنداني سره توپیر نه لري. نو هماغسې چې د ښاغلي محق په شان ديني اصلاح

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتونکي پوهېږي، د اسلام د مډرن فهم لپاره د احکامو فرعي او ثانوي فقهي برداشتونه کار نه کوي، د مډرن فهم بحث پر فروعاتو نه دی؛ بلکې دلته اساسات تر پوښتنې لاندې راځي. همدارنګه متن په ژبه کې زېږي او په تاريخ کې معنا مومي. دې کې شک نشته چې تاريخي زمان بيا لاسته نه راځي؛ خو تاريخي او د لرغونپېژندنې مدرکونه ورځ تر بلې د مذهبي متن په فهم کې راسره مرسته کوي. زما په نظر يو مذهبي کتاب چې تاريخي تداوم لري، په هر لحاظ له يوه فلسفي او ادبي متن سره توپير لري او د هغه لوستل او فهم هم له نورو متنونو څخه متفاوت وي. يو دليل يې دا دی چې دين د شريعت په قالب کې تاسيس شوی او مومنين يې پيروي کوي. نو زه ديني فهم د مذهبي متنونو عارفانه او فلسفي درک نه ګڼم، دا هغه کار دی چې طارق رمضان يې د يوه اسلامي متفکر په حيث په غرب کې کوي، زه ديني فهم د مذهبي او اخلاقي احکامو او طرزالعملونو يوه مجموعه ګڼم چې په يوه سياسي او اجتماعي نظام کې تنظيم شوي دي. د مذهب شخصي فهم يا پروټسټانټي برداشت، په اسلامي هېوادونه کې ماتې خوړلې ده؛ ځکه مذهب تنظيم شوي قواعد او احکام او رسمي مفسران لري چې هغه روحانيون او ديني عالمان دي او دا په اسلامي هېوادونو کې د دې نظريې مخه نيسي.

د ميراث ويشل، د زوجونو تعدد، د سرپرستي او طلاق حق، تقوا او د جنسي رابطې ممنوعيت، د مسلمان او کافر تر منځ توپير او ... هغه مذهبي او اخلاقي احکام او لارښوونې دي چې اسلامي ټولنه ورباندې اداره کېږي.

کله چې دين د يوه سياسي او اجتماعي نظام په توګه مطرح کېږي، بحث د احکامو پر تطبيق يا تعديل باندې وي، نه د هغوی پر تفسير باندې. ځکه اکثره تفسيرونه په اسلام کې له راغلو احکامو سره مستقيمه رابطه لري. په اسلام کې راغلي د طلاق او د مېراث حق که راواخلو، کېدای شي اجرا يې کړو يا يې اجرا نه کړو؛ خو دا نه شي کېدای چې بل رقم يې تفسير کړو، مثلاً د ميراث احکام داسې تفسير کړو چې په کې د نارينه وو په نسبت د ښځو برخه زياته وي. دلته تفسير له تعديله پرته بل څه نه دی.

**اجتهاد، نه مډرن فهم**

واقعيت دا دی چې د اسلامي مډرن فهم نظريه له غرب راپور شوې تيوري ده، تحريف شوی دسکورس له ناکامه سټراټيژيو سره دی. د اسلامي نوي فهم نظريه، د اسلام د دوديز فهم په پاراډايم کې او همدارنګه د رسمي ديني مرجعيتونو او مستبدو مذهبي حکومتونو چې د شرع او تثبيت شويو مرجعيتونو مدافع دي، له ډاره واضحاً ناقص الخلقه تيوري ده. تازه فهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید د فقهي اجتهاد – چې په اسلام کې پخوانی سنت دی خو اوس پرېښودل شوی دی – د انکشاف نظریه وګڼو، نه د دین په اړه د مډرن انسان فهم. ځکه مډرن فهم ځینې اصول او اساسات لري چې د ښاغلي محق له یادو خبرو سره تفاوت لري.

ځنګه چې محمد رضا نېکفر د ښاغلي عبدالکریم سروش او مجتهد شبستري په نقد کې، د دین د مډرن فهم په اړه، ښه وایي:

۱ . مفسر باید «زه» وویلای شي، د ده «زه» باید خپل شخصیت ولري او منفصل فهم ونه لري یعنې باید خپل فکر وجنګوي، نه دا چې د مقتدرو او په سنت کې د محترمو مرجعو له عینکو مسایلو ته وګوري.

۲ . مفسر باید هر متن یوازې متن وګڼي، یعنې چې خپله لیکونکی ولري، په خاص فکر باندې، په خاص قلم باندې، خاصو مخاطبانو ته په خطاب کې، په خاصه زمانه کې لیکل شوی وي.

۳ . مفسر باید د تاریخ په مفهوم وپوهېږي او د نوي عصر په نامه د دې ستر تحول په ژورو پوه وي او بالاخره دا چې

۴ . د بیان او بل څه ویلو ازادي ولري؛ ځکه که چېرې د بیان ازادي نه وي، سنت به هم خپل رازونه بربنډ نه کړي او لا به هم په هماغه ژبه خبرې وکړي چې تاریخ ورباندې تپلی دی ... هرمنوتیک یعنې بل وړ فکر کول او هرمنوتیک مفسر په لومړۍ درجه کې له سپینو خبرو او بل وړ فکر کولو سره پېژندل کېږي.

د مذهب مډرن فهم په نظري لحاظ ځکه ډېرې سستې لري چې د احکامو او تثبیت شویو عقایدو حوزه پراخه ده او مفسر باید هغه اصول ومني. ځکه مذهب ان په خپله ننني معنا هم د تعبد او تعقل ګډوله ده. په اسلامي مفکورو کې هم فلسفي فکر د متن او شریعت تابع پاتې شوې دي نو په هر ځای کې چې عقل له متن سره په ټکر کې واقع شوی دی، اولویت متن او اصلي شرعي احکامو ته ورکړل شوی دی. پر خدای، د پیغمبر پر نبوت، د وحې له لارې د کتاب نزول، د محشر صحرا ته د ټولو ورستنېدل او ... اعتقاد د مومنانو د ایمان د حوزې موضوعات دي. حال دا چې مډرن فهم له بې پوښتنې او بې سنجشه ایمان سره سروکار نه لري. زما په نظر اسلامي عقل د ایمان او استدلال یوه ګډوله ده چې یو لړ مسلمات مني؛ خو مډرن عقل د راډیکال انسان نقاده قوه ده چې خپلې اساسي پوښتنې مطرح کوي او د هغه له خوا د مسلمو عقایدو د رد احتمال کاملاً شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته هماغسې چې نېکفر څرګند توضیحات ورکوي، اسلامي نوی فهم په هېڅ صورت د مډرن فهم او عقلي ډیالوګ په چوکاټ کې نه ځایېږي، بلکې زیاتره د اجتهاد په چوکاټ کې راځي. ځکه اجتهاد یو لړ کُلي او اصلي اصول مني او هڅه کوي تناقضونه رفع کاندي، د مومنانو پوښتنې او ابهامات ځواب کړي او ستونزو ته یې نوې حل لارې وړاندې کړي، البته حوزه یې محدوده ده. حال دا چې د عقلانیت او مډرن فهم لاره داسې نه ده. بې له شکه د مډرن فهم بر خلاف، د نوي اسلامي فهم نظریه باورمنه ده چې په متن او سنت کې ځینې پټ رازونه شته او دا ورته له نوې نړۍ سره د مطابقت ظرفیت ورکوي. خو مډرن فهم د مذهبي متنونو تاریخیتوب مني او استدلال کوي چې نوې نړۍ د جوړښت، مناسباتو او ارزښتونو په لحاظ له پخوانۍ نړۍ څخه ګوهري او یا ماهیتي توپیر لري او باید د دې دوو دنیاوو تر منځ تحول او شلېدنه و منل شي، هماغسې چې د مډرنې او پخوانۍ ټکنالوجۍ تر منځ دا توپیر منل کېږي.

**د متن تاریخیتوب**

زما په نظر د دیني بیا کتنې بهیر د مډرن فهم او عقل په تبعیت، باید د خپلو متنونو تاریخیت درک کړي، که نه له تناقض او دروني بحران سره به مخ شي. د متنونو مجدد تفسیر یو کُلي او مبهم عمل دی چې د نوې نړۍ له روح سره په ټکر کې دی.

د «بشر د حقونو د منشور» له مخې انسانان بې له دې چې مذهب او توکم ته یې وکتل شي، ټول له انساني کرامته برخوردار دي، حال دا چې د اسلام د ارشاداتو پر اساس مومن پر اسلام باندې د عقیدې په وجه، د کافر په نسبت ارجحیت لري. د اخرت پر ورځ هم مومن پر خدای او حضرت محمد باندې د خپلې عقیدې په وجه جنت ته درومي او کافران د خپل انکار په وجه د دوزخ په اور کې سوځي.

ایت الله منتظري په ایران کې د شیعه د یوه مرجع په توګه، بهاییانو ته چې د اسلام خلاف مذهب لري، د تابعیت او په ملک کې د اوسېدو حق ورکړ؛ خو هېڅکله یې مسلمان او بهایي ته یو شان شأن قایل نه شو. نو که معیار د دین مډرن فهم وي، خبره به تحریف ته ورسېږي.

دلته دوې سره یو مخ متفاوتې لارې دي:

1- د متن تاریخیت به په رسمیت وپېژنو او

2- یا یې له تاریخیته انکار وکوو او ورته تل پاتې او د هروخت لپاره اعتبار ورکوو.

مثلاً، کله چې اسلامي هېوادونه نوې نړۍ ته ورننوتل، مریېتوب په کې منسوخ شو، حال دا چې په اسلامي فقه کې د مریېتوب په اړه مختلف احکام شته چې له مریيانو سره د چال

(c) ketabton.com: The Digital Library



چلند او له هغوی سره د جنسي رابطې او داسې نورو مسایلو په اړه یې خبرې کړې دي. خو ولې مربیتوب سره له دې چې په مذهبي متنونو کې قدامت لري، منسوخ شوی دی؟ ایا مذهب هغه منع کړی دی؟ دلیل یې نوی عصر دی. اصلاً مډرنیت یعنې د قدیمې او نوې دنیا سره بېلول. په دې چوکاټ کې د مذهب مډرن فهم یعنې د هغو اصولو او موازینو تعدیل چې ننني انسان یې د عقلي معیارونو او نوې پوهې پر اساس نه شي منلای، حال دا چې مسلمانان پر دې خبرو باور نه لري. دوی فکر کوي چې دین، تاریخي زمان په رسمیت نه پېژني. خو په واقعیت کې د دې شي معنا د نوي عصر د سیکولر جهان چې طلسمونه یې مات شوي دي، نه درک کول دي. د متن تاریخیت د هغه پر اقتضا دلالت کوي. دا د مډرن فهم له لومړنیو اصولو څخه دی. نو د یوه عصر له مخې د بل عصر اټکل کول منطقي نه دي. مثلاً نه شو ویلای چې ولې د بشر د حقونو منشور د حضرت موسی په وخت کې تدوین نه شو. د بشر د حقونو منشور د مډرن عصر محصول او د مډرن انسان د اخلاقي پرمختګ نتیجه ده. که د دیني بیا کتنې نظریه د متن تاریخیت په رسمیت ونه پېژني، بیا نه شي کولای د ځان او سلفیت تر منځ واټن پیدا کړي. په دې منځ کې منځنۍ لاره علمي اعتبار نه لري؛ بلکې دا به یوازې موقتي ژبنۍ لوبه وي. مربیتوب د تازه تفسیر په وجه نه؛ بلکې نوې نړۍ ته د ورننوتو په وجه منسوخ شو. د تاریخیت له اصله پرته د مربیتوب بیا راژوندی کول مانع نه لري.

بې له شکه د دیني بیاکتنې نظریه به د دوو قطبونو تر منځ په نوسان کې وي چې په یوه سر کې یې د متن د تاریخیت په رسمیت پېژندل دي او په بل سر کې یې لومړنیو احکامو ته وفاداري. لکه د مجتهد شبستري په مباحثو کې چې د حجاب تاریخیتوب یا نه تاریخیتوب بیانېږي. نو دا نظریه تر دې دمه په اسلامي نړۍ کې بااعتبارې فکري نظریې ته نه ده اوښتې او لا د باد په مخالف جهت کې حرکت کوي. اصلي بهیر د سنتپالو په لاس کې دی چې خپل کار د تېرې زمانې احیا کول بولي. غالب اسلامي بهیر د شریعت او مډرنې نړۍ متناقضه ګڼوله ده او د دې تناقض دلیل هم د نوي عصر الزامات او دیني اصولو ته د وفادارۍ اجبارونه دي، هماغسې چې مسیحیانو او یهودانو په ننۍ نړۍ کې دا تناقض منلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مډرن اسلام په بحث کې د بنسټپالنې پل

عبدالکبیر صالحی

**اشاره: دغه لیکنه د وتلي څېړونکي استاد محمد محق پر «مډرن اسلام، امکان که امتناع؟» نقد دی. تر دې مخکې ښاغلي خالد خسرو هم پر دې مقالې پر ځای او څرګند نقد کړی و. خو زه غواړم دې موضوع ته له بل لیدلوري وګورم او د ښاغلي محق په مقاله کې د بنسټپالنې پل جوت کړم. باید ووایم چې ما اوږده موده د ښاغلي محق شاګردي کړې او د هغه د پوهې له درمن څخه مې وږي راټول کړي؛ نو زه هر وخت ځان د دغه فرزانه مفکر پورورړی ګڼم.**

د اسلامي بنسټپالنې پدیده په نننۍ نړۍ کې څرګند حضور لري. دغه خشونتپالې پدیده له ځانه پرته نور د اسلام هرډول تعبیر د ګمراهۍ او ضلالت نښه بولي او د نورو دیني تعبیرونو پیروان د وژلو او ختمولو وړ ګڼي. دا پدیده تر ټولو زیاته دښمني د اسلام له مډرن تعبیر سره لري؛ ځکه دا ورته د امریکایي اسلام نښه ښکاري.

د بنسټپالې اسلام خشونتپالنه او د وینې تویولو شوق سبب شوی دی چې ډېر هغه کسان چې په افغانستان او نورو اسلامي ملکونو کې د دیني بیاکتنې فکر په سر کې لري، د سر د خوندي ساتلو لپاره د عافیت ځنډې ته پناه یوسي او خولې وګنډي او قلم او کاغذ واړه وسوځوي. د نوفکرانو هغه شمېر چې خپلې مفکورې بیانوي، هغوی هم ډېره هڅه کوي خپله خبره په داسې چل وکړي چې د امکان تر حده د بنسټپالو غیرت راونه پاروي او د هغوی په ذهن او ضمیر کې د خشونتګرۍ اور بل نه کړي. په همدې وجه د مسلمانو نوفکرانو ژبه اکثراً په تناقض او ابهام ککړه وي، معنا دا چې د دوی په اثارو کې کولای شو د روښانفکرۍ نښې او د بنسټپالنې پل دواړه په ښکاره ووینو. د ښاغلي محق «مډرن اسلام، امکان که امتناع؟» هم له دې قاعدې مستثنا نه ده او د بسنټپالنې وېروونکې سلطې پرې د ابهام او تناقض ویلو څپه تحمیل کړې ده. دا لیکنه غواړي د بنسټپالنې بدشګونی حضور د «مډرن اسلام» په مقاله کې په لنډه توګه جوت کړي.

د «مډرن اسلام» مقاله په نننۍ نړۍ کې د دین تجدید «حتمي» چاره ګڼي او د دې چارې ترسره کېدل د مډرنې نړۍ له نورو وګړو سره د سیال کېدو یوازینۍ لاره ګڼي. مقاله ټینګار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي چې که وغواړو په مډرنه نړۍ کې د دين معنويتپالی نقش غښتلی کړو، بله چاره نه لرو مګر دا چې د ننني انسان د پوهې اسمان ته وخېژو او د دين نوی تفسير وړاندې کړو.

د «مډرن اسلام» ليکوال د مصطفی ملکيان له مفهوم جوړولو پور اخلي او د اسلام د درې ګونو سطحو په مورد کې، د تجديد موضوع مطرح کوي او نوسازي په دويم اسلام يعنې «د ديني تفکر، تفسير او د فهم په سطحې» پورې منحصروي. هغه لومړی اسلام يعنې «د اسلام د لومړي لاس د منابعو لکه د کتاب او سنت سطح» له تجديده بې نيازه ګڼي؛ ځکه د دغه فرزانه مفکر په باور، د اسلام پر دې سطح هېڅکله د زړښت ګرد نه پرېوځي:

« د ټولو بهيرونو اتفاق دا دی چې د دين نوی کول، د کتاب او سنت د تجديدولو معنا نه لري. کتاب او سنت د تدوين له وخته تر اوسه پورې په ليکلي بڼه له مسلمانانو سره شته او د ټولو بهيرونو په نزد يې اعتبار يو شان دی. کتاب او سنت زړښت نه مني نو نوي کولو ته اړتيا هم نه لري...»

ښاغلی محق لويه هڅه کوي چې له تطبيقي لارې څخه د تجديد مصداق تعين کړي او د مډرنيزم او بنسټپالنې په سياق کې د دې مفهوم د معنا حدود روښانه کړي او بيا د مډرنيزم په ګټه د تجديد پر معنا ټينګار وکړي.

خو ژر بيا په اسطوره باورۍ کې ډوبېږي او د بنسټپالو په شان د تاريخي کتنې په خوارۍ اخته کېږي او په نتيجه کې يې د لومړي اسلام د تجديد پر «بې معنا» توب او دا چې په دې اړه د فکر کولو مجال نشته، ټينګار کوي، له دې ناخبره چې د مډرنيزم په بحث کې هېڅ داسې چاره نشته چې فکر نامنونکی (unthinkable) وي. د دې ادعا څرګند دليل دا دی چې د دغه بحث د تقدس تورېلو (desacralization) او طلسم ماتولو (disenchantment) پر اصل تکيه کوي او هر ډول حد او بريد چې د «ناقدانه تفکر» مخې ته راشي، له منځه يې وړي. دا اصل د دين کُليت، د تاريخي – پديده پوهنې د نقد په تله کې اچوي او په دې انتقادي فکر کې د بنيادي متنونو (نصوص المؤسس) او د مفسرينو د فهم تر منځ توپير ته نه قايلېږي.

د تأمل وړ ټکی دا دی چې د دين د تجديد په مسأله کې د «مډرن اسلام» د ليکوال هرمنوتيک او معنايي افق په ښکاره د بنسټپالنې د مسلماتو تر اغېز لاندې راځي. د بنسټپالنې مسلمات د حقيقت، تقدس او خشونت په مثلث کې راڅرګندېږي. په بنسټپالنه کې د لومړي اسلام تجديد نه منل، يو مسلم او مقدس حقيقت دی چې که هر څوک د هغې خلاف خبره وکړي، د خورا سخت خشونت مستحق ګڼل کېږي. ښاغلی محق د دې لپاره چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټپالو له بې حد و حصره خشونت څخه ځان وژغوري، د دې حقیقت تقدس ته احترام کوي او په «مَن یُجَدّدِ لَهَا دِینَهَا» کې د «فهم» کلمه مقدر او مسلم ګڼي او په نتیجه کې د لومړي اسلام نوسازي «بې معنا» ګڼي.

د لا حیرانتیا خبره خو دا ده چې دغه نامتو نوفکری لیکوال د پخوانو د تناقض ځپلي تفسیري سنت په پیروۍ، د اسلام د لومړي لاس د منابعو ټول تاریخمن مظاهر لکه نسخ، د نزول سبب او د ورود شأن له یاده باسي او یو مخ دا هېروي چې دغه منابع د خپل وخت له اجتماعي – فرهنګي واقعیتونو سره د ډیالکټیکي رابطې له لارې منځته راغلي او همدا چې دې دوه اړخیز پیوند ته یې غاړه ایښې ده، معنا یې دا ده چې په وخت پورې تړلي دي او بدلون مني.

د «مډرن اسلام» د لیکوال په تأکید، د دې مقالې تر ټولو محراقي او مهم ټکی دا دی چې: «نننی انسان له پروني انسانه توپیر لري... نننی انسان په خپل ذاتي کرامت پوه شوی دی او اوس هغه دین قبلوي، هغه قوانین خوښوي، هغه فرهنګ غوره کوي او هغې لارې او طریقې ته په ښه سترګه ګوري چې د دې د کرامت حفاظت وکړي... که موږ وغواړو د دین د سم درک کولو او د ټولنې د ستونزو د حل کولو په لاره کې کامیابي حاصله کړو، بله لاره نه لرو، باید نننی انسان او نننۍ نړۍ سم وپېژنو، د دې عصر غوښتنې درک کړو، د نني انسان معرفت او پوهه د اعتبار وړ وګڼو او بیا د دین داسې تفسیر وړاندې کړو چې له دې پوهې او معرفت سره موافق اوسي.»

دغه ټکی پر ځای او رسا دی؛ خو هغه چې دا خبره یې کړې ده، دا ځنې هېره شوې ده چې له پاراډوکسي او متنافي الاجزا تیوریو په وسیله نه شو کولای د دین داسې تفسیر وړاندې کړو چې د مډرن انسان له معرفت سره اړخ ولګوي.

اوس د دې وخت رارسېدلی دی چې په اسلامي نړۍ کې د نوفکرۍ سنت د ابهام او تناقض ګرد له مخه وڅنډي او نور په مطلق باورۍ او قطعیت ککړ نه شي. که ښاغلی محق او نور دیني نوفکري کسان «په نوې نړۍ کې د دین د سرلوړۍ» فکر په سر کې او پر «نني انسان باندې د دیني مفکورو د منلو» پروا لري، باید له متناقضو خبرو او مبهمو مفکورو ډډه وکړي او په خورا ژور فکر سره د دیني مدرسه یي مفکورو په خورا اساسي بنیادونو کې ورننوځي او د «مسلمانۍ ټوله دستګاه» له سره ولولي او خپلې ټولې هلې ځلې د دین د فهم تجدید او نوي تفسیر ته معطوف نه کړي. لیکوال د دې مقالې غځونه بل وخت ته پرېږدي او دلته پر دې ټکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټينګار کافي ګڼي چې ديني نوفکران د «دين د فهم» تر تجديد د مخه، دې ته اړتيا لري چې لومړني او لاندني مباني يې د تاريخي، ژبپوهنې او معناپوهنې په تله کې راوتلي.

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طالبانیزم د معرفتي او اجتماعي مسألې مطرح کول

## د "سخت طالبان، نرم طالبان" مقالې ته کتنه

شاکر مهریار

تېره اوونۍ، سه شنبې د 8 صبح د ورځپاڼې په 1036 مه ګڼه کې د محمد محق «سخت طالبان، نرم طالبان» مقاله خپره شوه. محق هغه لیکوال دی چې لیکنې یې هر وخت د قدر وړ فکري او تیوریکي تومنې درلودلې دي او د رسنیو او شنونکو له نظره پټې پاتې شوې ساحې یې مطرح کړې دي. له بلې خوا تر دې دمه د طالبانو او بنسټپالنې په اړه هغه تحقیقي ادبیات چې په اکاډیمیکو او غیراکاډیمیکو محیطونو کې رامنځته شوي دي، یا خو سطحي او برسېرن دي او یا له داسې فرضیو او وار له مخکې فرضونو سره تدوین شوي چې پوښتنې راولاړوي. په تېره بیا د دوی اکثره کسان د طالبانیزم په اړه ژورنالیستیک تحلیلونه وړاندې کوي چې په هغو کې د طالبانو معرفتي اړخونه له فرهنګي – اجتماعي زمینو سره یې له پامه غورځول کېږي. افغان څېړونکو نه یوازې دا چې تر اوسه پورې یې د طالبانیزم په اړه د تأمل وړ توضیح او تبیین نه دي وړاندې کړي، بلکې د دوی سخت اوزاري بعدونه یې برسېرن درک کړي دي.

په «سخت طالبان، نرم طالبان» مقاله کې محمد محق هڅه کوي چې په افغانستان او احیاناً په سیمه کې د طالبانو فرهنګي – اجتماعي اړخ وښیي. ښاغلي محق په یاده مقاله کې طالبان په دوو ډلو وېشلي دي چې په «سخت طالبان» او «نرم طالبان» یې یادوي. له «سخت طالبانو» څخه مطلب هماغه کسان دي چې نن سبا د طالب په نامه په پراخ خشونت لاس پورې کوي او عملاً د دولت او نړېوالو ځواکونو پر ضد جنګېږي او د خپل حاکمیت په دوره کې یې هم له هېڅ ډول خشونت او وحشته ډډه نه ده کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان دولت هم هڅه کوي چې په سياسي صحنه کې له سختو طالبانو سره مذاکره او خبرې اترې وکړي. خو نرم طالبان هغه وګړي دي چې په ښکاره خو طالب نه بلل کېږي؛ مګر د دوی طالباني فعاليت د ټولنې په منځ کې روان دی.

د محق په وينا ، دويم بهير ، «د طالبانو بله برخه ده چې نامرئي (نه ښکارېدونکي) طالبان دي چې له هغې پرته د طالبانو د جنګې ډلې فعاليت له ستونزې سره مخ کېږي. د جنګي طالبانو د فعاليت ادامه شديداً په دې ډلې پورې تړلې ده؛ ځکه دا ورته د جبهې شا ته ايديالوژيکي ملاتړ برابروي. هېڅکله د دې ډلې نقش چې لومړۍ ډلې ته اجتماعي – فرهنګي بستر غوړوي او جنګيالي ورته برابروي، جدي نه دی ګڼل شوی.» (محق، 8 صبح، شماره 1036) اجازه راکړئ د طالبانيزم د مسألې په توضيح کې د نورو ليدلوريو او د بحثونو د طرزونو مختصره يادونه وکړم. د طالبانيزم د توضيح لپاره متفاوت ليدلوري رامنځته شوي دي.

ځينو ويلي دي چې طالبان د افغانستان د سنتي او دوديزو ارزښتونو د عيني تجسم حيثيت لري. يعنې طالبان د کليوالو ارزښتونو چې پر دوو اساسي ستنو «قبيله پالنه» او «اسلامي بنسټپالنه» ولاړ دي، تجسم دی او ښار او ښاري فرهنګ يې تر بريد لاندې راوستلی دی.

ځينو نورو طالبان د پښتنو د وضعيت مدلول ګڼلي دي. دوی ويلي دي چې پښتنو د افغانستان د اکثريت په حيث په سياست کې تاريخي نقش لرلی دی او طالبان د واک د بيا انحصار او يا د پښتنو په لاس د واک د انحصاري لړۍ د بيا ژوندۍ کولو په لټه کې دي.

ځينې بيا دا ليدلوری جوتوي چې طالبان د نظامي پالي اسلام غواکونه دي چې غواړي هر چېرته واوسي او په ايديالوژيک لحاظ غواړي پخوانی ايديال اسلام تطبيق کړي او د يوه خيالي ارمان د پوره کولو لپاره خيالونه پالي، لکه څنګه چې ملاعمر د اسلامي اوتوپيا (utopia) خيال د طالبانو په وجود کې جوړ اوه.

د پاکستاني ژورناليست احمد رشيد په شان ځينې کسان، طالبان د امنيت او انرژۍ په برخه کې د پېچلو ستراتېژيکو تګلارو زېږنده ګڼي، په تېره بيا له منځنۍ اسيا جنوبي اسيا ته د انرژۍ د انتقال په مسأله کې. (طالبان او د افغانستان بحران، هاروارد ، 2009)

سربېره پر دې، د څېړونکو او ليکوالو په منځ کې د ټولنپوهنې او وګړپوهنې پر ليدلوريو هم ټينګار شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طالبانو په اړه په ټولنپوهنيزو او بشرپوهنيزو تحقيقي ادبياتو کې، د جوړښتونو تغيير او تحول، د رهبرۍ خلا، قبيله يي او طالبپاله فرهنګي – اجتماعي بېخ بناګانې، له ښاري مظاهرو سره جنګ او د دوديزو چارو تقديس، په تېره بيا په پښتون مېشتو سيمو کې، د طالبانو په توضيح کې اساسي ټکي ګڼل کېږي.

په ځينو فرعي او څنګيزو ليدلوريو کې طالبان، د درانيو پر وړاندې د غلزيو بغاوت ګڼل شوی دی. همدارنګه ډېر نور کسان طالبان د مجاهدينو د واکمنۍ پر مهال د بدامنيو او د حاکميت د رنګېدو او د واک د ټوټې ټوټې کېدو پر وړاندې عکس العمل ګڼي چې اجتماعي شلېدنګ او د جوړښتونو ګډوډيو ورته لاره هواره کړې وه. داسې ليدلوري هم شته چې مسألې ته کُلي نظر کوي او اسلامي بنسټپالنه د غربي مډرنيتې پر وړاندې عکس العمل ګڼي او طالبانيزم هم ورپورې تړي. خو هغه ليدلوري چې غالباً په غربي اکاډيميکو محيطونو کې رامنځته شوي دي، طالبان يې په افغانستان کې د قدرت د مناسباتو د شکل او ماهيت پر بنا تحليل کړي دي. دا ډول تحليلونه پر دوو برخو وېشلای شو: «جنوب مبنا» او «شمال مبنا» ليدلوري.

په جنوب مبنا ليدلوري کې، طالبان د افغانستان له جنوبه هغه راولاړ شوې پښتون توکمه ډله ده چې په خاص تاريخي بستر کې د يو قوموالۍ پر بنا د سياسي ثبات د ايجاد لپاره ارزول کېږي. د عبدالقادر سينو غوندې کسانو طالبان پر همدې اساس تحليل کړي دي: «که تاريخ يو لاربنود دی، په افغانستان کې واکمنۍ د پښتنو په انسجام او سره راټولېدو رامنځته شوې دي، او افغانستان د دوی له خوښې پرته حاکميت نه شي لرلای.» دا د «طالبان او د افغانستان بحران» په کتاب کې د عبدالقادر سينو د مقالې لومړۍ جمله ده. د دې ډول روشونو انعطاف نامنونکی مفروض د يوه قوم په لاس د قدرت لرل او پر همدې مبنا د ثبات ايجاد دی؛ خو دا به نه هېروو چې نه يوازې دا چې ټول پښتانه طالبان نه دي؛ بلکې پښتانه هم د هغوی قربانيان دي. د دې نظر په مقابل کې «شمال مبنا» ليدلوری دی. په دې ليدلوري کې طالبان له «کورني استعماره» جلا نه شي توضيح کېدای. ځينې کسان لکه نظيف شهراني، هر وخت پر داخلي استعمار ټينګار کوي. زه دا دوه ډوله چلند په ترتيب سره جنوب – مبنا او شمال – مبنا نوموم.

دغه ليدلوري په يو بل کې د پام وړ تداخل او ورته والی لري. سره له دې چې دغه ليدلوريو د تحليل مخه د سياسي قدرت او احياناً د تاريخي نوستالژۍ خوا ته ده؛ خو ځينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واقعيتونه هم توضيح کوي، مثلاً دا چې په اکثرو تحليلونو کې څوک د پاکستان، بنسټپالنې او قبيله يي جوړښت عوامل له ياده نه شي ايستلای. خو د طالبانو معرفتي او ذاتي بعدونه او هغه جوړښتونه چې طالب پالي او کولای شي افغانستان يو ځل بيا د وحشت او تباهۍ کندې ته ورخطا کړي، نه دي توضيح شوي. د طالبانو په اړه د ښاغلي محق تحليل، څه په همدې مقاله کې او څه د هغه په پخوانيو مقالو کې يو له هغو مباحثو څخه دی چې خورا د تأمل وړ دي. په دې تحليل کې د طالبانيزم پر معرفتي او ذاتي بعدونو سربېره، پر فرهنګي او اجتماعي زمينو يې هم ټينګار شوی دی. ښاغلي محق په داسې وخت کې د نرمو طالبانو مسأله مطرح کړه چې ځينو د احمد رشيد په ګډون، د ليکوال او څېړونکي تر نامه لاندې بارک اوباما ته ليک وليکه، دوی په بې شرمۍ سره طالبان «ملي غورځنګ» بولي او په دې ډول د امريکا پر ولسمشر زېرى کوي چې له دې «ملي غورځنګ» سره د خبرواترو وخت رارسېدلی دی او هغوی د هېواد په جنوب او شمال کې په شدت سره ځواکمن شوي او د لا ډېرو وحشتونو د زېږولو جوګه شوي دي. دا راته ښيي چې له يوې خوا د طالبانيزم د خطر په مسأله کې سهل انګاري کېږي او له بلې خوا په سياستونو او تحليلونو کې هر وخت تمرکز پر سختو طالبانو باندې کېږي. سربېره پر دې، دا چې د طالبانو ايديالوژيک او معرفتي اړخونه په تحليلونو کې نشته او د دې پديدې اجتماعي او فرهنګي بعدونه نه دي څېړل شوي، د دې سبب شوي دي چې له طالبانو سره سياسي چلند او د دوی د تحليل شاخصې د طالبانيزم له خوا وټاکل شي.

بېرته به د ښاغلي محمد محق مبحث ته راوګرځو. زه د ښاغلي محق د مقالې له عمومي چوکاټ سره موافق يم؛ خو خبره د مسألې په توضيح کې ده. سره له دې چې د ښاغلي محق توضيح خورا په زړه پورې او جذابه ده؛ خو داسې نه ښکارېږي چې د «نرمو طالبانو» په اړه د ده توضيح دې د تيوريکي غنا په لحاظ د دې مفهوم لپاره کافي وي. د ښاغلي محق د مقالې جوت ټکی، د يوه مشخص مبحث پر بنا د نرمو طالبانو راپېژندل دي؛ خو د دې دوو ډلو (سختو او نرمو طالبانو ) تر منځ د باورونو د اشتراک توضيح زياتره توصيفي ده نه تبييني. ښاغلی محق وايي چې د نرمو طالبانو دريځ د « ابادۍ، ارامۍ، تفاهم، تعاون، تسامح، اتحاد ، اتفاق، پيوستون، يو لاس کېدل، بشرپالنې، خيرغوښتنې او دې ته ورته نورو ارزښتناکو مفاهيمو» پر محور نه راچورلي. دی د نرمو طالبانو د باورونو شاخصې داسې راشماري:

- پر نظام دوامدارې نيوکې،
- د منبرونو او عامه تريبيونونو سياسي کول،

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پر پرديو دوامداري حملې، هغه هم هغه پردي چې که په هر نيت وي؛ خو د وطن په بيارغاونه کې يې برخه اخيستې ده، نه هغه پردي چې له تېرو دېرشو کلونو راهيسې يې کار د دې وطن ورانول دي،

- د ايډيالوژۍ پر اساس د انسانانو تر منځ بريدونه تېرول،

- له نوي تمدن سره دښمني او د هغه ټول مثبت اړخونه تر پوښتنې لاندې راوستل په دې پلمه چې ځينې عيبونه او نيمګړتياوې لري، حال دا چې دا عيبونه د نوي تمدن په جانبي عوارضو کې حسابېږي،

- د ملي غيرت او ديني عرق په نامه خشونت ته د خلکو هڅول،

- د ديني روحيې او ايماني جذبې تر پوښښ لاندې په دوامداره او پراخه توګه د نفرت او کينې خپرول،

- د صنفي او ډله ييزو انګيزو په وسيله د ټولنې له عمومي برخليک سره لوبې کول،

- د خلکو د ويرولو او ګواښولو لپاره له ملي شعارونو او ديني مفاهيمو څخه د اوزارو کار اخيستل،

- مذهبي او فرقه يي اختلافونو ته لمن وهل، (محق، هماغه)

البته د طالبانو په اړه د ښاغلي محق توضيحات هله دقيق درک کولای شو چې د طالبانو او د بنسټپالنې د ظهور په اړه د ده نورې ليکنې هم له نظره تېرې کړو. بې له شکه محق تر بل هر چا زياته توجه د طالبانو او بنسټپالنې معرفتي او پديده يي بعدونو ته اړولې ده او دا هغه څه دي چې د افغانستان د اوسني دولت په سياست جوړولو کې درک نه لري. اوس يې چې د نرمو طالبانو د باورونو شاخصې په سياسي او معرفتي حوزو کې راجوتې کړې، د قدر وړ کار يې کړی دی. خو په دې شاخصو کې ځينې کُليات بيان شوي دي چې بايد نور هم له جزياتو سره توضيح شي. داسې ښکاري چې د سختو طالبانو او نرمو طالبانو د معرفتي بعدونو د تبيين په خاطر بايد لا زيات فکري دقت وشي. د سختو او نرمو طالبانو مختلف صفونه او مختلفې سويې دې د هغوی له معرفتي اشتراکاتو سره لا زيات توضيح شي. ښاغلی محق خصوصاً د نرمو طالبانو په توضيح کې د مصادقو له يادولو په شدت سره ډډه کوي. که څه هم چې سړی دلته د ښاغلي محق ډډه کول، درک کولای شي؛ خو کله چې ښاغلی محق د يوه څېړونکي په توګه ډګر ته راووځي او غواړي په افغانستان کې مسأله مطرح او بيا ورته توضيح برابره کړي، نو بايد دا مېړانه ولري چې د مسألې په طرح کولو يا د توضيح په ورکولو کې د مصادقو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکره ونه ډاربږي. د سو تفاهم د مخنیوي لپاره به دا هم ووایم چې د ښاغلي محق تحلیل «عواقب محوره» تحلیل دی. ښاغلی محق لیکي: «که دغه لیدلوری وسپړل او وڅېړل شي، ټولو ته به څرګنده شي چې طالبان اساساً د همدغسې لیدلوري زېږنده او د همدغسې فرهنګ محصول دي. که د یوې ټولنې د یوې برخې د وګړو فکري تکوین له همدغسې لیدلوریو او مفکورو رغېدلی وي، څرنګه کولای شو د دې ټولنې د امنیت او ارامۍ خبره وکړو او د پرمختګ او ښېرازۍ دعوا یې وکړو؟»(محق، هماغه). نو د طالبانیزم د معرفتي بعدونو په توضیح کې باید متنوع تګلارې او د توضیح مختلف اوزارونه وکارول شي.

د ښاغلي محق په نظریه کې د طالبانو په تحلیل کې سیاسي او قومي مبنا یا خو له سره نشته او یا هم د مسألې په څنډه کې راغلې ده؛ خو د طالبانو د معرفتي بعدونو د توضیح لپاره نه شو کولای یوازې له اسلام څخه د طالبانو په خاص تفسیر اکتفا وکړو؛ بلکې باید هغه اجتماعي، سیاسي، فرهنګي او تاریخي عناصر چې د طالبانیزم په تکوین کې یې نقش لرلی دی، او د دوی ایدیالوژیک او معرفتي چوکاټ یې برابر کړی دی، توضیح شي. د محق د لیکنې په اړه بل ټکی چې زه یې مطرح کول غواړم، دا دی چې دا سې یو کُلي درک شته چې طالبانیزم د مرستندویو اجتماعي او فرهنګي جوړښتونو له موجودیته پرته تاب او توان نه شي لرلای. د طالب پالو اجتماعي او فرهنګي جوړښتونو توضیح څه ده؟ څه ډول توضیح د دې ټولنې د جوړښتونو او فرهنګ ژورو ته لاره کولای شي چې د هغې پر اساس طالب پاله اجتماعي – فرهنګي مناسبات روښانه شي؟ د محق په مقاله کې بل چلینج دا دی چې دی په دولت کې د طالب مشربو سیاستوالو موجودیت ته مستقیمه اشاره کوي چې دولت هم ورته تمایل لري؛ خو د دې سیاسي طبقې روښانه او د پوهېدا وړ توضیح نه ده وړاندې شوې. په همدې دلیل د نرمو طالبانو په اړه مطرح شوې شاخصې کُلي دي او نه په مشخص ډول په طالبانو پورې اړوند فرهنګي –اجتماعي جوړښتونه او نه هم کوم بهیر او سیاسي طبقه توضیح کوي.

محق لیکي: «د دې څواکونو ډېره برخه له جګړې سره مستیقمه رابطه نه لري او ظاهراً د ټولنې د مدني جوړښت یوه برخه ده او یا دا د طالبانو مخالف هغه سیاسي –مذهبي فعالان دي چې د اساسي قانون تر چتر لاندې ژوند کوي – سره له دې چې پر اساسي قانون چنداني باور نه لري او کله نا کله عملاً ورسره مخالفت هم کوي – څینې نور یې ان پر دولتي چوکیو ناست دي؛ خو بیا هم د دوی کارونه سبب کېږي چې د طالب پالنې فرهنګ لا غښتلی شي او هغه کسان چې

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي له طالبانو سره اساسي مبارزه وکړي او د دې بهير تړلنيزې ريښې وروچې کړي، ځنډې ته وهل کېږي چې هېڅ کار ونه کړای شي.» (محق، هماغه).

يوه ستونزه د هغو اجتماعي او فرهنګي زمينو په اړه چې طالبان په کې راټوکېدلي دي، د معياري تحقيقاتو نشتوالی دی. خو له دې سره سره بيا هم د ښاغلي محق تګلاره د طالبانو د معرفتي او اجتماعي – فرهنګي جوړښتونو د بعدونو په اړه ژوره تګلاره ده چې د مسألې د لا ښه تحليل او توضيح لپاره ښه پيل ګڼل کېدای شي. واقعيت هم دا دی چې سخت طالبان چې دومره پياوړي شوي دي، غښتلې فرهنګي او فکري ملاتړې ستنې لري چې نه يوازې تر اوسه پورې د افغانستان دولت او نړېوالې ټولنې له پامه غورځولې دي؛ بلکې د هماغه شاخصو پر اساس حرکت هم شوی دی. خو د تحقيق په برخه کې دغه طالب پاله «فرهنګي – اجتماعي ستنې» بايد په څرګندو ټکو توضيح شي.

همدغسې، ښاغلی محق له نرمو طالبانو سره د دولت د رابطې په اړه او پر دولت د هغوی د اغېزې په اړه ليکي: «خبره دې حد ته رسېدلې ده چې نظام د دې ليدلوري مخې ته د ډال حيثيت غوره کړی او هڅه کوي د هغه له شاخصونو سره ځان عيار کړي. نظام به فکر کوي چې له دې کار سره به مشروعيت حاصل کړي؛ ځکه ګومان کېږي د ټولنې د دوديالنې په خاطر بايد داسې ليدلوری په رسميت وپېژندل شي او ورسره جوړ جاړی وشي. دا يوه بله لويه تېروتنه ده چې عواقب به يې خورا ګران تمام شي. دا کارونه پخپله په يو ډول له طالبانيزېښن سره مرسته کوي.» (محق، هماغه).

د مقالې په پای کې ښاغلی محق بيا هم اخطار ورکوي چې «د طالباني ليدلوري بر وړاندې بې تفاوتي او هغه ته ميدان پرېښودل، له هغو سترو تېروتنو څخه دي چې د تونددلاريتوب او خشونت ټولو مخالفانو په کې برخه لرلې ده. د طالبانو له وسله والو ځواکونو سره مبارزې د طالباني افکارو او د طالب پاله فرهنګ د خپرېدو لپاره ځای پرې نه ښود. اوس وينو چې يوه لسيزه وروسته هغه نسل چې په دې تاريخي مقطع کې راټوکېدلی دی، تر پخوا زيات له طالباني شعارونو او خوبونو سره انس لري.» (محق، هماغه)

په دې ډول محق باورمن دی چې د طالبانو د بيا راپاڅېدو لپاره زمينه برابره شوې ده. فکر کوم د ښاغلي محق دغه اخطار جدي او پر ځای دی او بايد تر بل هر وخت زيات جدي وګڼل شي؛ ځکه موږ لا هم د طالبانيزم د وحشت له عصره چنداني لرې نه يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نرم طالبان، بې مصداقه مفهوم

**عبدالرحمان کبریت**

ښاغلي محمد محق په «8 صبح» کې د نرمو طالبانو او سختو طالبانو طرح مطرح کړه چې وروسته د شاکر مهریار مقاله راغله. د دې دوو مقالو ګډ ټکی دا دی چې ګواکې د طالبانو د مختلفو څانګو لپاره «سخت طالبان» او «نرم طالبان» به رسا اصطلاحات وي. حال دا چې زما باور دا دی چې د دې اصطلاحاتو وضع کول، د ښاغلي محق له توضیح سره سره، تازه مفهوم او تازه پدیده نه بیانوي؛ بلکې د هغه مذهبي او سیاسي تمایل د توضیح لپاره چې پخوا د نورو بحثونو په قالب کې څرګند شوي دي، نوې اصطلاحات دي.

**ولې نرم طالبان؟**

ممکن لوستونکو ته دا پوښتنه پیدا شي چې د طالبانو د پېژندلو لپاره اصطلاح جوړولو ته څه اړتیا؟ ښاغلی محق توضیح ورکوي چې: «په افغاني ټولنه کې داسې ډلې شته چې رسماً د طالبانو په کتار کې نه راځي یعنې نه پخپله ځانونه طالبان ګڼي او نه یې نور طالبان بولي؛ خو په عمل کې طالباني لیدلوري ته معتقد دي او د طالباني افکارو په رواجولو سره هماغه ځای ته رسېږي چې طالبان یې غواړي. لیکوال پر دې باور دی چې د طالبانو په تقویت کې او د هغوی لپاره د فکري او فرهنګي ملاتړ په برابرولو کې د دې ډلو نقش خورا موثر دی. که طالبان د جبهې شا ته داسې ملاتړي ونه لري، د دې وس به ورته پاتې نه شي چې په ټولنه کې حضور ولري او خپل سیاسي ژوند وغځوي.»

د ښاغلي محق په نظر، نرم طالبان هغه کسان دي چې ممکن د طالبانو د غورځنګ برخه نه وي؛ خو د اعتقاد په لحاظ طالبانو ته ورته مفکورې لري. په همدې خاطر باید یې نرم طالبان وبولو. وروسته بیا ښاغلی محق د نرمو طالبانو د پېژندلو لپاره د هغوی د باورونو ځانګړنې داسې بیانوي: «- پر نظام دوامدارې نیوکې - د منبرونو او عامه تریبیونونو سیاسي کول- پر

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرديو دوامداري حملې، هغه هم هغه پردي چې که په هر نيت وي خو د وطن په بيارغاونه کې يې برخه اخيستې ده، نه هغه پردي چې له تېرو دېرشو کلونو راهيسې يې کار د دې وطن ورانول دي- د ايډيالوژۍ پر اساس د انسانانو تر منځ بريدونه تېرول- له نوي تمدن سره دښمني او د هغه ټول مثبت اړخونه تر پوښتنې لاندې راوستل په دې پلمه چې ځينې عيبونه او نيمګړتياوې لري، حال دا چې دا عيبونه د نوي تمدن په جانبي عوارضو کې حسابېږي- د ملي غيرت او ديني عرق په نامه خشونت ته د خلکو هڅول- د ديني روحيې او ايماني جذبې تر پوښښ لاندې په دوامداره او پراخه توګه د نفرت او کينې خپرول- د صنفي او ډله ييزو انګيزو په وسيله د ټولنې له عمومي برخليک سره لوبې کول، - د خلکو د ويرولو او ګواښولو لپاره له ملي شعارونو او ديني مفاهيمو څخه د اوزارو کار اخيستل- مذهبي او فرقه يي اختلافونو ته لمن وهل.»

زما په نظر ښاغلی محق وايي چې ان د طالبانو له نظامي ماتې سره سره، به بيا هم دا ډله د يوې ايډيالوژۍ په حيث د افغانستان د ټولنې په ګېډه کې هګۍ واچوي او بچي به وزېږوي. دی دغه پروسه «طالبانيزېشن» نوموي.

## پر قديمې پديدې نوی نوم

خو د ښاغلي محق د نظر برخلاف، زه ګومان کوم چې دا ډول نومونې او اصطلاح جوړونې د دې پر ځای چې د طالبانو پديده توضيح کړي، لا يې مغشوشوي. دلته غواړم پر دې ډلبندۍ څو اساسي نيوکې وکړم:

لومړی، طالبان د بل هر سياسي او نظامي ډلې په شان په عمل کې ځينې ځانګړنې لري چې په دې نامه د نورو فعالو فکري او سياسي قشرونو د ځينو ډلو نومول، سم او منطقي روش نه دی. حماس يوه فلسطيني بنسټپاله ديني ډله ده او په دې حساب نور عرب بنسټپالي مفکران «نرم حماس» نه شو بللای؛ ځکه هر څوک چې دې ډلې ته خپله وفاداري څرګنده کړي، د فلسطيني مقاومت د دې بهير برخه به وي او که نه نو نه به وي. يعنې ان که په فلسطين کې هم ځينې سياسي او نظامي ډلې په سياسي او اعتقادي لحاظ حماس ته ورته وي، بيا هم د «حماس» نوم ان د استعاري استفادې په خاطر ورباندې نه شو ايښودلای. طالبان هم فعاله سياسي نظامي ډله ده چې پر نورو غورځنګونو او ورته فکري ډلو باندې د هغوی نوم ايښودل، موجه نه دي او مصداق هم نه لري؛ ځکه که دا کار وشي مورږ به نور کسان هم طالبانو ته منسوب کړو. په همدې وجه لازمه نه ده چې مورږ د نرمو طالبانو نوم پر داسې ډلو يا وګړو اطلاق کړو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سياسي او مذهبي مسايلو کې له طالبانو سره ګډ اړخونه لري. که داسې وشي نو د نومونو او مفهومونو تر منځ پولې به ړنګې شي او په سيمه کې به هر بنسټپالی نظامي او سياسي غورځنګ د نرمو طالبانو په نامه ياد او ډلبندي شي چې دا کار بيا په تحليلي او ميتودولوژي لحاظ سم کار نه دی.

دويمه، ښاغلی محق چې د نرمو طالبانو اوصاف بيانوي، په سيمه او اروپا کې د عامو افراطي اسلامي غورځنګونو څانګړنې يادوي. دغه څانګړنې په «حزب التحرير» کې چې په بريتانيا کې ممنوع دی، هم شته، د پاکستان په بنسټپالو عالمانو کې هم شته، په سيمه کې فعالو عربي تبليغي ډلو کې هم شته او ان دا د القاعده څانګړنې هم دي. له دې څانګړنو سره سره، د افغانستان پر اسلامي بنسټپالو بهيرونو د ښاغلي محق له خوا دغه خاص نوم ايښودل، داسې توجيه او دليل نه شي موندلای چې دا ډلې له نورو سياسي اسلام پالو او بنسټپالو تفکراتو بيل کړي. ښاغلي محق د فارسي بي بي سي تلويزيون له «پرګار» خپرونې سره په مرکه کې وويل چې طالبان د سيمې د اسلامي بنسټپالو غورځنګونو يوه برخه ده او دوی ته ورته ايدياليوژيک اساس لري؛ چې زما په نظر دا سم تحليل دی. په دې حساب، زما تصور دا دی چې د سيمې او پاکستان له بنسټپالو سياسي مذهبي غورځنګونو سره زموږ د نژدېکت په وجه، په افغانستان کې هم د اسلامي بنسټپالنې احيا د درک وړ ده. طالبان هم د همدې احيا د غورځنګ يوه برخه ده چې د ښاغلي محق په وينا ، د يوه مذهبي حکومت په قالب کې يې تاسيسوي.

**احياګري او سيمه ييزې ستراتيژيکې لوبې**

البته د ښاغلي محق په تحليل کې يوه تېروتنه دا ده چې طالبان د يوه مذهبي خودجوشې دلې ته راټيټ شوي دي. له بي بي سي سره په خبرو کې ده دا خبره په صراحت کړې ده. دلته بايد ووايم چې د پورته استدلالونو پر اساس، طالبان يو بنسټپالی اسلامي سياسي نظامي او محافظه کاره کليوال غورځنګ دی چې په عملي او اعتقادي لحاظ له خورا توندلارو مذهبي غورځنګونو په تېره بيا د هغوی له پاکستاني څانګو سره پيوند او ورته والی لري. د دوی اکثرو رهبرانو په پاکستان کې مذهبي درسونه ويلي او د هماغه مذهبي حوزې تعبيرونه يې افغانستان ته راوارد کړي دي. خو دا سمه نه ده چې دوی يوازې يو خاص افغاني ايدياليوژيک مذهبي غورځنګ وګڼو. سره له دې چې ښاغلی محق هڅه کوي د سياسي اسلام چې طالبان يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



استازي دي او د سنتي اسلام تر منځ چې له پېړيو راهيسې په افغانستان کې شته، ورته والی پيدا کاندي؛ خو زما په نظر دا دواړه يو شی ګڼل يوه تحليلي او غير تاريخي تېروتنه وه.

ځکه سنتي اسلام، خشونت نه غواړي، نظاميګر او انتحاري نه دی؛ دويم دا چې د ديني عالمانو په واسطه د قدرت د نيولو ادعا نه لري او اصولاً ځان د دولت او سلطنت سره په تقابل کې نه راپېژني؛ دريم، داسې نه ده چې د دولت په نيولو سره هر څه ځان ته وغواړي؛ څلورم، له مدرنيزم سره د تقابل د بحران محصول نه دی.

د طالبانو تحريک به د دې پر ځای چې د افغانستان د سنتي اسلام استازی وګڼو، بايد ريښې يې له افغانستانه د باندې او په هغو حرکتونو کې ولټوو چې په شلمه پېړۍ کې په عربي ملکونو او په هند براعظمګي کې د غرب او اروپايي استعمار پر ضد رامنځته شول، لکه د احياګرۍ غورځنګ.

يو، دليل دا دی چې د افغانستان له تاسيس څخه افغان اميرانو ديني عالمانو ته د مذهبي متحدانو په سترګه کتلي دي چې دولتونو ته يې مشروعيت بخښلی دی؛ خو دغه مذهبي طبقه په قدرت کې نه ده شريکه شوې او هېڅکله قدرت ته خطر نه ده ګڼل شوې. اتفاقاً په ايران کې هم چې د روحانيونو په لاس اسلامي دولت جوړ شو، د ايران د سنتي روحانيونو له نظره د غيبت د فلسفې په خاطر، د شيعه دولت تاسيس او يا د دولتدارۍ په ډګر کې د فقيهانو داخلېدل، مجاز نه وو. ان د ايراني شيعي جمهوري بنسټ اېښودونکی ايت الله خميني هم تر مذهبي انقلاب مخکې، د فقيهانو سياسي حاکميت نه مانه. نو د مذهبي مدرسو د شاګردانو او علماوو په لاس د اسلامي حکومت تاسيسول چې طالبان يې يوه نمونه ده، د معاصر سياسي اسلام مفکوره ده.

دوه، سياسي اسلام مدرنه پديده ده چې د عربي فاضله مدينې د تاسيس په ارمان پسې رامنځته شوه او په کې د هغه اسلام احيا مطرح ده چې اسلامي هېوادونو ته د تجدد تر راتلو د مخه و. د شرعي قواعدو پر اساس د اسلامي حکومت د جوړولو مفکوره هله رامنځته شوه چې اروپايي مدرنيزم د لومړي ځل لپاره د استعمار په جامه کې اسلامي هېوادونو ته راغی او اسلام ورسره په تقابل کې واقع شو، په دې وخت کې چې دولت د تکنوکراتانو، تعليم يافته ګانو او ښاري روښانفکرانو په لاس کې و او لا تر اوسه د استبداد له لارې يې په لاس کې دی، اسلامي هېوادونو ته مدرنيزم راغی او بيا د بنسټونو، مناسباتو او د سنتي اسلام ارزښتونو تر منځ بحران پيدا شو. نو دا ډول اسلام پالنه چې په څلورمه شمسي لسيزه کې د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړني اسلامي ګوندونه او اوس دا دی طالبان یې استازي دي، زموږ په هېواد کې نوې ده. داسې بنسټونه چې د دې اسلامي ایډیالوژۍ ملاتړ وکړي، نشته. طالبي او اخواني سیاسي اسلام یوازې د منځني ختیځ او پاکستان د مذهبي مدرسو له لارې په افغانستان کې وده کولای شي. یو تاریخي دلیل یې دا دی چې په افغانستان کې د ایران او ترکیې برخلاف، تجدد له اسلام سره په همغږۍ او د مترقي اصلاحاتو له لارې راغی. د محمود طرزي مفکورې له هغو اصلاح غوښتونکو اسلامي مفکورو سره غاړه غړې ګڼل کېدې چې په هغه وخت کې رواج وې او هدف یې د دین او نوي علم تر منځ پخلاینه وه. ان امان الله خان هم د اتاترک او رضا شاه برخلاف متجدد و خو د مذهب ضد نه و. ځکه د ده له هدفونو څخه یو یې د ختم شوي عثماني خلافت پر ځای په افغانستان کې د اسلامي خلافت ایجادول و. پوهېږو چې له هغه وروسته دولتونو د مذهبي پاڅونونو له ډاره د اجتماعي اصلاحاتو په برخه کې محافظه کارانه چلند وکړ او په نتیجه کې یې مډرنیزم د ټکنالوجۍ او د دولت په بوروکراسۍ پورې محدود پاتې شو.

درېیم، سیاسي بنسټپالی اسلام په افغانستان کې ځکه نوې پدیده ده چې تر ډېره بریده د اسیا په جنوب ختیځ کې د افغانستان د جیوپولیټیک او تاریخي موقعیت محصول ده، نه په هېواد کې د تجدد او مذهب د ټکر محصول. د ساړه جنګ په سیالیو کې متحده ایالتونو د منځني ختیځ او پاکستان په سټراټیژیکه سیمه کې د کمونیزم د نفوذ پر خلاف د بنسټپالي اسلام په واسطه شین کمربند ایجاد کړ. پر پاکستاني مدرسو او افغان او عرب جهادي جنګیالیو باندې پانګونه هم د کمونیزم د نفوذ پر ضد مناسب ځواب و او هم د هغو ملتپالو غورځنګونو پر ضد چې د امریکایي او اروپایي امپریالیزم پر ضد راپاڅېدلي وو. د غرب او د عربي هېوادونو او پاکستان له سیاسي او مالي ملاتړه پرته دا ممکن نه وو چې توندلارې مذهبي ډلې د مرخېړیو په شان راوټوکېږي او وده وکړي.

په نتیجه کې زما باور دا دی چې په افغانستان کې د طالبانو ماته، د سیاسي اسلام او بنسټپالنې ماته هم ده. سیاسي اسلام په افغانستان کې اجتماعي ملاتړ نه لري او په افغانستان کې تدریجي اقتصادي او سیاسي سیکولرایزېشن ته به تسلیم شي؛ ځکه دلته سنتي اسلام پیاوړی دی.

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نرمو طالبانو او پر هغوی د سترګې پټولو په باب

شاکر مهریار

محمد محق د «نرم طالبان، سخت طالبان» تر عنوان لاندې مقاله لیکلې وه، وروسته ما په دې اړه ولیکل او درېیم ځل عبدالرحمان کبریت د «8 صبح» په 1044 مه ګڼه کې د «نرمو طالبانو» نقد ته ملا وتړله او هغه یې بې مصداقه او یو ډول د مفهومونو اړونه وبلله.

په دې اړه زموږ د نظرونو تر منځ اختلاف، زیاتره د طالبانیزم او د هغه د تاریخ په اړه زموږ له فهمه سرچینه اخلي. ما چې «نرم طالبان» د معنا په لحاظ سمه اصطلاح وبلله، دلیل مې دا و چې له نرمو طالبانو څخه منظور هغه فرهنګي او اجتماعي قشرونه دي چې طالبان په فرهنګي، اجتماعي، سیاسي او د ښکلا پېژندنې په لحاظ ځنې خړوبېږي او په دې فرهنګي اجتماعي قشر کې ځینې سیاسي او ایدیالوژیک وتلي کسان هم د خاصو تړاوونو پر اساس په رسمي یا نارسمي شکل له طالبانو سره همغږي دي. خو دوی الزاماً د طالبانو د ډلې غړي نه دي. نو د ښاغلي محق د مقالې په تایید کې د لیکوال اساسي فرضیه دا ده: هغه فرهنګي اجتماعي قشر چې د طالبانو د خشونت جغرافیه جوړوي، دوه ډوله طالبي کړنې یې زېږولې دي؛ یو خو وسله وال او ترهګریز عمل دی چې سخت طالبان یې کوي او په «طالبان» مشهور دي، بل غیر وسله وال سیاسي عمل دی چې له سختو طالبانو سره فکري ملګرتیا لري او دا عمل نرم طالبان کوي. اوس نو دا ټول څرنګه د طالبانیزم په نامه د یوه مرکزي مفهوم پر محور څرخېدای شي؟ د طالبانو په اړه په تحقیقي ادبیاتو کې د طالبانیزم ځانګړنې بیان شوې دي او پخوا هم لیکوال ورته اشارې کړې وې. نو هغه اشخاص، ډلې او سیاسي کړې، چې له سختو طالبانو سره د لاندې پنځو مشترکو فکتورونو پر اساس فعالیت کوي، نرم طالبان دي. یعنې سخت او نرم طالبان د پنځو دلیلونو پر اساس د یوه مرکزي مفهوم یعنې طالبانیزم په نامه تحلیل کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



1- د مشترکو عواقبو په دلیل. معنا دا چې د طالبانو ټول وسله وال او خشونتپاله فعالیتونه په یوه طالبي هدف ختمېږي چې اقلاً یوه شاخصه یې د دیموکراسۍ ختمول او د تبعیض برقرارول دي.

2- د ایدیالوژیکو مشترکاتو په دلیل. د طالبانیزم ایدیالوژي چې ارزښتونه په خاصه بڼه تعریفوي، د تفکر او عمل په ډګر کې هم یو خاص سیاسي لیدلوری خلقوي. خو د طالبانو ایدیالوژي حد اقل دوې ټینګې ستنې لري: مذهبي او قومي فاشیزم. (زما په نظر دا به له انصافه لرې وي چې څوک دې طالبان مذهبي او قومي فاشیستان وبولي؛ ځکه د قومي فاشیزم مبنا د یوه قوم بر ګڼل او د نورو رټل او ختمول دي. دا سمه ده چې د طالبانو اکثره غړي پښتانه دي؛ خو دوی ته پښتونولي هېڅ ارزښت نه لري. دومره تاوان چې طالبانو پښتنو ته ورساوه بل قوم ته به یې نه وي رسولی. دوی له هماغه پیله اکثره هغه تکړه پښتانه چې له دوی سره یې فکري ملګرتیا نه لرله، له تېغه تېر کړل مثلاً ډګرجنرال عبداظاهر سوله مل، جنرال میرغوث الدین پیلوټ چې په ګاګارین مشهور و او ګڼ شمېر نور. همدارنګه طالبانو ډېر پښتانه تعلیم یافته کادرونه د نامطلوبو اشخاصو په نامه له دندو لرې کړل. دوی همدا اوس په خپلو سیمو کې د پښتنو مکتبونه سوځوي، معلمان، انجینیران، ډاکتران او د بشري مرستو کارکوونکي وژني چې ټول تاوان یې یوازې پښتنو ته رسېږي. که دوی قومي فشیستان وای؛ نو د ایدیالوژۍ پر ځای به یې قومیت پاله. له بلې خوا د دوی په لیکو کې بدخشي او تخاري تاجک توکمه طالبان هم کم نه وو، د طالبانو په واکمنۍ کې د بامیان ټوله لاره د هزاره طالبانو په لاس اداره کېدله، همدارنګه ازبک او ترکمن طالبان هم ورسره وو او لا اوس هم شته. همدارنګه کله چې بهرني اصطلاحات یې پسې واخیستل، داسې یې نه کړل چې پښتو معادل ورته پیدا کړي؛ بلکې عربي اصطلاحات یې د انګریزي او نورو اروپايي ژبو د کلمو پر ځای استعمال کړل، مثلاً د ډاکتر پر ځای طبیب. دوی هجري شمسي منظم تقویم په هجري قمري نامنظم تقویم واړاوه چې دا عربي نشنلیزم ته خدمت و، نه پښتونولي ته؛ نو طالبان یوازې دیني تعصب پالي، نه قومي. طالبان مذهبي فاشیستان هم نه شو بللای ځکه د دوی د حکومت تر سیورې لاندې لسګونه زره شیعه وګړي اوسېدل؛ خو چا ورپورې کار نه لاره. ژباړن)

3- په سیاسي فرهنګ کې د مشترکاتو په دلیل. طالبان هغه وسله واله ډله ده چې د سیاسي فرهنګ او عیني تجسم په لحاظ، د یوه خاص سیاسي فرهنګ له بستره راپورته شوې او په عمل کې هم خاص سیاسي فرهنګ ښیي.

4- د مشترک دښمن د تعریف په دلیل. طالبان د غرب له تمدنه او سیکولر تفکره رانېولې تر تشیع مذهبه پورې هر څه تکفیروي او د دښمن په سترګه ورته ګوري. (فکر کوم دلته هم د مقالې لیکوال تېر وتی دی؛ ځکه د طالبانو په رسمي بیاناتو کې د تشیع د تکفیر په اړه کوم سند نه لرو. داسې راپور مو هم نه دی اورېدلی چې دوی دې په خپله واکمني کې له شیعه ګانو سره تبعیضي چلند کړی وي. همدا اوس د هزاره جاتو اکثره شیعه وګړي پر هغو لارو تګ راتګ کوي چې د طالبانو په لاس کې دي؛ خو د شیعه توب په خاطر چا نه دي وژلي. نو د داسې نظرونو په څرګندولو کې باید خورا محتاط اوسو چې خدای مه کړه په ناپامۍ سره په وطن کې مو د شیعه او سني تر منځ د شخړو اور بل نه کړو. ژباړن)

5- تبعیض او له ښځو سره دښمني. له ښځو سره دښمني او ښځه اصلاً په خصوصي حوزې پورې اړونده ګڼل او له ښځو څخه د عمومي حوزې پاکول، د طالبانیزم بله ځانګړنه ده. د طالبانو جوته ځانګړنه، تعصب او د تبعیض د یوه پراخ رژیم برقرارول دي.

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو هغه کسان چې په تفکر او عمل کې له طالبانو سره دغه مشترک اړخونه لري؛ خو عملاً د طالبانو په ډله کې نه دي او وسله واله جګړه نه کوي، «نرم طالبان» دي، حال دا چې ممکن ځان طالبانو ته وفادار وګڼي او يا ونه ګڼي او يا حتی له هغوی سره مخالفت هم وکړي.

د همدې مشترکاتو پر اساس، نرم طالبان هغه وګړي دي چې که يې د کړنو اقل حد واخلو نو له طالبانو سره ورته هدفونه لري او که يې اکثر حد واخلو نو له طالبانو سره مشترک هدفونه لري. د عواقبو د يوخېلوالي اندازه يې له دې لګولای شو چې دوی څومره په يادو پنځو فکټورونو کې له طالبانو سره ټينګ مشترکات لري.

لومړی فکټور اساسي دی او څلور نور يې مهم دي خو هر وخت د لومړي فکټور ملاتړ کوي. يعنې د نرمو طالبانو د پېژندلو او تصديق لپاره د هغو فکټورونو پېژندل مهم دي چې له سختو طالبانو سره مشترک هدفونه زېږولای شي.

خو تر ټولو مخکې، بله پوښتنه دا ده چې څرنګه کولای شو طالبان له نورو توندلارو اسلامي ډلو توپير کړو؟ پيټر مارسډن د طالبانو او اخوان المسلمين په توپير کې دوه ټکي تر نورو جوت ګڼي: لومړی، د طالبانو ځوان پيروان هماغسې انګېزه نه لري چې د اخوان المسلمين ځوانو غړو يې درلوده. دويم، د طالبانو په هدفونو کې پان اسلاميزم نشته. دغه وروستی ټکی خورا مهم دی. همدا وجه ده چې طالبان «د افغانستان اسلامي امارت» يادوي او مثلاً له «حزب التحرير» او «د ازبکستان اسلامي غورځنګ» له ځينو مشترکاتو او ورته والو سره سره، له دوی بېلېږي. (د طالبانو يو شعار داسې و چې: «د هندوکش په سر به رپي بيرغونه په پامير به وي/ نه به وي محدود زموږ جهاد عالمګير به وي.» له دې شعاره څرګندېږي چې پان اسلاميزم د طالبانو په هدفونو کې شامل و او همدا شعار و چې روسيه او د منځنۍ اسيا هېوادونه يې ترهولي وو. طالبانو د افغانستان په اسلامي امارت باندې ځکه قناعت کړی و چې تر دې زيات څه يې په وس کې نه و. ژباړن)

نو له يوه پلوه، د روايتونو کُلي او لوی مفاهيم هر وخت يو کُلي پوښښ برابروي چې تر لاندې يې د ډلو تر منځ او د ډلې په منځ کې تنوع اوسېږي او ټول بيا سره يو ځای کُلي مشترکات منعکسوي. اسلامي بنسټپالنه هم د همدغو کُلي مفاهيمو په ډله کې راځي. له بل پلوه، د سياسي تفکر او د ځواکمنې سيکولرې او ناتوکميزې ملتپالنې په فقدان کې اسلامي بنسټپالنه له نورو فرهنګي – اجتماعي خاصو حوزو سره يوځای کېږي او بل نقش مومي چې ډېرې نورې خلاګانې جبيره کړي. طالبانيزم د اسلامي بنسټپالنې له کورنۍ څخه دی چې په خاصه فرهنګي – سياسي حوزه کې تر اسلامي بنسټپالنې پورته نقش او وظيفه لري. بناً د ډلې په منځ کې او د ډلو ترمنځ تنوع هميشه به په يو ډول سره په يو بل کې تداخل او مشترکات لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه تحليل راسره مرسته کوي چې اسلامي توندلاريتوب په مختلفو نومونو، په مختلفو فرهنګي – اجتماعي حوزو کې سره توپير کړو او نومونه وربانديې کېږدو چې د مشخصو فرهنګي او اجتماعي او يا سياسي فرهنګ په ځانګړنو سره توپير شي.

په دې دليل، بده نه ده چې د يوې ډلې په منځ کې د موجود تنوع د بيان لپاره پر مختلفو برخو يې مختلف نومونه کېږدو. تر دې ځايه دا روښانه شوه چې دا به محض تېروتنه وي چې طالبان يوازې هغه اسلامي بنسټپاله ډله وبولو چې د سنتي اسلام ځای يې نيولی دی.

په افغانستان کې د طالبانو تاريخي مخينه

کله چې د «طالبانو تاريخي مخينه» مطرح کېږي، معنا يې دا ده چې د طالبانيزم په نامه د يوه تفکر مخينه او د هغې قراين څېړل کېږي. عبدالرحمان کبريت ويلي دي چې سنتي اسلام د سلطنت په مقابل کې نه و.

وروسته ادعا کوي چې «د افغانستان له تاسيس څخه افغان اميرانو ديني عالمانو ته د مذهبي متحدانو په سترګه کتلي دي چې دولتونو ته يې مشروعيت بخښلی دی؛ خو دغه مذهبي طبقه په قدرت کې نه ده شريکه شوې او هېڅکله قدرت ته خطر نه ده ګڼل شوې.»

اساسي ستونزه دا ده چې د کبريت د ادعا برخلاف، «مذهبي متحدان» د افغانستان په تاريخ کې د قدرت په شريکانو بدل شول. قسيم اخګر په 1380 کې په خپله يوه مقاله «د طالبانو د پيدايښت زمينو او عواملو ته يوه کتنه» کې ليکلي دي: «واک ته د نادر خان له رسېدو سره ګڼ شمېر ديوبندي ملايان راميدان ته شول او نادر خان له هغوی څخه د خپل سلطنت د پښو په ټينګولو کې حد اکثر استفاده وکړه. له دې تاريخه د اساسي قانون تر لسيزې پورې د دوی (د ملايانو) د نقش څرک نه لګي؛ ځکه دوی د دولت د بدن يوه برخه وه او له هماغه طريقه يې خپل کار جاري ساتلی و. مثلاً ملا محمد امين خوګيانی او ملا برهان کشککي، د دولت رسمي جريدې په واک کې درلودې او ځينو نورو يې د دارالاحساب اداره پرمخ بيوله او يو شمېر محتسبان يې ښارونو ته استول چې له خلکو د لمانځه او روژې د احکامو او د دعای قنوت پوښتنه وکړي او د «دُرې» په وسيله يې ترويج کړي.» په دې مقاله کې بيا هم لولو: «د داوود خان د صدارت په دوره کې د دوی فعاليتونه تر ډېره بريده کم شول. خو په اصطلاح سره د ديموکراسۍ په دوره کې يو ځل بيا ورته فرصت برابر شو چې ميدان ته راووځي. په کابل او د افغانستان په ځينو نورو ځايونو کې د ښوونځيو د نجونو پر مخونو د تېزاب شيندل او ان د دوی ترور، په دې دوره کې د دوی د حضور ننبې ګڼلی شو؛ خو يوازې دا نه وو. د اردو

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتشاراتو د ملا محمد مبارک په قلم د «سيف الابرار» په نامه کتاب چاپ کړ چې په کې شيعه مذهب تر بريد لاندې راغلی و. همداسې «ملا منهاج الدين ګهيځ» په «ګهيځ» خپرونه کې شيعيان د ابن سبا پيروان معرفي کول.»

قسيم اخګر د مقالې په بله برخه کې ليکي: «په عملي لحاظ د دې تبليغاتو نتيجه دا راووته چې د جبار، لطيف غول او پهلوان عبدالحق په نامه ځينو کسانو د هزاره ځوانانو ښکار ته ملا وتړله او ځيني يې ووژل.

د ملا بسم الله په نامه يو چا به د ميوند د جادې د وړوکي جومات له لاسپيکره هغو ښځو او نجونو ته توند و تېزې زياړې کولې چې له جادې څخه به تېرېدې. ده پر شيعه ګانو هم ناروا تورونه پورې کول؛ خو حکومت به په دې پلمه چې هغه يوازې يو ليونی دی، څه ورته نه ويل. قسمت ته وګوره چې له همدې جوماته څو ګامه ها خوا، د نوم ورکي سپاهي مينار ته نا رسېدلی، يو ځای و چې د ناموس دلالانو به په ازادۍ سره خپل کار و بار په کې کاوه؛ خو نه ملا بسم الله او نه د حکومت پوليس او نه ملا ګل محمد چې معصومې نجونې به يې ترورولې، په دې اړه حساسيت ښکاره کړ. که دا ومنو چې له ښځو سره دښمني، له شيعه ګانو سره مجادله او له ديموکراسۍ او ازادۍ او د تمدن له مظاهرو سره ضديت او همدارنګه توکميز او قومي تعصب او د وخت له روح سره پرديتوب، د طالبانو جوت اړخونه دي، نو بايد دا هم ومنو چې طالبان يو ناڅاپه نه دي رامنځته شوي او (په نويمو کلونو کې) د طالبانو ځواکمن او متشکل ښکارېدل، بايد د دوی زېږېدنه نه، بلکې د دوی بلوغ وګڼو. اوس نو بايد هغه عوامل او موجبات وښيو چې دغه ماشوم يې بلوغ ته ورساوه او د واک پر ګدۍ يې کېناوه چې نه يوازې يو هېواد له خاورو سره خاورې کړي؛ بلکې ان نړۍ د يوې بلې جګړې درشل ته ورولې او د سيمې ثبات ګډوډ کړي.»

نو کله چې د «سنتي اسلام» پر وړاندې د «احياګرۍ» او «سياسي اسلام» خبره کوو، بايد پوره دقت وکړو او د سياسي اسلام تاريخي تسلسل په مختلفو اجتماعي، فرهنګي او سياسي چوکاټونو کې درک کړو او همدارنګه د سنتي او صوفي مشربي اسلام په شا تګ او ماتې. نو دا به په پام کې نيسو چې په تحليل کې يوازې او يوازې د مذهب پر عنصر تکيه نه ده په کار او بايد د طالبانيزم له اجتماعي، فرهنګي، سياسي او تاريخي اړخونو هم غافل پاتې نه شو.

خو د افغانستان په سياسي نظام کې د بنسټپالو روحانيونو د نقش د درک کولو لپاره، تر هر څه د مخه بايد پوه شو چې د سياسي قدرت د استحکام درې سنتي ستنې وې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



1) دولتي بنسټ؛

2) قبیلوي بنسټ (خانان، اربابان او د قبیلو مشران)؛

3) د روحانیت بنسټ.

معمولاً دغه دوه وروستني بنسټونه د لومړني بنسټ یعنې د دولت په خدمت کې او سېدلي دي.

ټول پوهېږو چې په افغانستان کې دولتي بنسټ څنګه راونړېد او ولې د افغانستان په تاریخ کې نوپالنه له ماتې سره مخ شوه؛ خو د نورو بنسټونو په جوړښت او فعالیتونو کې بدلون راغی. خانانو او د قبیلو مشرانو خپل سنتي فعالیت له لاسه ورکړ او سنتي روحانیت هم خپل ځای سیاسي او ټوپکوالو ملایانو ته پرېښود. یعنې د روحانیت نقش داسې بدل شو چې پخوا به یې دولت ته مشروعیت تأمیناوه؛ خو وروسته د دولت او سیاسي قدرت په تصرف کوونکي ځواک بدل شو. نو دا به بې ځایه نه وي چې ووایو: «د طالبانو (دغه) ځواکمن او متشکل څرګندېدل، باید د دوی زېږېدنه نه، بلکې د دوی بلوغ وګڼو.»

**پخوانۍ تجربې، سخت طالبان او نرم طالبان**

«پخوانۍ تجربې» چې یادوو منظور مو دا وي چې پورته یاد شوي پنځه مشترک فکتورونه پخوا هم تجربه شوي دي. د دې پنځو مشترکو فکتورونو یوه برخه د افغانستان په معاصر سیاسي تاریخ کې د سیاسي او خشونتپالي اسلام په توګم پوهنه کې څېړلای شو؛ خو ځینې نژدې او ژوندۍ تجربې هم شته چې زموږ د ټولو په یاد دي او د مشخصو مشترکاتو پر اساس د مختلفو ځواکونو د همغږۍ په قالب کې د یوې پېښې څرنګوالی توضیح کوي. د مثال په توګه، د ایدیالوژیکو مشترکاتو په لحاظ القاعدې د طالبانو ملاتړ کاوه. همدارنګه د پاکستان مذهبي حزبونه لکه جمیعت علمای اسلام، سپاه صحابه او حرکت الانصار، د طالبانو په ملاتړ کې سره همغږي وو او دي. همدارنګه له طالبانو سره د ګلبدین حکمتیار یو لاس کېدل او دا چې د 1994 او 2001 کلونو په منځ کې د حکمتیار قوماندانان د سېلاب په شان د طالبانو خوا ته ورمات شول، دلیل یې مشترک سیاسي فرهنګ، ګډ دښمن، ګډ تبعیض او له ښځو سره ګډه دښمني وه. او دا چې دا دوه اړخونه د ایتلافي ځواکونو او د حامد کرزي د حکومت پر ضد جګړه کې سره یو شول، اساسي دلیل یې فرهنګي او اجتماعي مشترکات دي. نو د طالبانو په تعریف کې او یا د ورته نورو فعالانو په پېژندلو کې نه شو کولای اجتماعي او فرهنګي، ایدیالوژیک او ارزښتي چوکاټونه له پامه وغورځوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو يو د اسلام په اړه د طالبانو د تعبير بحث دی او بل د هغوی د فعاليت د سياسي او اجتماعي جغرافيې بحث دی چې کولای شي د فعالو ځواکونو تر منځ مشترکات لا زيات او لا ټينګ کړي. د هغو مشترکو فکتورونو موجوديت چې د طالبانو له فعاليتونو سره يو شان عواقب درلودلای شي او طالبان ورسره پياوړي کېږي، د طالبانو د تحليل د مباحثو يوه برخه ده. نو هغه بې وسلې فعالان چې د پنځو يادو فکتورونو پر اساس له طالبانو سره مشترک اړخونه لري، نرم طالبان دي او کېدای شي چې د فعاليت او مانور لپاره هم له طالبانو سره مشترک محيط ولري. ياده دې وي چې د نرمو طالبانو اصطلاح پر هغو کسانو دلالت کوي چې د وسله والو طالبانو له ليکو څخه د باندې فعاليت کوي.

دا چې د طالبانو د ډلې په منځ کې توندلاري او منځلاري شته که نشته، او س له دې بحثه وتلې خبره ده. په بله وينا ، هغه ډله چې وسله واله ده او جنګېږي «سخت طالبان» دي او هغوی چې وسلې نه لري خو خبرې، کړنې او سياسي فعاليتونه يې له طالبانو سره يو شان دي او له طالبانو سره ګډ هدف لري، «نرم طالبان» دي. د دوی د معرفتي او ارزښتي مشترک نظام له تحليله به تېرېږو چې په هغه برخه کې يوازې د فعاليت په ډول سره توپير يې.

ليکوال د ښاغلي کبريت له دې تحليل سره يو مخ موافق دی چې وايي د طالبانو ريښې به «له افغانستانه د باندې او په هغو حرکتونو کې ولټوو چې په شلمه پېړۍ کې په عربي ملکونو او په هند براعظمګي کې د غرب او اروپايي استعمار پر ضد رامنځته شول لکه د احياګرۍ غورځنګ» خو دا به هم پرې ورزيات کړم چې غربي ضد احياګري چې فکري بنيادونو يې له اسلامه سرچينه اخيسته، نه له کوم سيکولر سياسي تفکر څخه. کله چې له مختلفو قومي او سيمه ييزو ټولنو او فرهنګونو سره ګډه شوه، اساسي بدلونونه او تحولات په کې راغلل.

که داسې نه وای، بيا خو دا نه وو په کار چې د عربي هېوادونو د حوزې او د هند د براعظمګي بنسټپالنه جلا جلا مطرح شي. نو د طالبانو او همدارنګه د سختو او نرمو طالبانو د درک کولو لپاره بايد هغه چتر لري کړو چې طالبان او اسلامي بنسټپالنه يې پوښلي دي او دا چتر به د هغوی د ايديالوژيکې ستنې په توګه په رسميت وپېژنو. همدارنګه بايد د فعاليتونو مختلف شکلونه او اړخونه چې د ورته هدف لپاره ترسره کېږي، وپېژنو چې الزاماً تر يوه مشخص او مشهور نامه لاندې نه دي قيد شوي.

ښاغلی کبريت ليکي: «حماس يوه فلسطيني بنسټپاله ديني ډله ده او په دې حساب نور عرب بنسټپالي مفکران «نرم حماس» نه شو بللای.» زما په نظر دا خبره دقيقه نه ده او د اوسني

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبحث د فرضيو د نفي کولو لپاره قوي استدلال نه لري. هغه عرب او فلسطيني سياسي سرلاري چې له سخت حماس (وسله وال حماس) سره ياد پنځه مشترک فکتورونه لري، او فعاليتونه يې له حماس سره د هماغو مشترکاتو پر اساس وي، دا به خورا منطقي وي چې نرم حماس وبلل شي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**